# اسلامي نړۍ لید

عبدالله مسلمان

Download from: www.aghalibrary.com

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت
نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا ليک: book@aqeedeh.com

د موحدينو ګروپ ويب پاڼو

www.aqeedeh.com
www.islamtxt.com
www.shabnam.cc
www.sadaislam.com
www.mowahedin.com
www.videofarsi.com
www.zekr.tv
www.mowahed.com

مجموعه موحدين

contact@mowahedin.com

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

Download from: www.aghalibrary.com

# پیل

که چیري غواړو د اسلامي نړۍ لید په اړه وړ غږېږو، نو لومړی باید د هغه اړیکي د ایډیالوژۍ، فکر، علم، فلسفې او ثقافت سره وڅېړو او وروسته به د اسلامي نړۍ لید ځانګړني او د هغه بېل والی له نورو نړۍ لیدو سره وڅېړو ترڅو دا د اسلامي نړۍ لید د زده کړي یو پیل و اوسي.

## ١- علم

د علم لغوي څرګندتیا:

علم یوه عربي کلیمه ده چي پوهېدلو، زده کولو درک کولو او خبرېدلو ته وايي چي په انګلیسي کي (Since) ورته وايي.

د علم اصطلاحي څرګندتیا (تعریف) :

علم په اصطلاحي توګه ډېر تعریفونه لري خو تر ټولو مهم تعریف يې دا دی.

(د بهرني واقعیتونو زده کړي او پوهي ته علم وايي)

د علم او ایډیالوژۍ ترمنځ توپیر:

په ډېرو وختو او ځایو کي خلګ فکر کوي چي علم او ایډیالوژي یو شان دي او فرق نه لري، مګر په حقیقت کي د دغو دوو ترمنځ ډېر ژور توپیرونه وجود لري چي په دې لاندي مثال کي يې په پوره زبات څېړلای سو.

Download from: www.aghalibrary.com

که چیري موږ د افغانستان په اړه بحث کوو او غواړو، چې د افغانستان د تاریخ،جغرافیې، ملیتونو، کلتور، سیاست، پیداوارو، زرعت او پوهانو په اړه څېړنه وکړو دې ته علم وایي ځکه چې موږ په دې کي یوازي خپل په سترګو لیدلي شیان او حالت څېړو زموږ دا څېړنه د علم یوه برخه ده، ځکه موږ د یوه څېړونکي او لیدونکي په څېر پاته سوي یو او هغه څه چي مو لیدلي دي د خپلو احساساتو له ښکاره کولو څخه پرته مو بیان کړي دي.

مګر کله چي مو د دې څېړنو په اړه خپل نظر، نیوکه او مشکلاتو د حل لاره بیان کړې ده نو موږ د علم له چوکاټه پښه د باندي ایښې او نظر او ایډیا مو ښکاره کړې ده دغه پدیدې ته ایډیالوژي وایي .

نوکولای سو چي د علم او ایډیالوژی ترمنځ توپیر په لاندي څو ټکوکي څرګند کړو.

الف : علم د واقعیتونو په هکله څېړنه ده، مګر ایډیالوژی د واقعیتونو په هکله باور دی.

ب : علم واقعیتونه کشفوي، مګر ایډیالوژي واقعیتونه جوړه وي یا تخلیق ګره ده.

ج : عالم له تجربې، کتني او څېړني څخه وروسته نظر ورکوي مګر مفکر (ایډیالوګ) په ذهن او پوهه حقیقت بیانه وي.

مفکر ټول شیان له خپل فکره څخه وایي او د خپل فکر، د ثبوت لپاره د هغې خبري د ثبوت تر وخته پوري له خپلي خبري څخه دفاع کوي او اصلاح او سمونه پکښي راولي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۲- ثقافت :

**د ثقافت لغوي څرګندتیا:**

ثقافت د عربي د ثقف کلیمې څخه اخستل سوې کلیمه ده د مهارت په مانا، د محیط المحیط کتاب لیکوال وایي (الثقف : الحذق فی ادراک الشی علما و عملا) ثقافت د علمي او عملي اړخه څخه مهارت او پوهې په مانا دی.

ثقافت په پښتو کي د کلتور کلیمې معادله کلیمه ده، چی په انګلیسي کی هم (Culture) په شکل استعمالیږي. او په فرانسوي کی هم ورته کلتور وایي.

## د ثقافت اصطلاحي څرګندتیا:

ثقافت په اصطلاح کي ناځانګړی (غیر تخصصي) علم ته وایي.

مثلاً که چیري موږ وغواړو د خپل مسلک څخه پرته د بل مسلک په اړه او یاهم د ټولو نورو مسلکو په اړه یو عمومي علمي او عملي معلومات ولرونو موږ ته یو مثقف انسان ویل کیږی.

## اسلامي ثقافت :

هغه معلوماتو ته وایي چی د یوه مسلمان په ایمان، اخلاق او عبادت پوری اړه ولري.

ولي اسلامي ثقافت وایو؟

لومړی جواب : موږ اسلامي ثقافت ځکه وایو چي په اسلام کي د

Download from: www.aghalibrary.com

دیني معلوماتو لاس ته راوړل فرض عین دي.
د اسلام مقدس دین پرعلم او پوه ولاړ دین دی او علم یې پر نر او ښځه فرض کړی دئ مګر دا هم باید له یاده و نه ایستل سي چي د اسلام مقدس دین اسلامي علوم پر دوو برخو ویشلي دي.

## ۱- فرض کفایي:

ټول هغه علمونه چي د انساني نړۍ په ګټه دي او د اسلامي ټولني لپاره په خیر تماميږي او له هغه څخه پرته د مسلمانانو ژوند له مشکلاتو سره مخ کیږي، د اسلام له نظره دغه ټول علوم فرض کفایي دي، یعنی لا زمه ده چي د دغو علومو په زده کړه او ورزده کړه کي کوښښ وکړل سي د زده کړي لپاره یې ښوونځی او علمي مرکزونه پرانیستل سي او په دې اړخ کي علمي کدرونه و روزل سي او کله چي چا خپله د دې علم لپاره ځان ونوماوه او نورو هم تایید کړی نو بیا دا علم پر هغه فرض عین سو او نور ځني خلاص سول او که چیري هیچا هم د دې لپاره ځان وړاندي نه کړی او ټولنه بې برخي ځیني پاته سوه نو ټوله ټولنه د خدای جل جلاله په وړاندي مسئووله ده.
نو په دې اساس ټول علوم ( شرعیات، حقوق، طب، انجنیري ، ژورنالیزم، اقتصاد، ادبیات، ویترنري، زرعت، اسلامي هنر ، فارمسي ، ساینس ، ټولنیز علوم، اروا پوهنه، ښوونه او روزنه ، اداره او منجیمنټ ، د ښونکو روزنه، تخنیک، اسلامي زده کړي، حرفه وي زده کړي، نظامي زده کړي ، هوایي ملکي او عسکري زده کړي، ترانسپورټ او مخابرات) او نور فرض کفایي علوم دي او که چیري د ټولني خلګو په دې اړخ کي کدرونه وه نه روزل نو ټول ګناهکار دي او که چیري په یو ملک کي د

Download from: www.aghalibrary.com

دغو زده کړو لپاره خلک وړاکل سول نو نور دا د هغو کار دی او عام اوسيدونکي يې له ګناه خلاص دی.

## ۲- فرض عين :

لا زمه ده چي هرمسلمان د عقيدې او د اسلام د نورو بېلا بيلو نظامونو په اړه لکه باوري، عبادتي، ټولنيز، سياسي، اقتصادي او اخلاقي نظامونو په اړه معلومات او په کافي اندازه علم ولري ترڅو خپله شپه او ورځ د هغه په چوکاټ تېره کړي، نو دغه معلومات او علم پرهر مسلمان فرض عين دی.

البته د اسلامي علومو تخصوص د شرعياتو په پوهنځيو پوري اړه لري مګر د اسلامي احکامو پوهه چي مخکي مو وويل پر هر مسلمان فرض عين ده چي په دې خاطر موږ د هيواد په ټولو دولتي او شخصی پوهنتونو کي اسلامي ثقافت د يوه ځانګړي درس په توګه وايو.

نو په دې اساس هر مومن کس بايد د يو ډاکټر ، انجنير، ساينس پوه ، ژورناليست، فارمسست، ارواپوه، سياست مدار، حقوق پوه ، پيلوټ، ډريور، ميخانيک او نورو سربيره يو مسلمان هم وي.د خدای جل جلاله په وړاندي هرڅوک مسئوليت لري چي د اسلام د مقدس دين احکام زده او د هغو په چوکاټ کي خپل ژوند ته ښکلا ور وبخښي، خپلي کورنۍ ته اسلامي زده کړي ور کړي او حتٰی د يوه غير مسلمان سره د مخامخ کېدو په وخت کي کوښښ وکړي، چي هغه ته اسلام ته بلنه ورکړي. ځکه په قرآن شريف کي وايي ((وَالْعَصْرِ - إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ - إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا

Download from: www.aghalibrary.com

بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ)) په دې مبارک سورت کې د ايمان په درلودلو له زيانونو څخه د خلاصون، د خدای جل جلاله د امرونو د پرځای کولو او نيکۍ ته د رابللو په اړه بيان سوی دئ.
او په همدې توګه يو مسلمان مکلف دی چې موحد ( يو خدای جل جلاله پرسته) و اوسي، خپل کارونه د خدای جل جلاله د امرونو سره سم ترسره کړي، په خپلو معاملاتو کې اسلامي ارشادات په نظر کې ولري، د خپل هيواد په سياسي او اقتصادي جوړښت کې اسلامي بنسټونه او اساسات په نظر کې ولري، او انسانان نه سي کولای چې دا ټوله د الهي ارشاداتو څخه پرته ترسره کړي.
يو مؤمن انسان په هرځای او هر حالت کې په کورکې، په وظيفه کې، په ښار او بازار کې په سفرکې او له هيواده بهر يو مسلمان دی او په هر حالت کې هغه يو مؤمن دی او لازمه ده چې هره شېبه د خپلو ايماني دندو څخه باخبره اوسي، د يوه مسلمان د ژوند اساس پر الٰهي احکامو باندې ولاړ دي، هغه څنګه کولای سي، چې دا ټوله د حقيقت پيژندنې څخه پرته درک کړي.
خدای جل جلاله فرمايي :

(وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا )(الاسراء–٣٦آيت)

مسلمانانو ته فرمايي : د هغه څه په اړه چې علم نه لرې مه درېږه، د اوريدلو او ليدلو حس، د انسان زړه او دا ټوله مسئوليت لري.
لنډه دا چې يو مسلمان نسي کولای چې الٰهي حکمونه پرځان، کورنۍ، تر لاس لاندې کسانو او حتٰی اسلام ته په بلنه او دعوت کې

Download from: www.aghalibrary.com

پرته له زده کړي عملي کړي. نو له دې ځایه څخه ویلای سو چي د اسلامي اساساتو زده کړه پر هر مؤمن مسلمان فرض عین ده او د ثقافت مضمون زموږ له درنو ځوانانو سره په دې لاره کي مرسته کوي.

یو مسلمان څو هدفه او موخي لري:

## لومړي هدف :

## هدف درلودل:

یو انسان، چی ځان ته هدف ونلري نو مجبور دی د بل پیروي وکړي او د یوه داسي موټر په څیر وه اوسي ، چی ماشین یې خراب سوی وي او په بل موټر پوري یې ټېله کړی وي، بې هدفه انسانان په دې تمه وي چي یو څوک پیدا سي چی لار لري او دی ورپسې سي، وطن یې بل څوک جوړ کړي، د فاع یې د بل چا پر غاړه وي، او خپله باید په ساتیریو او مستیو بوخت وه اوسي.

یوازنی شی چي له یوه انسان څخه هدفمن کس جوړه وي د اسلام مبارک دین دی، ایمان دی او له خدای جل جلاله سره ارتباط او اړیکه ده.

ایمان دی چی انسان ته شخصیت وربخښي، ایمان وو چي عربان یې له سلګونه کلونو چوپانی څخه په رهبرانو بدل کړل، حضرت عمر (رض) خپلي کابینې ته ویل موږ چوپانان وو چي پسونه مو څرول خو د اسلام برکت وو، چي موږ د نړۍ په رهبرانو بدل سو او هرکله چي خپل عزت له اسلام څخه پرته په بل څه کي وغواړو خدای جل جلاله به موږ ذلیله کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

## دوهم هدف:

### دیوه روښانه فکر درلودل :

کله چي یو انسان هدف ولري مګر یوځرګند او ښکاره فکري لوری ( خط) وه نه لري چي د هغه سره یو شان حرکت وکړي بیا هم سهوه کوي. دا فکري خط خدای جل جلاله د هر مؤمن مسلمان لپاره په قرآن عظیم الشان کي ترسیم کړی دی او د هغه نمونه یې حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ښودلې ده.

## دریم هدف :

### ویښ ضمیر :

د اروپاپوهني له نظره ضمیر او احساس هغه نفسي او روحي شعورته وايي چي د انسان په پیدایښت کي ورسره پیدا کیږي او د انسان کړني او اعمال کنټرولوي، هغه انسان چي د یوه ویښ ضمیر څښتن وي دباندني پولیس او څارونکي ته اړتیا نه لري او ایمان د پولیسۍ رول لوبه وي او هغه هره شېبه څاري.

موږ اسلامي ثقافت وایو چي هدفمن وه اوسو، فکري خط مو روښانه او د ویښ ضمیر څښتنان وه اوسو، خدای جل جلاله په ځان پسي څارن وه بولو، او خپل ژوند په اصلاح او هدایت مخ ته یوسو.

## د نړۍ لید او نړۍ حس ترمنځ توپیر :

هر انسان د دوو لیدو څښتن دی چي یوه ته بصارت (ښکاره لیدل) او بل ته بصیرت (پټ یا مانوي لیدل) وايي بصارت چي د انسان

Download from: www.aghalibrary.com

د لید په حس باندي اړه لري چي يوازي مادي او د باندني جوړښت په سترګو ليدلا سي او بصيرت د انسان په زړه ، فکر، خيال ، مانا او ذهن پوري اړه لري. په بصارت کي ټول حيوانات هم شامل دي. مګر انسان د بصيرت د قوې درلودونکۍ دئ چي انسان ته لوړ شخصيت او موقف د نورو ټولو مخلوقاتو په وړاندي ور بخښي.

نو په همدې توګه دا دوې اصطلاحګاني نړۍ حس اونړۍ لید موږ سره بيله ولاى سو، موږ ډېر حيوانات وينو چي په بعضو حواصو کي تر انسانانو ښه دي، مثلاً د ځيني مرغانو او يا ځينو حيواناتو د ليدو حس د انسان د ليدو د حس څو برابره دى په همدې توګه د ځينو حيوانات د اوريدلو او بويولو په حس کي د انسان څو برابره دي. مګر دا شان درنښت او لوى والى په نړۍ ليد کي د هغه په بصيرت کي دى، چي ټوله نړۍ په خپل بصيرت سره مطالعه کوي.

د انسان همدا پوهه او عقل دئ چي انسان ته يې په ټولو مخلوقاتو کي کرامت ور بخښلي دى او خداى جل جلاله هم په همدې خاطر انسان اشرف المخلوقات ګرځولى دى.

Download from: www.aghalibrary.com

# اسلامي نړۍ لید

## د اسلامي نړۍ لید تعریف

- اسلامي نړۍ لید د حقیقتونو په اړه د قرآني امرنو او نبوي سنتونو په رڼا کي د یوه مسلمان لید له اسلامي نړۍ لید څخه عبارت دي.

- اسلامي نړۍ لید د یو بشپړ نړۍ لید په څېر، د انسان د ژوندانه د ټولو اړخونو په نظر کي درلودلو سره و حقیقت ته د رسېدو په موخه له ټولو وسایلو څخه استفاده کوي نو اسلامي نړۍ لید یو ځانګړي فکري لوری (خط) د حقیقتونو په پیژندلو کي د خدای جل جلاله د ستون د زبات لپاره لري.

Download from: www.aghalibrary.com

# په اسلامي نړۍ لید کي
# فکري لوری ( خط)

په اسلامي نړۍ لید کي دانسان لپاره یو فکري لوری (خط) ورکول سوئ دئ چي هغه پر درو اساسي عنصرونو وېشل کیږي.
۱- حس، ۲- عقل، ۳- وحي




## الف : په اسلامي نړۍ لید کي د مادي حس رول :

د اسلام مقدس دین ماده حقیقت ته د انسان د نږدې کېدلو یو وسیله بولي او زیات شمېر آیاتونه د کایيناتو واقعیتونه بیانه وي، دا نړۍ لید کایینات، خلګ او ټوله مادي نړۍ داسي ترڅېړني لاندي نیسي لکه قرآن کریم، چي یې څېړي او هر مؤمن ته یې لارښونه کړې چي له هغو څخه ګټه واخلي.

مګر اسلامي نړۍ لید د مادې نیمګړ تیاوي او نا بشپړ تیا وي ویني او د حس د ناتوانۍ په پایله کي له عقله څخه کار اخلي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ب : په اسلامي نړۍ لید کي د عقل ( فکر ) رول :

اسلامي نړۍ لید فکر د انسان تر ټولو ستره ستمني بولي او انسان ته يې د همدې ستمنۍ د درلودلو په خاطر ډېر ستر مقام ورکړئ دئ او خپلو لارويانوته يې همېشه (افلا تعلقون)، ( افلا تنفكرون) او (افلا تتدبرون) ويلي دي، ترڅو له معقوليت، تفكير، تدبير او هوښيارۍ څخه په کار اخيستنه او حقيقتونوته د رسيدو په موخه د انساني عقل په ملتيا له دغه ستمنۍ څخه کار واخلي.

مګر دا نړۍ لید پوهيږي چي د انسان عقل هغه د امام شافعي په خبره چي د انسان فکر تر يوې پولي (سرحده) کار کوي او هلته يې وظيفه پای ته رسيږي او له هغه څخه يو قدم هاخوا کار نه کوي او نه يې کولای سي نو په دې خاطر بيا يوه بله پديده موږ ته راښي چي هغه د وحي پديده وه.

مؤمن انسان همېشه حقايق په دقيقه توګه مطالعه کوي او خپل ايمان د هغه سره مطابق جوړه وي.

کله چي زه په کورکي ناست يم د کور د وره زنګ ووهل سي، زما حس خپله دنده ترسره کوي او ماته خبر راکوي چي د وره زنګ دی، نو د اورېدو حس خپله وظيفه اجرا کړې ده ، مګر اوس د ليدو حس ناتوانه دی، ليدل نسي کولای ځکه په وړاندي يې ديوال دی، ور دی چي دده مخه يې نيولې ده، په دې وخت کي عقل ته رجوع کيږي، عقل موږ ته وايي چي د وره زنګ به د پلاني سړي لخوا وهل سوئ وي، اوس زه د عقل او ذهن په ملتيا دا پريکړه کوم چي د وره شاته خامخا څوک سته، اوس زه د هغه چا په اړه چي د وره شاته دی فکر کوم، آيا هغه نارينه دی؟ او که ښځه ده؟ او يا هم کيدای سی يو داسي حيوان وي چي زده

Download from: www.aghalibrary.com

کړه ورکول سوې وي؟، دا خیالونه زه له ځانه سره کوم، مګر حس ماته جواب نه وایي حس ماته وایي ما خپله دنده ترسره کړه، عقل وایي زه هم کار نه کوم ځکه عقل خپل معلومات له حس څخه اخلي او د هغه معلوماتو سره سم کار کوي چي عقل یې ورکوي، نو عقل هم جواب نه راکوي.

مشکل په څه کي دی؟ مشکل په هغه څه کي دی چي د عقل او حس له دایرې څخه غایب ( نه لیدونکي) دي. دونه لیري هم نه دی مګر یو هم جواب نلري، نو یوه لاره سته، هغه لاره څه ده؟ یوازي یو ماشوم کولای سي چي دا مشکل چي عقل او حس یې نه سي حلولای حل کړي یو ماشوم چي ډېر کوچنی هم دئ وره ته لېږم چي وګوري څوک دئ؟ کوچنی بیرته راځي او ماته وایي چي فلانی څوک دی. یو داسی څوک دی چي ماهیڅ فکر نکوی چي هغه به زما کورته راسي.

مګر زه په دې خاطر چي عقل او حس می عاجزه سوي دي مجبوره یم چي د کوچني ماشوم خبر ومنم.

ولي باید د ماشوم خبره ومنم؟ ځکه دا ماشوم هغه لیدلی دی احساس کړی یې دی، او ما نه دی لیدلی، نو په دې اساس زه د هغه ماشوم و ویلوته تسلیمېږم چي فلانی کس څوک دی او کله چي له ځایه ولاړېږم او د وره پر لور ځم، رښتیا هم هغه څوک دی کم چي ماشوم ویلی وو؟

اوس یو سوال راته پیدا کیږي چي ما ولي د یوه ماشوم خبره ومنله؟ او د هغه سړي په پېژندنه کي مي له عقل او حس څخه ګټه وانه خسته؟

ما کوښښ وکړی مګر عقل او حس مي منفي جواب راکړئ او زه مجبوره سوم چي د هغه ماشوم و خبروته تسلیم سم .

Download from: www.aghalibrary.com

مبايل تيلفون مي رانيوئ، ډېر ښايسته وو، ښه کار يې کوئ فلم اخيستنه،عکس اخيستنه، نوم ليکنه او ټول پروګرامونه يې کمپيوټري عيار سوي وه، ما په خپلو حواسو دا ټول شيان حس کړل، اوس مي عقل راته وويل چي دا ديوه لوی عالم په لاس طرحه سوئ دئ، ما که څه هم د دې مبايل شرکت او د جوړېدو ځای نه دئ ليدلئ مګر بيا هم باور لرم چي دا کار هغه سړي کړيدئ، عقل مي راته وايي چي دا سړی ډېر مهربانه سړی وو ځکه د انسان لپاره يې خدمت کړئ دئ او په همدې توګه د پوره پوهي څښتن دئ ځکه چي دا طرحه او ډيزاين هرڅوک نسي جوړولای.

اوس زه نه پوهېږم چی دا کس څوک دی، هغه شرکت چي دا مبايل يې جوړ کړی دی څه نوم يې درلودی، دا مبايل څونه وخت کار کوي، څه کولای سي چي دا مبايل خراب کړي؟

کله چي مي له عقله پوښتنه کوم جواب نلري، مګر يو ښه جواب لري چي وايي، چي د مهربانۍ له مخي به يې کتلاک (لارښود) هم ورسره ايښئ وي، کله چي کوتۍ ( کارتن) خلاصه وم وينم چي يو کتاب د لارښود (کتلاک) په توګه پکښي پروت دئ هغه مطالعه کوم، د مبايل په اړه ټول معلومات، هغه شرکت چي دا مبايل يې جوړ کړی، او نور معلومات چي زما سوالونه جوابه وي دلته موجود دي.

اوس چي دې ښکلو کايناتو ته ګورم، حواس مي عجب او غريب شيان ويني چي په پوره دقيقه او اتوماتيکه توګه کار کوي، خپل وجود ته ګورم خپل ماغزه د کمپيوټر ترحافظې توانمن وينم، نو پر ته له شکه عقل مي ماته وايي چي د دې لويو کايينات (نړۍ) او کوچني کايناتو ( انسان) لپاره يو پيدا کونکئ سته چي دوئ يې پيدا کړي دي، نو اوس مي عقل راته وايي چي دا به نو يو مهربانه ذات وي او د خپل

Download from: www.aghalibrary.com

پېژندګلوي او تعرف لپاره به یو داسي لاربښود (کتلاک) ولري چي زموږ د ټولو سوالونو لپاره جواب ولري، نو موږ قرآن شریف وینو چي په مطالعه او څېړنه یې زموږ ټول سوالونه جوابیږي.

## ج : په اسلامي نړۍ لید کي د وحي رول :

په اسلامي نړۍ لید کي، د انسان عقل انسانانو ته ور زده کوي چي دکایيناتو خالق چي د ټولو مخلوقاتو رب دی، ددې لپاره چي انسان د بد بختیو څخه خلاص کړي، د نور ټولو جوړونکو (صنعتګرانو) په څېر، د خپل پیدایښت (صنعت) لپاره یو لاربښود (کتلاک) رالیږلی دی چي ټول حقیقتونه یې په هغه کي بیان کړي دي، انسان کایینات او خپله خدایي یې په هغه کي خلګوته ور پېژندلې ده. ډېر سوالونه چي ماټریالیسټان ، فیلسوفان او ایډیالسټان جواب نه ورته لري او یا یې هغوئ د ګمراهي لور ته بیولي دي، په دې نړۍ لید کي د وحي له لاري جواب کړي دي.

## د اسلامي نړۍ لید غوره والی:

دا نړۍ لید یو لړ غوره والي لري چي کولای سو په لاندي توګه یې بیان کړو:

الف : اسلامي نړۍ لید د انسان د پېژندني ټول اړخونو حسي، علمي، فکري او وحي په کار اچوي او حقیقت ته ځان رسوي .

ب : په دې نړۍ لید کي انسان ته ټول ورونه پرانیستي دي چي انسان کولای سي له هر یوه څخه د خپل توان تر اندازې پوري کار واخلي.

Download from: www.aghalibrary.com

ج : دا نړۍ لید د انسان تنده په زوره ورو دلایلو ور ماتوي.

د : دا نړۍ لید انسان په نیمه لاره کي نه پرېږدي بلکي د لا محدود د درک لپاره یا داسي وسایل انسان ته ورکوي چي د عقل د محدودیت څخه ووزي او د وحي په واقعیتونو باندی چي لا محدودونه هم بیانه وي ورسیږي.

هـ : دا نړۍ لید یوازی عقل په نظر کي نه نیسي بلکي، له کایيناتو سره سمون (مطابقت) په انساني فطرت پوري هم اړه لري چي د هر پاک نفسه انسان لپاره د پوهي او درک وړ دی.

# د اسلامي نړۍ لید موضوعات

اسلامي نړۍ لید د یوه بشپړ نړۍ لید په څېر، د انسان د ژوندانه د ټولو اړخونو په نظر کي نیولو سره و حقیقت ته د رسېدو په موخه له ټولو وسایلو څخه ګټه اخلي.




Download from: www.aghalibrary.com

# لومړۍ برخه
# خدای جل جلاله
# پېژندنه

Download from: www.aghalibrary.com

# لومړی څپرکی:

## د ایمان رول په ژوندکي

### د انسان لپاره د خدای جل جلاله پیژندني اړتیا او ایمان درلودل

په دې څپرکي کي به دلاندي موضوعاتو په اړه وږغیږو

**۱- د انسان اړتیاو دین ته په فردي توګه**
**۲- د انسان اړتیاو دین ته په ټولنیزه توګه**

Download from: www.aghalibrary.com

# د لومړي څپرکي پيل

لومړی سوال چې انسان يې ددين قبلوني لپاره مطرح کوي دا دی چې موږ د خدای جل جلاله د پېژندلو لپاره څه اړتيا لرو؟ آيا انسان دين ته اړتيا لري؟ او يا دا چې آيا انسان کولای سي له دين څخه پرته ژوند وکړي ؟ آيا ايمان په ژوند کې رول لري؟ په هره توګه دېر سوالونه په دې اړه مطرح کيږي مګر ښه به دا وي چې موږ لومړی د ايمان په اړه معلومات ولرو.

پوښتنه : ايمان د اسلام د مقدس دين له نظره څه شي دئ؟

جواب : ايمان د اسلام پر اساساتو د باور درلودلو او په ژبه د هغه ويلو څخه عبآرت دئ ځيني علما وايي چې ايمان باور درلودل په زړه، اقرار کول په ژبه او عمل کول د بدن په غړو دی.

## د ايمان اساسات :

ايمان د شپږو اساسي اصولو څخه جوړ دی چې هغه دا دي:

۱- د خدای جل جلاله پر يوالي ايمان درلودل.

۲- پر ملايکو ايمان درلودل.

۳- پر آسماني کتابونو ايمان درلودل.

۴- پر الهي پيغمبرانو ايمان درلودل.

۵- د اخرت پر ورځ ايمان درلودل.

Download from: www.aghalibrary.com

٦- له مرګه څخه وروسته پر ژوندي کيدلو ايمان درلودل.

مخکي له دې چي په  دې اړه وږغيږو، بايد پوه سو چي انسان څو ډوله اړتياوي لري. انسان درې ډوله اړتياوي لري.

فردي

ټولنيزي

عالي




## ١- فردي اړتياوي :

د انسان فردي اړتيا وي هغه اړتياوي دي چي يو انسان د يوه فرد په

Download from: www.aghalibrary.com

څېر هغه ته اړتيا ولري دا اړتياوي موږ پر دوو برخو وېشو.

الف : مادي اړتياوي

ب : مانوي اړتيا وي

الف : مادي اړتياوي :

هغه اړتياوي چي يو انسان د يوه فرد په څېر (حيث) په خپل مادي اړخ کي هغه ته اړ دی، چي هغه په څلور ډوله وجود لري :

مايعات، جامدات، ګازات او جنس

ب : معنوي اړتياوي :

څنګه چي يو انسان په مادي اړخ کي يو لړ اموروته اړتيا لري هغه په معنوي اړخ او روحي اړخونو کي هم يو لړ اړتياوي لري چي هغه عبارت دي له:

- روحي سکون ته اړتيا
- د ژوندانه د هدف پېژندلوته اړتيا
- هغه سوالونوته جوابونه چي انسان ته ور پيدا کيږي لکه : له کومه راغلم؟ چيري ځم، نړۍ د څه لپاره ده؟ انسان په اخير کي څه کيږي او داسي نور چي د هوښيارو خلکو په مغزونو کي راګرځي.

نوپوه سړي له ځانه څخه داسی هم پوښتي : زه له کمه ځايه راغلم؟ چيری ځم؟ چا زه پيدا کړی يم؟ آيا دا ښکلئ ژوند به يوه ورځ پای ته ورسيږی او نيست او نابود به سي، آيا زما ټوله زده کړي، لاس ته راوړني او کوښښ به هيڅ سي او زه به د يوه هير سوي تاريخ په څېر هيرسم؟ دا سوالانو د تاريخ په اوږدوکي د ډېرو ستر پوهانو فکرونه مصروف کړي وه، په پخوانيو وختوکي افلاطون ، سقراط ، ارسطو او نوروټولو فلسفانو او

Download from: www.aghalibrary.com

په معاصره دوره کي دیکارت، فرانس بیکن او نور په دې فکر کي وه چي انسان ولي پیدا سوئ دئ؟ ولي نړۍ ته راغلئ دئ او په اخیر کي به څه کیږي؟ هدف او موخه یې څه ده؟ او لاره یې چیري ځي؟

## ۲- ټولنیزي اړتیاوي :

انسان نسي کولائ چي په یوازي والي کي ژوند وکړي، ځکه د ټولنپوهني د ډېرو پوهان په نظر انسان یو ټولنیز موجود دئ، مجبوره دئ، چي په ټولنه کي ژوند وکړي، انسان په ټولنه کي د ژوند کولو لپاره ځني ټولنیزو اساساتو ته چي د نورو ټولو مخلوقاتو سره د هغه د اړیکو د ساتلو لپاره یې کاروي اړتیا لري؟ هغه اساسات یا اړتیا وي دا دي:

- کورنۍ ته اړتیا او له کورنۍ سره اړیکي.
- ښوونځی او پوهنتون ته اړتیا.
- قانون ته اړتیا.
- برابری (عدالت) ته اړتیا.
- خوندیتوب (امنیت) ته اړتیا.

کله چي په دقیقه توګه فکر وکړو او له ځانه څخه وپوښتو. د ایمان رول په دغو اساساتو کي په کوم یوه کي دی؟

په جواب کي ویلای سو چي ایمان د ژوند په ټولو اړخونو کي ډیر ژور رول لري چي حتمي ده هر یو بېل بېل وڅېړو.

## د ایمان رول د انسان په فردي وجود کي:

مخکي مو وویل چي د انسان وجود له دوو برخو مادي او مانوي څخه تشکیل سوئ دئ چي انسان په دواړو برخو (مادي او مانوي) کي

Download from: www.aghalibrary.com

دين ته اړتيا لري.

۱- د ايمان رول په مادي او حسي اړخ کي.

انسان په انساني ټولنه او ټولنيزو چاروکي

الف : په مادي اړخ کي :

د اسلام مبارک دين په دې اړخ کي ټولي مادي اړتياوي په مثبته توګه توجيه او ښکاره کوي؟ دا مثبته توجيه مثبت نتايج چي د دنيا او اخرت نيکمرغي پکښي نغښتې ده له ځانه سره لري. د مثال په توګه :

## ۱- د(څښاک) مايعاتو په اړه :

د انسان وجود زياتو څښاکو (مايعاتو) ته اړتيا لري، د اسلام مقدس دين مؤمن ته لارښوونه کوي چي زيات څښاک وکاروي لکه معدني اوبه، د ميوو اوبه د نورو شيانو اوبه چي د انسان وجود ته ګټه لري او د هغه و جسمي غوښتونو ته جواب ويلای سي او په همدې توګه د الکولي مشروباتو (نشه کونکو) څخه په کلک د ځان ساتني امر کوي.

حضرت عبدالله بن عمر (رض) فرمايي چي حضرت نبی کريم صلی الله عليه و سلم اوفرمايل ((کل مسکر خمر وکل مسکر حرام و من شرب الخمر فی الدنيا فمات و هويدمنلها لم يشربها فی الاخرة )) (ټول نشه راوړنکي شيان شراب دي، او هر نشه راوړونکی حرام دی او هر هغه چا چي په دنيا کي پرله پسې شراب وڅښل او پر همدې مړسو په آخرت کي سې له څښلو څخه محروم دی.)

خدای جل جلاله پوهيږي چي الکولي څښاک او ټول نشه راوړنکي شيان د انسان لپاره ډير تاوانونه لري لکه عقلي، جسمي،

Download from: www.aghalibrary.com

اقتصادي او ټولنیز نوځکه مسلمانانوته لارښوونه کوي چي ستاسو لپاره د اسلام دغه حکم د نړۍ او آخرت دواړو لپاره یو خیردی او هر هغه څوک چي دغه اسلامي حکم ومني نو د دنیا او آخرت ښېګڼې به ور په برخه سي.

مګر برعکس په هغه ټولونو کي چي الکولي څښاک ته قانوني اجازه ورکړل سوې ده ډېر مشکلات او مصیبتونه یې هغوئ ته ورپه برخه کړي دي د مثال په توګه له روغتیایي او جسمي اړخه یې هغوئ ته ډېري ناروغۍ ور پیښي کړي دي، د ټولنیز اړخه د ډېرو لویو ترافیکي پیښو سبب ګرځیدلي او له اقتصادي پلوه یې پرکورنیو او ټولنه ډېر ژور تاثیر کړئ دئ.

**سل څراغونه یې په لاس کي دي له لاري وزي**
**پربېردی چي ولوېږي سزا د خپل ګناه ویني**

څښاک (مایعات)+د اسلام د مقدس دین مثبته لارښونه = دنیا او آخرت نیکمرغي.

## ۲- د جامداتو په اړخ کي:

جامدات هغه ټول مواد دي چي په خوراکي توکو او یا نورو سامان آلاتو کي لیدل کیږي چي انسان د خپل ژوند د سموالي او یا هوساوالي په لاره کي ګټه ځني اخلي، د اسلام سپیڅلی دین خپلو پیروانوته امر کوي چي له خوراکو او نورو وسایلو څخه په مثبت توګه ګټه واخلی. مثلاً:

### د خوراک (غذا) په اړه:

Download from: www.aghalibrary.com

د اسلام مقدس دين خپلو ټولو، پيروانوته امر کوي چې د حلالوخورکونو (غذاو) څخه ګټه واخلي، د هغه غوښو څخه چې خدای جل جلاله حرامي ګرځولي دي بايد ځان وساتی د اسلام دغه لارښونه د انسان د اخرت او دنيا د نيکمرغي سبب ګرځي، ځکه د خدای جل جلاله د دغو احکامو په ترسره کولو سره له يوې خوا د خدای جل جلاله رضا حاصليږي او له بله اړخه په نړۍ کي دسته بېلا بيلو ناروغيو څخه انسانان ساتل کيږي کومي چې په دې غوښو او منع سو شيانو کي همېشه کشف سوي دي او نوري يې هم د کشفيدلو په حال کي دي.

په نني زمانه کي ځيني کسان پيدا سول چې د اسلام دغه لارښووني ته يې په سپکه ستر ګه وکتل او د هغه د عملي کولو څخه يې ډډه وکړه، مګر وروسته پوه سول چې د حرامي سوي غوښي او نورو حرامو سو خورکونو څخه هغوی ته څونه خطرناکه ناروغۍ ورپيښي سوي دي.

او په دې اړه زيات راپورونه خپاره سول چې په ځينو کي راغلي وه چې دسارس ناروغي په چين کي د پيشيانو د غوښي څخه انسانانوته راغلې ده او په همدې توګه د خوګ په غوښه کي داسي مکروبونه سته چې په دوه سوه (۲۰۰) درجو حرارت کي هم له منځه نه سي تللای او د انسان په وجود کي د مختلفو ناروغيو لامل ګرځي.

## د سامان آلاتو په اړخ کي :

انسان په خپلو روزمره چاروکي يو لړ سامان آلاتو ته اړتيا لري چې د اسلام مقدس دين خپلو پيروانو ته لارښوونه کوي چې له هغو څخه په مثبته توګه ګټه واخلی چې له يوه اړخه د هغوی اړتياوي پوره سي او له بله اړخه د هغوی له منفي اړخونو څخه ځان وساتي، د مثال په توګه : ګرځند(مبايل) تلفون يو له هغه سامان آلاتو څخه دی چې انسان په

Download from: www.aghalibrary.com

ټولنیزه توګه هغه ته اړتیا لري او د خپلو مشکلاتو د حل لپاره یې کاره وي، مګر بې ځایه خبري، زیات او بې ځایه لګښت (مصرف) او خسته کوونکي زنګونه چې د نورو لپاره د ناکرارۍ سبب ګرځي هغه کارونه دي چې هم د اسلام د اخلاقي اړخه او هم د اسلام د اقتصادي اړخه ناروا دي.

با شخصیته او مؤمن انسانان له ګرځند( مبایل) څخه د یوې وسیلې په توګه کار اخلي، د ټولني او شاوخوا د حرمت او سپېڅلتیا په نظرکي نیولو سره په خپل ګرځند (مبایل) کي د موسیقی او خرابو انځورنو د اچولو څخه ځان ساتي، مګر بې شخصیته کسان چي له ګرځند ( مبایل) څخه په مثبته ګټه اخیستنه نه پوهیږي، د خپل شخصیت د کمزوري له مخي په هم هغه توګه چي دی دئ دګرځند (مبائل)څخه په منفي توګه ګټه اخلي.

جامدات + د اسلام د مقدس دین لارښووني = ددنیا او آخرت ګټه

## ۳- د ګازونو په اړخ کي :

ستر ښتن د خپل د رحمت پر اساس د انسان د وجود لپاره د اړتیا وړ ګازونه پیدا کړي دي چي د انسان وجود د خپلي اندازې پورې له هغه څخه په وړیا توګه ګټه اخلي، مګر هغه زیان رسوونکي ګازونه په خاصه توګه دودونه[(٥)] ، مخدراتو کي او نور ټول ګازونه چي د انسان

---

(٥) _ د اسلام علما په دې نظر دي چي سګریټ څکول حرام دي،ځکه چي د سګریټو په څکولو کي څو تاوانونه نغښتي دي، لومړی داچي د پیسو مصرفول پر یو بې ګټي او بې فایدې شي باندی اسراف دی. او په همدې توګه د انسان روغتیا ته تاوان رسوي او دا یو ډول تدریجي ځان وژنه ده، اوځان وژنه څه په یوځل څه په تدریج (کرارکرار)حرامه ده، او له اقتصادي پلوه سګریټ څکول پرکورنني او ملي اقتصاد په

Download from: www.aghalibrary.com

وجود ته ضرر لري د مومنانو لپاره منع ګرځېدلي دي.

ګازونه + د اسلام د مقدس دين لارښونې = د دنيا او آخرت نيکمرغي

## ۴- په جنسي اړخ کي:

انسان په مادي اړخ کي د جنسي غريزې درلودونکئ دئ، په دې اړه درې مرحلې سته.

الف : ځيني دينونه او قانونه چي د انسانانو لخوا جوړسوي لکه هندوييزم او يا اوسنی مسيحيت چي د جنسي غريزې پرخلاف جنګيږي او غواړي چي د جنسي غريزې پديده له منځه يوسي په دې عقيده دي چي د مذهب ساتنه او په مذهبي او عبادتي کړنو کي د ټينګښت راز په رهبانيت او په نړۍ پريښودنه کي دی. تر داسي اندازې چي ددې دعوه کوي ځان يې دين ته وقف کړی دی او هيڅکله به واده نه کوي. دا ډول کسان چي د انساني فطرت پرخلاف دي بالاخره توان له لاسه ورکوي ګرچه په ښکاره يې له واده څخه مخ اړولی دی مګر د خپلي جنسي غريزې د رفع کولو لپاره په داسي پټو ګناهونو اخته کيږي چي د ځان د خرابی سربېره د ټولني د خرابی لامل ګرځي.

ب : د نړۍ ځيني فکري ښوونځيو (ايډياليک مکتبونه) لکه

---

مستقيمه توګه ژوره اغېزه شيندي، او د شاوخوا د ککړتيا سبب ګرځي او په يوه ځای کي د راټولو سوخلګو ترسره مو رسيږي او د هغوی روغتيا ته ضرر رسوي او د اسلامي اساساتو په رڼا کي چاته ضرر رسول حرام دي ځکه اسلام د کلکه له دې کاره څخه د ځان ساتني امر کوي، نو د دغو ټکو په نظر کي نيولو سره سګريټ څکول حرام دي.

Download from: www.aghalibrary.com

سيکولريزم، ديموکراسي او نورو د جنسي آزادی اعلان کړی دی د هغه اساسات او بنسټونه يې هير کړي د حيواناتو په څېر يا تر حيواناتو بدتر کارونه ترسره کوي نه يوازي دا چي په جنسي اړيکو کي د خپل مخالف جنس سره قانون نه پېژني، بلکي د جنسي اړيکو لپاره د همجنسانو او حيواناتو سره ددغسي اړيکي اجازه ورکوي ترڅو د هغو په دې کړنه نه يوازي دا چي ټولنه دچټلی پر لورځي بلکي د بربادونکو نارغيو لکه ايډز او نورو تناسلي ناروغيو لامل هم گرځي او دکورني مشکلاتو د رامنځته کيدو تر ټولو ستره سرچينه همدا ده لنډه دا چي د انساني نسل د هلاکت او له منځه تلو بېره ور سره تړلې ده.

ج : د اسلام سپيڅلی دين زادوې افراطی او تفريطي نظرې په بشپړه توگه رده وي او مسلمانانوته داسي لارښوونه او رهنمائي کوي.

_ د نړۍ پريښوني (رهبانيت) په بدل کي د واده کولو حکم کوي او د اسلام ستر پيغمبر واده د خپلو سنتونو څخه يو سنت گرځولي او هغه کسان چي ددغه سنت سره بې علاقه گي ښکاره کوي، هغوی يې د خپل امت څخه بهر بللي دي، (النکاح من سنتی فمن رغب عن سنتی فليس منی) نکاح زما له سنتونو څخه يو سنت دی هغه څوک چي زما له سنت څخه سرغړوي هغوی زما د امت څخه نه دي.

د اسلام سپيڅلي دين دا غريزه رد کړې نه ده بلکي مسلمانانوته يې لارښوونه کړې ده چي د جنس بازی هدف، د نسل ډېرښت، د کورنيو تشکيل، له ميرمني يا څښتن سره مينه، د اولادونو روزنه او نور مثبت مسايل دي او دا چي دا ټول اهداف مقدس دي نو بايد چي ددغو کارونو د ترسره کولو لپاره د يوې مقدسي لاري (طريقي) څخه گټه واخستل سي. له مسلمانانو څخه يې هيله کړې ده چي د حضرت رسول اکرم

Download from: www.aghalibrary.com

صلى الله عليه و سلم دغه سنت د عبادت په نيت ترسره کړي نکاح وتړي چې له يوه اړخه دغه غريزه د الهي احکامو په رڼا کي ترسره او له بله اړخه هم هغه د نسل د ډېرښت، د کورنی تشکيل، د اولاد درلودل او د کورنی اړيکيو ساتلو په نظر کي ونيول سي.

او په همدې توګه اسلام د مخالف جنس سره د نکاح لارښوونه کوي، او نکاح د دواړو اړخونو (نجلی او هلک) په خوښه د دوستانو مورو پلار په مخکي په قراني آيتونو او نبوي احدايثو باندی ترسره سي او په همدې توګه د نا مشروع اړيکو څخه په کلکه توګه مخنيوي کوي او هر نا مشروع عمل يې په پوره توګه څېړي او په بشپړه توګه يې حرام بولي، د دغو لارښوونو پايله په ننی زمانه کي د دنيا او آخرت ګټي انسانانو ته ور په برخه کوي څکه:

_ جنس منع کيږي نه بلکي مثبته توګه ګټه څيني اخستل کيږي.

_ جنس په بې بندوباره توګه نه استعماليږي بلکي د ټولنيزو او انساني قوانيونو په رڼا کي استعماليږي.

_ د ټولنی دغړو اړيکي په درنښت او د دواړو خواو په مسئوليت ترسره کيږي.

_ نوي زيږيدلي ماشومان د دغو روا اړيکو په رڼا کي کولائ سي چي په يوې کورنۍ کي ژوند وکړي، لوی سي، تربيه سي او له خپلو ټولو ټولنيزو حقونو څخه برخمن سي.

_ ښځي د اسلامي قوانينو په رڼا کي په عزت سره ژوند وکړي د عزت تاج پرسر او د بې لارو بې ايمانو نارينو څخه ځان وساتي.

_ نارينه او ښځو ته امر کوي چي هيڅکله يو بل ته په شهوني نظر وه نه ګوري او هيڅکله په دقيقه توګه يو بل ته داسي وه نه ګوري چي د ګناه سبب وګرځي.

Download from: www.aghalibrary.com

_ د مسلمانو ښځو او نجونوته امر کوي چي په اسلامي پرده کي چي ور یښتان، غاړه او د وجود ټوله غړي یې پټ وي د اړتیا په وخت کي له کوره راووزي او د ځان جوړوني او د عطرو وهلو څخه د کور د باندني ځان وساتي.

_ پاکي او سپیڅلتیا یې په ټولنه کي د هر مسلمان دنده بللې او د ټولني له هر فرد نر او ښځه ، هلک او نجلی څخه یې هیله کړې ده چي د دغو اساساتو په ترسره کولو کي پوره پوره ونډه واخلي، نجوني باید له داسي پوښاک (لباس) څخه ګټه وانخلي چي د هلکانو فکر ور واوړي او هلکان هم باید د نجونو د آزارولو او نورو ناروا کارونو څخه ډډه وکړي.

یادونه : د انسان په وجود کي یولړ نوري غریزې هم سته چي په لاندي توګه دي:

## _ د مالک کېدو غریزهٔ :

هر څوک غواړي چي د مال، مځکي کور او نورو شیانو څښتن وه اوسي اسلام په دې اړه هم لارښووني کړي دي چي امر کوي تاسو د خپلو مشروع ضرورتونو دترسره کولو لپاره په مشروع توګه ستمني لاس ته راوړی.

## _ د ځان ښه بلني غریزه :

هر انسان دې ته لېواله دی چي تر نوروښه وبلل سي، هر زده کوونکی غواړي چي د خپلي ټولګۍ اول نمره وه اوسي، د اسلام مقدس دین په دې اړه هم ځان ته یو کړنلاره لري، مسلمانانوته امر کوي چي په خپل منځ کي دي سالم رقابت ولري، لومړی دي خپل رقابت په ښو چارو کي وساتي او وروسته د ژوند په ټولو چاروکي له حسادت او

Download from: www.aghalibrary.com

ځان غوښتنی او تکبر څخه دی په کلکه ځان وژغوري.(٦)

## د ایمان رول په مادي اړخ کي لنډون (خلاصه)

څښاک + د اسلام مثبتي لارښووني = د دنیا او آخرت نیکمرغي
خوراک + د اسلام مثبتي لارښووني = ددنیا او آخرت نیکمرغي
ګازونه + د اسلام مثبتي لارښووني = ددنیا او آخرت نیکمرغي
جنسي اړیکي + د اسلام مثبتي لارښووني = ددنیا او آخرت نیکمرغي
سامان آلات + د اسلام مثبتي لارښووني = ددنیا او آخرت نیکمرغي
څښتن توب + د اسلام مثبتي لارښووني = ددنیا او آخرت نیکمرغي
ځان مننه + د اسلام مثبتي لارښووني = ددنیا او آخرت نیکمرغي

## ۲- د ایمان رول په مانوي اړخ کي:

انسان له دوو برخو مانوي او مادي څخه جوړ دی، نو ځکه په څونه

---

(٦)حسد یو بد اخلاقي کار دی،د اسلام په مقدس دین کي دوې مهمي اصطلاوي موجودي دي یوه حسادت ده او بله غبطه حسد ناروا او غبطه جائزه ده،حسادت دې ته وایي چي څوک د نورو خلکو په ستو باندي بدکمانه وي او د هغه د له منځتلو غوښتونکی وي دحضرت ابو هریره (رض) څخه روایت دی چي رسول اکرم صلی الله علیه و سلمو فرمایل حسد مه کوی ځکه حسد ستاسو نیکی او ښېګڼي داسي خوري لکه اورچي لرګي خوري. مګر غبطه دې ته وایي چي څوک د نورو پر ستو بدګمانه نه وي بلکي دخدای څخه غواړي چي ده ته هم دونه ورکي څونه چي بل چاته ورکړې ده.

Download from: www.aghalibrary.com

اندازه چي څښاک (مايعات)، خوراک، ګازونو او نورو مادي شيانوته اړتيا لري په همدې اندازه، له مانوي اړخه يو لړ مانوي اړتياوي لري چي هغه دا دي:

- روحي سکون
- د ژوند د هدف پېژندل
- د انسان د پيدايښت د راز پېژندل.
- د انسان د پيدايښت د پايلي پېژندل.
- د خپل پيدا کونکي پېژندل
- د خپلي راتلونکي پېژندل
- د راتلونکي تضمين يې.
- د يو توانا ملاتړ درلودل.
- د مشکلاتو حل کوونکی درلودل.
- د يوه مهربانه پيداکوونکي درلودل.

دغه اړتياوي او يو لړ نوري معنوي اړتيا وي د هغو سوالونو لپاره يو ښه جواب دی چي نن ورځ د نړۍ خلک او اوسيدونکي ورسره لاس او ګرېوان دي، چي انسانانو يې د جوابونو د پيداکولو لپاره ډير کوښښ هم کړی دی مګر په پيدا کولو کي يې برياليي سوي نه دي. کله يې په نيمه لارکي سقوط کړئ دئ او کله په خرافاتو پسي تللي دي او کله يې بيا خپل ځان پيدا کونکی (خالق) بللئ دئ. لنډه دا چي هغه کله ناکله د خپل وجود څخه هم پښېمانه سوئ دئ او کله ناکله خوېي ځان په هر اړخ کي پوره او بشپړ بللی دی.

ددغو مشکلاتو د حل لپاره خدای جل جلاله قرآن کريم د يوه دنيوي او اخروي بشپړ قانون په حيث رالېږلئ دئ ترڅو دي ټولو سوالونو ته جواب وه وايي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۱- روحي تسکین :

د روحي تسکین لپاره یې د انسان اړیکي دیوه توانا مهربانه ، عادل او تل پاتي پیدا کونکي (خالق) سره ساتلي دي چي انسان کولای سي پرهغه د تکې او باور په رڼا کي په خورا آرامي سره ژوند وکړي.

## ۲- پټنځای ( پناهگاه) :

انسان که وه غواړي که و نه غواړي په ژوند کي له مشکلاتو سره د مخامخ کېدو په وخت کي یوه پټنځای (پناهگاه) ته اړتیا لري؟ ترڅو هغه ته په مانوي اړخ کي سکون ور وبخښي، پر یوه خدای جل جلاله باور درلودل، و یوه انسان ته پوره آرام او تسکین وربخښي او هر کله چي یوڅوک پر داسي یو څښتن باور ولري چي د ټولو کمالونو څخه برخمن وي، نو هغه ته د آرامۍ احساس ورپیدا کیږي، چي هغه له روحي او رواني ناروغیو څخه خلاصه وي.

تاسو فکر وکړی چي تاسو یوه داسي ولایت ته ځی چي مینه ورسره لری نو ځکه تاسو ته د ارامۍ او سکون ټول اسباب تیاریږي او تاسو هلته په آرامۍ سره خپل ژوند ته دوام ورکوئ، اوس تاسو فکر وکړی چي تاسو له یوه داسي څښتن سره اړیکه لرئ چي د هغه صلاحیت او قدرت تر ټولو ستر دی، نو خپله انسان د ټولو روحي ناروغیو څخه خلاصیږي.

له پروردگار سره قوي اړیکي انسان د خپل پیدا کونکي سره ژوري مینې ته ورکشوي، په همدې مینه ژوند کوي او هیڅکله د ژوند مشکلاتو ته نه تسلیمیږي او په زوره ورو مانویاتو ژوند کوي او حتی د

Download from: www.aghalibrary.com

ډېري ناداری په حالت کي هم د خدای جل جلاله شکر ادا کوي، خدایه جل جلاله تاته شکر کښونکی یم چي نن شپه مي حلاله نفقه وخوړه چي د خلګو له وینو او د رشوت له پېسو څخه په لاس نه وه راغلې.

## ۳- سوالونو ته جوابونه :

انسان چی کله په خپل فکر او خیال د نړۍ، خپل وجود، د کایيناتو پروجود او لنډه دا چي د خالق او هرڅه په اړه څیړنه کوي نو په فکرونو کي يې دا سوالونه راګرځي.

موږ له کومه راغلو؟ ولي راغلو؟، د څه شي لپاره راغلو؟، د ژوند هدف څه دی؟، او زموږ پای به څه وي؟

ډیر انسانان په دې فکر کي دي چي زموږ ژوند یوڅو ورځي دی او په اخیرکي زموږ ټول ژوند په یوې عادی پېښه پای ته رسيږي او د نیستۍ پر لور ځي، نو په دې خاطر دا ټولي زده کړي، کار، کوښښونه او نور هيڅ دي؟ دا سوالونه د ټولو پوهانو،هوښیارانو او فیلسوفانو فکرونه د تاریخ په اوږدو کي مشغول کړي وه ځیني د نړۍ له ژونده په تنګ سوي او ځان وژنه يې کړې ده او ځينو نورو بیا کومه لاره نه ده پیدا کړې او خپلو نفسي خواهشاتو ته تسلیم سوي دي ترڅو مرګ ورته راغلی دی او ځيني نورو بیا ځانونه یو مادي مخلوق بللی او ځان يې د نورو حیواناتو په څېر یو حیوان بللی او کله ناکله په آبدیت کي د ځان پر نه ستون باوري سوي او ځان يې د بیزوګانو او شامپانز له نسله بللی، له خپلو آوازونو څخه منکر سوي او خپل آواز يې د مرغانو د پرمخ تللو آوازنو څخه بللئ دئ، ځيني بیا عقلي دلایلوته تسلیم سوي او ډېرحقیقتونو ته يې شاکړې ده، ځيني نور بیا کایيناتو (طبیعت) ته

Download from: www.aghalibrary.com

تسلیم سوي او د هغه عبادت یې کړی او ځینو نور بیا ځان د نړۍ مالک بللی او د نړۍ د قابو کوني کوښښ یې کړئ دئ.

لنډه دا چي هرڅوک د هدف په لټه کي وه مګر هدف ځینی ورک سوئ دئ، مګر د اسلام سپېڅلي دین د انسان لپاره ژوند هدفمن کړئ دئ، دانسان هدف یې ټاکلی او هغه ته یې حقایق بیان کړي.

کله چي یو انسان د اسلام له سپېڅلي دین څخه خبر سوی ژوند یې هدفمن سوی دی.

هر کله چي یو مؤمن مسلمان خپل معنوي سوالونه په قراني دلایلو جواب کړي نو په حقیقت هغه انسان خپل هدف پېژني او په یوه مستقیم خط سیر باندي حرکت کوي.

د اسلام سپېڅلي دین انسانانو ته ور زده کوي چي ښښل، خوړل او د شهواني غریضې ترسره کول د انسان یوه مادي پدیده ده چي په دې پدیده کي انسان له نورو حیواناتو سره یو شان دی، که چیری یو انسان تر هر څه زیات په دې لاره کي کوښښ وکړي نو د انسان او حیوان چندان فرق نه کیږي، نو بیا موږ پرته له دې چي ووایو چي انسان یو پرمخ تللی حیوان دی بله څه نه سو ویلای او که چیری موږ انسان یوازي یو مادي او په نړۍ کي بند پاتي موجود وبولو نو د هغه د ستون لپاره به هیڅ مانا او مفهوم پیدا نه کړو.

که چیری د انسان د موجودیت لامل ژوند وي نو بیا ولي مري او که چیري یې هدف کاروي نو بیا ولي د ژوند په ځینو اړخونو کي ناتوانه کیږي او که چیری یې هدف ساتیری،مزې او چړچې وي نو بیا ولي له غمونو او مشکلاتو سره لاس او ګرېوان کیږي او که چیری د ژوند هدف ابادي وي نو بیا ولي بربادي رامنځ ته کیږي؟ نو د دې ټولو څخه دا څرګندیږي چي دا ټول وسایل دي او اصلی هدف بل څه دی. دا هدف

Download from: www.aghalibrary.com

چیري پیدا کړو؟ او یادې سوالونو ته څوک جواب و وایي؟

د اسلام سپېڅلی دین د ټولو انسانانو د دې سوال جواب وایي، هغوی ته دا ورښيي چي انسان په مادي توګه یو ښایسته مخلوق دی او له مانوی اړخه د یوه سپېڅلي او مقدس روح څښتن دی چي همدا روح یې تر نورو ټولو موجوداتو غوره والی ور بخښي.

هغه اشرف المخلوقات دی، نړۍ او د کایيناتو ټوله هستي د هغه د آرامی لپاره پیدا سوې ده، هغه په نړۍ کي زیار او زحمت ګالي ترڅو د یو ښه ژوند څښتن و اوسي، مګر دا ټول وسایل دي چي د انسان په خدمت کي دي، د انسان په وړاندي یو سپېڅلی او مقدس هدف دی چي هغه د خدای جل جلاله رضا ده چي د انسان د دنیا او آخرت د کامیابی سبب ګرځي انسان د ژوند له پای ته رسیدو سره له منځه نه ځي، بلکي یو بل الٰهي نعمت هم د هغه لاره څاري. نو په همدې خاطر انسان په پرله پسې توګه په هڅه او کوښښ کي دی.

لنډه دا چي د انسان پرله پسې کوښښ پر درې اصله ولاړ دی :

لومړی اصل : د هدف پېژندل.

دوهم اصل : د خلاصون د لاري پلټنه.

دریم اصل : تل پاتي او لا فاني نیکمرغۍ ته لاره پیدا کول.

د ایمان رول په دې دریو مرحلو کي په پوره توګه تشریح سوی دی او د اسلام سپېڅلی دین دا درې مشکلات ډیر اسانه کړي دي.

## لومړی اصل : د هدف پېژندل :

مؤمن انسان یو هدفمن انسان دی، هغه پوهیږي چي چیري ځي او هدف یې څه دی، هغه په دې پوهیږي چي دنیا او ټول سامان آلات

Download from: www.aghalibrary.com

ددې لپاره دي چي انسان د هغو په واسطه د خدای جل جلاله رضا حاصله کړي. د ژوند دا هدف درلودل هغه ته پوره پوره خوښي وربخښي او ژوند يې له خوښيو او آراميو ور ډکوي، ځکه د ژوند له هري شيبې د هدف ته د رسيدو په موخه کار اخلي او هيڅکله د مادي ژوند له شوم پايه څخه لکه ماده پرستان په بيره او وارختايي کي نه دی.

## دوهم اصل : د خلاصون د لاري پلټل:

دتاريخ په اوږدو کي او تر اوسه انسانان د خلاصون په لټه کی دي او په دې خاطر بېلا بيلو لاروته اوړي را اوړي.

کله د کمونيزم او کله بيا نور ښوونځيو (مکتبونو): کاپيټاليستی، صهيونستی، سيکولرستی، بوديزم او نورو لمني ته ځان اچوي مګر يو مؤمن هيڅکله دغو فکرونو او مکتبونو ته اړتيا نلري، ځکه د هغوی فکري خط لا له وړاندي ټاکل سوئ دئ ( او ليک علی هدی من ربهم) هغوئ د خپل رب په لارښونه باندي دي، نوځکه بلي لارښووني ته اړتيا نلري، هغوی خپله لاره پېژندلې ده، نوځکه د نورو لارو پلټلوته اړتيا نلري.

نجيب رسول د نو مسلمانانو سو څخه يو دی هغه دا موضوع د زياتي څېړني او اسلام پيژندني څخه وروسته داسي بيانه وي :

د انسان اصل له آدم او حوا څخه دی او ټول انسانان ورونه دي، نو ځکه د کوم حزب او يا سياسي ډلي ټپلي سره د يوځای کيدو اړتيا نه لري، چي مسلمانان دي دا د دوی لپاره بس ده، ټولي هغه اړيکي چي په غرب کي يې غربيان په ګوندونو، موسسو او يا ټولنو کي پلټي هغه په اسلام کي سته، ځکه غربيان د ورور ولی، اخوت، مرستي اونورو

Download from: www.aghalibrary.com

ټولنیزو چارو په اصلي هدف نه پوهیږي، نو ځکه یې یو لړ سازمانونه د ورور ولی او نور نومونو ترسرلیک لاندي د دغي تشي د ډکولو لپاره پرانیستي دي، مګر مسلمانانو دغو ټولنوته ځکه اړتیانه لري چي ټوله پر یوه خدای جل جلاله یو قرآن، یوه پیغامبر او یوه قبله په مختلفو ژبو رنګو او توکمنو راټول سوي دي.

## دریم اصل : تل پاتي او لا فاني نیکمرغۍ ته لاره :

نن ورځ ښایي انسانان په دې توانیدلي وي چي په میلیونو میلیونو پیسې را ټولي بانکونه په ډک کړي او د نړۍ هر ډول نعمت ځان ته پیدا کړي بیا هم همدا انسان نه سي کولای خپله تل پاتې او لا فاني نیکمرغي پیدا کړي.

یوسف ادوارد استن که څه هم د ډیري ستمني او لوړي کورنۍ څښتن هم وو بیا هم ناکراره وه او د تل پاتي نیکمرغی په لټه کي وو هغه په دې اړه وایي:

نوم مي تر مسلمان کېدو مخکي جوزیف ادوارد استن و چي د مسلمان کېدو څخه وروسته په یوسف استن بدل سو، په یوې نصرانس کورنۍ کي چي پر نصرانیت خورا ټینګ ولاړ وه او د امریکا په مرکزي برخه کي یې ژوند کوی وزېږیدم، پلرنو او نیکونو مي یوازي دا نه چي عیسوي کلیساګاني او مکتبونه یې جوړ کړي دي بلکي ځانونه یې هم په همدې لاره کي قرباني کړي دي، مګر زما مطالعه یوازي په مسیحیت کي نه وه بلکي ما په دیرشو کلونو کي هندوییزم، یهودیت او بودیزم هم مطالعه کړه، ما مي له پلاره سره په تجارتي پلانونو کي ډیر کار کوی او یو لړ په زړه پوري نمایشونه مو تر سره کول، پیانو او کاسیو مو په

Download from: www.aghalibrary.com

تکساس او کلاهوما او فلوریدا کي ږغول او ډیري پیسې مو چي میلینونه ډالر ته رسیدې وګټلې، مګر بیا هم زما خاطر آرام نه وو، ځکه د ارمی لاره یوازي په حقیقت کي ده .

پاک خدای جل جلاله با ایمانه خلک مفلحون بللي دي، یعني هغوی هغه کسان دي چي تل پاتي او لا فاني نیکمرغۍ ته رسیدلي دي (اولئک هم المفلحون) هغوی راستګاران ( نیک کرداره) دي.

د انسان مانوي (معنوي) اړخ + له توانا، مهربانه او عادل خدای جل جلاله سره اړیکي=روحي ارامي

# د انساني ټولني

# په ټولنیز اړخ کي د ایمان رول

انسان په یوه ټولنه کي د ژوند کولو لپاره یو لړ ټولنیزو اساساتو او اړتیاوته ضرورت ته لري چي په لاندي توګه دي.

_ د ایمان رول د اړیکو په ټینګولو کي له کورنۍ، دوستانو او د ټولني د افرادو ترمنځ

_ د ایمان رول په ښوونه او روزنه(ښوونځی، مدرسه، مسجد، پوهنتون او نورو) کي

_ د ایمان رول په آرامي او امنیت کي

_ د ایمان رول په دولتي مساواتو (عدالت) او نړیوال امنیت کي

د اسلام د مقدس دین رول په ټولنیز ژوند کي پر درو اساسي برخو

Download from: www.aghalibrary.com

ویشلای سو.

## دایمان رول په ټولنیز اړخ کې

| | | |
|---|---|---|
| کورنۍ، دوستان، ګاونډیان او ښاریان | ښوونځی، مدرسه پوهنتون | قانون، دولت، آرامي اوبرابري |

### ۱- د ایمان رول په ټولنیزو او کورنیو اړیکو کې

داسلام مقدس دین د کورنۍ، دوستانو، ګاونډیانو او ښاریانو لپاره بېلا بېل قانونه او اساسات ټاکلي دي چې د هغو په رڼا کې د کورنۍ دوستانو، ګاونډیانو او ښاریانو ترمنځ ښې اړیکي رامنځ ته کیږي.

کورنۍ، دوستان او ګاونډیان + ایماني حقوق او مساوات = کورنۍ او ښې اړیکي

د اسلام ټولنیز نظام د بشري ټولني د خلاصون یوه ښه وسیله ده، ځکه د اسلام مبارک دین د اړیکو د ټینګولو لپاره یو لړ داسي قانونه او اساسات رامنځ ته کړي دي چې د کورنیو، دوستانو او ټولو انسانانو ترمنځ عادلانه او برابري اړیکي رامنځ ته کوي. د اسلام په مقدس دین کي د فرد او فرد او ټولني ترمنځ اړیکي د متقابل احترام په رڼا کي بیان سوي دي چي پایله یې د کورنیو ترمنځ پرله پسې اړیکي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

د مثال په توګه :

## د مور په اړه :

د اسلام په مقدس دین کې د مور په اړه زیات حدیثونه او آیاتونه راغلي دي، او په ځینو روایاتو کې حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ځینو اصحابوته ویلي دي چې د مور خذمت وکړی ځکه چې جنت د مور تر پښو لاندي دی، نو په دې اساس ځیني متدین هلکان او نجوني خپلي مندي د خپلو ستر ګو نور بولي او د هغوی تر اندازه زیات احترام کوي، د مشکلاتو او نارغیو په وختونو کې یې، تل په خدمت کې وي او د عمر ترپایه پوري یې خدمتګاران پاته کیږي.

د مور په وړاندي دا احتراماتو ددین له دغي لارښوني سرچینه اخستې ده.

د حضرت ابي هریرة (رض) څخه روایت دی چې حضرت رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یو څوک راغی او ورته وه یې ویل :

اې د خدای جل جلاله رسوله! پر ما څوک ډېر حق لري؟

حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ورته وویل :

مور دي

هغه سړي وویل :

له هغه څخه وروسته

حضرت محمد صلی الله علیه و سلم وویل :

مور دي

هغه سړي بیا وویل :

له هغه څخه وروسته

Download from: www.aghalibrary.com

حضرت محمد صلی الله علیه و سلم وویل :
مور دي.
هغه سړي وویل :
بیا څوک
حضرت محمد صلی الله علیه و سلم وویل :
پلار دي.

په دې حدیث شریف کي پیغامبرصلی الله علیه و سلم ټولو مسلمانانو ته ورښي چي تر هغه ټولو کسانو چي د ده په ژوند کي پر ده ګران دي مور ته زیات درنښت ورکي حتیٰ د پلار سره د میني په اړخ کي هم مور تر هغه زیاته بولي.

## د پلار په اړخ کي :

پلار هم د مور په څېر د کورنۍ په جوړښت کي ستر رول لري او د پیغامبرصلی الله علیه و سلم د وینا پر اساس ( چي پلار د جنت له ورونو څخه یو ور دی)، نو باید ټول مسلمانان د هغه عزت وکړي.

حضرت ابی دردا (رض) فرمایي د حضرت رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه مي واورېدل چي ویل یې :

پلار د جنت له ورونو څخه یو ور دئ چي د ټولو ورونو په منځ کي کرار لري، نور ستاسو کار دئ چي دا ور خپل د ځان ساتئ او که یې پردی کوئ.

قرآن عظیم الشان د مور او پلار د احترام په اړه ډېر ټینګار کوي چي وایي ((ولا تقل لها اف) دمور او پلار مخ ته مو د اف کلیمه هم مه وایاست، ځکه دا کلیمه پر زړه تنګی او خسته توب دلالت کوي چي یو مسلمان باید دخپل مور او پلار په مخکی داسی یو زښت لفظ چي د

Download from: www.aghalibrary.com

هغو د خوابدتيا لامل ګرځی وه نه کارول سي او کله چي موږ په دقيقه توګه دا مسئله وڅېړو چي قرآن عظيم شان د اف يوه ساده کليمه د مور او پلار په وړاندي ناجايزه بولي نو د هغو په وړاندي به د يوه زښت او بدکار په هکله څونه جدي وي.

نو ځکه پر هر مسلمان لازمه ده چي د مور او پلار په وړاندي ډېر دقيق واوسي او بې اندازې زيات احترام يې وکړي.

## د مېرمني او ښځښتن په اړخ کي :

د اسلام مقدس دين د مېرمن او ښځښتن مقابل احترام او عزت د ژوند يو اساسي اصل بولي، د مېرمنو او ښځښتانو لپاره يو لړ اساسات دي چي هغوی يې بايد عملي کړي . او په همدې توګه اسلام د مېرمني او ښځښتن ترمنځ د ژوند پايښت په مينه او محبت کي بللی دی.

د مېرمني قدر او درنښت کول يې د خدای جل جلاله پرستو انسانانو خوئ ګڼلئ دئ او د خپلو مېرمنو سره ښه چلن يې د انسانيت يوه غوره نمونه ښودلې ده.( احسنکم خلقا احسنکم خلقا لاهله) د اخلاقو له رويه په تاسو کي هغه څوک ښه دی کوم چي له خپلو مېرمنو سره ښه اخلاق کوي.

او په همدې توګه به حضرت محمد صلی الله عليه و سلم همېشه خلګ له خپلو مېرمنو سره په ښه سلوک او ښه رويه امر کول. حضرت ابوهريره د حضرت نبی کريم صلی الله عليه و سلم څخه روايت کوي چي فرمايلی يې وه:

هرڅوک چي پر خدای جل جلاله او د آخرت پر ورځ ايمان لري نو د يوه کار په پېښيدو کي بايد ښه خبره وکړي او يا چپ پاته سي او په

Download from: www.aghalibrary.com

همدې توګه يې د مېرمنو په هكله وفرمايل[۱۳] . امام نوي وايي د حضرت پيغمبرصلی الله عليه و سلم د خبرو هدف دا وو چې خلک دې ته واداره کړي چې له خپلو مېرمنو سره ښه چلن وکړي.

حضرت پيغمبر صلی الله عليه و سلم ښځوته عزت ورکول د خدای جل جلاله پرستو انسانانو عادت بولي، او د هغوی ځورونکي يې د ټولني بدمرغ ترينه انسانان بللي دي، ( ما اكرم النساء الا كريم و ما اهانهن الاليیم) او په همدې توګه يې د ښځښتن عزت كول پر مؤمنو ښځو فرض بللي او په سالمو او ښو لارښوونو يې د انساني ټولني د بقا او پايښت تضمين کړئ دئ.

د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم ژوند د مسلمانانو لپاره يوه ښه بېلګه ده چې هيڅكله يې د خپلو مېرمنو په وړاندي له توندئ او خوشكي څخه كار نه دئ اخستئ او په دې اړه يو صريح حديث شريف سته چې د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم له مېرمنو څخه يوې يې روايت کړئ دئ:

حضرت بي بي عاييشه (رض) فرمايي چې حضرت محمد صلی الله عليه و سلم هيڅكله كوم نوكر يا مېرمنه نه ده لت کړې.

---

(۱۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَإِذَا شَهِدَ أَمْرًا فَلْيَتَكَلَّمْ بِخَيْرٍ أَوْ لِيَسْكُتْ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ ) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَإِذَا شَهِدَ أَمْرًا فَلْيَتَكَلَّمْ بِخَيْرٍ أَوْ لِيَسْكُتْ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ )حديث نمبر ۲٦٧١ صحيح مسلم)

Download from: www.aghalibrary.com

## د لور او خور په برخه کي :

د اسلام مقدس دين د لور يا خور درلودل يو الٰهي رحمت بولي او هر كله چي څوک له خپلي خور او يا لور سره ښه او سمه رويه وكړي نو خداى جل جلاله به يې جنت ته واچوي.

حضرت ابي سعيدالخدرى (رض) د حضرت محمد صلى الله عليه و سلم څخه روايت كوي چي فرمايلي يې وه :

كه چيري څوک دري خوندي يا لوڼي ولري او يا هم دوې خوندي او يا لوڼي ولري، او له هغو سره انساني چال او چلن وكړي او د هغوى په حق كي له خداى جل جلاله څخه وبيريږي، جنت د هغوى په برخه دى. ددې حديث شريف په پوهيدلو سره هر حقيقي مسلمان چي قراني احكامو ته پابنده وي د خوندو او يا لوڼو په درلودلو افتخار كوي او د خداى جل جلاله د رضا لپاره په خپلو كړنو كي له هغو سره ددې حديث شريف پر اساس ښه رويه كوي.

حضرت انس(رض)فرمايي چي حضرت محمدصلى الله عليه و سلم و فرمايل:

هر هغه څوک چي دوې لوڼي و لري او هغوى د ځوانۍ تر سينه پوري و پالي د قيمت په ورځ به زه او هغه يو ځاى يو.

حضرت انس (رض) بيافرمايي:

هغه صلى الله عليه و سلم خپلي ګوتي سره راټولي كړي او نورو ته يې و ښودې.

د دې حديث شريف څخه دا زياتيږي چي د دوو لوڼو په تربيه او روزنه سره به مسلمان د آخرت په ورځ له حضرت رسول اكرم صلى الله عليه و سلم سره يو ځاى وي او كله چي څوک د حضرت محمد صلى الله

Download from: www.aghalibrary.com

علیه و سلم تر بیرغ لاندي وي او د دوو ګوتو په څېر ورسره نږدې وي، د قیامت د ورځي ټول مشکلات به ورته آسانه وي. ځکه چي هغه په ربښتیني توګه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم پیروي کړې ده .

## د ټولو دوستانو، ګاونډیانو او خلکو په برخه کي:

د اسلام سپېڅلئ دین د دوستانو سره د اړیکو د ټینګولو لپاره صله رحمي یو مهم اساس او بنسټ بولي.

د الهي ارشاداتو په رڼا کي چي څوک صله رحمي پرې کړي نو خدای جل جلاله خپله اړیکه له هغه سره پرې کړي په دې اړه زیات احادیث روایت سوي دي.

د ګاونډیانو په اړه هم یو لړ اساسات او حقوقونه رانقل سوي دي او د چا له شره چي ګاونډیان په امان نه وي هغه د یوه بې ایمانه کس په توګه بلل سوئ دئ.

## کونډو، یتیمانو، فقیرانو او مسکینانو ته پاملرنه :

یو مسلمان باید په ټولنیز ژوند کي د ټولني د نورو غړو نه بې خبره نه وي بلکه پر هغه لا زمه ده چي د کونډوو مسکینانو، فقیرانو او یتیمانو په حال ځان خبر کړي او له هغو سره همېشه همکاري وکړي او په خپله ستمني کي د هغو لپاره یوه برخه ځانګړې کړي.

حضرت ابوهریره (رض) فرمایي چي حضرت رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چا چي د کونډې ښځي او نادارو خلکو سرپرستي وکړه، هغه د داسي چا په څېر دی چي پرله پسې د خدای جل جلاله په لار کي کوښښ کوي او زه فکر کوم چي هغه به د داسي چا په څېر وي

Download from: www.aghalibrary.com

چي پرله پسې لمونځ کوي او هیڅ نه ستړی کیږي او یا هم د داسي چا په څېر دئ چي پرله پسې روژه نیسي او هیڅکله له روژه نیولو څخه نه لیري کیږي.

سهل بن سعد (رض) فرمايي چي حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

زه او د یتیم کفیل (ساتونکی) په جنت کي داسي یو، په دې وخت کي یې خپلي دوې ګوتي داسي ونیولې چي په منځ کي یې ډیره لږه فاصله وه.

او په همدې توګه اسلام د مشرانو احترام او پرکشرانو شفقت د ایمان له مهمو اخلاقي برخو څخه بللې ده. نو ځکه د اسلام مبارک دین په دې توګه توانیدلئ دئ چي د ټولنیز او کورني نظامونه په خپلو اخلاقي قوانینو باندي وساتي.

او د دې برعکس هغه کسان چي د اسلام د ستر نعمت څخه بې برخي دي، په ښه توګه درکوي چي هره ورځ د هغوی کورنۍ اړیکي خړي پړي کیږي او د ټولو ښو امکاناتو او هوسا ژوند پر درلودلو سربیره له روحي مشکلاتو سره مخ دي.

د انیس ورځپاڼي د ۱۳۸۴ کال د جوزا د ۱۸ په ٦٥ ګڼې په پنځم مخ کي (یوې انګلیسي مېرمني خپله ستمنی سپیانوته وبخښل) تر سرلیک لاندي یوه لیکنه راغلې ده چي متن یې داسي دی .

یوې سپین سري انګلیسي خپله ستمنی چي یو ملیون او دو سو زره پونډه ته رسېده سپیوته وربخښل، د (سان ماریون هي ورډ) ورځپاڼي د راپور پر اساس دغه مېرمن چي د مانچیسټر اوسیدونکې ده د وارثینو پردرلودلو سربېره د سپیو د روزني یوه خیریه مرکزته ورغله او خپله ستمني یې هغوته ور وبخښل ترڅو د سپیو دروزلو په کار کي یې وکاره

Download from: www.aghalibrary.com

وي.
مېرمن هي ورڅ څه وخت وروسته د زړه د حملې په پایله کې مړه سوه او وارثان یې چې دوه ورونه او یوه خور وه د هغې د دې پریکړې څخه د خبرېدو په وخت کې ډېر حیران سول.
د دې خدمتګاري چې جولیا مورک تروید نومیده سان ورځپاڼي ته وویل چې هغه له خپلې کورنۍ څخه ډېره ځوریدلې وه او چندان ښه یې نه ځني وړل نو ځکه یې ځان ته د حیواناتو یوه کورنۍ جوړه کړې وه.

## ۲: د ښوونځی، مدرسې او پوهنتون په برخه کې :

د اسلام په مقدس دین کې ښوونکئ، ښوونځی، زده کړیز توکي او زده کوونکي دخورا لوړ ارزښت درلودونکي دي. د قرآن کریم لومړی آیت چې پر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم نازل سوی د ویلو امر وو. خدای جل جلاله په قلم او هغه څه چې لیکنه په کیږي قسم یاد کړئ دئ ترڅو انسانان د قلم او لیکني په ارزښت وپوهیږي او په همدې توګه قرآن کریم موږ ته بیانوی چې عالم او جاهل یو شان نه دي.
او په همدې توګه د علماوو، پوهانو، انسانانو، ښوونکو او زده کونکو د درجو او منزلت په اړه بېلا بېل حدیثونه راغلي دي، چې دغه لاندنی حدیث شریف د (مشت نمونه یې خروار) په څېر راوړو.
حضرت کثیر بن قیس (رض) فرمایي چې زه له ابي درده (رض) سره د دمشق په مسجد کې ناست وم چې یو څوک ورته راغئ او وه یې ویل اې ابي درده زه د حضرت رسول الله صلی الله علیه و سلم له ښاره څخه تاته راغلی یم،زه بله کومه اړتیا نه لرم پرته له دې چې هغه څه درته induvایم چې له حضرت محمدصلی الله علیه و سلم څخه مي واوریدل

Download from: www.aghalibrary.com

: کله چې ځوک د علم لاره په مخه ورکړي نو خدای جل جلاله هغه ته د جنت لاره خلاصه کړي او فرښتې په لاره کې خپل وزرونه ورته و غوړه وي، د يوه عالم انسان لپاره د مځکې او اسمانونه موجودات او د اوبو ماهيان د بخښنې دعا کوي. د يوه عالم غوره والی تر يوه عبادت کوونکي داسې وي لکه د مياشتې د څورلسمې سپوږمۍ غوروالی پر يو ستوري باندې، عالمان د پيغمبرانو وارثين دي او پيغمبرانو دينار او درهم په ميراث کې نه دئ پرې ايښئ، بلکې علم يې په ميراث کې پرې ايښی دی، او هرکله چې علم د چا په برخه سي، يوه لويه برخه يې په برخه سوې ده.

ښوونکی د مانوي مور اويا پلار په څېر دی، حضرت اميرالمومنين علي بن ابي طالب (رض) فرمايي (من علمنی حرفاً فقد صبرنی عبداً) چا چې ماته يو حرف راوښودی زه يې خپل غلام وګرځولم. د اسلام د مقدس دين دارشاداتو پر اساس زده کوونکي بايد له خپلو ښوونکو سره ډېرې ښې او اخلاقي اړيکې ولري، هغوی ته د خپل پلار او مور په څېر و ګوري او هم هغسې چلن ورسره وکړي او ښوونکي هم بايد دغه اساسات په نظر کې ونيسي او خپل درس ته له پوره تياري سره ولاړ سي کله چې له کوره وزي په دې فکر ووزي چې له خپلو اولادونو څخه بېل او له خپلو نورو اولادونو سره يو ځای کيږي او په همدې فکر کې ټولګۍ ته ولاړ سي او په ټولګۍ کې هم د مور او پلار په څېر په مهربانۍ او صميميت له زده کوونکو سره چال چلن وکړي او کوښښ وکړي چې د هغوی يوه دقيقه وخت هم بې ځايه تير نه سي او د هغوی د ذهنونو د غوړاوي لپاره د شپې او ورځې زيار وګالي او هغوی ته خپل درس په دونه خوږ ژبه او ورينه تنده بيان کړي چې هيڅ د مشکل ځای پکښې پاته نه سي.

Download from: www.aghalibrary.com

نو په دې اساس یو با ایمانه ښوونکي همېشه کوښښ کوي چې خپل درس زده کوونکوته په ډېره سمه توګه تدریس کړي د هغوی مشکلات ورحل کړي او دزده کونکو څخه د سهوي په وخت کي د هغوی له سهوي تیرسي او داسي کړنه ورسره وکړي لکه د خپلو اولادونو د سهوي په وخت کي چې يې د خپلو اولادونو سره کوي، هیڅکله له هغوی سره عقده من نه سي. د اسلام په مقدس دین کي د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ اړیکي همېشه پر مانوی ( معنوي) اړیکو باندي ولاړي دي.

با ایمانه ښوونکی د شپې او ورځې د خپلو زده کوونکو په خدمت کي وي او د هغوی سوالونه په ورین تندي جوابه وي.

## ۳- دقانون او دولت په برخه کي :

د ایمان رول د یوه مملکت په قانون او دولت جوړونه کي د هغه مملکت د خلکو او اولسونو د مساواتو په نظرکي نیول باندی تړلي دی. الٰهي قانون په لومړۍ مرحله کي انسان د یوه با ارزښته مخلوق په څېر پېژندلئ دئ( ولقد کرمنا بنی ادم) د انسان دا کرامت د قومي، نژادي، او ژبنیز توپیر په نظر کي نیولو څخه پرته ورکول سوی دئ او د اسلام د سپیڅلي دین له نظره د انسان غوره والی د هغه په تقوا او دیانت او نورو ته په خیر رسولو کي دی.

د اسلامي قانون تر ټولو اساسي برخه پر عدالت باندي ولاړه ده، ځکه قانون انسانانو ته کرامت وربخښي ،نو بیا د غوره والي اساس تقوا و پاکی او دولت په عدالت کي جوړه کړی ترڅو د ټولني د ارامۍ او امنیت لامل سي.

Download from: www.aghalibrary.com

**قانون + مساوات ( عدالت ) = امنیت .**

نن ورځ ولي زموږ په هیواد کي امنیت نسته؟ علت يې د عدالت کمښت دی، ستمن خلک دکاپیټالستي نظام په عملي کولو ورځ تر بلي ستمن کیږي او نادار ورځ تر بلي نادار کیږي او تر هره وخته چي دا کارونه همداسي ادامه ولري نو داسي یو وخت به هم راسي چي د نادارو خلګو کورنیو او اولادونو ته به دندي هم نه پیدا کیږي.

په نړۍ کي ولي امنیت نسته؟

په دې خاطر چي په نړۍ کي هم عدالت نسته، په نړۍ کي د بشریت خطرناک ترینه دښمن د اسراییلو صهیونست نظام دی، چي همېشه د لویو لویو قوتونو له خوا حمایه کیږي، دا تر وریستي هیواد اجازه لري چي اټومي سلا جوړه کړي، مګر نور زیات هیوادونه اجازه نلري چي له اټومي انرژی څخه په سوله ایزه توګه کار واخلي.

Download from: www.aghalibrary.com

# دوهم څپرکی

## دخدای جل جلاله ستون ( وجود)

په دې څپرکي کې به لاندې موضوعات تر څېړنې لاندې ونیسو

**۱- د خدای جل جلاله پرستون قراني دلایل**
**۲- د خدای جل جلاله پرستون فطري دلایل**
**۳- د خدای جل جلاله پر ستون عقلي دلایل**
**۴- د خدای جل جلاله پرستون علمي دلایل**

Download from: www.aghalibrary.com

# خدای جل جلاله انسان ته
# دوه ډوله د لیدو توانائي ورکړې ده

### لومړی ډول :
### په سترګو دلیدو توان ( بصارت) :

بصارت چې د باصرې حس ورته وایې، چې د انسان دوې سترګې دي چې په مادي توګه د انسان په مخ کې کرار لري، که څه هم د سترګو دنده د شیانو لیدل دي مګر هغوی نه سي کولاۍ چې له رڼا څخه پرته څه ووینې.

او هر کله چې یو څوک په بتې بیابان کې وي او هلته رڼانه وي هغه نه سي کولای چې د رسۍ فرق له مار سره او د سرزو د خښتي فرق وکړي،نو سترګې د خپلې دندې د تر سره کولو لپاره رڼاته اړتیا لري.

د لیدو حس + د لمر رڼا او نوري رڼا وي + د مادیاتو په سمه توګه لیدل.

### دوهم ډول :
### د زړه د لیدو توان (بصیرت) :

چې د دې څخه منظور په فکر، عقل، ذهن او هوښیاری باندي لیدل دي چې دغه شیان سره راټول سوي دي او د بصیرت پدیده یې رامنځ ته کړې ده.د انسان د زړه سترګې هم د انسان د مخ د سترګو په څېر د ایمان رڼاته اړتیا لري، هغه هغه وخت خپله دنده په سمه

Download from: www.aghalibrary.com

توګه ترسره کوي چي د ایمان رڼا ورسره مله وي او کله چي د ایمان رڼا نه وي، د انسان فکر او خیال حقیقتونه سرچپه او معکوس انځوره وي، حق باطل ورته ښکاري او باطل حق.

بصیرت + د ایمان رڼا = د زړه فکر، خیال او نور

## حق ته د رسېدو وسیله :

قرآن عظیم الشان یو حقیقت بیانه وي چي په لومړیو پاڼو کي یې ترسترګو کیږي، قرآن چي د لارښووني ( هدایت) کتاب د، دا لارښوونه د پرهیزګارانو (متقیانو) ته یوه خاصه لارښوونه بولي، یعني د رښتیا (حق) او لارښوني ( هدایت) ته، خدای جل جلاله دا کتاب خپلو بندګانو ته را لیږلی دی او خپلو بندګانو ته یې د نیکی لاري ښوولي دي، د لارښووني وسایل یې تیار کړي مګر تر هر څه چي په دې لاره کي ډیر مهم دی هغه خپله د انسان میل او علاقه ده چي حق ته د رسیدو لپاره یې باید لري.

الهي لارښوونه + د انسان د حق موندني غوښتنه = ایمان او حق ته رسیدل

ډېر خلګ هره ورځ د مارکېټنو مخ ته تیریږي او راتیریږي او سربېره پردې چي په جیبونو کي پیسې هم لري مګر بیا هم شی نه رانیسي، ولي هغوی شی نه رانیسي، خو پیسې هم لري او په بازار کي هم دي؟ د دې علت د غوښتني او هیلي نه درلودل دي، مګر په عیني وخت کي کوم کسان چي د یو شي په رانیولو پسي راوتلي وي دکان پر دکان پوښتنه کوي او ځان ته هغه شی چي دی یې په لټه کي دی پیدا

Download from: www.aghalibrary.com

کوي.

انسان د عقل، فکر، پوهي او پرتلې د توان درلودل سربېره ، چې د دې اراده ولري چې حقيقت پيدا کړي، نو حتماً د حق لاره ورته روښانه کيږي.

مېرمن بيتي باومن چې يوه امريکايي لوستې ښځه ده پردې سربېره چې په يوې غيري مسلماني کورنۍ کي يې سترګي نړۍ ته پرانيستي دی، مګر هغه دنورو زياتو غافلو انسانانو په څېر نه ده سوې چې د خپل مور او پلار په دين پسې سي چې د لار ورکي (ګمراهی) عامل دی او هيڅ حقيقت نه لري بلکي د حقيقت د پيدا کولو لپاره په څېړنو بوختيږي او په ژوره توګه مطالعه کوي هغه په دې وخت کي چې په څېړنو بوخته ده له زرګونه جلدونو زيات ايماني کتابونه اړولي را اړولي دي هغه وايي:

ما تر زرګونه جلده زيات کتابونه په بېلا بيلو اړخونو، ټولنپوهنه، اروا پوهنه، انسان پوهنه، مذهب، تاريخ او د دوو پيغمبرانو (حضرت عيسی (ع) او حضرت محمدصلی الله عليه و سلم ) کتابونه د حقيقت د پيدا کولو په موخه ولوستل.هر يوه به ماته زما د سوال جواب راکوی مګر نور نوي سوالونه به يې راته پنځول، څو په اخير کي هغه څه چې زه يې څلويښت کلونه په لټه کي وم مي پيدا کړی... هغه لاره چې زما په دنيا کي هرڅه ته مانا وربخښي.

د داسي کسانو پېژندنه انسانانوته يو ډېر ښه درس ورکوي، هغه د ځان په اړه په يو بل ځای کي داسي وايي :

زه د ډيري زياتي مطالعې خاونده يم ... زه د فلم، سينما، تلويزيون، راډيو، ورځپاڼو او سپورټ سره چندان علاقه نه لرم ځکه نه غواړم چې په کلي توګه د مادي موجوداتو په اړه له سري فکر

Download from: www.aghalibrary.com

وکړم ... له دې وروسته غواړم چې یو مانوی څوک و اوسم او له هغو کسانو سره چې په دې لاره کې له ما څخه شاته دي مرسته وکړم.

مېرمن بتي باومن د اسلام د مقدس دین د قبلولو قابلیت د انسان شخصي ظرفیت بولي. هغه څوک چې هوښیار ذهن، پاک زړی چې له تکبر او غروره خلاص وي او له غفلته لیري فکر ولري په اسانی سره کولای سي چې اسلام ته خپله ننوتنه اعلان کړي، ځکه اسلام د فطرت سره مطابق دین دی، هر څوک چې پاک فطرت ولري، علاقه یې له اسلام سره په ډیري تېزی منسجم کیږي، هغه یو بل ځای بیا وایي:

هغوی چې مستعد زړه او ذهن لري په تېزی سره حقیقت ته رسیږي او هغه څوک چې زړه یې د غرور او ذهن یې د غفلت په تیاروکي راګیر سوئ وي په ډېر تکلیف سره حقیقت ته ځان رسوي.

ددغو دلایلو په رڼا کي هرڅوک چې وغواړي حق ته ځان ورسوي او خپل زړه د تیرو سوو یادونو، تعصبونو، ځان غوښتونو او د نورو د بدغوښتني څخه وساتي او حق ته د رسېدو په خاطر خپلو مطالعاتو ته ادامه ورکړي خامخا حق ته رسیږي.

کله چې د تقوا په اړه خبري کیږي، نو د نورو ټولو تقواو په منځ کي فکري تقوا هم وجود لري او فکري تقوا د هغو نارغیو او ذهني ویرسونو درملنه ده کوم چې مخکي مو بیان کړل ( تعصبونه ځان غوښتي او دبل بدغوښتني) و حقیقتونو ته د رسېدو لاره خنډوي.

د مثال په توګه : کله چې یهودو د اسلام د اخیري پیغمبر د راتلو نښي په مخکنیو مذهبي او الهي کتابونو کي ولیدلې، د هغوی ډېر د نوي پیغمبر د ښه راغلي لپاره چې د راتګ زیری یې دوئ په خپلو کتابونو کي لیدلئ وو، یثرب ته راغلل او یهودي قبایل د مهاجرو په توګه په یثرب کي پاته سول چې په هغوی کي د بنی قریظه بني نصیر او نورو

Download from: www.aghalibrary.com

قبیلې شاملې وې او د هغه پیغمبر د راتلو لاره یې څارل، هغوی به دا حقیقت د عربو او د یثرب ټولو اوسیدونکوته بیانه وی او تل به یې دوئ ته د اخیر پیغمبر چې خاتم النبین او رحمة للعالمین دئ د راتگ په اړه معلومات ورکول، د یثرب خلګو، چې ډیریو به د یهودانو خبري چې هوښیار خلګ وه، منلې، هغوئ د همداسي یو پیغمبر راتلوته سترگي پرلار وه. مگر کله چې پیغمبر ښکاره سو او د یهود لویو علماو بڼغ کړل چې دا دئ د وروستي پیغمبر ستوری وځلیدئ مگر د هغوی لوی مشکل په ځان غوښتنه او تعصب کي وو چې ددې لامل سو چې هغوی حق ونه منئ، کله چې هغوی خبر سول چې هغه پیغمبر چي دوی یې منلوته خلک رابولي د هغوی له قومه نه دئ نو د هغوئ تعصب را ژوندی سو او دا د دې لامل سو چې هغوی د حق پېژندلو سربېره حق ونه منئ.

حضرت پیغمبرصلی الله علیه و سلم د هغه علم څخه چې د انسان د لارښووني لامل سوئ نه وي، د بشریت په گټه نه وي او د علم په څنگ کي عمل نه وي په خدای جل جلاله پناه غوښتې ده، ځکه داسي علم انسان په شیطان بدله وي.

یهودو که څه هم علم درلودی مگر داسي وه لکه شیطان چي ښوونه یې درلودله مگر روزنه یې نه درلودله.

یهودانو هم د خپل تعصب، قوم پرستی، ځان غوښتني او تکبر له کبله د دې حقیقت څخه انکار وکړی او حتّی بت پرستانوته به یې ویل چي ستاسو دین د اسلام ددین په پرتله ښه دی.

مگر برعکس هغه کسان چي په یثرب کي اوسېدل او د هغوی په څېر تعصب یې نه درلودی او د همدغو یهود د معلوماتو پر اساس د اخیري پیغمبر په تمه وه او د هغه له را رسېدو سره سم یې د عقبې په

Download from: www.aghalibrary.com

تړون خپل ایمان اعلان کړی او کله چې مشریکینو قریشو حضرت پیغمبر صلی الله علیه و سلم ځوروی، د یثرب اوسیدونکو د هغه تود هرکلی وکړئ، نو هغه وو چې د یثرب نوم په مدینه الرسول بدل سو او د اسلام دروند پیغمبر د اسلامي دولت او اسلامي تمدن بنسټ هلته کښېښوئ او همداسي له لږ وخت وروسته د یثرب نوم په (مدینه منوره) بدل سو. نوځکه د حق پیژندني لپاره لازمه ده چې انسانان تعصبونو او ځان غوښتنی یوه اړخ ته کړي قبیلوي، قومي او کلتوري مفکورې چې د جاهلیت زیږنده دي له ځانه لیري او خپل زړه، فکر او خیالونه د حق منلو لپاره آماده کړي.

پوهان وایي چې خطرناکترینه ناروغي غفلت (ناخبري) ده، ځکه غفلت لکه یو خطرناکه ویروس د انسان پر مغزونو باندی یو پوښ جوړه وي او د انسان کنترول په خپل لاس کي اخلي او حق ورته باطل او باطل ورته حق ښکاره کوي. قرآن کریم د داسي متعصبو غافلانو په اړه وایي (لهم قلوب لا یفقهون بها) هغو ئ زړه، فکر او پوهه لري مګر د هغوئ په واسطه حق نه سي پیژندلائ.

له دې کبله چې انسان د خدای جل جلاله د ستون د زبات لپاره مسئولیت لري او خدای جل جلاله چې یو مهربانه ذات دی او نه غواړي چې انسان په تنګایي کي راګیر و اوسي ،نو ځکه و حقیقت ته د رسېدو په موخه خدای جل جلاله پیژندنه انسانانوته ډیري لاري ورښودلي چې د خدای جل جلاله ستون په زبات رسوي. چې عبارت دي له :

۱- قراني دلایل
۲- د انسان سالم فطرت
۳- عقلي دلایل

Download from: www.aghalibrary.com

۴- علمي دلایل (ساینس او ریاضي)
۵- مادي دلایل.

## ۱- د خدای جل جلاله پر ستون قراني دلایل:

قرآن عظیم الشان چي ورستنی (اخیري) آسماني کتاب دی د مسلمانانو د لارښووني ( هدایت) لپاره نازل سوئ دئ، دا چي د دې ستر کتاب هدف ایمان، قناعت، لارښوونه (رهنمايي)، لار موندنه او د بشر نیکمرغي ده او داکتاب دعالمیانو د پروردګار کتاب دی ،نو ځکه د دې ستر کتاب دلایل د انسان د عقل سره موافق (برابر) دي او دا چي عقل د انسان لپاره یو الهٰي نعمت دی نو له دې ځایه څخه ویلای سو چي د هغه څخه ګټه اخیستنه یو ستر حکمت دی.

قرآن عظیم الشان داسي دلایل نه وړاندي کوي چي د انسان د عقل څخه وتلي یا خلاف وي او یا هم انسان ونسي کولای چي هغه په اسانۍ سره درک کړي، بلکه قران عظیم الشان ډېر واضح او ښکاره دلایل وړاندي کوي چي انسان د لږ فکر او پرځان د یوڅه زحمت راوستو په پایله کي په ډېري اسانۍ سره هغه درکوي او د خدای جل جلاله پرستون اعتراف کوي.

اوس په دې بحث کي څو قراني ایتونه تر څېړني لاندي نیسو چي د خدای جل جلاله پرستون ښکاره دلالت کوي.

**دخدای جل جلاله پرستون قراني دلایل**

| نقلي قراني | عقلي قراني دلایل | حسي قراني دلایل |
| --- | --- | --- |

Download from: www.aghalibrary.com

## الف : حسي قراني دلايل :

په قرآن عظيم الشان کي زيات داسي ايتونه راغلي دي چي انسان ته وايي وګوره هغه ټولو شيانوته چي ته يې وينې او حسوې يې چي هغوئ څنګه جوړ سوي دي، څنګه کار کوي او څنګه خپلي دندي ترسره کوي، ايا امکان لري چي دا چاري د يوه پيدا کوونکی ( خالق) او يا چلونکي څخه پر ته وچليږي.

_ د مځکي او اسمانونو تدبير:

(أَفَلَمۡ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ كَيۡفَ بَنَيۡنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٖ )(ق-٦) مګر هغوی پرخپلو سرو ولاړ اسمان ته نه ګوري چي هغه مو څنګه جوړ کړی او ښکلا مو ورکړې پرته له کومي تېروتني او درزونو څخه (وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ (٧) تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ )(ق-٧-٨)او موږ غوړولې ده مځکه او ايښي مو دي غرونه پر دې مځکه او غوړولي مو دي هر ډول نباتات تازه تر څو د هر توبه کښونکي لپاره دا يوه پند او نصيحت سي (رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ)(ق-١١)دا ټوله زما د بندګانو لپاره رزق دی او موږ په دې (اوبو)سره مړه مځکه ژوندی کړه ستاسو راوتل

Download from: www.aghalibrary.com

**هم داسي دي** (وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً مُّبَٰرَكًا فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّٰتٍ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ)(ق-٩) **او له اسمانه مو له برکته ډکي اوبه را و اورولې او بيا مو په هغو سره ستاسي ښخ کړي تخمونه شنه کړل**)(وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٍ لَّهَا طَلۡعٌ نَّضِيدٌ)(ق-١٠) **او جګي جګي د خرماوني چي يو پر بل پرتې اوډل سوي ځانګي لري )**

## ب : عقلي قراني دلايل :

**په قران عظيم الشان کي ډېر داسي اياتونه سته چي انسان د عقل، فکر او پوهي کارونوته رابولي، دا اياتونه له انسانانو غواړي چي د دغو حقيقتونو په اړه فکر وکړي ترڅو په اخير کي حتماً دې پايلي ته رسيږي چي د دې پيدا سو (مخلوقاتو) پيدا (خلق) کيدل له کوم پيدا کوونکي (خالق) څخه پر ته امکان نه لري.**

**په دې اياتونو کي په مستقيمه توګه تعقلون، تفکرون، يسمعون او يتذکرون کليمې کارول سوي دي چي د هغو څو نمونې دلته راوړو:**

### ۱-د قرآن بلنه فکر کولو ته د انسان په خپل وجود کي:

**قران عظيم الشان په زياتو اياتونو کي د انسان عقل د انسان داناتومي او فيزيولوژی څېړني ته رابولي.**

**ځکه غافله انسان له هري پديدې سره په بې تفاوتی رويه کوي، ددې برعکس هغه خلک چي د ځان په اړه فکر کوي خپل وجود يې د خدای جل جلاله پرستون لوی ثبوت دی.**

Download from: www.aghalibrary.com

**الف : د انسان د جوړښت دوره د مور په نس کي او وروسته له پیدایښته:**

(هُوَ ٱلَّذِی خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٍ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ یُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلًا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوۤا۟ أَشُدَّكُمۡ ثُمَّ لِتَكُونُوا۟ شُیُوخًاۚ وَمِنكُم مَّن یُتَوَفَّىٰ مِن قَبۡلُۖ وَلِتَبۡلُغُوۤا۟ أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ ٱلَّذِی یُحۡیِۦ وَیُمِیتُۖ فَإِذَا قَضَىٰۤ أَمۡرًا فَإِنَّمَا یَقُولُ لَهُۥ كُن فَیَكُونُ ) **(الومن_ ٦٧)**

**(هغهجل جلاله هغه ذات دی چي تاسو یې پیدا کړي یاست له خاورو،ورسته له نطفې بیا له تړل سويویني او بیا یې تاسو پیداکړاست د کوچني په څېر کله چي تاسو خپلي توانایي ته ورسېږی او بیا چي تاسو سپین ږیري سی او کله داسي پیښ سي چي یو څوک سپین ږیر توب ته له رسېدو مخکي مړ سي دا دې لپاره چي تاسو فکر و کئ.**

**ب : ژوندي کول او وژل :**

وَهُوَ ٱلَّذِی یُحۡیِۦ وَیُمِیتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَـٰفُ ٱلَّیۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ **(الومنون – ٨٠)(او هغه هغه څوک دی چي ژوندي کوي او**

Download from: www.aghalibrary.com

وژني او د ورځې او شپې توپير د هغه له طرفه دی آيا تاسو په دې اړه فکر نه کوی)

**ج : د ښځو او مېړو پيدا کول د انسان له جنسه او په واده کولو کي مينه او محبت :**

وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (الروم – ٢١)او د هغه له نښانو څخه يوه نښه ده دا ده چي پيداکړي يې دي ستاسو څخه ستاسو لپاره مېرمني او ښځي تر څو د هغو په څنګ کي ارام و اوسی تر څو ستاسو په منځ کي مينه او مرحمت زيات سي په دې نعمت کي د هغو کسانو لپاره چي فکرمن دي په بشپړه توګه نښانې ستهٔ.

**هـ : خوب او ويښه لکه ژوندي کيدل او او مړ کېدل:**

ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِى لَمْ تَمُتْ فِى مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ ٱلَّتِى قَضَىٰ عَلَيْهَا ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ( الزمر – ٤٢)

اللهجل جلاله د مرګ په وخت کي د خلګو روح په بشپړه توګه اخلي او د خوب په وخت کي روح اخلي او هغه روح چي په هغه باندي مرګ

Download from: www.aghalibrary.com

لازمي دی ساتي او نور ټول روحونه د يوه ټاکلي وخته پوري بيرته راليږي په تحقيق سره په دې کي د قدرت نښي دي د هغه قوم لپاره چي فکر کوي.

و : رزق او روزي (مړول او اوبه کول):

﴿قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَـٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾(يونس – ٣١)

و واياست چي د مځکي او اسمانو څخه چي تاسو ته روزي دربخښي څوک دی او يا څوک دی چي پر غوږو او سترګو واکمن دی او څوک دی چي ژوندی له مړه راباسي او مړئ له ژوندي او څوک دی چي د کارونو په اړه تدبير کوي ښايي و واياست خدايجل جلاله نو بيا و واياست ايا دا پروانه کوي.

## ۲- د عقل بلنه د طبيعت او پيښو په اړه څېړني ته :

قران عظيم الشان له انسانه غواړي ترڅو د اسمانونو، مځکي، شپې او ورځي د تلو او راتلو، دريابونو د پيدايښت، او د کښتيو د روانيد په اړه په سمندرونو ، وريځو، باران، جلۍ، واوري، باغونو او مځکو د شنه کېدو او ژړېدو او د نړۍ د نورو پديدو په اړه فکر وکړي.

خدای جل جلاله فرمايي :

Download from: www.aghalibrary.com

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِي تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾(البقره- ۱۶۴)

**د مځکي او اسمانونو په پیدایښت کي د شپې او ورځي په راتګ کي او په کښتیانو کي چي د خلګو په ګټه په سمندرو کي په حرکت دي او په اوبو کي خدایجل جلاله له اسمانه نازیلي کړي دي او په هغه سره یې مځکه له مرګ ورسته ژوندی کړې ده او په هغه کي یې خوځیدونکي غوړولي دي او په همدې توګه د بادونو او وریځو د لورو په تغیر کي چي د مځکي او اسمان ترمنځ واقع دي نښانې دي د پاک خدایجل جلاله پر ذات او د هغه د یوالي د هغو خلګو لپاره چي عقل لري او فکر کوي.**

**کله چي انسان د دې ټولو مخلوقاتو په اړه هغه سي فکر وکړي ځنګه چي پاک خدای جل جلاله امر کوي، د خدای جل جلاله ستون په ډېري اسانۍ سره درک کولائ سي. خدای جل جلاله د مؤمن مسلمان د صفتونو په اړه چي د خدای جل جلاله په مخلوقاتو کي د فکر له امله یې ایمان راوړی وي داسي فرمايي :**

﴿ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ

Download from: www.aghalibrary.com

وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا
بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ (ال عمران – ۱۹۱)

هغوی چې خدايجل جلاله ولاړ،ناست او پر بغل بيده ياده وي،د
مځکو او اسمانو په جوړښت کې فکر کوي او وايي:
خدايهجل جلاله! دا ټول دي باطل نه دي پيدا کړي،پاکي دي وي تا
لره،موږ ته د دوږخ له اوره نجات راکړه.

## ۳- په حيواناتو کې د فکر کولو په اړه د قران بلنه:

خدای جل جلاله له انسانه غواړي، چې د ټولو الهي پيدايښتونو په
اړه فکر وکړي، دغه وي چې ونې چې په يخ کې وچيږي او بيا له همدې
وچ لرګي ڜخه دا خوږې مېوې لکه : منه، انګور، ناک، انار او نور په
بېلابيلو رنګونو او خوندنو پيدا کوي. کوم انسان کولای سي چې له يوې
اندازې خاوري اوبو او لرګي ڜخه مېوه جوړه کړي؟ خدای جل جلاله
فرمايي چې تاسو د حيواناتو پيدايښت ته وګوری او فکر وکړی چې
خدای جل جلاله اوښ په کومو صفتونو پيدا کړی دی ( افلا ينظرون
الی الا بل کيف خلقت ).
او په همدې توګه خدای جل جلاله انسانانوته بيا نه وي چې په بېلا
بيلو ډولونو حيواناتويې پيدا کړي دي چې د هر يوه په پيدايښت کې يو
حکمت او راز نغښتی دی.

(وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِۦ

Download from: www.aghalibrary.com

وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ رِجۡلَيۡنِ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ يَخۡلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (النور – ۴۵)

خدايجل جلاله هر ښور خوړونکئ شی له اوبو پيدا کړئ دئ،د هغوئ ځني پر نس ځي(حرکت کوي)او ځني پر دوو پښو او ځني هم پر ځلورو پښو حرکت کوي،خدايجل جلاله چي هر څه و غواړي پيداکوي يې او اللهجل جلاله پر هر شي باندي زيات قدرت لري.

په دې توګه زيات نور قراني اياتونه سته چي په مفصله توګه د ټولو مخلوقاتو په اړه د فکر کولو امر بيانه وي، ځکه عقل او فکر د حقيقتونو د پيدا کولو لپاره ستره سرمايه او ستمنی ده.

## ج : د قران کريم راليږل سوي (نقلي) دلايل :

د راليږل سو (نقلي) دلايلو څخه هدف هغه دلايل دي چي د خدای جل جلاله له لوري د راليږل سو او خدای جل جلاله پرستو لخوا د بشريت په تاريخ کي ترموږ راليږل سوي او را رسيدلي دي.

ټولو پيغمبرانو خپل امتونه د يوه خدای جل جلاله پرستون باور ته رابلل چي ټولي قرانی کيسې پردې پېښو شاهداني دي.

## ۲- د خدای پرستون فطري حقيقي دلايل :

دين درلودل او خدای جل جلاله پلټل، د انسانانو يوه فطري غريزه ده چي هيڅکله له هغه څخه پرته عادي او نورمال ژوند نه سي کولائ او هرکله چي يوڅوک د يو ليد (مفکورې يا ايډيالوژۍ) له کبله د خدای جل جلاله له ستونه منکر سي او خپل سر د پاک خدای جل

Download from: www.aghalibrary.com

جلاله په وړاندي ټيټ نکړي بالاخره په پوهۍ او يا ناپوهۍ ( په شعوري توګه يا لاشعوري توګه) د کوم مخلوق په وړاندي تسليمېږي کوم حيوان او يا انسان ته سجده کوي.

پوهان په دې نظر دي چي انسانان فطرتاً دين ته اړتيا لري ځکه انسان د هغه مشکلاتو په وخت کي چي د هيڅ خلاصون لاره نلري او يا په داسي حال کي چي دخپل انساني ورور له مرستي ناهيلي سي، حتماً يوې بلي تکې ته اړتيا لري چي هغې خواته مخ واړه وي چي په دې وخت کي د هغه مشکل ورحل کړي چي هغه د ده تر خپلو همدينو لوړ ځوک وي.

په دې اړه چي دين يوه فطري غريزه ده زيات دلايل وجود لري چي په لنډه توګه درې اساسي دليلونه بيانه وو.

| | | |
|---|---|---|
| | دانسان سالم فطرت | |
| قراني دليل | دنبوي سنتو دليل | عقلي دليل |

## قراني دليل :

قران عظيم الشان په ښکاره (صريحه) توګه بيانه وي چي انسان په فطري توګه متدين (دين درلودونکی) وي او دغه فطري ايمان خدای جل جلاله هغه وخت چي آدم (ع) سلم يې جوړ ( خلق) کړی د هغه په بنسټ ( نهاد) کښي کښېښوی ځکه ورته و يې ويل (الست بربکم) ايا زه ستا رب نه يم؟)

ټولو انسانانو په يوه آواز ورته ويل وو کي ته زموږ پروردګاريې نو

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه د اسلام له نکته نظره او د قراني لارښوونو په رڼا کي نه یوازي دا چي دین یوه فطري غریزه ده بلکي هر انسان له هغې ورځي یو پرسته ( موحد) دی، ځکه هغه د خدای جل جلاله پریو والي اعتراف کړئ دئ.

دا چي د انسان سالم فطرت د دین درلودلو پرلور مایل دی، نوځکه ډیرو پوهو کسانو خپلي دې سالم فطرت ته مثبت جواب ویلئ دئ ترڅو متدین او موحد پاته سوي دي.

او هغه کسان چي له دین او د توحیده څخه منحرف کیږي، هغوی له خپل سالم فطرت څخه لیري کیږي.

که څه هم په وروستیو پیړیو کي کمونستانو وغوښتل چي دا غریزه (پدیده) له منځه یوسي او مذهبیت یې یوه منفي پدیده ګڼل، د هغه پرضد یې مبارزه وکړه او ویې نه غوښتل چي په مستقیمه توګه ددین پرستون او خدای جل جلاله باور وکړي، مګر له دې کبله چي دا پدیده د هرچا په وجود کي په فطري توګه ستون لري، کمونستان د خدای جل جلاله د عبادت پرځای د کمونیزم د سالارانو په عبادت لګیا سول او د مارکس، انګلس، او لینن بندګي یې شروع کړل او کله ناکله به یې ستالین ته ویل: چي اې ګرجستانی سړیه ته یې چه موږ ډوډۍ (رزق) راکوې او زموږ مشکلات حله وې.

## د نبوي سنتو دلیل :

حضرت محمد صلی الله علیه و سلم فرمایي: هر کوچنی چي دنیاته راځي فطري ایمان لري او وروسته مور او پلاریې له هغه څخه یهود، نصراني او مجوسي جوړه وي. ددې حدیث شریف په اساس دا د خدای جل جلاله رحمت دی چي ماشوم پرهرځای کي پیدا کیږي د ایمان په

Download from: www.aghalibrary.com

نور منوروي او هغه ماشوم د ځوانۍ تر وخته پوري مؤمن وي او وروسته له ځوانيه يې هغه ته اختيار ورکړئ چي خپل دين خپله غوره کړه.

عقلي دليل :

له امام جعفر(رض) څخه يو چا د خدای جل جلاله په اړه وپوښتل هغه يې په جواب کي وويل: آيا کله په يوه داسي کښتۍ کي سپور سوئ يې چي سخت طوفان راګير کړې وي او د کښتۍ چلوونکۍ ستاسو له نيجاته څخه مايوسه سوئ وي او کله چي غرقيدلو ته ښه ورنږدې سوی وې، په دې وخت کي دي په زړه کي دا نه دي درګرځيدلي چي يوڅوک سته چي په دې وخت کي هم که وغواړي موږ وژغوري ژغورلای مو سي؟ هغه سړي ورته وويل: بلې! امام جعفر(رض) ورته وويل : هغه څوک خدای جل جلاله دی، د حضرت جعفر(رض) هدف د قران عظيم الشان له دغه ځايه څخه وو ( و اذا رکبوافی الفلک دعوالله مخلصين له الدين)

بې ايمانه انسانان په کښتيو کي د سپرېدو په وخت کي او په مشکلاتو کي د راګيرېدو په وخت کي خدای جل جلاله په اخلاص او زاريو رانتګوي او متدين کيږي، مګر هغوی د انساني فطرت پر خلاف کار کوي، له طوفان څخه له خلاصېدو وروسته بيا له خدايي احکامو څخه په نافرمانۍ او سرکښۍ پيل کوي.

نو له دې ځايه ويلای سو چي د انسان عقل هم په دې اعتراف کوي چي انسان فطرتاً با ايمانه وي او د خدای جل جلاله پر ستون اعتراف کوي نوله دې کبله د مشکلاتو په وخت کي د هغه ايماني فطرت هغه د خدای جل جلاله ولور ته ور کشوي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۳- د خدای جل جلاله پرستون عقلي حقیقي دلایل:

د انسان عقل چې د انسانیت ترټولو ستر صفت دی، د همدغو فکرونو په واسطه انسانانو هغه سترستر واټنونه چې میاشتو میاشتو مسافریوته یې اړتیا درلودله ډېر لنډ کړل چې یوازې څو شیبې مسافرت ته اړتیا لري، هغوی خپل ځانونه د عقل څخه په ګټه اخیستنه د علم او پوهې لوړ ترینو مقامانوته رسولي دي، هغوئ د خپل علم او پوهې په زور ډېر لوئ لوئ حیوانات ترخپل فرمان لاندې راوستلي دي او له هغوئ څخه ګټه اخلي او له نیکه مرغه زموږ په پرمخ تللې نړۍ (د ساینس او ټکنالوجۍ نړۍ) کې د انسان عقل دونه پرمختګ کړی چې د ډېرو وسایلو په جوړولو یې دا ستره نړۍ په یوه کوچنې کلي بدله کړې ده او په هره شېبه کې چې وغواړي خپل دوستان که د نړی په بل بر اعظم (لویه وچه) کې هم وي ووینې په څو شېبو کې دا کار کولای سي.

په دې اساس نني انسان د دغو سترو برياو ته د رسېدو له کبله نه سي کولای چې د خپلو نیکونو په دلایلو او خبرو قناعت وکړي او د هغوی ټول افکار او نظریات د څېړني او کتني، فکر او پوهیدني او د عقل کاروني څخه پرته ومني.

دا نني پرمختګ ددې لامل سوئ دئ چې انسان نورو هڅو او څېړنو ته هڅه وي او د حق پلټنی حس یې تر پخوا په تېزئ کې راولي. نو کله ناکله هغوئ ته د قرآن کومه نسخه په لاس ورغلې ده او د هغه په لوستلوېې حق درک کړئ دئ او ایمان یې راوړئ دئ، مېرمن بتې باومن د اسلام په اړه وايي: په لویدیځو هیوادونو کې اسلام د پرمختګ په حال کې دئ، نموتې پوهان، ستر عالمان، ډاکتران،

Download from: www.aghalibrary.com

ښوونکي او نور لوئ لوئ شخصیتونه اسلام ته مخه کوي او دا نوي مسلمانان اسلام ته له ډیري پوهي او علم سره راځي او دوئ په دې وخت کي د اسلام تبلیغ پیلوي، ډېر دیني کتابونه چي په عربي، ترکي، اردو او نورو ژبو لیکل سوي دي ډېر یې په انګلیسي، الماني او فرانسوي هم ژباړل سوي دي.

د پوهو او هوښیارو خلګو لپاره قرآن یو عقلي، حقیقي او مانوي سمبول ګرځېدلئ دئ، اسلام یو داسي دین دئ چي په ډېري تېزی سره په نړۍ کي خپرېږي په خاصه توګه په لویدیځي نړۍ کي.

د همدغو علتونو په سبب د نړۍ ټول پوهان او هوښیاران له څو ماده پرستانو څخه پرته په دې عقیده دي چي ژوند د یوه هدف لپاره پیدا سوئ دئ او د نړۍ پر پیدا کونکي ( خالق) یې د خپل عقلي ضرورت په اندازه اعتراف کړئ دئ چي دا دلایل په لاندي نکتو کي څېړو.

## د خدای جل جلاله پرستون د عقلي دلایلو ډولونه :

فکر او پوه د انسان دوه ستر ضرورتونه او خاصیتونه دي، انسان کولای سي چي د خپل فکر ، حکمت او عقل څخه په کار اخیستنه ځان حقیقتونو ته و رسوي چي دناپوهو او سطحي کسانو لپاره دا ډېر سخت او مشکل کار دئ.

عقل او فکر ته د کتني پر اساس موږ کولای سو چي په لاندي نکتو کي خدای جل جلاله پېژندنه او د خدای جل جلاله پرستون باور وڅېړو.




Download from: www.aghalibrary.com

## ۱- د پیدا سو ستون ( د مخلوقاتو وجود ):

زه همدا اوس چي کمپیوټر ته ناست یم او کار په کوم د دې کمپیوټر جوړښت ما په فکرونو کي غرقوي، د هغه عقل او فکر په اړه فکر کوم چي دا پروګرامونه یې جوړ کړي دي چي هغه به څونه پوه او هوښیار سړی وو چي یو داسي شی یې په دونه پاملرنه جوړ کړئ دئ.

کله چي له بازاره مبایيل رانیسم هغوئ وایي چي دامبایل پر دې کوچنیتوب سربېره ډېر شیان په خپله حافظه کي ساتي او له زرګونه میله لیري تماس برقراره کوي، حیرانېږم...

او کله چي راته وایي چي دا تلیفون په زرګونه کلیمې ساتلای سي، څو ساعته فلم هم ساتي ... عکسونه هم اخلي ... او داسي نور کارونه زه په رښتیا و هغو کسانو ته چي کمپیوټرېې جوړ کړئ دئ او یایې دا تلیفون په خورا هنر سره جوړ کړئ دئ ډېر احترام لرم او عقل مي راته وایي چي دا کسان په رښتیا سره نابغه ګان دي. ځکه زه نسم کولای چي داسي یو شی جوړ کړم.

او عقل مي دا هم راته وایي چي دا کمپیوټر او مبایيل کوم تصادف نه دئ، د دې پروګرامونو تر شا یو پوه لاس دئ چي هغوئ چلوي.

کله چي انسان خپلي شاوخواته ګوري، ټول وسایل چي دی یې

Download from: www.aghalibrary.com

استعماله وي، توليدوونکي ( جوړونکي) شرکتونه لري، کارګران، انجنيران او زيات مسئول کسان په دې شرکتونو کي کار کوي، هيڅ انسان د دې ادعا نه سي کولای چي ډېر کوچنی شی لکه ستن، مېخ او يا هم بوټونه په فابريکه کي نه دي جوړ سوي، د انسان عقل سل په سلو کي دا مني چي دا وسايل يو شرکت لري چي د هغه شرکت د انجنيرانو او کارګرانو لخوا دا شی جوړ سوئ دئ.

کله چي د خپل ځان په اړه فکر کوو او يا خپل ماشومان وينو چي په ډېره پاملرنه کار کوي، همدغه انسان دئ چي فکر يې تر زرو کمپيوټرونو سم کار کوي، په زرو عکسونه ساتي ... په زرو فلمونو ساتي، له ځلويښت کلونو مخکي خاطرې يې هم يادي دي . ډېر لوئ لوئ حيوانات يې ځان ته تابع کړي دي ... کله چي انسان د ژونديو موجوداتو په اړه لکه انسانان، حيوانان، مرغان، خزنده ګان فکر کوي د هغه عقل ده ته داور فهموي چي د دې ټول پيدا سو (مخلوقاتو) لپاره يو پيدا کوونکی (خالق) ته اړتيا سته، هيڅ امکان نلري چي دا ټول پيدا سوي (مخلوقات) په تصادفی توګه پيدا (خلق) سوي وي.

## ۲- د پيدا سو فزيکي جوړښت :

د هر پيدا سوي (مخلوق) فزيکي جوړښت د هغه د چاپيريال سره برابر سوئ دئ، او کله چي انسان په دې اړه فکر وکړي په ډېره ښه توګه ليدلائ سي چي دا جوړښت د يوه پراخ علم څښتن لخوا جوړسوئ دئ چي د هغه په هره نکته کي د خدای جل جلاله د ستون لپاره زيات دلايل ترسترګو کيږي.

د مثال په توګه د اوښ جوړښت د صحرايي اوبو او هوا لپاره د

Download from: www.aghalibrary.com

مرغانو جوړښت دالوت لپاره، د هیلیو جوړښت په اوبو کي د لمبېدلو لپاره او داسي نور.

نو په دې دلیل نن ورځ انجنیران هرڅه د یوه خاص ځای لپاره په یو خاصه توګه جوړه وي لکه الوتکي د هوا لپاره داسي جوړه وي چي په منځ کي یې د خلکو د کښېنستو لپاره ځای وي مګر جنګي طیارې داسي جوړه وي چي په منځ کي یې د بم ایښودلو لپاره ځای وي.

د انسان د سترګو جوړښت ته که چیرى ځیر سو سترګي یې په یوه خاص ځای کي ایښي دي چي دلوېدلو هیڅ امکان یې نسته مخ ته یې باڼوګان د پردو په څېر درولي دي چي له سترګو حفاظت وکړي او سترګي یې په یو خاص ډول تروو اوبو کي ایښي دي چي د هغو د پاکو ساتلو لپاره کار ځیني واخستل سي، د ژبي جوړښت د انسان په خوله کي او په خوله کي دننه د څلور ویشته ساعته چینې جوړونه چي ناوړي ځیني راوزي، دا ټول د یوه حکمت په اساس جوړ سوي دي که چیري انسان په دې اړه فکر وکړي نو د خدای جل جلاله پرستون یې خپل په خپله (خود به خوده) باور راځي.

## ۳- د دندو وېشنه :

د انسان د بدن هر غړى خپله دنده په اتوماتیکه او عادي توګه تر سره کوي، د انسان ژبه څو دندي ترسره کوي، د خولې اوبه له خوراک (غذا) سره ګډه وي او کله چي لړ مالګه په خوله کي واچوو نو هغه له ټول خورک (غذا) سره ګډه وي، خوراک و معدې ته د تګ لپاره تیاره وي، له خورک څخه وروسته د خولې د پاکولو دنده پرغاړه لري ۲۴ ساعته د کلکو او تېرغاښونو لاندي خپله دنده ترسره کوي دخبرو کولو

Download from: www.aghalibrary.com

لپاره همېشه مرسته کوي، د هغې هره برخه د لفظونو د کارونو لپاره کارول کېږي.

ددې ټولو دندو سربېره بيا هم د ژبې د درملني لپاره کوم ځانګړې ځانګه نسته. ځکه چې د سترګو، غوږو، ستوڼی او نورو ځايونو لپاره ځانګړي ډاکتران سته خو د ژبې ډاکتر نسته.

د ژبې د دونه مهم والي ، دونه دقيق والي او پر دونه کوچنيتوب سربېره د حيرانتيا وړ خبره ده چې که چيري په دقيقه توګه په هغه کي ژوک فکر وکړي نو د خدای جل جلاله د ستون لپاره دا يو ښه ثبوت دی چې څنګه يې يوه داسي کوچنی دقيقه او اتوماته وسيله منځ ته را وړې ده.

د انسان بدن د اړتياو د ترسره کولو لپاره پردوو برخو وېشل سوئ دئ، ارادي او غير ارادي چې شعوري او غير شعوري هم ورته وايي.

او کله چې موږ ددې وېشني علت ته وګورو په ښه توګه پوهيږو چې لوی څښتن دا وېشنه د انسان د خير لپاره کړې ده، ځکه که چيری دا وېشنه نه وای، نو انسان به له زياتو مشکلاتو سره مخ سوئ وای، که چيری زړه، معده او د انسانانو تنفسي غړي د انسان په خپله اراده وای، نو نه يې سوائ کولائ چې دا کار په اسانۍ سره ترسره کړي ځکه انسان په ورځ کي لږترلږه ژو ساعتونو خوب ته اړتيا لري او کله چې دا غړي د خوب په وخت کي له کاره لوېږي، خو د انسان د له منځه تلو لامل ګرځي.

نو بناً هغه مجبور وو چې ودې غړوته د حرکت ورکولو لپاره تل ويښ پاته سي او يا يې بل چاته دنده ورکول چې هغوئ ته حرکت ورکړي چې په هيڅ توګه دا کار امکان نه لري مګر ستر څښتن چې (الرحم الراحمين) دی د بدن دا غړي يې د انسان له واکه ايستلي دي او

Download from: www.aghalibrary.com

هغوی د انسان د ارادې پر ته خپله دنده په ډېره ښه توګه ترسره کوي او انسان يې له ټولو مشکلاتو خلاص کړئ دئ.

دا وېشنه د خدای جل جلاله پر ستون یو ښکاره دلیل دئ چي یو مدبر او پوره پوه پیدا کوونکئ سته چي د انسان ټول مشکلات يې د هغه له پیدا کولو څخه مخکي په نظر کي نیولي دي.

## ۴- د انسان په وجود کي د اړتیا وړ موادو جوړښت:

د انسان په بدن کي یو لړ ماشینونه جوړ سوي دي چي د انسان د وجود لپاره د اړتیا وړ مواد په اتوماتیکه توګه تهیه او بشپړ وي.

د انسان وجود وینې، د ویټامینونو بېلابیلو ډولونو، د هډوکو د غټېدلو لپاره د اړتیا وړ موادو، پوست او غوښو، دفاعي سیستم د مکروبانو د لښکر او یا د ویرسونو څخه د ځان ساتني لپاره اړتیا لري.

د انسان د جوړښت سیستم دا کارونه په نورماله توګه ترسره کوي، وینه د اړتیا په اندازه جوړېږي، ویټامینونه له خوراکي توکو څخه د پوست، هډوکو، غوښو او نورو د رشد لپاره په نورماله توګه جوړېږي.

کله چي انسان په دقیقه توګه دا سیستم وڅېړي نو ورته معلومیږي چي داخپل په خپله منځ ته نه دي راغلي او د یوه داسي ذات پنځونه ده چي هیڅ ساری نه لري.

د انسان د وجود او غړو څېړنه که څه هم د ساینس کار او دنده ده مګر د هرعاقل انسان لپاره په دې اړه فکر کول یوه اسلامي دنده ده چي انسان ته معلومه سي چي د یو څنګه ذات بنده دی او یو څنګه خالق خلق کړئ دئ.

Download from: www.aghalibrary.com

### ۵- د ټولو کایيناتو ترتیب او اوډنه :

که چیرې ټولې نړۍ او کایيناتو ته په ځیر سره وګورونو وبه ګورو چې دا لمریزه ټولګه څنګه او په څونه نظم سره څرخي، چې دا خپله د یوه پیداکونکي (خالق) پرستون دلالت کوي.

### ٦- و ناتوانه شیانو ته توان وربخښل :

کله چې انسان په خپل چاپیرل کې په دقیقه توګه ټول پیدا سوي ( مخلوقاتو) په ځیر وګوري نو وبه ویني چې هر شي ته د هغه په اندازه توانایي ورکول سوې ده چې په ډېر سخت حالت کې هم هغوی خپل ژوند پرمخ بیايي، مثلاً هیلۍ که څه هم چې د ډېرو کمزورو موجودات څخه ده او انسان کولائ سي چې په ډېره اسانۍ سره هغه دوه ځایه کړي، مګر ددې په مقابل کې وینو چې همدا هیلۍ په صفر درجه هواکې په یخی سوو اوبو کې په پوره بې خارئ په ساعتونو ساعتونو لمبیږي، مګر همدا زوره ور انسان چې وختونه وختونه یې ورزش کړئ دئ نه سي کولائ چې یو ساعت په همدې اوبو کې ولمبیږي.

یوه کمزورې مېوه ډیري ورځي د لمر تر حرارت لاندی مقامت کوي او له سهاره ترماښامه تر سوځونکي لمر لاندې په نورماله توګه ژوند کوي، مګر انسان نه سي کولائ چې څو ساعته پرله پسې ترسوځونکي لمر لاندی له کوم سیوری پرته حوصله وکړي، یو انسان نه سي کولائ چې تر خپلې خولې غټه ګوله تېره کړي مګر یو مار کولای سي چې تر خپلې خولې څو چنده غټه ګوله تېره کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

د انسان پښې چې له غوښو او هډوکو جوړې سوي دي، داسي توانايي لري که چيري د انسان وزن تر (۲۰۰) کيلو زيات هم وي په پوره بې خارې سره هغه له يوه ځايه تربله ځايه رسوي.
نو له دې ځايه څخه معلوميږي چي که چيري انسان خپل ځان او چاپيريال په دقيقه توګه وڅيړي نو هغه ته به د خدای جل جلاله پرستون سلګونه ثبوتونه په لاس ورسي.

۷: و ډېرناتوانه پيدا سو (مخلوقاتو)ته د خوراک (غذا) رسول :
له پوهانو څخه يو پوه وايي زه يوه ورځ د سمندر پرغاړه ولاړ وم د اوبو پرسر مي يو کوچنی مرغه په الوت کي وليدئ، هغه مرغه دهيليو له کوم ډول څخه هم نه وو چي د ماهيانو په خوړولو دي ځان ته خورک پيدا کړي، زه حيران پاته سوم چي دا مرغه به خپل خورک له کومه کوي کله چي ښه ورته ځير سوم د هغه پر مشوکه مي يوې ځانګې ته ورته کومه نښه له پاسه اويوه لاندی ترسترګو سوه چي د هغه دا ډول جوړښت زه نور هم په فکر کي واچولم. څو هغه وو چي ددې موضوع څېړنه مي پسي تعقيب کړه، څو بالاخره په دې راز پوه سوم هغه داسي:
نهنګ چي کله ښکار وکړي نو د خپل ښکار له خوړولو وروسته ،خپله خوله د اسمان پر لور پرانيستې نيسي، دا کوچنی مرغه د هغه پرخوله کښيني او د ښکار ميده ميده پاته شوني چي د نهنګ په غاښوکي بندي وي خوري او کله چي نهنګ غواړي خپله خوله بنده کړي نو ددې مرغه دا دوې ځانګې د هغه د خولې بندولو مخنيوی کوي، نودا مرغه په پوره بې خارئ او بېغمه زړه خپل ځان مړه وي او الوزي؟
نو وګورئ چي خدای جل جلاله ( سبحان الخالق الرزاق) دئ نو و ټولو موجوداتو ته خورک د يوه داسي پلان له مخي رسول د خدای جل

Download from: www.aghalibrary.com

جلاله پرستون یو ښکاره دلیل دئ.

## ۸- د پیدا سوو ( مخلوقاتو) وجود د یوې فابریکې په څېر:

انسان د یوه هوسا ژوند لپاره یو لړ اړتیاوې لري او دا چې د انسان علم تر اوسه داسي یوځای ته نه دئ رسېدلئ چي خپلي ټولي اړتیاوي خپله پوره کړي او نه کولائ سي چي داسي فابریکې ایجاد کړي چي د هغه ټولي اړتیاوي ور پوره کړي، نو خدای جل جلاله د انسانانو او حیواناتو په وجودونو کي یو لړ فابریکې جوړي کړي دي چي په اوتماتیکه توګه تولیدات کوي، چي دا فابریکې دنده لري چي د انسان د اړتیا په وخت کي د هغه په وجود کي دننه او یا له وجوده د بآندي تولیدات وکړي، د مثال په توګه : د انسان بدنویني ته اړتیا لري، خدای جل جلاله د ویني د تولید لپاره د انسان په بدن کي دننه د دغو فابریکو (غړو) په واسطه له ډیرو عادي خورکو څخه وینه جوړه وي، مګر انسان ترننه نه دئ توانېدلئ چي وینه جوړه یاتولید کړي.

د انسان د بدن لپاره غوښه په بدن کي دننه جوړیږي د بدن وریښتان هم د بدن دننه جوړیږي، د انسان هډوکي هم یو له هغو غړو څخه دي چي د انسان په وجود کي دننه رشد کوي اوغځیږي.

د انسان د وجود په بېلابیلو ځایونو کي د اوبو ستون ته اړتیا سته، د انسان خوله ۲۴ ساعته خوړې او به تولیده وي او د انسان سترګي ۲۴ ساعته په نورماله توګه تروې اوبه تولیده وي.

کله چي موږ د یوه حیوان فزیکي حالت ته وګورو، وینو چي دا حیوان د وښوو او شنوګیاو په خوړلو خوږې شیدې تولیده وي، د

Download from: www.aghalibrary.com

همدې حیوان غوښه هم خوړه ده ، ته د خدای جل جلاله دې فابریکې ته ګوره د یو عادي حیوان له وجوده څخه څونه شیان تولیده وي.

غوښه، شیدې، غوړي او وړئ چي دا هم د خدای جل جلاله پر ستون یو ښکاره او په زبات رسېدلئ دلیل دئ چي داسي فابریکې یې په ډېره اساس توګه ترتیب کړي دي.

او بیا که چیري د انګورو تاک ته وګورو یو بد شکله او بد خونده شی دئ مګر ښایسته او خوندور انګور تولیده وي او داسي په زرګونو نوري میوې چي خدای جل جلاله د انسان لپاره پیدا کړي دي چي ګټه ځیني واخلي او وه یې خوري مګر په هوښیاری نه په غفلت.

## ۹- د سن او سال (عمر) په اندازه نعمت ورکول :

دا چي عقل د انسان لپاره یولوئ نعمت دئ، مګر بیر ته همدا عقل د یوه کوچني ماشوم لپاره مصیبت دئ.ځکه که چیري یو کوچنی داسي فکر ولري لکه لویان چي یې لري ، نو نه سي کولای چي خپل مشکلات خپله حل کړي، نو بیا به ډېر خجالت وړي، خوابدئ کیږي به او له خپلي ناتوانۍ څخه به ځوریږي، مګر د خدای جل جلاله په حکمت د همدې ماشوم فکر د هغه د جسماني لوی والي سره لویږي او بې عقلي د دې ماشومانو لپاره ستره پرده او لوئ نعمت دئ، مګر د یوه ځوان لپاره د عقل درلودل لوئ نعمت دئ.

## ۱۰- د انسان د جسم توانایي له عادي شیانو څخه :

د انسان بدن چي د یوې لوي فابریکې په څېر دی، ویني، غوښي، پوست، له مکروبونو سره مقابلې، ویټامینونو او نوروته اړتیا لري خدای

Download from: www.aghalibrary.com

جل جلاله د بدن په داخل کي داسي فابريکې جوړي کړي دي چي د ډېرو عادي خوراکونو او څښاکو څخه خپلي ټولي اړتيا وي په ډيري اسانۍ او اوتماتيکه توګه پوره کوي.

که چيري د ويني او يا نورو اړتيا د پوره کولو لپاره د زوره ورو خورکونو اړتياواۍ نو خلګ به ډېر په تکليف کي واۍ او يوازي به ستمن کسان د ژوند له نعمته برخمن واۍ مګر ستر ذات ددغو اړتيا وو د پوره کولو توانايي په ډېرو عادي او ارزانه خورکونو لکه، شينګيا، لبنيات، مېووې ، حبوبات او نورو کي اېښي دي چي له دغو څخه هرڅوک ګټه اخيستلاۍ سي.

نو د پورتنيو دلايلو په رڼا کي ويلاۍ سو چي د خدای جل جلاله پرستون دونه مثالونه سته چي تر شما ر وتلي دي ځکه چي د هرشي ستون د خدای جل جلاله پرستون دلالت کوي.

## ۱۱- په جوړښت کي پرتلينه (تناسب) :

که چيري هډوکي غځېدلای او پوست نه غځېدلای نو انسان به له ډېرو مشکلاتو سره مخ سوۍ واۍ.

ښايي چي پوست به يې چاودلۍ واۍ او يا داچي د انسان بدن غځېدلاۍ مګر پښې يې هممغسي کوچنۍ پاتېدلاۍ، انسان بيا هم له مشکلاتو سره مخ کيدۍ، مګر خدای جل جلاله د انسان ټولو غړوته په پرتليزه توګه غځوالۍ وربخښي او په همدې توګه د اړتياوو د توليد په اړه هم دا راز پرتلينه په فکر کي نيول سوې ده مثلاً : که چيري د يوه ماشوم زړه د يوه څلويښت کلن سړي د زړه په څېر وينه پمپولاۍ نو د ماشوم له ټوله بدنه به وينه بهېدلاۍ مګر خدای جل جلاله د انسان

Download from: www.aghalibrary.com

دبدن هرغړئ د هغه د بدن سره په پرتله جوړ کړئ دئ، چې دا خپله د خدای جل جلاله پرستون یو ښکاره دلیل دئ.

## ۱۲- ویوه جوړونکي ته اړتیا :

کله چې ټولو موجوداتوته ګورو داسي شی په نظر نه راځي چې یوه فابریکه او یاجوړونکئ دي و نه لري، د انسان عقل هیڅکله دا نه مني چې یو کوچنی قلم دي هم خپل په خپله جوړ سي.

علامه عبدالمجید زنداني چې د اوسنۍ زمانې یو پوه عالم دئ وایي:

یوه ورځ مي له یوه ماټریالیسټ سره بحث وو، ورته ومي ویل ته چا جوړ کړئ یې؟ هغه وویل:

تصادف

ما ورته وویل:

آیا امکان لري چې دونه ښاییسته انسان دي د یوه پیدا کونکي څخه پرته پیدا سي

ویې ویل:

بلې

ما ورته وویل:

آیا ستا بوټونه هم خپله پیدا سوي دي؟

هغه ویل:

نه دا امکان نه لري چې خپله دی پیدا سي، بلکي دا یوې خاصي فابریکې جوړ کړي دي چې مارک یې هم پر وهل سوئ دئ.

ما ورته وویل :

آیا انسان تر دې بوټو هم کم د، ترڅو د هغه جوړښت له جوړونکي

Download from: www.aghalibrary.com

او پیدا کونکي شخه پرته و سي او همدا انسان په دونه دقیقه توګه بیا هم تصادفي وي؟ نو هغه سړی خاموشه پاته سو.

و پورتنیو دلایلوته په کتلو سره هیڅ داسي موجود نسته چي د یوه پیدا کونکي شخه پرته دي منځ ته راغلئ وي. په پایله کي ویلای سو چي هرڅه د یو چا لخوا پیدا سوي دي چي دا پیدا کوونکئ یوازي الله جل جلاله دئ.

## ۱۳- د نړۍ نوی والی :

دا چي دا نړۍ لاله وړاندي نه وه او وروسته له نسته والي شخه ستي سوه، د هر موجود منځ ته راتګ او یا جوړیدل هم د یوه جوړونکي لخوا کیږي. دنړۍ د نوي والي موضوع یوه داسي موضوع ده چي د نړۍ ټولو پوهانو اعتراف پر کړئ دئ او په دلایلو سره یې دا ثابته کړې ده : د یونان له فلاسفو شخه سقراط له هغه وروسته فیثاغورس ریاضی پوه تالس، انکساغورس، و انکیسانوس او افلاطون د نړۍ نوئ والئ منلئ دئ.

او له اوسنیو پوهانو شخه فرانکلین، ډاکټرولیام نبلوچ، ډاکټر اوسکار، بوټنرمان، ادوارلوترکیل او نورو زرګونو پوهانو د نړۍ د نوي والي موضوع منلې ده.

په کیمیا کي متخصص کارکالیستي وایي:

داسي ډیر دلاییل سته چي دا ترې ښکاره کیږي چي نړۍ یو پیل لري او ځېړني ښه يي چي دنیا د غځېدو په حالت کي ده، دا په زبات رسیدلې ده چي د نړۍ تشکېلېدونکي عناصر په پیل کي ټول په یوه ځای کي پیچل سوي وه او په همدې توګه فرانکلن دا خبره په زبات

Download from: www.aghalibrary.com

رسولې ده چي جهان ازلي نه وو بلکي يو پيل لري.

## ۱۴- د دنيا او آخرت له نيکمرغيو سره مينه :

هر کله چي وغواړو ددنيا او اخرت نيکمرغي مو په برخه سي نو دا نيکمرغي موږ ته پر خدای جل جلاله د باور په پايله کي په لاس راځي، (من کان يريد ثواب الدنيا فعندالله ثواب الدنيا و الاخره)

پوهان او هوښيار خلک په دې نظر دي، چي ددنيا او آخرت د نيکمرغيو ګټل پر خدای جل جلاله په ايمان درلودلو کي نغښتې ده، ځکه د خدای جل جلاله پرستون باندي د باورنه درلودل، د اخرت پر ورځ د باورنه درلودلو سره يو شی دي او د مرګ په ړغ هرڅه ښايي له منځه ځخه ولاړ سي دا ډول فکر د انسان دنيا او اخرت د نيکمرغۍ لامل ګرځيدلای سي، ځکه له مرګ وروسته پر ژوند د باور نه درلودل نړۍ د انسانانو لپاره په اول او اخير هدف بدلوي، که چيري انسان داسي فکر وکړي نو د هغه په نظر د يوې ترافيکي پيښي سره هرڅه له منځه ځي او په دې اساس هيڅکله انسان د راحت احساس نه کوي، مګر د انسان سالم عقل انسان ته دا ورحسوي چي اخيرت بايد وجود ولري، ترڅو انسان له مرګ وروسته بيا ژوندی سي او د خپلو نيکيو او بديو جزا ووينې او محاکمه سي، دا محاکمه څوک ترسره کوي، پرته له شکه سترڅښتن جل جلاله

## ۴- د خدای جل جلاله د ستون په اړه د علماو او پوهانو نظرې :

قرآن عظيم الشان يو ډيرمهم حقيقت بيان کړئ دئ، هغه دا چي

Download from: www.aghalibrary.com

علما او پوهان ترعامو خلکو له خدای جل جلاله څخه ډېر بیرېږي، دا ځکه څنګه چي یو طبي ډاکټر چي د عامو خلکو په پرتله یې طبي مسایيل ډېر لوستي او درک کړي وي، ډېر داسي حالت چي خلکوته عادی ښکاري مګر ډاکټرته هغه دخپلي پوهي په برکت ډېره جدي مسئله ښکاري ځکه هغه پوهیږي چي د دې کوچنی مسئلې ترشا څونه لوئ لوئ خطرونه پټ دي. یوه ورځ زه خپله په یوه بانډار کي ناست وم، او یو چا بادم راوړي وه هرچا په خپله طرحه بادم ماتول او خوړل یې، چا په لاس ماتول، چا په چکش ماتول او چا هم په غاښ ماتول. زموږ سره په دې بانډار کي یو ډاکټر هم وو کله چي به چا په غاښ بادام ماتوئ نو د هغه په څهره کي به ډېر عجب بدلون راتلئ مګر نه یې سوائ کولائ چي په یوه داسي باڼدار کي هغوئ له داسي حرکته څخه منعه کړي، مګر بې اندازې زيات متاثره کیدئ، مګر د ډېري پریشانۍ او نارضیتوب نښي یې په تندي کي ښکاره کیدې، ځکه هغه پوهېدئ چي ده دوئ دا کړنه په راتلونکي کي د هغوئ صحت ته څونه تاوان لري.

په همدې توګه هر وخت پوهان ، علما او هوښیار انسانان سته چي حقیقتونه یې درک کړي دي، په ډیرو رازونو پوه سوي دي او ایمان یې راوړئ دئ، چي موږ په دې برخه کي د نړۍ د پوهانو د نظریو په اړه یو څېړنه لرو چي د خدای جل جلاله پرستون یې وړاندي کړې ده.

لومړی باید پوه سو چي دنني ورځي علمي پرمختګونه د خدای جل جلاله ستون څنګه بیانوي، ولي د نړۍ لوی علما او پوهان د خدای جل جلاله پرستون باور کوي؟ او ولي پوهان او متخصص کسان د مومنانو په لومړیو کتارونو کي ځای لري.

مېرمن بتي باومن وايي:

Download from: www.aghalibrary.com

خدای جل جلاله په قران کي فرمايي: ( وَإِن تَتَوَلَّوْاْ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمْثَٰلَكُم )(محمد-۳۸)

که چيري تاسي (مسلمانان) له دينه څخه مخ واړوی، موږ به ستاسو پرځای يوبل توانمن څوک کښېنوو چي هغه ستاسي په څېر نه وي او هغه دا دی اوس پېښه ده، په اسلامي هيوادونو کي په زياته توګه په شرقي هيوادونو کي اسلام مخ پر کښته روان دئ مګر په غربي نړۍ کي مخ پر لوړه يعني پر زياتيدو دئ او نوي مسلمانان د ځان سره ډېري پوهي او ښه زيري راوړي نوموتي پوهان، د علم لوی لوی عالمان، ډاکټران، ښوونکي او نور پېژندل سوي کسان د اسلام پر لور مخ را اړه وي او د اسلام د سپېڅلي دين په تبليغ لاس پوري کوي د دين زيات کتابونه چي په عربي، ترکي، اردو او نورو ژبو ليکل سوي دي زيات يې په انګليسي، فرانسوي او الماني ژباړل سوي دي. هغه چي يوه پوه ښځه ده په زرهاوو کتابونه يې په بېلابيلو وختونو کي و حق ته د رسېدو په موخه لوستي دي داسي وايي.

ما تر زرو زيات کتابونه په بېلابيلو وختونو کي د اروا پوهني، ټولنپوهني، انسان پوهني، مذهب، تاريخ او فلسفې د دوو پيغمبرانو (عيسى (ع) او محمد صلى الله عليه و سلم ) په اړه د حقيقت موندني له کبله ولوستل او په همدې توګه مي خپلو څېړنو ته دنړۍ په مختلفومذهبونو کي ادامه ورکړه، مګر د انسان په لاس د جوړسو مذهبونو د تشويشونو د زياتېدلو پر ته ماته نور هيڅ څه په لاس رانکړل، هغه داسي پسي زياته وي:

په دغو دينونو کي ځينو ماته جوابونه وويل مګر نور سوالونه يې

Download from: www.aghalibrary.com

راته پیدا کړل، ترڅو په اخیر کي د اسلام د سپیڅلي دین په لوستلو زما ټول سوالونه جواب سول او بالاخره هغه څه چي زه څلویښت کلونه سرګردانه ورپسي ګرځیدم مي پیدا کړی. هغه په نړۍ کي هرچاته مانا وربخښونکۍ څه وو (اسلام).

ددغو حقیقتونو په رڼا کي هریوه د خپلي پوهي سره سم د خدای جل جلاله د ستون په اړه خپل نظر وړاندي کړی دی. د اقتصادي او ریاضی علوم پوهان د خپلو اساساتو په رڼا کي د خدای جل جلاله پرستون باور لري او خپل نظر داسي څرګنده وي.

نیوټن وایي:

د پیدا کونکي (خدای جل جلاله) په اړه شک مه کوی ځکه دا له تصوره وتلې خبره ده چي ددې هستۍ (نړۍ) تادابونه دي خپل په خپله یا تصادفي وي.

لویی پا ستور وروسته له هغه چي مکروب یې کشف کړی او ډیري ناروغۍ یې د ذره لیدونکو حیواناتو له کبله وبللې او په دې کشف یې بشري نړۍ ته ډېر لوئ خدمت وکړئ یوچا پوښتنه ځني وکړه:

آیا په دې بریالیتوب بیاهم د خدای جل جلاله پرستون باور لرې؟ هغه په جواب کي وویل ((ددې کشف په کولو سره زما باور سل چنده نور زیات سو ځکه د دې ذره لیدونکو حیواناتو د ساختمان او ډېرښت په لیدو زه ستر رب دې ستر خلقت ته په ډېر حیرت کي واچولم. هغه ژور کار او عجیبه صنعت چي ددغو موجوداتو په جوړښت کي کارول سوئ دئ انسان دحیرانۍ په سمندر کي لاهو کوي او عقل عاجزه کوي.

اسپنسر د هرچل په حواله وایي:

د علم لمن چي هرڅونه پرخیږي د خدای جل جلاله پرستون لا ژور دلایل منځ ته راځي نو په دې اساس مځکه پېژندونکي، ریاضي

Download from: www.aghalibrary.com

پوهان ستوري پېژندونکي او فزیک پوهان د هغه علم په بنسټ کي چي د یوه خدای جل جلاله پرستون بحث کوي ګډون کړئ دئ.

دا یو ښکاره حقیقت دئ چي، د ساینس او تکنالوژئ پوهان، د ریاضی او آسمان پوهان، مځکه پېژندونکي او ستوري پېژندونکي د نور مسلمانانو په سرلیک (سرخط) کي راځي.

ځکه دنن علم د نړۍ ډیرو دقیقو ټکوته د رسېدو له کبله، د خدای جل جلاله ستون په ډېره ښکاره او واضحه توګه ثابته وي.

دبې مطالعه خلګو په منځ کي له دې کبله چي په فلسفه هیڅ خبر نه وی داسي څه خپاره سوي دي چي ډېر فلاسفه د خدای جل جلاله له ستونه انکار کوي، په داسي حال کي چي حقیقت په بشپړه توګه سرچپه دئ.

دیکارت وایي :

زه چي کله په خپل وجود کي تیروتني حسوم نوسمدستي د یوه بشپړ ذات د ستون حس کوم. د دیکارت د نظریې پر اساس یو عاقل انسان په خپل ځان کي د خلاوو د ستون له کبله چي د یوه غاښ درد انسان په شپو شپو خوب ته نه پریږدي د انسان د پیدا کونکي پرستون یو ښه دلیل دئ، ده یو داسي پیدا کوونکي پرستون چي هیڅ عیب ونلري او چي توان یې د انسان تر توانایي پورته دئ.

فرانسوی فیلسوف بروکسون وایي: امکان لري چي یو ملت علم، فنون او فلسفه و نه لري مګر داسي هیڅ ملت نسته چي مذهب او دین وه نلري.

د بروکسون د نظریې په اساس ډیر خلک سته چي کلتور، علم او پوهه نه لري مګر هیڅکله امکان نلري چي هغوئ دي د کوم مذهب پیروان و نه اوسي ځکه چي دا د انسان یوه فطري او عقلي غوښتنه ده،

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه په لږ ژور فکر هغوی پوهیږيي چي دا ستره نړۍ د یو خاص نظم په ستون کي پر مخ ځي امکان نه لري چي د دې پلان کوم چلونکۍ او یا جوړونکۍ دي نه وي، نو دلته دۍ چي پر نړۍ جوړونکي او ټول پیدا سو پر پیداکوونکي باور ته دین وایي.

ډاکټر توماس دیوید چارکس د کلاکس د فلسفې او کیمیا څېړنو د مرکز رییس وایي:

زه په دې باوریم چي په نړۍ کي هرڅه دیوه خاص پلان او طرحي له مخي ترسره کیږي او د دې پلان څخه داسي څرګندیږي چي دا پلان د یوه پوه او هوښیار چا لخوا چي د یوې خاصي ارادې څښتن وي ترسره کیږي، چي زه هغه خدای جل جلاله بولم.

ویلیام جیمز په دې اړه وایي :

زما په نظر که موږ خپل ضمیر تعقیب کړو په پایله کي له دې نړۍ څخه یوې بلي نړۍ ته ننوزو د هغې نړۍ نوم چي هرڅه بړدی هغه ستاسو کار دی: عالم غیب اسرا اویا بل هرڅه او زیاته وي، زه په ډیري اسانۍ سره دا قبلوم چي د مذهبي ژوند سرچینه زړه دی او دا هم قبلوم چي فلسفي فورملونواو امرونو د یوه ژباړل سوي متن په څیر دي او داسي ښکاري چي اصلي متن په بله ژبه دي.

هغه د خپلوټولو خبرو په پایله کي وایي:

ډېر خلګ فکر کوي چي ایمان خپله د فلسفې پربنسټونو ولاړ دۍ په داسي حال کي چي د فلسفې بنیاد پر ایمان ولاړ دۍ.

د علامه قرضاوي په وینا پر خدای جل جلاله باور نه یوازي د انسان فطري غوښتنه ده بلکی دا یو عقلي اړتیا هم ده (دین یوازی د یوه انسان په فطرت کي اخښل سوی دی او نه سي کولای چي د هغه څخه پر ته ژوند وکړي)، دین یوه داسي اړتیاده چي تل فلسفانو او پوهانو د نړۍ د

Download from: www.aghalibrary.com

حقیقت په لټه کي زیاتي څېړني کړي دي، چي په پایله کي یې د ټولو سوالونو جوابونه په دین کي موندلي دي.

نوموتی پوه او ستوري پیژندونکی هرچل وايي د علم لمن چي هرڅونه پراخیږي د خدای جل جلاله پر ازلي او ابدي ستون غاښ ماتونکي دلیلونه منځ ته راځي.

کرلیس موریس د نیویارک د علوم د اکاډمۍ پخوانی رییس په هغه ژباړل سوي کتاب ( العلم یدعوالایمان) ( علم خلګ ایمان ته را بولي) کي وايي:

هغه معما چي ډېر مشکله ده او جواب ته اړتیا لري د اوبو د مارماهیانو معما ده، هغوئ ډېر عجب موجودات دي کله چي د هغوئ د ژوند دوره پای رسیږي د سیندو او رودونو له بېلابیلو ځایونو څخه راوزي او د زرونو مایلونو لاري په وهلو سره ځان د دجنوبي برمود د اقیانوس ژوروته رسوي، کوم چي د امریکا لوی وچي ته نږدې پروت دی او په هغه ځای کي هګۍ اچوي او وروسته مري څو بچي یې له هګیو راوزي او پرته له کومي نښي او نښانې بیرته هغه ځای ته ستنیږي کوم چي ددوی مور له هغه ځای څخه دلته راغلې وه نو په دې توګه ټوله بیرته د سیندو او رودونو منځ ته ځان رسوي او د طوفانونو او فشارونو په وړاندي کلک مقاومت کوي ترڅو د ژوند دوره یې پای ته رسیږي او دوی بیرته هغه کړنلاره چي مندو یې اجرا کړې ده ترسره کوي.ښه نو که چیري وګورو دا قانون او قاعده چا د خدای جل جلاله څخه پرته منځ ته راوړې ده؟ او هغوی ته دا لارښونه چا وکړه.نو د ټولو پوهانو د دلایلو پر اساس ویلای سو:

په دې کي هیڅ شک نسته چي دا پراخه نړۍ، شین ښکلی اسمان او سترګګ وهونکي په میلیونو ښایسته ستوري له پیدا

Download from: www.aghalibrary.com

کوونکي څخه پرته منځ ته نه سي راتلای، ځکه د یوه پوه په وینا چي په هګۍ کي د یوه بچي د پیدا کیدو سره سم د هغه په مشو که کي یوه ستن پیدا کیږي چي په هغه سره د هګۍ کلک پوست سوری کوي او له هغه سوري څخه د ننه هوا ورځي څو د هغه وجود هلته وچ سي او کرار کرار له هګۍ څخه په دې توګه ځان وباسي، ده یوه عاقل او پوه انسان لپاره دا خبره په ښکاره توګه په ثبوت رسیږی چي د دې مرغه په مشوکه کي د ستني پیدا کېدل کومه تصادفي خبره نه ده بلکي د یوه خاص پیدا کوونکي لخوا دا کار ترسره کیږي چي د هغه د نظم او ترتیب ښکارندوي کوي. څنګه چي په مخکنیو پاڼوکي مو ولیدل چي د نړۍ ډېرو ستر پوهانو د خدای جل جلاله پرستون زیات دلایل وړاندي کړي دي چي نه یوازي دا داوسنۍ پرمختلي نړۍ د خلګو لپاره د قبول وړ دي بلکي له ساینس او تکنالوژۍ څخه دلیري پاته سو هوښیارو او عاقلو خلګو لپاره هم دا یو ښکاره ثبوت دی نو په دې اساس د خدای جل جلاله ستون هر هغه انسان چي د سالم عقل او فکر خاوند وي درک کولای سي او له دې کبله وو چي زموږ د اوسنۍ زمانې پوه عالم ډاکټر قرضاوي ویل چي، پرخدای جل جلاله باور درلودل نه یوازي دا چي یوه فطري غریزه ده بلکي یو عقلي اړتیا هم ده.

لنډ دا چي په نړۍ کي د خدای جل جلاله پرستون په میلیونو دلایل وجود لري چي په لنډه توګه یې یوڅو دادي :

۱- ټول اسماني کتابونه د خدای جل جلاله پرستون ښکارندوي کوي.

۲- ټولو پیغمبرانو د خدای پر خدای جل جلاله پر ستون باور درلودی او هغه ته یې خلک رابلل

۳- دملیارډو انسانانو باور له پېړیو پېړیو راهیسي دیوه خدای جل

Download from: www.aghalibrary.com

جلاله پرستون یو رڼ دلیل دی، ځکه چي دونه انسانان په پرله پسي توګه تېرو تنه نه کوي او پریوه درواغجن حقیقت نه سره راټولیږي.

۴- د مېلېنو پوهانو ایمان او باور چي د خپلو علمي تجربو، څېړنو او فکر کولو په پایله کي یې د خدای جل جلاله پرستون لاسته راوړئ دئ.

۵- ټول کایینات دیوه پرانیستي کتاب په څېر دي چي هره پاڼه یې د خدای جل جلاله پرستون یو ښکاره دلیل دی.

٦- قران عظیم الشان چي په ټوله نړۍ کي خپور سوئ دئ او هیڅا ترننه پوري دعوه نه ده کړې چي دا زما لخوا لیکل سوی کتاب دی بلکي په ملیارډو انسانان په دې باور دي چي دا د خدای جل جلاله کلام دی او د دې کتاب ټول متنونه هم د خدای جل جلاله پرستون شاهدي ورکوي.

۷- په زرهاو عقلي او فطري دلیلونه.

۸- د نوي نړۍ علمي او تکنالوژیکي لاسته راوړني او د خدای جل جلاله پرستون د ملینو پوهانو اعتراف.

## ۵- د خدای جل جلاله پرستون علمي او حقیقي دلایل

کله چي په ننی نړۍ کي د څېړنو بېلابیلو اړخونوته ګورو نو وینو چي د نړۍ پوهانو علوم پر بېلابیلو برخو ویشلي دي چي ترټول مهم یې دا لاندي درې برخي دي.

۱- تجربيي علوم (هغه علوم چي په تجربه ثابتیږي).

۲- عقلي علوم (هغه علوم چي په عقل سره ثابتیږي).

۳- تاریخي علوم (هغه علوم چي په عقل سره ثابتیږي).

له دغو علوم څخه چي هر علم په دقیقه توګه وکتل سي، وبه لیدل

Download from: www.aghalibrary.com

سي چي هر علم داسي یوه پایله لري چي انسانان د حقیقت په لور لارښود کوي.

یوه ډېره مهمه موضوع چي باید ټوله اعتراف پرې وکړي هغه دا ده چي هر موضوع چي په دغو علومو کي په هر علم پوري اړه ولري باید د هغه علم د خپلواساساتو په رڼا کي وڅېړل سي. د مثال په توګه مادي علوم چي په لیدو او تجربه کولو پوري اړه لري باید چي د عقلي علومو په چوکاټ کي ونه څېړل سي.

په دې اړه یو مشهوره مثال سته چي وایي لس تنه فلسفوفانو یوه بشپړه هفته داس د غاښنو په اړه فکر کوی چي څو دانې دي، یوڅوک هغوی ته ورغی او ورته ویې ویل چي ددې سوال د جواب لپاره ډېره اسانه جواب دا دئ چي ولاړ سی او د اس خوله پرانیزی نو خپله به وګوری چي داس څو غاښونه دي.

نو ځکه دلابراتوار بحثونه باید په لابراتوار کي وسي او هغه علوم چي په ستر ګونه لیدل کیږي او د موجوداتو په مانویت پوري اړه هغه باید په عقل او فکر په ثبوت ورسیږي، مګر مشکل هغه وخت منځ ته راځي چي د کلو برنارد په څېر یو څوک پیدا سي چي ویل یې:

ترڅو چي روح مي یې په جراحي چاقو سوری کړئ نه وي په وجود یې باور نه کوم.

نو د داسي یوه خیاله سره موږ هیڅکله دې حقیقت ته نه رسیږو، ځکه د هغه دا خبره دا مانا لري چي موږ د ستر ګو څخه د غوږوکار واخلو پر ته له دې باید تسلیم نه سو.

او په همدې توګه روایت سوي او تر موږ خوله په خوله اویا په چاپ سوې بڼه رارسیدلي خبرونه باید په تاریخ وڅېړل سي نه په عقل او دلیل او یا تجربه مثلاً ددې لپاره چي پوه سو هټلر دوهمه نړیواله

Download from: www.aghalibrary.com

جګړه په کوم کال او له کومه ځایه پیل کړل، نو مجبوره یو چې د تاریخ پاڼو ته مخ واړه  وو چې د هغه پرته موږ دا حقیقت په  ثبوت  نه سو رسولای او عقلاني او لابراتواري دلایل موږ ته جواب نه سي ویلای.

خدای جل جلاله چې د ټولي نړۍ پیدا کوونکی دئ او اوسنۍ نړۍ ټولي سیاسي او تکنالوجیکي څیړني دا په  زبات رسوي چې  انسانان، حیوانان ، جامدات، مایعات، ګازونه  او ټول پیدا سوي ( مخلوقات) شیان خدای جل جلاله پیدا (خلق کړي دي).

نو له دې ځایه  ویلائ سو چې د دغو شیانو په اړه  څیړنه او پلټنه انسان د خدای جل جلاله  پیژندني پرلور کشوي، خو په دې شرط چې له تعصب څخه لیري و اوسو او په رښتیا سره حقیقت وپلټو.

د چک اوسیدونکی پروفیسور میلن وایي:

زه مي د خپل ژوند  په لومړیو ۲۴ کلونو کي یو بې باوره کافر وم، ما فکر کوي چې خدای جل جلاله  شتون نه لري، ما خدای جل جلاله ته هیڅ  اړتیا نه حسول او پر هغه جل جلاله  مي هیڅ باور هم نه درلودی، مګر له کوچني والي څخه مي له ساینس سره مینه درلوده، کله چې زما ساینسي زده کړي  ډیري سوې، ۲۵ کاله مخکي  په یوه ډېره ناڅاپه توګه زه بدل سوم ځکه  په خپلو څیړنو کي مي ولیدل چې نړۍ په ډېره بشپړه  توګه جوړه  سوې ده هرڅه له بل څه  سره اړیکي  لري او ډېر شیانو و نورو شیانوته اړتیا لري . نو دلته وو چې زما باور راغی چې خدای جل جلاله ستهاو په یوه ثانیه کي زما نظر د خدای جل جلاله  دنه ستون په اړه بدل سو او ما پر ته له ځنډه دهغه جل جلاله  پرستون ایمان راوړی او ویې ویل (اشهدان لا اله الله)

مګر بیا هم ما ددینونو په اړ فکرنه کوی او په دې باور وم چې  ټول دینونه غلط  دي،عیسویان وایي درې خدایان جل جلاله  یو خدای جل

Download from: www.aghalibrary.com

جلالهدی ، یهودیان وایي چي موږ د خدای جل جلاله له خوا څخه غوره سوي خلګ یو په داسي حال کي چي یهود هیڅکله د خدای جل جلاله غوره سوي خلګو څخه نه سي کیدلائ د اسلام په اړه زما نظر په بشپړه توګه منفي وو او نه مي غوښتل چي ددینو په اړه ناخبره و اوسم، له ځانه سره مي وویل چي ښه به وي د مسیحیانو سپېڅلئ کتاب بایبل ولولم د بایبل په لوستلو ځوک احساسوي چي ځیني کلمې د خدای جل جلاله له لوري دي او د انسان د زړه تل ته لاره کوي مګر په همدې توګه نوري زیاتي کلیمې دي چي د خلګو لخوا ویل سوي دي، ځکه په دغو پاڼو کي ځیني پاڼي سته چي د لومړیو پاڼو سره په ټکر کي راځي.زه پوه سوم چي بایبل د خلګو په لاسونو د پیغمبرصلی الله علیه و سلم څخه ځوکلونه وروسته لیکل سوئ دئ.

وروسته مي یو قرآن کریم چي په انګلیسي ژباړل سوئ وو رانیوئ کله چي مي د هغه لوستل پیل کړل نو په لومړي سرکي د قران کریم په اړه هم داسي فکر راسره پیدا سو چي دا د یو چا لخوا لیکل سوئ دئ چي هغه حضرت محمد صلی الله علیه و سلم دی او کله چي مي د قران کریم دریمه برخه ولوستله نو مي خپلي مېرمني ته وویل چي حضرت محمدصلی الله علیه و سلم باید یو ډیر پوه او هوښیار ځوک وي، ځکه چي دا کتاب په ډیره منطقي، اسانه او ساده توګه لیکل سوئ دئ چي په ډیره اسانۍ سره سړی پرې پوهیږي. د هغه د درواغ ثابتولو لپاره هیڅ دلیل نه پکښې لیدل کیږي.

یوڅه مخ په وړاندي ولاړم له یو لړ علمي حقیقتونو سره مخ سوم چي زه پوهېدلم چي دا په شیلمه پیړۍ کي کشف سوي دي. نو ځکه زه سمدستي په دې باور سوم چي دا کتاب د حضرت محمدصلی الله علیه و سلم لخوا نه دی لیکل سوئ.بلکي هغه صلی الله علیه و سلم یو

Download from: www.aghalibrary.com

پیغمبر دئ چي ترنورو خلګو پوري ددې کتاب د رسولو لپاره مځکي ته رالېږل سوئ دئ.

نو هغه وو چي ما وويل ( محمد رسول الله) محمد صلی الله علیه و سلم د خدای جل جلاله رسول دی او دلته وو چي زه یو مسلمان سوم.

خلکو زما څخه پوښتني کولې چي تاڅنګه داسي یو غبرګون ښکاره کئ په داسي حال کي چي تاويل د اسلام په اړه مي ځني بدي خبري اوريدلي دي او د اسلام په اړه دي هيڅ معلومات هم نه درلودل نو څنګه دونه ژربدل سوې او مسلمان سوې؟

ما وويل چي ما بله هيڅ لاره نه درلودله ځکه کله چي زه ماشوم وم ما فکر کوی چي زه او مور مي يو يو مګرلږ وروسته پوه سوم چي زه او مور مي بېل يو کله چي هغه زما څخه ليري کيده ما ژړل ځکه ليدل مي چي هغه زما څخه ليري کيږي. مګر بيا هم نه پوهېدلم چي زه څوک يم، مګر يوه ورځ ناڅاپه پوه سوم چي زه يو هلک يم او هيڅ چا زما څخه پوښتنه ونکړل چي څه دي وکړل؟ آيا و دي غوښتل چي هلک واوسې؟ چا داسي پوښتنه ځکه نه کول ځکه چي په دې اړه هرڅوک پوهيږي که موږ وغواړو ياونه غواړو پيدا کيږو غټيږو او ژوند کوو دا زموږ اختياري پديده نه ده ځکه خدائ جل جلاله موږ همداسي پيدا کړي يو.

دا زما لپاره زما په ژوند کي يوستر نعمت دئ، ځکه ما ښه کورنۍ ښه اولادونه ښه مېرمنه او نور هرڅه درلودل مګر پردې سربيره خدای جل جلاله يوځل بيا هم پرما ورحمېدئ او ماته يې لارښوونه وکړه.

کله چي له لمونځو وروسته دعا کوم نو له خدای جل جلاله څخه غواړم چي ماته توان راکړه چي له ايمانه سره مړسم، ما هيڅکله مه پريږده چي يوځل بيا لار ورکی سم.

Download from: www.aghalibrary.com

فرانسوی سرجراح ډاکټر موریس بوکای وایي:

فرانسه د هغو هیوادونو له ډلي څخه ده چي د زړو او تاریخي ابداتو په څېړنه او کتنه کي خاصه لیوالتیا لري هغه په خپلو څېړنو کي زیاته وي.

کله چي فرانسوي میتران په کال ۱۹۸۱م کي د دولت چاري په لاس کي واخستې، نو د فرانسې هیواد د مصر له جمهوري هیواد څخه هیله وکړه چي د فرعون مومیایي سوئ لاښ فرانسې ته د څېړنو اوسموني لپاره ورولیږي.

د مصرهیواد د هغوی دا هیله ومنله او د فرعون جسدیې فرانسې ته ولیږئ، د فرانسې په نړیوال ډګرکي د فرانسې جمهور رییس وزیران او لوړ پوړي چارواکي د دې لاښ دښه راغلي لپاره په ډېر درنښت داسي ولاړوه لکه دکوم ژوندي پاچا ښه راغلي ته چي راوتلي وي، او یا دا چي د فرعون لاښ تر اوسه مصریانو ته وایي (انا ربکم الاعلی).

کله چي د ښه راغلي مراسم پای ته ورسېدل، نو لاښ یې یوه ځانګړي څېړنیز مرکزته یو وړئ ترڅو لوئ لوئ عالمان لرغون پوهان، د فرانسې جراحان او متخصص ډاکټران د هغه په اړه څېړني وکړي. د دې جراحانو لومړی مسئول او د څېړنکو مشري دپروفیسور موریس بوکای پر غاړه وه.

ټول متخصصین او څیړونکي د مومیا په ترمیمولوبوخت وه مګر د هغوئ رییس موریس بوکائ د هغوئ برعکس د یو بل څه په اړه بوخت وو، هغه غوښتل چي پوه سي دا فرعوني پاچا څنګه مړ سو؟ څو د شپې په اخیرکي د هغه د څېړنو په پایله کي د هغه پر بدن د مالګو له پاته شونو څخه دا په ډاګه سوه چي هغه د غرقیدو له کبله مړ سوئ وئ. لاښ یې له غرقېدو وروسته ژر له سمندره وکښی او له منځه څخه د

Download from: www.aghalibrary.com

نه تلو په موخه یې ژر مومیایي کړئ.

مګر یوه کار چې هغه یې ډېر په حیرانتیا کې اچولئ وو داوو چې د هغه لاښ د نورو فرعونیانو په پرتله پردې سربېره چې دی یې له سمندره څخه راکښلئ وو ډېر سم پاته وو.

موریس بوکای غوښتل چې خپل علمي راپور دلاښ په اړه وړاندې کړي چې د هغه په نظر دا یو نوئ کشف وو چې د فرعون لاښ دغرقیدو وروسته له سینده کښل سوئ او مومیایي سوئ دئ.

په دې وخت کې یو چا په غوږ کې ورته وویل:

بیړه مه کوه مسلمانان د دې غرقیدني په اړه لا له پخوا څخه خبردي.

هغه دا خبره رد کړه او په حیرانتیا سره یې وویل:

دا حقیقت د ډېرو پرمختللو کمپیوټري وسایلو څخه پرته نه سي درک کیدلای، چا ورته وویل چې د مسلمانانو مذهبي کتاب قران کریم د فرعون د غرقیدو او له غرقید وروسته د هغه د لاښ ترقیامته پوري د سم پاته کیدو کیسه کوي هغه په ډېري حیراني پوښتنه وکړه.

تاسو څنګه دا خبره کوئ په داسي حال کې چې مومیا په ۱۸۹۸ م کې کشف سو، یعني تقریباً ۲۰۰ کاله پخوا په داسي حال کې چې د هغوئ قران کریم پوره ۱۴۰۰ کاله مخکي موجود وو.

دا خبره عقل څنګه مني، نه یوازي عرب بلکي ټوله بشریت د مصریانو د مومیایي کولو په موضوع نه وه خبر.

دا شپه موریس بوکای د فرعون د لاښ ترڅنګ کښېنستئ د مسلمانانو د سپېڅلي کتاب په اړه یې فکر کوئ چې د فرعون د غرقېدو کیسه کوي، په داسي حال کې چې هغه په خپل مقدس کتاب بایبل (لوقا او متي په انجیل) کې د فرعون د غرقېد په اړه کله چې یې موسیٰ

Download from: www.aghalibrary.com

(ع) تعقيبوی لوستې وه مگر د مرگ په اړه يې هلته هيڅ نه وراغلي هغه له خپله ځانه پوښتل آيا دا هم هغه فرعون دی چې موسی (ع) يې تعقيبوی؟

آيا دا حقيقت دئ چې حضرت محمد صلی الله عليه و سلم له دې رازه څخه ۱۰۰۰ کاله پخوا خبر وو او زه اوس خبرسوم؟

موريس په دې شپه کي وه نه سوای کولای چې بيده سي، له هغوئ څخه يې وغوښتل چې د تورات يوه نسخه ورته راوړي د تورات په يوه پاڼه کي يې پيدا کړه (اوبه راوگرځېدې، د فرعون لښکر او خپله فرعون د اوبو منځ ته ورسېدل، هغوئ يې راگير کړل او له هغوئ څخه هيڅوک ژوندي پاته نه سول) موريس بوکای حيران پاته سو چې حتٰی انجيل هم ددې لاش ترغرقيدو وروسته نور څه نه وايي، فرانسې د فرعون موميايي سوئ لاش په يوې نوي ښيښه يي تابوت کي چې وړی يې وو بيرته مصرته ولېږی مگر... موريس کرار نه سو له کله چې يې د مسلمانانو خبري د فرعون په اړه ترغوږو ورسېدې نو ځان يې دې ته تيار کړی چې يوځل سعودي عربستان ته ولاړسي او هلته په يوه طبي کنفرانس کي گډون وکړي.

هلته يې خپلي لومړئ خبري د فرعون د لاش د غرقېدو څخه وروسته د خلاصېدو په اړه وکړې.يو مسلمان ولاړ سو او قران عظيم الشان يې پرانيستی او دغه آيت يې وويلی

( فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ )(يونس-۹۲)

نن دي جسد ته خلاصون ورکوم تر څو هغو کسانو ته چې له تا څخه

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته راځي د قدرت یو نښانه و اوسي ډېر خلک زموږ د قدرت د نښو څخه غافل دي .

ددې ایتونو له اورېدلو څخه وروسته موریس بوکای تر احساساتو لاندې راغی او ولاړ سو په چغه یې وویل زه مسلمان سوم او پردې قران مي ایمان راوړئ.دلته د قران کریم حقانیت په ثبوت رسیږي ځکه خدای جل جلاله فرمایي

( سَنُرِيهِمْ ءَايَـٰتِنَا فِى ٱلْـَٔافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ (فصلت – ۵۳)

موږ د خپل قدرت نښې د نړۍ په افق او د دوئ په نفسونو کې دوئ ته ورښکاره کوو ترڅو پوه سي چې قران حق دئ،آیا دا بسونه نه کوي چې ستاسو خدایجل جلاله پر هر څه شاهد دی.

موریس بوکای له یوه بل حالت سره فرانسې ته راوګرځیدئ هلته لس کاله په څېړنو بوخت وو او د نووکشفونو او قران ترمنځ یې تړاو څېړئ ترڅو دې ځای ته ورسیدئ.

(لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَـٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ۖ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ)( فصلت ۴۲)

ددې ستر عالم د څېړنو له پایلي څخه یو کتاب ولیکل سو چې ټول عربي هیوادونه یې ولړزول او علمایې هم په حیرت کې واچول.

دا کتاب (قران کریم، تورت، انجیل او علم) په اړه وو چې د

Download from: www.aghalibrary.com

سپېڅلو کتابونو لوستنه د نورو علومو په رڼا کي په نامه خپور سو.

دا کتاب څه وکړل؟ لومړی چاپ یې په ټولو کتاب پلورنځیو کي خلاص سو.

بیا په زرو جلده چاپ سو او وروسته د نړۍ په مشهورو ژبو لکه انګلیسي، عربي، اندونیزیایي، فارسي، صربي، اوکراني ،ترکي، اردو ، ګجراتی او الماني وژباړل سو.

د شرق او غرب په ټولو کتابخونو کي خپور سوو او د ټولو مصري، مراکشي، خلیجي او امریکا ځوانانو په لاسو کي به لیدل کېدئ هغوئ به کوښښ کوئ چي په دې کتاب نورو خلګوته قناعت ورکړي، دا کتاب د یهودیت او نصرانیت څخه د خلګو د اسلام پر لور د راماتولو لپاره یوښه کتاب دئ چي د اسلام عظمت خلګوته تشریح کوي.

د یهودو او نصاراوو ډېرو سترو عالمانو چي سترګي یې د اسلام له نوره نابیناوې، وغوښتل، چي د دې کتاب په جواب کي بل کتاب او یا جواب ولیکي، مګر دځان په تکلیفولو څخه پرته یې نور هیڅ و نه کړل، ډاکټرولیم کامبل هغه اخیري سړی وو چي په دې اړه یې د (قران او سپیڅلي کتاب دتاریخ او علم په رڼا کي) په نامه یوکتاب ولیکئ لویدیځ او ختیځ ته ولاړئ خو هیڅ په لاس ورنغلل.

او ډېره جالبه لا داوه چي ډېرو لویدیځوالو چي غوښتل یې د موریس بوکای جواب ولیکي مګر کله چي یې دا کتاب په دقیقه توګه ولوستئ نو کلمه یې شهادت یې وویل او مسلمانان سوال.

موریس بوکای د خپل کتاب په سریزه کي لیکلی:

د قران عظیم الشان هر اړخیزو علمي بحثونو زه په حیرت کي واچولم ما هیڅکله فکرنه کوی چي قران کریم دي دونه دقیق ببلا بېل مسایيل بیان کړي، داسي مسایيل چي ټول له نوو پرمختګونو او لاس

Download from: www.aghalibrary.com

ته راوړنو سره ورته وي او هغه هم په یوه داسي متن کي چي له نن څخه۱٦ پیړۍ پخوا نازل سوئ وي.

# دریم څپرکی

## قرآني توحید ( دیوه خدای جل جلاله منل)

په دې څپرکي کي به لاندي موضوعات ترڅېړني لاندي ونیسو:

۱- د توحید پېژندنه (تعریف) په لغات او اصطلاح کي

Download from: www.aghalibrary.com

۲- د توحید ډولونه
- ربوبیت توحید
- الوهیت توحید
- شرعي توحید
۳- د توحید په اړه عقلي او رالیږدول سوي (نقل) دلایل

# توحید

دتوحید موضوع د اسلامي عقیدې له مهمو موضوعوګانو څخه یوه موضوع ده، ځکه ټول عاقل او پوه انسانان، له لږ فکر او خیال وروسته، د خدای جل جلاله پرستون اعتراف کوي.

مګر زیات کسان سربېره پردې چي د خدای جل جلاله پرستون باور لري مګر مؤمن نه سو ورته ویلای، ځکه د خدای جل جلاله پرستون باور او ایمان یو لړ خورا مهم شرطونه او اساسات لري، چي د دې شرطونو تر ټولو مهم شرط توحید دی چي دیوه خدای جل جلاله د ستون، د هغه د صفاتو پېژندل او د هغه له بل شي سره نه پرتله کول او

Download from: www.aghalibrary.com

له هغه سره د شریک د نه نیولو څخه بحث کوي.

ځيني بيا سته چي د خدای جل جلاله یو والی هم مني مګر بیا هم هغوی ته مؤمنان نه ویل کیږي، ځکه هغوی و خدای جل جلاله ته د عبادت سره په څنګ کي د پیدا سو (مخلوقاتو) لکه پرږي (بتان)، خلکو حیوانات او نورو عبادت هم کوي او هغوی پرږي (بتان) و خدای جل جلاله ته د هغوی د نږدې کولو وسیله او اله بولي او یا دخدای جل جلاله سره په عبادت کي هغه برخمن (شریکوي) او یا هم د انسان و قانون ته د خدای جل جلاله تر قانون زیات ارزښت ور کوي.

ځيني کوښښ کوي چي د خدای جل جلاله صفات د بنده ګانو له صفاتو سره یو ډول وښي او کوښښ کوي چي دا صفات له خپلي خوښي سره سم تعبیر او تفسیر کړي او هغوی له دې ناخبره دي چي (لیس کمثله شیٔ) چي د هغه په څېر هیڅ شی ش

ستون نه لري او د خدای جل جلاله او بنده ګانو ترمنځ دپرتليني هيڅ ډول شی ستون نه لري.

## په ښه توګه د توحید پیژندنه:

د توحید موضوع داسي یوه موضوع نه ده چي په هغه کي دي فلسفي نظریې ځای کړل سي بلکه د توحید د پیژندلو لپاره لازمه ده چي دتوحید اساسات د قران عظیم الشان څخه واخلو، ځکه قران کریم د توحید کتاب دی.

## د توحید پیژندنه

توحید په لغات کي:

Download from: www.aghalibrary.com

توحید له (وَحَدَ، توحداً) څخه اخستل سوې کلیمه ده او مانایې یو پیژندل او یا څوک په یو والي پیژندل ده.

توحید په اصطلاح کي:

خدای جل جلاله په ذات، صفت، نومونو، عباداتو، مرستو او کومکونو باندي په یوالي منل او له هغه جل جلاله سره په مستقیمه توګه اړیکه او د هغه امرونه په ژوند کي عملي کول.

## د پیژندي (تعریف) تشریح :

الف : موحد هغه چاته ویل کیږي چي د خدای جل جلاله پریووالي ایمان او باور ولري، نو ځکه ټول هغه پیدا سوي (مخلوقات) چي بت پال (بت پرستان) او یا نور غیر موحد پرهغوی باور لري نفي کړي او د (لا اله) په ویلو سره ټول سته نفي او د عبادت نه وړ وبولي اود الله په ویلو سره خدای جل جلاله د ټول عباداتو خاص وړ وبولي.

او رښتیني توحید ته د رسېدو په موخه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم له لاري،طریقې،امرونو او لارښونو څخه ګټه واخلي او (محمد رسول الله) و وایي.

ب : د خدای جل جلاله په یووالي منل یو لړ خاص شرطونه لري چي باید هغه په هیڅ توګه له پامه وه نه غورځول سي چي په لاندي توګه دي:

## ۱- د توحید د خدای جل جلاله پر ذات :

Download from: www.aghalibrary.com

د خدای جل جلاله پر ذات توحید دا مانا لري چي د خدای جل جلاله پريو والي داسي باور ولرو چي هغه يو دی د شريک، همشکله، لور، زوی ، مور، پلار او د هغه شيانو له درلودلو څخه چي نور پيدا سوي (مخلوقاتو) يې لري په بشپړه توګه پاک ، خلاص او سپيڅلی دی.

(قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ‎(١)‏ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ‎(٢)‏ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ‎(٣)‏ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ‎(٤)‏)(الاخلاص : ۱-۴)

## ۲- توحيد د خدای جل جلاله پر صفتونو:

له دې څخه هدف دا دی چي موږ د خدای جل جلاله هيڅ صفت بايد د انسان ديوه صفت سره ديو شان والي فکر ونکړو او په همدې توګه هيڅ انساني صفت د خدای جل جلاله د صفتو په څېر و نه بولو. ځکه د خدای جل جلاله صفتونه د يوه پيدا کوونکي ( خالق) او د يوه انسان صفتونه د يوه پيدا سوي (مخلوق) صفتونه دي. (ليس کمثله شیء) هيڅ شی د خدای جل جلاله په څېر نسته.

## ۳- توحيد د خدای جل جلاله پر اسم صفتونو باندي:

خدای جل جلاله يو لړ خاص نومونه لري چي اسم صفتونه (صفتي نومونه) ورته وايي. دا نومونه يوازی نومونه نه بلکي هغه صفات چي الله جل جلاله يې لري هغه پکښې را نغښتل سوي دي. مثلاً د خدای جل جلاله يو نوم رحمٰن دی نو دا د خدای جل جلاله صفت هم دی چي خدای جل جلاله رحمت کوونکی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۴- د خدای جل جلاله په عبادت کي توحید:

په عبادت کي توحید دې ته وايي چي یو لمانځونکی (یکتاپرست یا موحد) چي کله هر عبادت کوي یوازي یې د خدای جل جلاله لپاره او یوازي یې د هغه جل جلاله په نوم وکړي.

ځکه موحد مسلمان دقران کریم په لارښونو عمل کوي چي قران کریم همېشه هغه دې ته رابولي چي وه وايي (ایاک نعبد) لویه خدایه! یوازي ستا عبادت کوم.

## ۵- د خدای جل جلاله څخه په مرسته غوښتنه کي توحید:

مؤمن مسلمان همېشه یوازي له خدای جل جلاله څخه مرسته غواړي، ځکه قران عظیم الشان هغه ته لارښوونه کوي چي یوازي له الله جل جلاله څخه مرسته وغواړي (وایاک نستعین) او یوازي ستا څخه مرسته غواړم.

## ٦- د خدای جل جلاله سره په مستقیم توګه اړیکه:

یو مؤمن مسلمان دې ته هیڅ اړتیا نه لري چي د ځان او خدای جل جلاله ترمنځ کومه واسطه وکاروي، ځکه هغه باور او ایمان لري چي خدای جل جلاله هغه ته نږدې دی او د هغه لپاره تر هغه جل جلاله مهربان څوک نسته.

نو ځکه په هر کار او مشکل کي په مستقیمه توګه له خدای جل جلاله سره اړیکه نیسي او په دې عقیدوي چي خدای جل جلاله هغه ته تر خپلي مرۍ (شا رګ) هم ورنږدې دی.

Download from: www.aghalibrary.com

## د توحید ډولونه

د قراني او نبوي لارښوونو په رڼا کي توحید پر بېلا بیلو برخو وېشل سوی دی، چي په دې برخه کي موږ د توحید پر ځینو ډولونو رڼا اچوو.

Download from: www.aghalibrary.com




## د توحيد د ډولونو تشريح :

ځنګه چي ځيني خلګ فکر کوي چي توحيد د خداى جل جلاله پرستون باور کولوته وايي په اصل کي داسي نه ده بلکه توحيد د خداى جل جلاله پريوالي (په ذات، صفاتو، عبادتو، قانون جوړونه او نوروکي) باورته وايي.

يو موحد انسان د توحيد د ټولو اړخونو په درک کولو کي د قران عظيم الشان او نبوي احدايثو په رڼا کي له ځانه څخه يو بشپړ مسلمان جوړولاى سي.

## ربوبيت توحيد

د ربوبيت مانا داده چي مؤمن انسان پردې باور ولري چي د هغه پالونکى (پروردګار) الله جل جلاله دى:

Download from: www.aghalibrary.com

ربوبیت توحیدته دکړنو توحید هم وایي یعنې موږ باید پردې باور ولرو چي:

الف : زموږ ټولو انسانانو او ټولو پیدا سو شیانو(مخلوقاتو) پیدا کوونکی الله جل جلاله دی. یو موحد انسان د دې حقیقت په درک کولو سره چي د ټولو پیدا سو شیانو پیدا کوونکی الله جل جلاله دی، هیڅکله له بل چا او بل شي (پیدا سو) څخه مرسته نه غواړي، ځکه هیڅوک نه سي کولای چي د خدای جل جلاله د یو شي د پیداکولو مانع وګرځي او یا یو څوک چي خدای جل جلاله و نه غواړي پیدا سي پیدا کړي.

ب : د نړۍ د ټولو چارو پریکړه کوونکی یوازي یو الله جل جلاله دی:

مؤمن مسلمان پوهیږي چي د ځمکو او اسمانونو سمبالونکی الله جل جلاله دی او د دې باور او عقیدې پر اساس که چیري یو څوک دعوه وکړي چي هغه کولای سي چي په خدای جل جلاله چاروکي لاس وهنه وکړي، نو مؤمن مسلمان د هغه خبره هیڅکله نه مني ځکه هغه په دې پوهیږي چي د ځمکو او اسمانو د ټول چارو یوازنی سمبالونکی هغه جل جلاله دی.

ج : ټولو پیداسو (مخلوقاتو) ته خورک (رزق) ورکوونکی الله جل جلاله دی:

مؤمن مسلمان پوهیږي چي د ټولو پیدا سو شیانو (مخلوقاتو مړونکی او ډوډۍ ورکوونکی الله جل جلاله دی، ځکه خدای جل جلاله فرمایلي دي ( ورزقکم فی السماء) ستاسو روزي په اسمان کي ده.

Download from: www.aghalibrary.com

له دې مبارک ایت څخه ښکاره کیږي چي د انسان روزي لا له وړاندي ټاکل سوې ده، د انسان دنده داده چي د هغه دلاس ته راوړلو لپاره په حلاله لاره کوښښ وکړي او کله چي موږ انسانان ښه کار ترسره کړو د قراني لارښووني سره سم د اسمان ورونه پرموږ راپرانیستل سي او زموږ د روزي د زیاتوالي سبب وګرځي.

او کله چي بدکارونه ترسره کړو چي د خدای جل جلاله د غضب سبب وګرځي له مځکي او اسمانو څخه پرموږ اوبه و دریږي او یواځي دا مځکي پراخي موږ ته هیڅ ګټه نه کوي او د اقتصادي مشکلاتو سره لاس اوګریوان سو.

نو یو حقیقي مسلمان لومړی باید پردې عقیده او باور ولري چي روزی رسونکی یوازي الله جل جلاله دی او د هغه جل جلاله د امرونو او لارښوونو سره سم کوښښ وکړي او خپل اقتصاد په مثبته لاره جوړ کړي.

او پر هر مؤمن فرض ده چي خپل کاروبار د خداي د امرونو سره سم ترسره کړي او له سود خوري (ګټه خوړل)، د نورو د مځکو له لاندي کولو، د ناورو کاروبار،احتکار، د خلګو له تیرایستني او نور څخه ځان وساتي. ځکه سود خوړل له خدای جل جلاله سره په مخامخ توګه د جنګ اعلان دی او د سود پایله بېله شک او شبهې تباهي وه.

که څه هم کیدای سي چي سود خور په لومړي سرکي ګټه لاس ته راوړي مګر په پایله کي به له بربادی څخه پرته بله هیڅ پایله وه نه لري.

د : د ټولو پیدا سوسیانو (مخلوقاتو) ژوندی کوونکی او وژونکی الله جل جلاله دی:

Download from: www.aghalibrary.com

مومن مسلمان و دغي موضوع ته په پاملرني سره هیڅکله له کوم پیدا سوي شي (مخلوق) څخه د اولاد په پیداکیدو کي مرسته نه غواړي او یوازي الله جل جلاله ته خپل مخ اړه وي او که چیري خدای جل جلاله چاته اولاد نه وي ورکړی هیڅوک او هیڅ څه شي نه سي کولای چي هغه ته اولاد ورکړي.

په قران عظیم الشان کي لولو چي حضرت زکریا(ع) په ډیري عاجزی له خدای جل جلاله څخه زوي غواړي، خدای جل جلاله ته د خپلو کمزورو هډوکو او سپیني ږیري له لاسه شکایت کوي چي د هغه مرستي لپاره زوی ورکړي د خدای جل جلاله پر هغه رحم راځي او هغه ته زوی ورکوي چي په راتلونکي کي یي وارث وګرځي.

حضرت ابراهیم (ع) هم له خدای جل جلاله څخه هیله کوي چي هغه ته نیک عمله (صالح) اولاد ورکړي نو په دې خدای جل جلاله په قران عظیم الشان کي فرمایي موږ هغه ته دیوه حلیم زوی زیری ورکړي.

له حضرت یعقوب (ع) څخه زوی ورک سو او کلونه کلونه یې د هغه په بیلتون کي وژړل ترڅو د سترګو لیدیې له لاسه ورکړی او حضرت محمدصلی الله علیه و سلم چي کله خپل زوی ابراهیم ښخوی نو سترګي یې له اوښکو ډکي سوې او ویې ویل چي زه ستا په بیلتون ډیر خواشینی سوم.

دا قراني قصې او حقیقي روایاتونه چي د نبیانو د ژوند له حالتو څخه موږ ته رانقل سوي دي، زموږ لپاره یو خورا مهم درس دی چي موږ باید هیڅکله له خدای جل جلاله څخه پرته د اولاد د پیدا کیدو لپاره د بل چا څخه مرسته ونه غواړو او پردې باور ولرو چي له خدای جل جلاله څخه پرته بل څوک چاته اولاد نه سي ورکولای او یا همدا

Download from: www.aghalibrary.com

خدای جل جلاله کولای سي چي چاته اولاد ورکړي او یا یې ځیني واخلي. د همدغو لاملونو له کبله پیغمبرانو له خدای جل جلاله څخه د اولاد غوښتنه کول او که چیري هغوی کولای سوای چي نورته اولادونه ورکړي او یا ځان ته اولادونه پیدا کړي نو ښایي هر یوه په لسګونو زامن درلودلای، زموږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم هیڅ زوی نه درلودی که چیري هغه کولای سوای چي ځان ته زوی پیداکړي نو هغه د مکې مشرکین دې ته پریښودل چي د مکې ځوانان راټول کړي او د هغه مرګ پلان وتړي.

د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ټول زامن په ماشومتوب کي مړه سول مګر هغه له له غمجن کېدو څخه پرته بل هیڅ کار ونکړای سوای.

نن ورځ چي ځیني خلګ په دې باور دي چي انسان کولای سي چي چاته اولاد ورکړي آیا هغوی دې خلګوته تر پیغمبرانو په درنه سترګه ګوري اویا نعوذبالله موږ د خدای جل جلاله د محی (ژوندي کوونکي) او ممیت (وژونکي) په صفت کي یو انسان ور شریکوو.

## الوهیت توحید

د خدای جل جلاله په عبادت کولو کي توحید

الوهیت توحید هغه توحید ته وایي چي مؤمن مسلمان په دې باور ولري چي د عبادت لایق یوازي الله جل جلاله دی.

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه خدای جل جلاله موږ ته راښودلي دي چې باید په دې باور و اوسو چې (ایاک نعبد و ایاک نستعین) خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو.

دلته لازمه ده چې لاندي سوالونه ته ځواب وایو:

۱- س: ولي دلته عبادت خاص الله جل جلاله ته بیان سوی دی؟

۲- س: ولي د مرستي غوښتل یوازي د الله جل جلاله څخه بیان سوې ده؟

۳- س: کوم ډول عبادتونه دي چې یوازي باید الله جل جلاله ته وسي؟

۴- س: کومي مرستي باید له خدای جل جلاله څخه وغوښتل سي او کومي غوښتني له پیدا سوو (مخلوقاتو) څخه کېدلای سي؟

۱- جواب: خدای جل جلاله موږ ته په سورة فاتحه کي لارښوونه کوي چې (ایاک نعبد) ووایاست او موږ په پنځه وخت لمنځو کي وایو او تعهد کوو چې (ایاک نعبد) خاص تاته عبادت کوو.

دلته خدای جل جلاله ته د عبادت د ځانګړتیا څخه هدف دا دی چې هر هغه کار چې عبادت نوموېږي موږ د خدای جل جلاله لپاره او خدای جل جلاله ته کوو او هیڅوک حق نه لري چې د کوم مخلوق لپاره عبادت وکړي.

دا یو خدایي جل جلاله امر دی چې عبادت باید یوازي هغه ته وسي معبود او یا هغه څوک چې عبادت ورته کیږي هغه څوک دی چې انسان د هغه پر خدایي او معبودیت باندی ایمان او باور لري، د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په پیر (زمانه) کي مشرکینو د بېلابیلو شیانو عبادت کوی.

Download from: www.aghalibrary.com

ځینو مشرکینو به د پیغمبرانو عبادت کوی لکه مسیحان چي د حضرت عیسیٰ (ع) عبادت چي يې کوی او ځینو نورو مشرکینو بیا د حضرت ابراهیم (ع) او حضرت اسماعیل (ع) پړ.ي (مجسمې) جوړي کړي وې او د هغو عبادت يې کوی.

ځینومشرکینو ملائیکې د خدای جل جلاله خوندي بللې او د هغوی عبادت يې کوی ځینو مشرکینو د ښو خلکو عبادت کوی کله چي به هغوی مړه سوه نو بیا به يې د هغوی پړ.ي(مجسمې) جوړي کړې او سجدې به يې ورته کولې، لکه د بودا پړ.ی (مجسمه) او یا دلات، منات، فیل او نورو پړ.ي (مجسمي).

د حبشې مشرکینو بیا د ښو خلکو د قبرونو عبادت کوي او په همدې توګه یهودو بیا د خپلو پیغمبرانو قبرونوته سجدې کولې.

نو ځکه ( لا اله الا الله) موږ مسلمانان له دې کبله وایو چي ( لا اله) خدا نسته په ویلو سره موږ ټول دغه جاهلانه کارونه او د انسانانو په لاس جوړ سوي خدایان رد او نفي کړو او وروسته د ( الا الله) په ویلو سره چي عبادت خاص خدای جل جلاله لره دی د خدای جل جلاله پریوالي باور وکړو.

۲-جواب : انسان د خپلو مشکلاتو په وخت کي کله چي په غم، درد، تکلیف او نورو کي راګیریږ.ي نو د یو چا څخه مرسته غواړي چي هغه ته مشکل اسان، مشکل کشا او یا هم لاس نیونکي وایي، هغه ترټولو غوره بولي او هغه ته رجوع کوي او هغه ترټولو مهربان بولي او هغه ته نعوذبالله د خدای جل جلاله مرتبه ورکوي.

نوځکه هر هغه څه چي انسان ته د خدای جل جلاله له لوري ورکول کیږ.ي باید په مستقیمه توګه له هغه څخه وغوښتل سي.

Download from: www.aghalibrary.com

قران عظیم الشان هم موږ ته دا درس راکوي او وايي: چې تل ایاک نستعین ووایاست چې اې خدایه جل جلاله یوازې ستاڅخه او یا خاص ستا څخه مرسته غواړم.

۳- جواب : عبادت د ټولو خدایي چارو لپاره یو بشپړ نوم دی چې د قراني ایاتونو او نبوي احادیثو په رڼا کې په ښه توګه څېړل سوي او تشریح سوي دي.
او په همدې توګه له ټولو هغه چارو څخه چې خدای جل جلاله موږ د هغو په نه کولو باندی امر کړی یو نه کول هم عبادت دی.

هغه کارونه چې مسلمانان د هغه په کولو امر سوي دي عبادت دي:

## ۱- فکري عبادت :

د خدای جل جلاله پرستون ، د خدای جل جلاله پر یووالي، د ملائیکو پرستون،پر اسماني کتابونو،پر پیغمبرانو، د قیامت پر ورځ، د جنت او دوږخ پر ستون، پر پل صراط او له مرګه وروسته پر ژوند باور درلودل.
او په همدې توګه ژبني عبادتونه هغه ښکاره او پټ عبادتونه دي چې خدای جل جلاله ډېره مینه ورسره لري، لومړی شی چې په عبادت کې خورا مهم رول لري هغه د زړه کارونه ( قلبي اعمال) دی. لکه ، بېره ، امید، مینه، دعا، توکل، اړتیا ، غوښتنه، پاملرنه، رجوع او نور...

Download from: www.aghalibrary.com

## ۲- کړنیز عبادتونه :

**لکه بدني، مالي او داسي نور عبادتونه.**

**یادښت : اوس چي پوه سوو چي عبادت یوازي د خدای جل جلاله لپاره دی نو هر مؤمن مسلمان چي د عبادت په نامه هره کړنه ترسره کوي یوازي باید الله جل جلاله په یاد ولري او د هغه لپاره یې ترسره کړي، ځکه د الوهیت توحید غوښتنه همدا ده.**

**په همدې توګه موږ زیات قراني ایاتونه لرو چي عبادت یې خاص و خدای جل جلاله ته بیان کړی دی او هرهغه څه چي عبادت دي ترسره کول یې یوازي د الله جل جلاله لپاره دي.**

**قران او د عبادت ځانګړنه خاص خدای جل جلاله لره:**

**هرکله چي د خدای جل جلاله د عبادت په اړه په قران عظیم الشان کي هر ایت ولولو او یا هر ایت چي په قران عظیم الشان کي دعبادت په اړه راغلی دی عبادت یې خاص خدای جل جلاله ته ځانګړی کړی دی ترڅو یو قران پیژندونکی انسان د شیطان تر وسوسې لاندي رانه سي او د بل شي عبادت ونه کړي.**

**اوس به یو داسي آیات ترڅېړني لاندي ونیسو چي خاص الله جل جلاله ته عبادت څېړي.**

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾**(الانعام : ۱٦۲)**

**په دې آیت شریف کي لمونځ او نوري ټولي چاري د ځانګیړني او خاصوالي لپاره کارول کیږي، نو په دې ځای کي ویل سوي دي چي**

Download from: www.aghalibrary.com

(لِلَّهِ) نوځکه مؤمن مسلمان لمونځ او ټول عبادتونه خاص د خدای جل جلاله لپاره ترسره کوي او په همدې توګه باور لري چي ټولي ښې کړني (نیک عملونه) د ژوند په اوږدوکي او ټول باورانه چي انسان له هغو سره یوځای دبلي دنیا پرلورځي. ټول خاص خدای جل جلاله لره دي.

سید طنطاوي د دې ایت په تفسیر کي وایي: زما لمونځ چي د هغه په واسطه د خدای جل جلاله پر لور مخ اړوم او زما عبادت، ژوند او مرګ مي یعني هغه څه چي په ژوند کي یې په نیکي ترسره کوم او هغه څه چي پرهغه مرم یعني ایمان او نیک کارونو (اعمال صالحه) ټول خدای جل جلاله لره دي نو ځکه زه په پوره اخلاص د خپل ژوند په هره لحظه او د زړه په هر ځل دربېدو کي یوازي او یوازي پر یوه خدای جل جلاله باور لرم چي زما پیدا کوونکی او مړه ونکی ( روزي رسان دی).

## دعا عبادت دی:

په حدیث شریف کي راغلي دي چي (الدعا هو العباده )دعا عبادت دی، نوځکه باید دا عبادت یوازي خدای جل جلاله ته ترسره سي، مؤمن انسان یوازي د خدای جل جلاله په وړاندي لاسونه لپه کوي او د هر مشکل په وخت کي له هغه جل جلاله څخه مرسته غواړي.

خدای جل جلاله فرمايي (وقال ربکم ادعونی استجب لکم) (غافر: ۸۰) ما په فریاد وغواړی ( ما ته دعا وکی) ترڅو زه یې قبوله کړم.

Download from: www.aghalibrary.com

په عربي ژبه کي متکلمه (ي) هغه یا ته وایي چي یوازي د متکلم لپاره کارول کیږي. کله چي وایو کتابی (زماکتاب) قلمی (زما قلم) خذنی (مادرسره واخله) اوس دلته خدای جل جلاله په دې ایت شریف کي چي (ادعونی) زما څخه وغواړی.

د خدای جل جلاله د دې امر په نظر کي نیولو سره پرمؤمنانو باندي فرض ده چي یوازي له الله جل جلاله څخه مرسته وغواړي او یوازي له هغه څخه خپلي غوښتني مطرح کړي ځکه یوازي هغه جل جلاله دی چي د خپلو بندګانو مشکلات حلولای سي.

هغه چاري چي مسلمانان له هغه څخه منع سوي دي په لاندي توګه دي:

هغه چاري چي یو مسلمان باید هغه ته په عقیدتي (باوري) چاروکي پاملرنه وکړي.

۱- له کفر څخه ځان ساتل، چي د هغه جل جلاله له ستون څخه انکار دی.

۲- له شرکه څخه ځان ساتل چي هغه د خدای جل جلاله سره په ذات، صفاتو او عبادتونو کي د مخلوقاتو شریکولوته وایي.

۳- له منافقت څخه ځان ساتل چي هغه ( زړه مخالفت دی په ژبه او یا هم عمل (کړنه).

۴- له اسلامي منکراتو څخه ځان ساتل لکه شراب څښل، خمار وهل، زناکول، غلا کول او داسي نور.

۴- جواب : ځیني مرستي دي چي د انسانانو پوري اړه لري مثلاً تاسو یوکتاب ته اړتیا لری، یا یوڅه پیسوته اړتیا لری چي له یوچا څخه یې پورکړي اویا یوه ښوونکي ته اړتیا لري چي د درس په زده

Download from: www.aghalibrary.com

کولو کي مرسته درسره وکړي د ناروغي په وخت کي و دې ته اړتیا لرې چي ډاکټر ته ولاړ سی او نسخه واخلی او داسي ډيري نوري اړتیاوي دي چي انسانان د هغو په تر سره کولو کي یوبل ته اړتیا لري نو په داسي چاروکي هیڅ پروانه لري چي څوک له چا څخه مرسته وغواړي اوځيني نوري چاري دي چي هغه خاص په خدای جل جلاله پوري اړه لري، مثلاً یوچاته د اولاد ورکول د خدای جل جلاله کار دی، ژوندي کول او وژل د خدای جل جلاله له کارونه څخه دي.

ناروغ ته جوړتیا او روغتیا ورپه برخه کول د خدای جل جلاله کار دی دا پرځای خبره ده چي موږ درمل اخلو مگر په دې باور لرو چي خدای جل جلاله روغتیا رابخښي.

هغه چاري چي په خدای جل جلاله پوري اړه لري باید له خدای جل جلاله څخه وغوښتل سي نه له بل چا څخه

قران عظیم الشان موږ ته فرمایي چي تل (ایاک نستعین) ووایاست، خدایه جل جلاله یوازي ستا څخه مرسته غواړم.

او موږ هم په ټولو لمونځوکي د خدای جل جلاله په وړاندي دریږو او وایو چي (ایاک نستعین )خاص ستا څخه مرسته غواړو.

اوس دلته یو سوال پیدا کیږي چي له خدای جل جلاله څخه د یو شي د غوښتلو لار څنگه ده.

بیا هم قران عظیم الشان موږ ته وایي: (واستعینو بالصبر والسلا) په صبر، حوصله، زغم او لمانځه باندي یوشی وغواړی، یعني د مشکلاتو او مصیبتونو په وخت کي لومړی صبر وکړی او وروسته دخدای جل جلاله په وړاندي پرلمانځه ودریږی او د خدای جل جلاله څخه په مستقیمه توگه هغه څه چي غواړی وغواړی.

Download from: www.aghalibrary.com

الوهیت توحید د ایمان، عقیدې او باور مهمترین اساس دی.

د خدای جل جلاله پرستون باور او ایمان ، او پردې ایمان چي خدای جل جلاله د مځکو، اسمانو او ټولو پیدا سو (مخلوقات) خالق (پیداکوونکی) دی هغه موضوع وه چي ټولو مشرکینو، بت پرستانو، یهودو او نصارو او حتی د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په پیر(زمانه) کي پر هغه باندي باور درلودی. د مثال په توګه:

– مشرکینو د خدای جل جلاله پرستون باور درلودی.

(وَإِذۡ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ مِنۡ عِندِكَ فَأَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا حِجَارَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئۡتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٖ)(۳۲: الانفال) او در یاد کړه هغه وخت چي دوی وویل خدایه! که چیري دا هغه ستا له لوري حق کتاب وي نو پر موږ باندي له اسمانه څخه کاڼي و اوره وه او یا هم یو بل سخت عذاب را باندي نازل کړه.

– مشرکینو پردې باور او ایمان درلودی چي خدای جل جلاله دمځکو او اسمانو پیدا کوونکی دی قران عظیم الشان په دې اړه وایي:

(وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَنِيَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلۡ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوۡ أَرَادَنِي بِرَحۡمَةٍ هَلۡ هُنَّ

Download from: www.aghalibrary.com

مُمۡسِكَٰتُ رَحۡمَتِهِۦۚ قُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُۖ عَلَيۡهِ يَتَوَكَّلُ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ﴾( **الزمر : ۳۸)**

**– مشركينو په دې باور درلودی چې لمر او سپوږمۍ د خدای جل جلاله په امر پورته كيږي او كښته كيږي .**

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴾(**العنكبوت : ٦۱)**

**– مشركينو پردې باور درلودی چې د اسمان پرمخ وريځې خدای جل جلاله راولي او د هغو څخه باران د ځمكې پرلور د هغه په امر اوري .**

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴾(**العنكبوت : ٦۳)**

**– قريشو مشركينو لمونځونه كول .**

﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِندَ ٱلۡبَيۡتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصۡدِيَةًۚ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴾( **الانفال : ۳۵)**

Download from: www.aghalibrary.com

**– قریشو مشرکینو طواف کوی :**

﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ﴾**(الانفال : ۳۵)**

**اوس دلته موږ ته ځیني سوالونه را پیدا کیږي :**

**سوال : ولي قریشو دا ډول باور (عقیده) درلودله او ولي یې دا کارونه کول چي د هغوی ډیري کړني او باورونه د مسلمانانو په څیر وه؟**

**سوال : څنګه چي مشرکینو د باور هم درلودی او دا ټول کارونه یې هم ترسره کول نو بیا ولي یې د پیغمبر صلی الله علیه و سلم سره مخالفت کوي؟**

**سوال : ولي قران عظیم الشان قریش د دغو ټولو باورونو سربیره مشرکین بولي؟**

**۱: جواب : دعربو په منځ کي اصلاً له ابراهیم (ع) او اسماعیل (ع) څخه د یووالي (توحید) عقیده او باور ستون درلودی، له هغوی څخه زیات شمېر یې حنفاء وه یعني ده یوه خدای جل جلاله پرستون یې باور درلودی چي ابراهیم (ع) او زوی یې اسماعیل (ع) هغوی ته تبلیغ کړی وو، مګر د وخت په تېرېدو سره هغوی خپله عقیده له شرک سره ګډه کړه، او اسلامي عبادتونه یې له هغو کړنو سره ګډ کړل چي دوی خپله جوړ کړي وه او د نیکو خلکو چي هدف یې توحید وو، بتان یې جوړ کړي وه او یا یې د مقدسو قبرونو عبادت کوی.**

Download from: www.aghalibrary.com

نو د هغوی تر ټولو ستر مشکل دا وو چې د وخت په تېرېدو سره یې د توحید عقیده هیره او مقدسي او سپیڅلي چاري یې په مشرکانه چارو بدلي کړلې.

۲:جواب : که څه هم هغوی د خدای جل جلاله پرستون باور ( ایمان) درلودی او پردې یې هم باور درلودی چې د ځمکو او اسمانو پیدا کوونکی هغه جل جلاله دی . لکه څنګه چې په مخکني ایت کي په دې اړه توضیحات ورکول سول، مګر د هغوی مشکل په یوه اساسي ټکي کي وو چې هغه داوو:

هغوی وویل چې خدای جل جلاله ستون لري، مګر نور کسان هم سته چې د خدای جل جلاله دوستان دي، دا ښه او نیکو کاره خلک وه چې د خدای جل جلاله درګاه ته نږدې وه، موږ ګناهکاره او تورمخي کسان یو او هغوی سترستر شخصیتونه، نو موږ هغوی ته ورځو ترڅو هغوی زموږ کړني د سترڅښتن په وړاندي وړاندي کړي.

هغوی به ویل چې موږ د دې خلکو عبادت یوازې له دې کبله کوو چې خدای جل جلاله ته ورنږدې دي، ترڅو هغوی موږ هم خدای جل جلاله ته ورنږدې کړي .

(أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ)(الزمر:۳)

Download from: www.aghalibrary.com

او په ځيني حالتوکي به يې ويل موږ د هغوی عبادت نه کوو بلکي هغوی زموږ شفاعت کوونکي دي .

﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾(يونس : ۱۸)

او په ځينو حالتو کي به يې بيا ويل چي که چيري خدای جل جلاله ونه غواړي موږ به د هغو عبادت ونه کړو يعني هغوی خپل دغه بدکارونه پرخدای جل جلاله تاونه ول.

﴿وَقَالُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱلرَّحْمَٰنُ مَا عَبَدْنَٰهُم ۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ﴾(الزخرف:۲۰)

ددغه مطلب د پوهېدلو لپاره د دوو جملوترمنځ توپير خورامهم دی:

خالد په کورکي دی.
مګر يو بل ځوک وايي:
له خالد څخه پرته په کورکي بل هيڅوک نسته.

Download from: www.aghalibrary.com

اوس ددغو دوو جملو په اړه فکر وکړی او و وایاست چي د دغو دوو جملو ترمنځ څه توپير دی. د لومړی جملې څخه په ډېره اساني پوهيږو چي خالد په كوركي دی مگر په كوركي د بل چا د ستون امكان هم سته.

مگر په دوهمه جمله كي له خالد څخه پرته په كوركي هيڅوک نسته، په ښكاره توگه معلوميږي چي خالد په كوركي دی او بل څوک په كوركي نسته.

مشركينو ويل چي خدای جل جلاله سته مگر حضرت پيغمبرصلی الله عليه و سلم وايي چي د خدای جل جلاله څخه پرته د عبادت وړ بل هيڅوک نسته.

مشركينو د خدای جل جلاله په اړه لومړی جمله كارول او ويل يې خدای جل جلاله ستون لري، مگر د خدای جل جلاله پر ستون سربېره يې ځان ته نور معبودين د بتانو، قبرونو او مشرانو كسانو په څېر غوره كړي وه او د كاريې د خدای جل جلاله پيژندني په وړاندي كوم خنډ نه بللی.

مگر د اسلام سترپيغمبر حضرت محمدصلی الله عليه و سلم منځ ته راغلی او هغوی يې راوبلل چي ووايي چي له خدای جل جلاله څخه پرته هيڅ د عبادت وړ او لايق څوک نسته ، مشركين د(لااله الاالله) كلمې پرضد راوپاربېدل او د حضرت محمدصلی الله عليه و سلم او پيروانو پر ضديې جنگ اعلان كړی او د هغه كړنه ده چي ټول مشركينو د خپلو پيغمبرانو په وړاندي كړې.

د صالح (ع) قوم هم همداسي ويل :

Download from: www.aghalibrary.com

(قَالُواْ يَـٰصَـٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَـٰذَآ ۖ أَتَنْهَـٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ )( هود: ٦٢)وې ويل اې صالح په رښتيا ته مخکي زموږ د اميد ځلی وې ايا ته د هغه څه له عبادت څخه چي زموږ نيکونونو يې عبادت کوی راګرځوې او بې شکه موږ د هغه څه په اړه چي ته موږ هغه ته ور بولې سخت په شک کي يو

او د هود  قوم هم چي د هغه د دعوت پرخلاف چي هغه يوه خدای جل جلاله ته وو، راپاريدلي وه.

(قَالُوٓاْ أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ ٱللَّهَ وَحْدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ) (الاعراف: ٧٠)وې ويل ته زموږ پر لور راغلی يې چي د يوه خدای عبادت وکړو او هغه څه پرېږدو چي زموږ نيکونو يې عبادت کوی پرېږدوکه چيري ته رښتيا وايي هغه وعدې ته زموږ سره کوې موږ ته يې راوړه.

لنډه دا چي هغو به ويل موږ د بتانو عبادت نه کوو، بلکي  دوی هغه وسيلې دي چي موږ خدای جل جلاله  ته نږدې کوي.

نوځکه موږ ډېر عبادتونه د هغوی په وړاندي ترسره کوو ترڅو چي هغوی يي خدای جل جلاله  ته وړاندي کړي، موږ په اصل کي د هغوی عبادت نه کوو بلکي خدای جل جلاله  ته  د نږدې کېدو په خاطر هغوی ته ورځو.

Download from: www.aghalibrary.com

دهغوی مخالفت د یووالي (توحید) دکلمې (لا اله الاالله) سره وو.

۳- جواب : قران کریم قریش ځکه مشرکین بلله چې هغوی د ربوبیت توحید د منلو سربېره، د الوهیت توحید(دعبادتي توحید) سره مشکل درلودی.

پردې سربېره چې خدای جل جلاله د مځکو او اسمانو پیدا کوونکی بللی او د کعبې شریفي طواف به یې کوی او ځانونه یې د بیت الله شریف مشران شمېرل ، خپل بتان یې خدایان نه بلکې د خدای جل جلاله ته د نږدې والي الې بللې او ویل به یې: موږ د دوی عبادت نه کوو بلکې دوی زموږ او زموږ د خدای جل جلاله ترمنځ د اړیکو الې دي، په توسل (واسطه) باندی خدای جل جلاله ته رسیږو او د هغوی سپارښت زموږ د دعاو د قبلېدلو سبب ګرځي.

د قران له نکته نظره د هغوی باورونه مشرکانه دي او د هغوی دې کړنو ته ورته هر عمل شرک دی.

لنډه دا چې هغوی د خدای جل جلاله د ستون او د خدای جل جلاله دمځکو، اسمانو ،لمره سپوږمۍ، انسانانو او حیوانانو د پیدا کوونکي د منلو سربېره یو ډېر مشکل درلودی چې انسان یې د خدای جل جلاله سره شریکوی، هغوی به د خپلو هغه مشرانو چې ښه، مذهبي او نیک خلک به ول مجسمې جوړولې او عبادت به یې کوی او یا به یې همدا بتان خدای جل جلاله ته د نږدې کیدو وسیله بلله.

هغوی په دې فکر کې وه چې خدای جل جلاله هم لکه انسان واسطې ته اړتیا لري، نو لازمه ده چې بتان ورته واسطه کړو، په داسي حال کې چې خدای جل جلاله هرچاته ډېر نږدې دی او دې ته اړتیا نه لري چې ده جل جلاله او بنده ترمنځ دي یې څوک واسطه سي.

Download from: www.aghalibrary.com

امام شوكاني وايي:

الوهيت توحيد د اسلام، اساس، ستر هدف او د ايمان اساسي ركن دى او پيغمبران هم په همدغه علت راليږل سوي دي او خداى جل جلاله ټول كتابونه او پيغمبران د همدغه هدف لپاره چي خلګ د الوهيت توحيد پر لور راوبولي راليږلي دي، ترڅو هغوى د خلګو زړونه د تكليفونو او اړتياوو په وخت كي، د خداى جل جلاله پر لور متوجه كړي، واسطې، او نور چالونه پريږدي.

قران عظيم الشان په دې اړه فرمايي:

(وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ) (انبياء : ۲۵)

(تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ) (النحل : ۶۳)

ډاكټر علي شريعتي د توحيد په بحث كي داسي ليكي : زموږ پيغمبران له حضرت ابراهيم (ع) څخه تر حضرت محمد صلى الله عليه و سلم پوري د دې لپاره نه و راغلي چي انسانان دين ته راوبولي ځكه انسانان خپله لا له پيل څخه دين لرونكي وه، له دې ځايه څخه دا هدف اخستل كيږي چي هغوى د دې لپاره نه و راغلي چي په ټولنو كي د مذهب درلودني زښي كيښيږدي، ځكه هر پيغمبر چي په هره ټولنه كي ټاكل سوى دى، هغه ټولنه به يوه مذهبي ټولنه وه او مذهب به يې

Download from: www.aghalibrary.com

درلودی، نو د دې پر اساس ویلای سو هغه ټول پیغمبران چې موږ یې پېژنو د دې لپاره نه دي راغلي چې خدای پرستي تبلیغ کړي، ځکه ټولي ټولني مخکي له هغه چې پیغمبر ورته راسي خدای جل جلاله پرسته وې، نو بیا د څه لپاره راغلي دي؟

علامه ډاکټر شریعتي ددغه سوال په جواب کي چې خپله یې مطرح کړی دی داسي ځواب وایي: هغوی د دې لپاره راغلي وه چې یوازي یوکار وکړي او پرته له دې یوکار څخه پرته هغو بله هیڅ دنده نه درلوده او که بل هرکار به یې کوی د هغه لومړي کار د څېړني لپاره یې کوی او هغه کار دا وو چې د شرک پر ځای توحید منځ ته راولي، شرک یعني څه؟ دا پر ځای خبره ده چې مشرکین دین لرونکي دي او عبادت کوونکي دي، مشرک هغه څوک دی چې خپل بوتان له عبادت ځای څخه پر لویو لویو تختونو راباسي نر او ښځي خپل ښائیسته لوښي او زامن نذر کوي تر څو د بت په پښو کي یې سر پرې سي او د هغو ویني مبارکي ویني ګرځي او د هغو له وینو څخه سپیڅلي شراب جوړ کړي چې دا شرک دی او دا خورا لویه بې دیني ده.

د بت په وړاندي قرباني او د بت لپاره قرباني د جاهلیت په دوره کي په همدغو عربو کي ستون درلودی دڅه شي قرباني؟ د انسان قرباني، نه د پسه قرباني، ډېرو به نذر کوی چې که چیری زما ډېر اولادونه و زېږېدل نو زه مي خپل لومړی زوی د بت لپاره قرباني کوم، هغوی به ځکه نذرکوی چې بت هغه ته اولادونه ورکړي او د دغه ډالۍ په بدله کي چې بت یې ده ته ورکړي دی به خپل لومړی زوی قرباني کړي.

اوس دا قرباني او نذر دچا لپاره ؟ د بت لپاره ... بت څوک دی؟ بت د هغه په نظر یونیک او ښه څوک دی، ښا یي هغه د یو پیغمبر بت

Download from: www.aghalibrary.com

وي،ښايي خداى جل جلاله ته د يوه نږدې کس بت وي ، ښايي د خداى جل جلاله ده يوه دوست بت وي ... مګر په هره توګه هغه يو انسان وو چې وروسته يې مجسمه جوړه سوې ده او يا هم د حبشې دخلګو په اړوندي چې هغوى قبرونه مقدس ګڼل.

علامه ډاکټر شريعتي پوښتي : ايا دا احساس د بې دينۍ او بې مذهبۍ احساس دى؟ په ځواب کي وايي :

وينو چې د هغوى مذهبي مقام تر موږ چې موحدين يو ډېر پياوړى دى، نو بيا ولي ټول دې ته اړم دي چې د شرک ريښې وکاږي؟ نو پر دې اساس توحيد د شرک په وړاندې، دين د بې دينې سره برابر نه دى، مذهب له بې مذهبى سره برابر نه دى، د خداى جل جلاله عبادت د خداى جل جلاله د ستون له باور سره برابر نه دى.

زموږ پيغمبران نه يوازي دا چې ددې لپاره نه وه راغلي چې خلک عبادت راوبولي بلکي د دې لپاره راغلي وه چې عبادت لږ کي، يعنې ټولي ټولني زموږ تر پيغمبرانو زياتي خداى جل جلاله پرستي وې، ځکه زموږ پيغمبرانو ويل يو خداى جل جلاله ومنى او هغوى په سلهاوو منل.

ډاکټر شريعتي د مشرکينو چې کله به يې د انسانانو عبادت کوى، کله دډبرو او کله به يې هم د خپلو پلرونو د روحونو عبادت کوى خاصيتونه داسي بيانوي : هغوى د دې لپاره نه و راغلي چې خداى جل جلاله پرستي ايجاد کړي، يعني چې د خداى جل جلاله عبادت ايجاد کړي، هغوى د دې لپاه راغلي وه چې ، دغه انسانان چې د بتانو، ډبرو، لمر، سپوږمۍ، ستورو او... عبادتونه به يې کول او حتٰى خپل ژوند به يې په دې لاره کي قرباني کوي، خپلي ويني به يې په دې لاره کي تويولې، نو ددغو ټولو دلايلو پر اساس د انسان ژوند له پيله څخه پرمذهب ولاړ وو مګر زموږ پيغمبران د دې لپاره راغلي وه چې هغوى د

Download from: www.aghalibrary.com

يوه خدای جل جلاله عبادت ته را و بولي او توحيد د شرک پرځای نصب کړي او يو مذهب د بل مذهب ځای ناستی کړي.

نود دې ځايه څخه ويلای سو چي ټول پيغمبران د دې لپاره راغلي وه چي خلک د يوه خدای جل جلاله عبادت ته راوبولي چي دې توحيد ته الوهيت توحيد يا عبادتي توحيد وايي چي خلک بايد يوازي او يوازي د خدای جل جلاله عبادت وکړي نه د بل چا او نه هم له هغه سره په عبادت کي بل څوک شريک کړي.

علامه ډاکټر شريعتي وايي: هغه بنسټ چي اسلام پرهغه ولاړ دی يوازي او يوازي يوه پايه لري چي هغه توحيد دی او نور ټول اسلامي اساسات د توحيد تر پوښښ لاندي راځي، نو له دې ځايه څخه ويلای سو چي دتوحيد په څنګ کي د اسلام بله هيڅ پايه نسته او توحيد داسي يوه عقيده نه ده چي بل عقيده يې څنګ ته راسي، هغه يو داسي اساس (اصل) نه دی چي د نورو اساساتو ( اصولو) سره برابر راسي، نور داسي اساسات نسته چي توحيد دي د هغوی په څنګ کي ودريږي، موږ يوازي يو اصل لرو چي هغه توحيد دی چي هرڅه په هغه کي شامل دي او هرڅه له هغه څخه د باندي دي.

د ټولو اسلامي پوهانو د نظريو پراساس چي د قراني لارښوونو په رڼا کي يې ورکړي دي دا ويلای سو چي ټول پيغمبران يوازي د دې لپاره راغلي وه چي خلک توحيدته را و بولي، ترڅو خلک يوازي د خدای جل جلاله عبادت وکړي، خپلي ټولي قرباني، نذرونه او ټول عبادتونه په خپل لاس جوړ سوو خدايانو پرځای يوازي د خدای جل جلاله لپاره وکړي، حيوانات قرباني کړي د خدا جل جلاله لپاره نه د انسانانو د جوړو سوو بتانو لپاره.

Download from: www.aghalibrary.com

لرغوني خلک ټول معتقدین وه او ټولو د خدای جل جلاله پرستون باور درلودی مگر د هغوی مشکل باطل خدایان وه، نوځکه پیغمبران راغلل ترڅو هغوی سمې لارې ته لارښود کړي، عبادتونه یې یوازې یوه خدای جل جلاله ته ځانګړي کړي او هغوی ته د ( لا اله الا الله) رښتنې مانا بیان کړي .

لنډه دا چې د پیغمبرانو او مشرکانو ترمنځ مشکل د خدای جل جلاله پرستون نه بلکې د خدای جل جلاله په عبادتونو کې د مخلوقاتو د شریکولو پرسر وو، د هغوی مشکل د خدای جل جلاله په ستون کې نه بلکې د ډېرو خدایانو د نستون په موضوع کې وو. ځکه شیطان همېشه په یوه داسې چوکاټ کې کار کوي چې د انسان توجه له پیدا کوونکي شخه لیرې کړي، د پیدا کوونکي نوم له ژبو شخه واچوي، د خدای جل جلاله د ستر توب پرځای مخلوقاتوته ستر توب ور وبخښي، د مشکلاتو په وخت کې خدای جل جلاله هیرکړي د ستر پیدا کوونکي (خالق) ذات پرځای د انسانانو په زړونو کې پیدا سوي شیان (مخلوقات) ځایوي ترڅو همدغه شیانوته د الوهیت ترمرحلې ستر والي ور وبخښي او دهغو عبادت کوي.

لوی خدای جل جلالهدي موږ ته توفیق راکړي چې ژبه مو د هغه په یادولو، زړه مو د هغه په مینه او اطاعت مو خاص د هغه لپاره وګرځي.

## ۳- د خدای جل جلاله په شریعت او قانون کې توحید :

په شریعت کې له توحید شخه مراد د خدای جل جلاله د قانون منل او له هغه شخه پیروي کول دي. موحد انسان په دې باور دی چې الهي قانون د هغه لپاره ترټولو اساسي او ښه قانون دی، دا قانون د

Download from: www.aghalibrary.com

قيامت تر ورځې پورې د بشريت لپاره نازل سوي دي او خداى جل جلاله له همدې کبله د قران عظيم الشان د ساتلو خبره کړې ده، ترڅو د هغه قانون د اخيرت تر ورځې په هم هغه خپله بڼه ژوندي پاته سي او څوک وه نسي کولاى چې هغه ته بدلون ورکړي.

مؤمن انسان په دې باور دى چې د ټولې نړۍ پيدا کوونکى خداى جل جلاله دى د دې نړۍ او د موجوداتو لپاره هغه جل جلاله يو قانون رالېږلى چې هغه قران عظيم الشان دى، څنګه چې لمر نه زړيږي، سپوږمۍ نه زړيږي او ستوري نه زړيږي په همدې توګه الهي قانون هم نه زړيږي، بلکې د اخيرت تر ورځې به د لمر په څېر ځليږي.

مؤمن انسان باور لري چې څنګه لمر ، اکسيجن، اوبه، ويټامينونه ، پروتونونه او ټول خورکي توکي د انسان لپاره ګټور او لازمي دي او ټول خداى جل جلاله پيدا کړي دي، په همدې توګه د انسان لپاره الٰهي قانون ګټور او لازمي دى.

څنګه چې هيڅوک نسي کولاى چې د اکسيجن ، اوبو، خوراکي توکو او نورو اړتيايي توکو له پلوه پوره وه اوسي په همدې توګه نسي کولاى چې له الٰهي قانون څخه پوره وه اوسي او لکه څنګه چې انسان وخت پر وخت د ژوند اړتيايي توکو ته اړتيا لري چې د نستون په پايله کې يې انسان له منځه ځي په همدې توګه انسان د الٰهي قانونه په نستون کې له فلاکت او نستون سره مخامخ کيږي.

اوس دلته موږ ته ځيني سوالونه پيدا کيږي :

س : قران عظيم الشان دهغه کسانو په اړه چې الٰهي قانون يې شاته کړى او د انساني قانون څخه پيروي کوي، څه وايي؟

س : هغه کسان چې وايي موږ مؤمنان يو مګر د هغه پوهانو او علماوو چې په سياسي، وټه ايز ( اقتصادي)، قضايي او نور چارو کې

Download from: www.aghalibrary.com

ښه قانونه لري پیروي کوو، قران عظیم الشان ددې کسانو په اړه څه وایي؟

س : داسي کسان هم سته چي لوی کسانو او پوهانو ته یې خپل واک په لاس ورکړی دی او د هغو قانونه د حلال ، حرام، روا ناروا او نورو په اړه مني د هغوی په اړه د قران عظیم الشان نظر څه دی؟

س : داسي کسان سته چي وایي موږ په هغه چاروکي چي لمونځ ، روژه، حج، زکات او نور دي د خدای جل جلاله له قانونو او لارښوونو څخه کار اخلو مګر په وټه ایز(اقتصادی)، سیاسي کلتور او ټولنیزو چاروکي له کمونیستي، سوسیالیستي، کاپیټالیستي او نور څه کار اخلو. قرآن عظیم الشان د هغوی لپاره څه وایي؟

د دغو سوالو د جواب لپاره لازمه ده چي قراني ایاتونه ترڅېړني لاندي ونیسو ترڅو د دې ایت په رڼا کي دا سوالونه خپله جواب سي.

لومړی ایت : قرآن عظیم الشان د مسیحانو په اړه وایي :

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾(التوبه :۳۱)

دوی خپل پوهان او راهبان او مسیح د مریم زوی د خپل خدایجل جلاله په څېر و منل په داسي حال کي چي دوی په دې نه وه امر سوي پرته له دې چي د یوه خدایجل جلاله عبادت وکړي چي له هغه څخه پرته بل هیڅ معبود نسته او پاک دی له هغه څه څخه چي دوی شریک ورسره نیسي.

Download from: www.aghalibrary.com

علامه قرطبي وايي: هغو(مسيحيانو) احبار ( پوهان) او رهبان ( شيخان) د خدای جل جلاله په ځېر وګرځول، په هرڅه کي يې د هغوی اطاعت وکړی.

له حضرت حذيبه (رض) څخه د دې ايت په اړه وپوښتل سوه چي ايا هغوی د خپلو پوهانو او راهبانو (شيخان) عبادت کوی؟ هغه وويل: نه، هغوی داسي نه کول بلکي هغوی به کله حلال حرام بلل او کله به يې حرام حلال، او هغوی به هم له هغو څخه اطاعت کوی او منل به يې.

حضرت عدي بن حاتم (رض) چي يو مسيحي وو او وروسته د اسلام په سپېڅلي دين مشرف سو وايي: يوه ورځ د نبي کريمصلی الله عليه و سلم مخي ته راغلم په غاړه کي مي يو طلايي صليب ځړولی وو، پيغمبرصلی الله عليه و سلم راته وويل : (ما هذا يا عدی اطرح عنک هذا الوثن) دا څه شي دی اې اعدي! دا بت ليري وغورځوه، وروسته مي واوريدل چي دغه ايت يې و ويلی: (اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله والمسيح ابن مريم) وروسته يې وفرمايل : هغوی د احبارو (پوهانو) او راهبانو عبادت نه کوی، مګر هغوی به هر وخت حلال حرام ګرځول، او يا به يې حرام حلال او هغوی به د هغوی په خبرو باور او يقين کوی.

له دغه ايت څخه لاندي پندونه اخستل کيږي:

لومړی پند:

مسيحان که څه هم په ښکاره په دې باور نه وه چي د خپلو پوهانو او علماوو عبادت وکړي، مګر هغوی د حلال او حرام په اړه د هغوی امرونه او لارښووني منلې او له هغوی څخه به يې پير وي کول په داسي حال کي چي په هغه اړه خدايي امرونه او لارښووني موجودي وې،

Download from: www.aghalibrary.com

هغوی خپلو علماوو او راهبانوته د خدایي صلاحیت ورکوی او له هغوی به یې په دې توګه خدایان جوړ ول.

دوهم پند:

هر هغه وخت چې یو چاته موږ واک ورکړو چې د خدايي قانون پر خلاف یو قانون رامنځ ته کړي او موږ پیروي څنې وکړو. که موږ وغواړو او یا ونه غواړو له هغه مو خپل معبود جوړ کړی.

دریم پند:

هر کله چې چاته اجازه ورکول سي چې د الٰهي قانون پرخلاف یو قانون رامنځ ته کړي او وروسته له هغه قانون څخه پیروي وسي، هغه کس مو خپل معبود جوړ کړی.

څلورم پند:

له پورتنی ایت څخه څرګندیږي چې توحید یوازي د یوه خدای جل جلاله پرستون باورنه دی، بلکي توحيد نوري څانګي هم لري چې له هغو څخه یوه څانګه یې دا ده چې الٰهي قانون تر انساني قانون غوره و بلل سي او له هغه څخه پیروي و سي.

پنځم پند:

کله چې یو څوک په اعتقادي یا باوري چاروکي له الٰهي احکامو څخه سرغړونه وکړي او وروسته دلیل و وایي چې زما هدف دا نه وو، دا خبره یې اعتبار نه لري، بلکي هغه څه چې عملاً کوي هغه یې هدف څرګنده وي.

مثلاً څوک نسي کولای و وایي چې ما پلاني ته سجده وکړه مګر هدف مي عبادت نه وو ځکه د اسلام په سپیڅلي دین کي سجده عبادت ده، کله چې څوک چاته سجده کوي هغه د هغه چا عبادت کوي، په همدې توګه که څوک ووایي چې زه شراب د امریکا د قانون

Download from: www.aghalibrary.com

پر اساس څښنم، ځکه د امریکا قانون ماته اجازه راکوي چي زه شراب وڅښنم، هغه چا چي په امریکا کي شرابو ته روا والی ورکړی دی هغه کافر دی او له هغه څخه پیروي د هغه په خدایي منل دي. که څه هم دغه سړی وه وایي چي زه د خدای جل جلاله په یووالي باور لرم.

شپږم پند:

هرکله چي یو عالم او یاراهب پیدا سي او و وایي ماته سجده وکړی او یا هم ماته د درنښت په دود سرټیټ کړی دا عالم او راهب د خدای جل جلاله د هغه امر چي یوازي ماته سجده او سرټیټی وکړی په ضد کي دی نو هر هغه چا چي د هغه دغه امر ومنی او یايې پیروي وکړه نو هغه یې خپل معبود وګرځوي.

اووم پند:

مسیحیان ځکه مشرکان سول چي هغوی په دې باور وه چي علما او پوهان حق لری چي حلال حرام او حرام حلال کړي ځکه هغوی د خدای جل جلاله دوستان دي او د خدای جل جلاله دوستان کولای سي چي د خدای جل جلاله احکام مات کړي، نو په دې علت قران عظیم الشان هغوی د خدای جل جلاله پیروان نه بلکي د علماوو او راهبانو بنده ګان بولي او وایي چي هغوی د خدای جل جلاله پرځای خپل علماء او پوهان خپل خدایان وبلل.

اتم پند:

د صلیب انځور او نور ټول انځورونه چي په غاړه کیږي د بت او بت پرستانو حکم لري، نو یو مسلمان حق نه لري چي د توحید دمنلو سربېره د بت پرستی علامې لکه صلیب مجسمې، منګل سوتره او نور داسي شیان چي د بت پرستانو په نظر مقدس او سپیڅلي شیان دي په غاړه کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه په حدیث شریف کي مو ولیدل چي حضرت محمد صلی الله علیه و سلم حضرت عدي ته د صلیب د لیري کولو پریکونی امر وکړی چي دابت دي له غاړي څخه لیري کړه.

نهم پند:

مسیحیانو د حضرت عیسی (ع) دونه درنښت وکړی چي بالاخره یې هغه دخدای جل جلاله سره شریک وبلی، نو مسلمانان حق نه لري چي هیڅ پیغمبر او یا د خدای جل جلاله ولي د خدای جل جلاله تر مرتبې پوری پورته کړي او داسي صفتونه ورته وکاروي چي د خدای جل جلاله خاص صفات دي.

د دې ایت پر اساس د هغه احکامو څخه پیروي چي اسلامي اساساتو هغه رد کړي دي او یا هم د مخلوقاتو قانونوته د خدای جل جلاله ترقانون غوره والي ورکول په حقیقت کي مخلوقاتوته د خدایي درجې ورکول دي عبادت یوازي سجده نه ده بلکه دحلال او حرام، ښه او بد حق او باطل او په نورو ټولو چاروکي دالهي اساساتو څخه سرغړوني او د مخلوقاتو د اساساتو او دقانون منل هم عبادت دی.

حضرت پیغمبرصلی الله علیه و سلم فرمایي: (( لا طاعة لمخلوق فی معصیه الخالق) په الهي نافرمانی کي دمخلوق لپاره اطاعت روا نه دی.

دوهم ایت :

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ

Download from: www.aghalibrary.com

وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ﴾(النساء : ٦٠)

ایا نه دي لیدلي هغه کسان چي فکر کولای سي ، پر هغه څه چي تاته نازل سوی او یا له تا څخه وړاندي نازل سوي دي ایمان یې راوړی،هغوی پر دې سر بېره

له دې ایت شریف څخه لاندي پندونه لاس ته راځي :

لومړی پند :

په دې ایت شریف کي بیان سوي دي چي ډیر خلک سته چي فکر کوي مؤمنان دي مګر هغوی مومنان نه دي ځکه چي هغوی د قضاوت او پریکړو په وخت کي خدای جل جلاله ته د رجوع پرځای و هغه خلکوته ورځي چي د خدای جل جلاله د قانون پرضد یا خلاف یې یو بل بې باوره قانون رامنځ ته کړی دی.

دوهم پند:

د ایمان له شرطونو څخه یو شرط دادی چي د شیطاني (طاغوتي) قانون په وړاندي تسلیم نه سو او خدای جل جلاله امر کوي چي تاسو د شیطان (طاغوت) د احکام په وړاندي مه تسلیمېږی.

دریم پند :

دا مبارک ایت موږ ته په ډاګه کوي چي دطاغوتي قانون څخه پیروي د انساني او یاجني (پیریانو) شیطانانو وسوسې دي چي انسان لار ورکی ته کشوي مګر هغه ته داسي وربښه یي چي پر سمه لار روان یې، مسلمان یې، مؤمن یې، دین یوازي همدغه لمونځ او روژه ده، مګر په

Download from: www.aghalibrary.com

وټه یزو (اقتصادي) ، ټولنیزو سیاسي، کلتوري او نور چاروکي باید دهغه قوانینو څخه ګټه واخستل سي چي د انسانانو لخوا جوړ سوي دي، قران موږ ته دا ښي چي دا د شیطان لخوا جوړي سوي نظریې دي او دا لار ورکي ده او یوه ښکاره لار ورکي.

څلورم پند:

هغه څه چي په دې ایت کي خورا مهم دی هغه طاغوت دی چي موږ نه سوکولای چي شیطاني قوانین او الهي قوانین سره یوځای کړو، یعنې دا چي دین د ومنو او خپل نیمايي ژوند د دین تر قانون لاندي تیر کړو او نیم نور د طاغوتیانو پرقانون، د انسان لپاره یوه ښه لاره دا ده،چي دی پرخدای جل جلاله ایمان راوړي او د طاغوتیانو څخه مخ واړه وي (وقد امرو ان یکفروا به) او یادي هم له خدای جل جلاله څخه مخ واړه وي او پر طاغوتیانو دي باور (ایمان) راوړي.

دریم ایت :

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾( النساء : ٦٥)

قسم ستا په رب چي ایمان نه راوړي، تر هغه تر څو په خپلو مشکلاتو کي تا د داور او قاضي په څېر و نه ټاکي او له دې پریکړي څخه یې په زړونه کي کش ما کش ور و نه ګرځي او په بشپړه توګه تسلیم نه سي

له دې ایت شریف څخه لاندي پندونه زباتیږي :

Download from: www.aghalibrary.com

لومړی پند :

د خدای جل جلاله سوګند یادول د موضوع د مهم والي او د خلکو د توجه د ور اړوني په خاطر.

دوهم پند:

په بېلا بیلو موضوعاتو وټه یز( اقتصادي) سیاسي، ټولنیز، فکري او نورو کي لازمه ده چي د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم داساساتو څخه چي همېشه د خدای جل جلاله له پلوه څخه د وحي په څېر ورته راغلي دي کار واخستل سي.

دریم پند:

که چیري څوک د خپلو سیاسي، وټه یزو (اقتصادي) او ټولنیزو کړکیچونو د حل په وخت کي د حضرت محمدصلی الله علیه و سلمد لاري څخه کار وانخلي، مؤمن نه دی، ځکه خدای جل جلاله فرمایي چي (لایومنون) ایمان نه لري.

خدای جل جلاله حضرت محمدصلی الله علیه و سلم ته وایي سربېره پردې چي دوی وایي موږ مؤمنان یو مګر مومنان نه دي تر هغه وخته چي په خپلو شخړوکي ستا دلارو اواساساتو څخه کار وانخلي.

څلورم پند:

(عدم حرج) یعني انسان باید د خدای جل جلاله په امر منلو کي زړه تنګی وه نه اوسي، کله چي څوک د مجبوریت پر اساس و الٰهي احکامو ته تسلیمیږي او هغه څه چي د اسلام پیغمبر راوړي دي قبول

Download from: www.aghalibrary.com

کړي، مگر په زړه کي په هغه راضي نه وي او د زړه تنگی احساس وکړي او له ځانه سره و وايي چي زه د مجبوريت له مخي دا اسلامي امر قبلوم، په دې وخت کي موږ هغه ته حقيقي مؤمن نسو ويلای، ځکه دا قراني ايت دا خبره قيد وي چي د احکامو او اساساتو قبلونه بايد په زور او زړه تنگي کي نه وي بلکي د زړه له تله او په پوره خوشالي سره وي.

پنځم پند:

د خدای جل جلاله د امر په وړاندي تسليميدنه يوبل پند دی چي د حقيقي مؤمنانوته په دې ايت شريف کي ورکول کيږي چي حقيقي مؤمن هغه څوک دی چي د نبی کريم صلی الله عليه و سلم فيصلې ته په بشپړه توگه تسليم و اوسي ( ويسلموا تسليما).

څلورم آيت:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَـٰلًا مُّبِينًا﴾(الاحزاب:٣٦)

د هيڅ نارينه او يا ښځي لپاره حق نه دی چي د هغه امورو په اړه چي خدايجل جلاله او د هغه رسول صلی الله عليه و سلم فيصله کړي وي له خپل اختياره کار واخلي او هر هغه څوک چي د خدايجل جلاله او د هغه رسولصلی الله عليه و سلم له امرونو څخه سر و رغړوي،د ښکاره لار ورکی(گمراهی) مرتکب و گرځيدی.

Download from: www.aghalibrary.com

له دې ایت څخه لاندي پندونه زباتیږي :

لومړی پند :
هغه څه چي له مؤمن او مومني سره ښایي د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه و سلم د قضاوتونو په وړاندي تسلمیدل دي.

دوهم پند :
هیڅ مسلمان او مسلمانه حق نه لري چي وه وایي زه د خدای جل جلاله او رسول صلی الله علیه و سلم ددغه امر په مقابل کي یو بل نظر او اند لرم.

دریم پند:
حقیقي مسلمان په دې پوهیږي چي هغه کولای سي چي هغه چاري چي خدایجل جلاله هغه د هغو دسرته رسولو واک ورکړی ترسره کړي، خدای جل جلاله هغه ته واک ورکړی دی چي چیري غواړي ژوند وکړي، څه وخوري، کمه میوه وخوري، مګر د باوري ( اعتقادي) او پریکړیزو (قضایي) او داسي نور چارو د سر ته رسولو لپاره خدای جل جلاله خپلي فیصلې او اساسات د خپل رسول صلی الله علیه و سلم په واسطه واضح کړي دي، نو له دې ځایه څخه ویلای سو چي په هغه چاروکي چي د خدای جل جلاله لخوا څخه پریکړه( فیصله)سوي ده، هیڅوک د بدلون او توپیر راوستلو واک نه لري.

څلورم پند:

Download from: www.aghalibrary.com

هغه کسان چې د خدای جل جلاله او د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د پریکړو ( فیصلو) په اړه وایي زه داسي نظرلرم او ددغي پریکړي پرخلاف دغه نظر لرم، په حقیقت کي په ښکاره لارورکی اخته سوي دي.

په نني وخت کي ډیر داسي کسان سته چې وایي موږ مسلمانان، دیوه خدای جل جلاله عبادت کوونکي، خدایجل جلاله پیژندونکي خلک یو لمونځ کوو، روژه نیسو، ذکات ورکوو، حج ته ځو مګر په ټولو قانوني چاروکي لکه وټه ایز(اقتصاد)، پریکړو، ټولنیزو چارو، سیاسي او نورکي د نورو له قوانینو څخه ګټه اخلو.

د دغي خبري اساسي علت څه دی؟

که چیري څوک و وایي اسلامي احکام په سیاست، اقتصاد او ټولنه کي ګټور او موثرنه دي، دا افکار په ښکاره کفر دی.

او که چیري یې علت داوي چې الهي قوانین زاړه سوي دي، دا هم غیر اسلامي عقیده او باور دی. ځکه د اسلامي عقیدې پر اساس الهي قانون د قیامت ترورځي د بشریت لپاره د خدای جل جلاله له لوري ټاکل سوی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

# د الله جل جلاله پرصفتونو توحید

د خدای جل جلاله د صفتونو په پیژندلو کي باید یو اساسي نکته په یاد کي ولرو چي د خدای جل جلاله په پیژندلو او د هغه د صفتونو په پیژندلو کي یوه ښه فورمول او لاره ده.

دا نکته قراني ایت دی چي خدای جل جلاله فرمايي: (لیس کمثله شیء) د هغه په څېر هیڅ شی نسته. (السوری:۱۱)

ددې ایت شریف اساسی درس دا دی چي:

۱- د خدای جل جلاله صفتونو د انسانانو د صفتونو په څېر و نه بولو.

۲- انساني صفتونه د خدای جل جلاله د صفتونو په څېر ونه بولو.

د انسانانو لپاره چي د خدای جل جلاله د صفتونو په پېژندلو کي اساسي مشکل پیدا کیږي هغه دا دی چي، هغوی د خدای جل جلاله صفتونه په اړه د خپلو صفتونو په څېر فکر کوي او د خپلو صفتونو په اړه د خدای جل جلاله د صفتونو په څېر فکر کوي.

ما په ډېرو ناستو او یا کتابونو کي چي د خدای جل جلاله د صفتونو په اړه بحثونه پکښې سوي وي لیدلي دي چي د هغوی اساسي مشکل دا دی چي د انسان صفتونه له خدای جل جلاله سره پرتله کوي.

ډېر کسان فکر کوي چي کله زه عالم یم نو خدای جل جلاله هم عالم دی، هغوی په تېروتنه سره دځان پوه د خدای جل جلاله له پوهي سره پرتله کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

نو دلته دی چي د ځان لپاره مشکل جوړ وي او عقیده او باور یې له خطر سره مخ کیږی او بېلا بیلي بې مانا پوښتني یې په ذهن کي ورګرځي.

که چیري هغوی دغه قراني ایت (لیس کمثله شیء) په هغه مانا سره وپېژني څنګه چي خدای جل جلاله یې موږ ته تشریح کوي نو له هر ډول مشکل څخه به یې ځان خلاص کړی وي.

امام وسطي (رح) فرمایي: د خدای جل جلاله د ذات په څېر هیڅ ذات نسته، د خدای جل جلاله د نوم په څېر هیڅ نوم نسته، د خدای جل جلاله د کړونو په څېر نوري کړني نسته او د خدای جل جلاله د صفتونو په څیر نور صفتونه نسته مګر د لفظي یو شی والي څخه پرته.

مګر امام قرطبی (رحمة الله) د دې ایت شریف په تفسیرکي وایي:

هیڅوک له خدای جل جلاله سره په ستروالي، کبریاء ملکوت، نومونو او صفتونو کي ورته والی او یوشان والي نه لري او خدای جل جلاله له مخلوقاتو سره ورته نه دی، د خالق (پیدا کوونکی) او مخلوق (پیدا سوي) ترمنځ په مانا کي هیڅ ورته والي نسته، ځکه دخدای جل جلاله صفتونه ټول قدیم دي او وه نه د بنده ګانو په څېر عارضي.

ځینو پوهانو ویلي دي چي توحید د هغه ذات چي له نور ټولو موجوداتو سره هیڅ ورته والي وه نلري زیات (ثبوت) ته وایي.

نو له دې ځایه څخه ویلاسو چي د هغو کسانو مشکلاتو چي د خدای جل جلاله صفات بشپړنه بولي په لاندی نکتو کي نغښتي دي:

Download from: www.aghalibrary.com

**۱- لومړی مشکل:**

## د خالق ( پیدا کوونکي) او مخلوق ( پیداسوي) ترمنځ دورته والي پیدا کول:

خدای جل جلاله مخلوقاتوته ورته بولي، د خدای جل جلاله صفتونه د مخلوقاتو صفتونوته ورته بولي او یا هم خپل صفتونه د خدای جل جلاله د صفتونو په څېر بولي.

په داسي حال کي چي د خالق (پیداکوونکي) او مخلوق (پیدا سوي) ترمنځ هیڅ ورته والي ستون نه لري، مثلاً نن زه پوهېږم چي مځکه ګرځي، زما دا پوهه د ښوونځی پوهنتون او تجربو د کولو زیږنده ده.

په دې اساس زه له نن څخه مخکي یا لږ پخوا په دې اړه هیڅ نه پوهېدم د دغي پوهي یا څېړني د ترلاسه کولو وروسته زه پوه او عالم سوم.

له دې څخه معلومیږي چي زما علم ناقص دی او له څېړني څخه وروسته نورهم زیاتیږي، زه په اصل کي ناپوه وم، او اوس هم ډېر داسي شیان سته چي زه په هغو نه پوهېږم، زما علم زما په خپله دنده یا مسلک کي را ایساردی او په بل مسلک کي زه په بشپړه توګه ناپوه یم.

اوس که چیري زه نعوذبالله خپل علم د خدای جل جلاله له علم سره پرتله کړم نو کافر او بې دینه ګرځم ځکه په اصل کي د بنده پوهه د خدایجل جلاله له پوهي سره نه سي مقایسه کېدلای،زما پوهه د یوه پیدا سوي پوهه ده او د خدایجل جلاله پوهه د یوه پیداکونکي پوهه ده چي د هغه پوهه د خاصو ځانګړنو تښتنه ده چي په لاندي ډول دي:

Download from: www.aghalibrary.com

_ د خدایجل جلاله پوهه هیڅ تجربې او وسیلې ته اړتیا نه لري.
_ د خدایجل جلاله پوهه تل پا تې او لافاني پوهه ده.
_ د خدایجل جلاله پوهه بشپړه ده او ټول امور پکښې رانغښتل سوي دي.
_ زما پوهه یوازي تر هغه څه پوري محدوده چي زه یې په سترګو وینم او هغه څه چي زما له سترګو پټ دي زه هغه نه وینم.

نو په دې اساس د ډېرو کسانو مشکل د خدایجل جلاله په صفتونو کي دا دی چي د خدایجل جلاله او د هغه د بندګانو پوهه سره پرتله کي چي هغه هیڅ د پرتله کوني نه ده،یوه هندوستاني ښوونکي یوه ورځ د کابل پوهنتون د څو محصلانو څخه پوښتنه کول چي آیا تاسو باور لری چي مځکه او اسمانونه خدایجل جلاله جوړ کړي دي؟

هغوی یې په ځواب کي ویلي وه چي وو موږ په بشپړه توګه په دې باور لرو.

نو بیا هغوی ته ویلي وه چي ښه نو خدایجل جلاله انجینر دی؟ او که انجیر دی په کومه برخه کي انجینر دی؟

محصلینو خپل دا مشکل ماته  و ویلی او ما هغوی ته  و ویل چي ددې سرې اساسي مشکل دا دی چي  دی هندوو دی او په هندوایزم کي هغوی د بتانو عبادت کوي او د هغوی مشکل دا دی چي هغوی خدای جل جلاله  د مخلوقاتو په څېربولي، د خدای جل جلاله  انځور یې جوړ کړی او د انسانانو په څېر لاسونه او پښې یې ورکړي دي او ځیني  وختونه نعوذباالله هغه له حیوان سره ورته کوي.

دې مشر ک فکر کوی چي هرڅوک چي یو شي جوړ وي انجیز دی، په داسي حال کي چي انجینر توب د پیدا سوو صفت دی او هر انجیز هم نسي کولای چي یوشی جوړ کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه په انجینري کي هم بېلابیل تخصیصونه سته دا تخصوصات د انسانانو لپاره دي نه د خدای جل جلاله لپاره نو، هر هغه څوک چي وايي خدای جل جلاله انجیز دی هغه ګنهګاره دی.

پیداسوي (مخلوقات) له ستوو څخه یو شی جوړ وي مګر خدای جل جلاله له نه ستوو څخه.

که چیري څوک پوښتنه و کړي چي ولي؟ په ډېره اساني سره هغه ته جواب ویلای سو ځکه چي خدای جل جلاله په ټولو کړنو او تصرفاتو کي له انسانانو سره توپیر لري.

## ۲- دوهم مشکل:

## د صفات دمادي والي فکر:

هغه کسان چي دخدای جل جلاله په صفتونو نه پوهیږي د هغو لپاره دوهم مشکل دا دی چي هغو د خدای جل جلاله د صفتونو په اړه په مادي توګه فکر کوي، کله چي هغوی ته د خدای جل جلاله د هغه صفتونو په اړه لکه لیدل، اوریدل اونورو په اړه خبري کیږي هغوی ذکر کوي چي د خدای جل جلاله دا صفتونه داسي دي لکه د انسانان، چي په ستر ګو ویني او په غوږو اوري.

دا ستر ګي، غوږوونه، لاسونه او پښې درلودل د انسان صفتونه دي چي مادي جوړښت لري او موږ باید د خدای جل جلاله صفتونو په اړه مادي فکر وکړو، ځکه هغه جل جلاله خپله وایي چي (لیس کمثله شی) د هغه په څېر هیڅ څېر نسته.

Download from: www.aghalibrary.com

### ۳- دريم مشکل :
### د خدای جل جلاله صفتان په اړه په روايي توګه فکر کول:

ځيني خلک فکر کوي چي موږ بايد د خدای جل جلاله په اړه په روايي توګه فکر وکړو، په داسي حال کي چي روح (اروا) خپله يو پيدا سوی شی يا مخلوق دی اوخدای جل جلاله هغه پيدا کړی دی، نو موږ بايد د پيدا سو شيانو صفات له خدای جل جلاله سره ورته ونه بولو.

ځيني وايي چي په قران عظيم الشان کي انسان ته ويل سوي دی چي (فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَـٰجِدِينَ)(الحجر:۲۹)

کله چي مو هغه جوړ کړی او په هغه کي مو خپل روح پوه کړی، سجده ورته وکړی.

امام قرطبی (رح) د دې ايت په تفسيرکي وايي: روح يو لطيف جسم دی او خدای جل جلاله ژوند د انسان په بدن کي پيدا کوي، په حقيقت خدای جل جلاله دلته ترنورو پيدا سو (مخلوقاتو) د انسان ارزښت په ډاګه کوي، ځکه چي روح له الهي پيداوارو څخه يو پيداواردی، چي ځينو نورو شيانو ته يي هم همداسي ويلي دي لکه(ارضی، وسمايي،بيتی وناقهٔ الله وشهرالله) زمامځکه، زما اسمان، زما کور د خدايجل جلاله اوښ، د خدای جل جلاله سپوږمۍ.

موږ کعبې شريفې او مسجدونوته د خدای جل جلاله کور وايو، په داسي حال کي خدای جل جلاله دکور له درلودلو څخه خلاص دی مګر دلته د دغو ځايونو د درنښت په خاطر خدای جل جلاله ته د دغو شيانو

Download from: www.aghalibrary.com

نبست سوی دی، ځکه دا د عبادت کولوځای دی او داچي دا د خدای جل جلاله د عبادت د کولو دځای په نامه یادیږي نو موږ وایو چي دا د خدای جل جلاله کور دی.

نو هغه روح چي په ادم (ع) کي پوه کړل سو په نسبتي توګه د خدای جل جلاله روح وو، ترڅو و حضرت آدم (ع) او اولادې ته یې د تل لپاره درنښت او غوره والی پاته سي.

## ۴- څلورم مشکل :

## خیالي تصورونه :

ځيني خلک په خپلو خیالونو کي د خدای جل جلاله د ذات او صفتونو انځورونه انځوروي، ترڅو بالاخره د خدای جل جلاله د ذات او صفاتو په بحثونو کي د خپلو خیالي انځورونو ښخه کار اخلي او هغوته په کتنه سره وایي چي نعوذبالله خدای جل جلاله داسي دی او یا هم داسي.

په داسي حال کي چي ښکاره قراني ایتونه او عقلي دلیلونه دا خبري نه مني.

(وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ) سترګي هغه نسي درکولای مګر هغه جل جلاله دی چي سترګي درکوي. (یونس : ٣٦)

پوهان وایي کله چي ستاسو په خیالونو کي دروګرځیدل چي خدای جل جلاله به داسي وي هغسي نه دی ځکه چي خدای جل جلاله د انسان په دې پنځو حسونو نسي درک کیدلای.

Download from: www.aghalibrary.com

داسي ډېر حدیثونه روایت سوي دي چي انسان د خدای جل جلاله په ذات کي له تفکر څخه راګرځوي مګر د خدای جل جلاله په مخلوقاتو کي د تفکر امر کوي.

لنډه دا چي د خدای جل جلاله د صفتونو پېژندلو ترټولو لوی مشکل دا دی چي ځیني خلک د هغه صفتونه د نور موجوداتو له صفتونه سره له مادي او اروايي اړخه تشبیه کوي او هغه کسان چي داسي ورته والي (تشبیه) منځ ته راوړي د خدای جل جلاله د صفتونو په پېژندلو کي له مشکل سره مخ کیږي نو دې ته يې اړتیا پیدا کیږي چي تاویلونه راوړي او یا ځیني صفتونه وه نه مني.

موحد یا د یوه خدای جل جلاله عبادت کوونکی، کس هغه څوک دی چي د خدای جل جلاله په صفتونو کي هیڅوک نه شریکوي، ځکه د خدای جل جلاله صفتونه د پیدا سو (مخلوقاتو) په څېر نه دي.

الف : کله چي وایو (الله صمد) خدای جل جلاله بې نیازه دی، د خدای جل جلاله صمدیت او بې نیازي په دې کي ده چي هغه د نورو مشرانو په څېر وزیر،د دفتر رئیس ، سکرتر، باډی ګارډ او نور ته اړتیا نه لري.

نوځکه و خدای جل جلاله ته د نږدې کیدو په موخه چاته اړتیا نه لرو، بلکه په مستقیمه توګه له خدای جل جلاله سره اړیکه نیسو لکه څنګه چي خدای جل جلاله امر کوي: ( ء اذا سالک عبادی عنی فاني قریب) کله چي زما بندګان زما په اړه سوال کوي زه هغوی ته نږدې یم.

د قریشو مشرکینو مشکل همدا وو چي خدای جل جلاله يې د نورو خدایانو په څېر بللی او بتان او نور هغه ته ورته شیان به يې جوړ ول چي دا موږ خدای جل جلاله ته نږدې کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه هغوی خدای جل جلاله د پیدا سو (مخلوقاتو) په څېر انګېری او څنګه چي موږ جمهور رییس ته د نږدې کیدو لپاره واسطو او اړیکو ته اړتیا همداسي هغوی فکر کوی چي د خدای جل جلاله سره د کتني لپاره هم باید همداسي وکړي.

په داسي حال کي چي خدای جل جلاله له دې ډول صفتونو څخه پاک دی او د خدای جل جلاله بې نیاز (صمدیت) دا غوښتنه لري چي موږ له هغه سره په مخامخه توګه اړیکي وساتو او خپل مشکلات په مستقیمه توګه ورته بیان کړو.

ب : کله چي خدای جل جلاله خپل صفتونه بیانوي نو موږ پوهیږو چي خدای جل جلاله پیدا کوونکی او له منځه وړونکی ( محیی وممیت) دی نو بیا لازمه ده چي د دغو خبرو په نظر کي نیولو سره له بل چاڅخه اولاد و نه غواړو او په دې باندی هم باید باور و نه لرو چي بل څوک موږ له منځه وړلای سي.

ج : کله چي وایو خدای جل جلاله مرسته کوونکی دی او هره ورځ له هغه سره لوړه کوو چي (ایاک نستعین) خدایه جل جلاله خاص ستا څخه مرسته غواړم، نوبیا لازمه ده د هر مشکل په وخت کي یوازي له هغه جل جلاله څخه مرسته وغواړو.

د : کله چي وایو خدای له پټو خبر (عالم الغیب) دی، نو بیا لازمه ده چي پټي چاري یوازي د الله له پلوڅخه وبلل سي، ملایکي، پیریان، پیغمبران، او نور ټول پیدا سوي (مخلوقات) په پټو چاروکي ناتوانه وبولو.

یادښت : هر کله چي قران عظیم الشان وګورو، د خدای جل جلاله د صفتی نومونوپه اړه زیات ایاتونه ذکر سوي دي چي د خدای جل جلاله صفتونه او دمخلوقاتو صفتونه یې سره بېل کړي دي:

Download from: www.aghalibrary.com

## د خدای جل جلاله نومونه ستاینومونه (اسم صفتونه) دي:

خدای جل جلاله د هغو صفتو خاوند دی چې خپل نومونه يې په هغو ياد کړي دي، مثلاً د خدای جل جلاله نوم رحمان او رحيم دی ( بخښونکی او مهربان) او خدای جل جلاله په حققت کې هم رحمان او رحيم دی.

د خدای جل جلاله نوم عالم دی، نو خدای جل جلاله د نړۍ په ټولو چارو خبر یا عالم دی.

د دې برعکس د انسان نوم د هغه له صفتونو سره توپیر لري، او ډیروخت د یو انسان نوم د هغه له صفت سره توپیر لری، مثلاً د یو چا نوم زمريالی وي مګر هغه ډير ډارن وي يا پر يوچا دسخي نوم پروت وي، مګر هغه سخي نه بلکې ډير بخيل وي او د انسانانو نومونه مور او پلار ورباندي ږدي، او هغه هم کله د هغه کس له صفتونو سره سروخوري او کله يې نه خوري.

مګر د خدای جل جلاله صفتونه ۱۰۰ په ۱۰۰ کې له نومونو سره يو شان دي او هیڅ توپیرنه لري.

Download from: www.aghalibrary.com

# د خدای جل جلاله پريووالي دلايل

د يووالي په اړه دوه ډوله دلايل لرو:




## ۱- پريووالي قراني دلايل :

هر کله چي قران عظيم الشان په پوره پاملرنه او څېر سره مطالعه کړو نو د قرآن هر ايت د خدای جل جلاله پر يووالي موږ ته دلايل راکولي، هغه اياتونه چي د خدای جل جلاله پريووالي ښکاره ثبوت دی پر دو برخو ويشل کيږي:

### لومړی برخه :

Download from: www.aghalibrary.com

**هغه اياتونه چي د خداى جل جلاله ديووالي څخه بحث كوي:**

**په قرآن عظيم الشان كي ډېر داسي اياتونه سته چي د خداى جل جلاله پر يو والي بحث كوى مثلاً :**

۱- (قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴿٤﴾قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ )

**و وايه چي خداى جل جلاله يو دى، خداى جل جلاله بې نيازه دى، زوى نه لري او خپله هم له چا څخه نه دي زېږېدلى او هيڅوک د هغه شريک نه دى . (اخلاص : ۱-۴)**

۲- (ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ) **هيڅ خداى بېله خداى جل جلاله څخه نسته او مؤمنان دي پرخداى جل جلاله توكل كوي (التغابن : ۱۳)**

۳- (هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ)

Download from: www.aghalibrary.com

له خدای جل جلاله څخه پرته بل هیڅوک د عبادت لایق نسته هغه په ټولو پټو چارو خبر (عالم) او تل حاضر دی، بخښونکی او مهربانه دی. (الحشر :۲۲)

دوهمه برخه :

**هغه قراني ایاتونه چي د خدای جل جلاله دیووالي دلایل بیانوي:**

هغه قرانی ایاتونه چي د انسان عقلي دلایلو ته ورته دلایل وړاندي کوي لکه

(لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ )

که چیري له خدای جل جلاله څخه پرته بل د عبادت وړ څوک وای نو د نړۍ ټول نظام به فاسد سوی وای، پاکي ده هغه خدای جل جلاله لره چي د عرش پیدا کوونکی دی.... (الانبیاء :۲۲)

په دې ایت شریف کي خلکوته بیان سوي دي چي څنګه په یوه مملکت کي دوه پاچاهۍ او یا په یوه ریاست کي دوه رئیسان نه سره چلیږي په همدې توګه هیڅ امکان نه لري چي په نړۍ کي دي دوه یا څو خدایان و اوسي، ځکه د ډېرو خدایانو د ستون په پایله کي د نړۍ په نظام کي ګډوډي رامنځ ته کیږي، که چیري په مځکه کي دوه خدایان وای نو کله چي د هغو ترمنځ کوم مشکل رامنځ ته کیدلای یوه به ویل چي ورځ دي وي بل به ویل چي شپه دي وي نو دورځو او شپو نظام له منځه تللی او که چیري یو پر بل بریالي کیدلای نو بیا به بیرته یو خدای پاته کیدلای او بل به یې طابع وای او که چیري دواړو کولای

Download from: www.aghalibrary.com

سواى چي د نړۍ په چاروکي په مساويانه توګه واک ولري نو د هغوى دا واک به دنړۍ دګډوډېدو لامل ګرځېدلې واى نو د نړۍ له نظام څخه ښکاري چي خداى جل جلاله يو دى او د نړۍ ټولي چاري د هغه د امرونو په رڼا کي ترتيب او تنظيم کيږي.

## ٢- پريووالي عقلي دلايل :

خداى جل جلاله ټول کايينات د انسان په وړاندي لکه يو پرانيستى کتاب پيدا کړي دي، که چيري هرڅوک په خپل شاوخوا کي هري پديدې ته ديوه هوښيار انسان په سترګو وګوري، هر سته په خپل لوى والي يا کوچني والي د خداى جل جلاله پريو والي دلالت کوي.

د نړۍ نظم، د ټولو چارو يو پر بل باندى تړون او د ټولو مخلوقاتو تسخيرول د انسان په لاس او داسي نور د خداى جل جلاله پريو والي باندي ښکاره دلالت کوي، چي دا دلايل په لاندي توګه بيانوو:

### ١- په جوړښت کي تناسب:

ټول پيدا سوي (مخلوقات) په يوه خاص تناسب سره پيداسوي دي که چيري دا تناسب موجود نه واى انسانانو او حيوانانو نسواى کولاى په عادي توګه ژوند وکړي چي موږ کولاى سو دا تناسبونه په لاندي نکتو کي راونغاړو:

الف : د انسان په جوړښت کي تناسب.

ب : د انسان د وجود تناسب له ټولو خورکونو سره.

ج : د انسان دوجود تناسب له ټولو طبعي پيښو سره.

Download from: www.aghalibrary.com

## ٢- دنړۍ نظم :

دنړۍ دنظم په اړه په مخکنيو پاڼو کي زيات دلايل وړاندي سول چي نورو څېړنو ته يې اړتيا نه ليدل کيږي.

## د يووالي (توحيد) غوښتني

د خدای جل جلاله پر يووالي باور او اعتقاد يو لړ غوښتني او اړتياوي لري چي موحدين ( ديوه خدای جل جلاله عبادت کوونکی) بايد هغه په نظر کي ولري، چي د هغو په رڼا کي خپل خيال، فکر، ژوند او له نړۍ او نړيوالو سره خپل اړيکي ټينګي وساتي.

ددغو غوښتنوپه لړوالي کي بياهم د يوه موحد پريوه خدای جل جلاله باور له مشکل سره مخ کيږي او د هغه دا مشکل سره شرک اويا د هغه سړي د مشرک کيدو امکانات سته، ديوالي داغوښتني عبارت دي له:

### ١- په فکر او خيال باندی د خدای جل جلاله يووالي منل:

Download from: www.aghalibrary.com

یو مؤمن انسان باید له هغو ټولو چارو څخه چې قریش مشرکین یې د اسلام له کړی څخه ایستلي وه ځان لیري وساتي، له خدای جل جلاله سره په ذات او صفاتوکي څوک شریک نکړي او پردې باور و نه لري چې په هغو چاروکي چې یوازي په خدای جل جلاله پوري اړه لري بل څوک ورداخلیدلای سي.

## ۲- د خدای جل جلاله پرصفتونو او ستاینو باندي توحید:

خدای جل جلاله یو لړ صفتونه لري چې خپله یې په قران عظیم الشان کي بیان کړي دي او ټول دغه صفتونه له هر ډول عیب او نقص څخه خلاص دي او ټوله نړۍ د هغه د صفتونو ښکارندوي ده.
هغه صفتونه چې یوازي د خدای جل جلاله ته ښایي له بل هیچا سره وړ نه دي. نو ځکه توحید زموږ څخه دا غوښتنه لري چې په الهي صفتونو بل چاته قایل نسو.

## ۳- د عبادت توحید:

توحید غوښتنه لري چې هره هغه کړنه چې د عبادت په نامه ترسره کیږي هغه خاص خدای جل جلاله ته دي، ځکه د خدای جل جلاله د مننی او ستایني لپاره همدا یوه لاره ده چې قران عظیم الشان هم په همدې نظر دی.

## ۴- په مرسته غوښتنه کي توحید:

Download from: www.aghalibrary.com

قران عظیم الشان عبادت او مرسته غوښتل د توحید دوې اساسي بنسټونه بولي او پردې ټینګارکوي چې له خدای جل جلاله څخه پرته بل د عبادت لایق نسته قران عظیم الشان دغه دوه بنسټونه په دغه مبارک ایت کې (ایاک نعبدو ایاک نستعین) کې پوره ښکاره کړي دي چې مانایې دا ده چې خاص تاته عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو.

## ۵- اخلاصمندانه توحید:

د اخلاصمندانه توحید څخه مراد دا دی چې انسان باید د خپلو مشکلاتو په وخت کې د خدای جل جلاله پر لور متوجهه سي او له خدای جل جلاله څخه پرته له بل هیچا څخه مرسته وه نه غواړي. خدای جل جلاله په دې اړه فرمایي:

(فَإِذَا رَكِبُواْ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ) (العنکبوت : ٦٥)

کله چې هغوی په کښتیو کې سپاره سي نو خدایجل جلاله د زړه له اخلاصه و غواړي او دین یوازې د هغه له طرفه بولي کله چې یې کښتۍ نجات پیدا کړي نو دوی بیر ته مشرکان سي.

قران عظیم الشان په هغه وخت کې اخلاصمندانه توحید بیان کړی دی چې پریوه مؤمن له بلي هري خوا لاره تړل سوې وي اویوازې یوه لاره ورته پاته وي چې هغه هم د خدای جل جلاله څخه د مرستي غوښتل وي، ځکه کله چې انسان په یوې بیړۍ کې ناست وي او بیړۍ د باد او سېلیو په منځ کې راګیر وي او پریوه او بله خوا یې ځغلوي په

Download from: www.aghalibrary.com

دې وخت کې انسان په دې ښه پوهيږي چې يوازې يو څوک سته چې د هغه مرسته وکړي او هغه هم الله جل جلاله دی ځکه هر انسان چې په هره مرتبه او هره څونه لوی منسب کې هم وي د هغه مرسته نسي کولای، نو په دې وخت کې دغه انسان د زړه له تله يوازې د خدای جل جلاله پلو ته سترګې ور اړه وي، نو دغه حالت ته خدای جل جلاله اخلاصمندانه توحيد وايي، دا لاره همهغه د زړه له تله او اخلاصمندانه لاره ده، ځکه توحيد او حقيقي دينداري همدغه دينداري او توحيد دی.

مګر همدغه خلک د کښتۍ له خلاصون او له طوفان څخه تر خلاصيدو وروسته بيرته مشرکين کيږي او هغه حقيقي توحيد هيره وي.

قرانی توحيد هغه توحيد دی چې انسان همغسي پاته سي څنګه چې په هغه سختو شيبوکي وو کوم چې د اميد سترګې يې يوازې دخدای جل جلاله پرلور کړې وې.

## ٦: د واسطه پلټنی په اړخ کې:

که چيري موږ د قران عظيم الشان هغه اياتونو ته چې د مشرکينو قريشوپه اړه نازل سوي دي په پوره پاملرنه سره وګورو نو په اساني سره درکوو چې د قريشو نظريې شرکي نظريې بلل سوي دي، هغوی خپل بتونوته دخدای جل جلاله په څېر سجده نه کول بلکي ويل يې چې دا زموږ و خدای جل جلاله ته دنږدې کولو لپاره يو وسيله ده او دا و خدای جل جلاله ته د نږدې کسانو سمبولونه او نښې نښانې دي، د دوی په توسل موږ خدای جل جلاله ته نږدې کيږو او خدای جل جلاله زموږ دعاوي او زاری قبلوي.

Download from: www.aghalibrary.com

قريشو د خپلو لرغونو کسانو ۳٦٠ بتونه چي دوی هغوی ښه سړي او د خدای جل جلاله په دربارکي قبول سوي کسان بلل جوړ کړي وه او په بيت الله شريفه کي يې درولي وه او په دې باور وه چي خپل عبادت د دغو بتانو په وړاندي ترسره کړي چي هغوی يې بيا خدای جل جلاله ته وړاندي کړي او هغوی يې د خدای جل جلاله د کور سړي بلل او هر يويې د بيلو بيلو چارو سمبالونکي بلل.

د قران عظيم الشان له نظره د هغوی دا چاري شرک دی او دې ته ورته هره کړنه شرک دی.

## ۷- د ميني توحيد:

ځيني کسان ادعا کوي چي هغوی هم له خدای جل جلاله سره مينه لري او هم د خدای جل جلاله له دښمنانو سره د زړه له تله مينه لري، چي دا خبره په بشپړه توگه غلطه ده، يو انسان بايد د خدای جل جلاله مينه په زړه کي ولري او يا هم د خدای جل جلاله دښمنانو . قران عظيم الشان دا دوې ډلي داسي ډل بندي کړي دي. (ومن الناس من يتخذمن دون الله اندادا يحبونهم کحب الله والذين آمنوا واشدحبا لله) ځيني کسان د خدای جل جلاله سره شريک نيسي او له يوبل چا سره هم دونه مينه کوي لکه د خدای جل جلاله سره، مگر هغه کسان چي د بشپړ ايمان خاوندان دي، له خدای جل جلاله سره ډيره ژوره مينه او محبت لري.

Download from: www.aghalibrary.com

په دې ایت شریف کي هغه کسان چي د خدای جل جلاله سره شریکان نیسي او دونه مینه ورسره کوي لکه له خدای جل جلاله سره چي یې کوي بې ایمانه بلل سوي دي، مګرمؤمنان په خپلو زړونو کي له خدای جل جلاله سره ژوره مینه لري چي د همدغي میني پر اساس په خپل زړه کي بل چاته دونه ځای نه ورکوي څونه چي خدای جل جلاله ته ورکوي.

سوال : څنګه زباته ولای سو چي موږ له خدای جل جلاله سره مینه لرو، او کوم کار باید وکړو چي خدای جل جلاله زموږ سره مینه وکړي؟

ځواب : خدای جل جلاله خپل پیغمبرصلی الله علیه و سلم ته فرمایي (قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله) وه وایه! کله چي تاسو د خدای جل جلاله سره مینه لری نو زما پیروي وکړی، ترڅو خدای جل جلاله ستاسو سره مینه وکړي.

نو له دې ځایه څخه ویلاسو چي موږ د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په پیروي باندي د خدای جل جلاله مینه لاس ته راوړلای سو، ځکه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم لاره دیووالي او توحید لاره ده او هغه یوې داسي لاري ته موږ لارښود کوي چي یوازي یو خدای جل جلاله پکښې دی، د خدای جل جلاله مینه پکښې ده، او یوه داسي لاره ده چي پیل او پای یې پریووالي (توحید) باندي ولاړ دی.

هرکله چي موږ دغه لاره تعقیب کړه نو د خدای جل جلاله امرونوته مو غاړه ایښې ده او دا هغه لاره ده چي خدای جل جلاله ته موږ نږدې کوي او د خدای جل جلاله مینه راسره پیدا کیږي.

سوال : کله چي موږ د خدای جل جلاله له دوستانو سره مینه ولرو دا د خدای جل جلاله په مینه کي تاثیر لري؟

Download from: www.aghalibrary.com

ځواب : د خدای جل جلاله مینه زموږ څخه دا تمه لري چي موږ د خدای جل جلاله له دوستانو سره مینه وکړو.

مګر دا مینه په هغه اندازه چي د یوه بنده لپاره ښايي، هغه څه چي په خدای جل جلاله پوري اړه لري، لکه عبادت، مرسته، بخښنه او نوري ټولي چاري یوازي د خدای جل جلاله په وړاندي ترسره سي، او هرهغه څوک چي موحد( دیوه خدای جل جلاله عبادت کونکی)وي له هغه سره هم باید مینه ولرو.

سوال : د خدای جل جلاله ددوستانو سره افراطي مینه کومه بده پایله او تاوان لري؟

ځواب : افراط تر اندازې زیاتېدو ته وايي، او افراطي مینه دلار ورکی سبب ګرځي، مسیحیان له دې کبله د حضرت عیسی (ع) عبادت کوي چي له هغه سره ډېره مینه لري (افراطي مینه) او هغه یې د بندګی له مقامه څخه ایستلی دی، له هغه څخه مرسته غواړي، د هغه انځورونه یې په خپلو عبادت ځایونو کي ځړولي دي، او لنډه دا چي په دې بهانه چي هغه د خدای جل جلاله دوست دی د هغه عبادت کوي، او پایله دا را و وته چي هغه ته د خدای جل جلاله زوی وايي او د خپل مذهب نوم یې چي د خدای جل جلاله له لوري وو په عیسوي دین بدل کړی، او ځانونه یي مسیحیان وبلل.

د اسلام دین د خدای جل جلاله دین دی، او حضرت محمدصلی الله علیه و سلم د خدای جل جلاله بنده دی او موږ هر وخت په کلمه کي تکرار وو چي (اشهدان محمدا عبده ورسوله) شاهدي ورکوو چي حضرت محمدصلی الله علیه و سلم د خدای جل جلاله بنده او رسول دی.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۸- د ژمن پاته کېدو په اړخ کي:

مؤمن انسان د خدای جل جلاله په وړاندي د توحیدي غوښتنو په منلوکي ژمنه کوي، د لا اله الا الله د ژمني په کولو سره ټول پیدا سوي (مخلوقات) نفي کرځوي، او عبادت خدای جل جلاله ته ځانګړي کوي او په هر لمانځه کي د (ایاک نعبدو او ایاک نستعین) ژمنه ترسره کوي نو لازمه ده چي یو مؤمن پر همدې ژمنه کلک پاته سي او د ژوند په چاروکي دغه ژمنه هیره نکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

# څلورم څپرکی

## پټ او پټ پیژندنه په اسلامي عقیده کي
## (غیب او غیب پیژندنه په اسلامي عقیده کي)

په دې څپرکي کي به لاندي موضوعات تر څېړني لاندي ونیسو

۱- فرښتې په پټو (غیبو) نه دي خبري
۲- پیغمبران په پټو (غیبو) نه وه خبر
۳- پیریان په پټو ( غیبو) نه دي خبر
۴- ټول پیدا سوي (مخلوقات) په پټو( غیبو) نه دي خبر

Download from: www.aghalibrary.com

## د پټ (غايب) او ښکاره (غيب) ترمنځ توپير

په عقيدتي (باوري) مسايلوکي بايد لومړی پټي وپېژندل سي او وروسته يې له پټ سره توپير ښکاره او هم و پېژندل سي.

پټ هغه څه ته وايي چي زموږ په وړاندي نه وي موجود، مثلاً احمد اوخالد د عبدالله په اړه سره ګړيږي، عبدالله د هغوئ په دې ناسته کي نسته دلته عبدالله ته پټ (غايب) ويل کيږي، ډيري داسي کړني سته چي پټي نه دي بلکي زموږ له ستر ګو څخه پټي دي، مثلاً همدا اوس په ښارکي څه تيريږي موږ نه يو خبر ځکه زموږ له ستر ګو پټي دي او موږ په ټولګی کي يو ولي موږ هغه نه وينو دليدو توان هم لرو او حواس مو هم کار کوي؟

لامل يې دا دئ چي زموږ او د هغو ترمنځ ديوالونه او دليد د مخنيوي وړ شيان سته چي موږ هغه نه وينو، مګر که يوڅوک موږ ته له ښاره څخه تليفون وکړي او په ښارکي د تېريدونکو پيښو په اړه موږ ته خبر راکړي موږ د هغه سره دا خبري منو او ځيني وختونه بيا داسي پيښيږي چي زموږ په وړاندي يو شی وي مګر موږ يې نه وينو دې ته هم پټي نه ويل کيږي لکه مکروبونه، ويروسونه او نور ورته شيان داشيانو ته ځکه پټ نه سو ويلائ ځکه چي دوئ پټ نه دي بلکي زموږ د ستر ګو ليد د دې توانايي نه لري چي هغه ووينې مګر که چيري هغه ترمايکرسکوپ لاندي کښېښوول سي نو هغه په ډيري اسانی سره ليدل کيږي.

پټ اصلاً هغه څه ته وايي چي له ستر ګو څخه پټ وي، مثلاً زما

Download from: www.aghalibrary.com

څخه یو شی زما له سترګو پټ دی مګر تاته ښکاره دی، تاسو په خپل کورکي په خپل ورور خبریاست چي ناست دی او لیک لیکي مګر زه په دې نه یم خبر دا یوه پټه چاره نه ده بلکي زما له سترګو پټ یو کار دی.

## هغه شیان چي پټ دي مګر انسان کولائ سي هغه درک کړي:

ډیر داسي شیان سته ډېر کوچني دي چي انسان هغه په سترګو نه ویني مګر کولائ سي د ذره لید په واسطه هغه وویني دا د انسان د سترګو ناتواني ده.

لیري شیان سته چي انسان نه سي کولای هغه په سمه توګه وویني مګر کولای سي چي د لرلید په واسطه یې په ډېره ښه توګه وویني.

ډېر شیان سته چي د بوئ د حس په توانایي موږ هغه پېژنو مثلاً په ډیرو تلاښي ځایونو کي د مخدره توکو د نیولو لپاره ځانګړي سپي ساتل سوي وي چي د بوئ کولو د حس په توانایي سره په موټرونو کي دننه د مخدره توکو ځایونه پیدا کوي.

ډیر داسي شیان سته چي د دیوالونو شاته پټ دي یعني دیوالونو یې مخه بنده کړې ده مګر کله چي موږ تر دیواله تېرېږو هغه وینو.

نو دا چاري پټې نه بلکي انسانان نسي کولائ هغه وویني. زه نه پوهېږم چي تېره شپه لس بجې تا څه کول مګر هر څوک چي ستا سره وو په هرڅه خبر دئ که چیري هغه ماته ستاد تیري شپې کیسه وکړي، هغه له پټو څخه څه نه دي ویلي، بلکي هغه هغه څه چي لیدلي

Download from: www.aghalibrary.com

يې دي راته بيان کړي دي.

په دې خبري ځان پوهول خورا مهمه مسئله ده چي ځينو شيطان صفتو انسانانو له پيريانو سره اړيکي پيدا کړي دي او زموږ د تير ژوند د ځينو پيښو په اړه موږ ته معلومات راکوي.

له هر انسان سره يو پيرى (شيطان) سته چي زموږ په ټولو کړنو چي موږ يې تر سره کوو دي خبردى، ځکه هغه په هرځاى کي زموږ سره چي دغه پيښي به کيدلې ملګرى وو.

ډېر کسان چي د پټ او پټو ترمنځ توپير نه پېژني فکر کوي چي د پټو نړۍ ورمالومه ده اوکله چي څوک پوښتنه ځني وکړي او دئ يې په اړه پټي ورته و وايي او له ځانه سره فکر کوي چي له پټو خبر دى ځان په دې فکر سره کافر کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

# پټې څه شي او پر څو ډوله دي؟

له پټو څخه په اسلامي عقيده کي هغه چاري عبارت دي چي انسان نسي کولای هغه په خپلو حواسو او ذهن باندي درک کړي مګر د هغه منلوته د وحيو له کبله غاړه ايږدي.

س : موږ پر کومو پټو چارو ايمان لرو؟

جواب : موږ پر دوه ډوله پټو چارو ايمان لرو:

لومړی ډول : هغه پټې چاري چي زموږ له سترګو پټې دي مګر نور پيدا سوي (مخلوقات) هغه درکوي، مثلاً موږ ملاييکي نه وينو، مګر د هغوی پرستون باور لرو مګر ملاييکه خپله يوبل سره ويني، موږ پېريان نه وينو مګر د قراني ايتونو په رڼا کي د هغوی پرستون باور لرو، مګر ملاييکي چي خپله هم پيدا سوي (مخلوق) دي پېريان ويني، موږ د قبر پر عذاب باندي باور لرو مګر هغه نه حسوو، مګر ملاييکه چي د دغه عذاب ورکولو دنده لري دا عذابونه ويني او حتیٰ ځيني حيوانات هم هغه حسوي، دوږخ او جنت موږ نه وينو مګر په پټو مو پرهغو ايمان راوړئ دئ مګر ملاييکه وو دوږخ او جنت ليدلي دي.دا هغه پټې چاري دي چي د انسانانو له سترګو پټې دي مګر ملاييکوته ښکاره دي او دا چي په قران عظيم الشان کي د هغوئ د ستون په اړه موږ ته ويل سوي دي نو موږ د هغو پرستون ايمان او باور لرو.

Download from: www.aghalibrary.com

دوهم ډول: هغه غیبي چاري چي یوازي الله جل جلاله په هغه خبر دئ او هیڅ پیدا سوئ (مخلوق) د هغه په اړه معلومات نه لري، حتی ملاییکي، پیغمبران، پېریان، انسانان، حیوانان او ...

که چیری موږ قران عظیم الشان په پوره پاملرنه سره ولولو نو په قراني پاڼوکي به ډېر داسي ایاتونو ووینو چي خدای جل جلاله په هغو کي ویلي دي چي پټي چاري ټولي یوازي ماته ښکاره دي.(إِنَّ ٱللَّهَ عَـٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ).(فاطر : ۳۸) اللهجل جلاله د مځکي او اسمانونو په پټو خبر دئ څنګه چي خدائجل جلاله له هغه څه خبر دئ چي د زړونو دننه دي په یوه بل آیت مبارک کي د ټولو پټو چارو راز د خدای جل جلاله سره ښودل سوئ دئ. ( وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ ) (انعام – ۵۹) د پټو خزانې یا د پټو کیلۍ ټولي د خدایجل جلاله سره دي او له هغه څخه پر ته په هغه باندي بل څوک نه پوهیږي هغه څخه چي په وچه او لنده کي دي خدایجل جلاله په هغه باندي خبر دئ.

په عربي ژبه کې الا د حصر توري ته وایي کله چي دغه توری له نفي وروسته وکارول سي نومخکني ټوله شیان نفي کیږي او دا د هغه کس مخصوص ګرځي چي له الا وروسته راځي.

(و عنده مفاتیح الغیب لایعلمها الاهو) په ټولو پټو رازونو له الله جل جلاله څخه پر ته بل څوک نه پوهیږي. ( النمل – ٦٥)

Download from: www.aghalibrary.com

**هغه دليلونه چي دا ثابته وي، ټول پيدا سوي شيان په پټونه پوهيږي.**

۱- پردې دليل چي فرښتې په پټونه پوهيږي :
قران عظيم الشان موږ ته د حضرت ادم (ع) په پيدايښت کي بيانه وي چي ملاييکه په پټونه وې خبري، ځکه هغوئ په خپله ژبه اقرار کوئ چي موږ له پټو نه يوخبري يوازي خداى جل جلاله په ټولو پټو چارو پوه او خبر دئ.
در ياد کړه کله چي ستا پيدا کوونکي فرښتوته وويل چي زه په ځمکه کي خپل ځاى ناستئ ټاکم، فرښتو وويل آيا په ځمکه کي داسي څوک پيدا کوې چي فساد کوي او وينې تويه وي؟! د داسي حال کي چي موږ ستا عبادت کوو، تسبيح او حمد دي وايو.
و يې فرمايل : په هغو شيانو چي زه پوهيږم تاسونه پوهيږئ.
وروسته يې ملاييکو ته وويل که چيري تاسو رښتيا واياست نو د هغو شيانو چي تاسويې وينئ نومونه واخلئ او تشريح يې کړئ.
هغو وويل پاکي دي وي تالره، پرته له دې چي تا راښوولي دي موږ په بل څه نه پوهيږو. ته خپله پوه او خبريې، نو بيا يې و فرمايل:
اې ادمه (ع) فرښتې له دغو نومونو او ددغو نمونو له رازونو څخه خبري کړي کله چي ادم (ع) هغوئ له دې نومونو څخه خبري کړې، نو خداى جل جلاله وفرمايل تاسو ته مي نه ويل چي زه د ځمکي او اسمانو له پټو څخه خبريم او هغه څه چي تاسو په پټه يا په ښکاره توګه ترسره کوئ زه په خبره يم.

Download from: www.aghalibrary.com

په دې ايات شريف کې په ښکاره توګه په ډاګه سوي دي چي په هغه څه چي خدای جل جلاله د ادم (ع) په پيدايښت کي خبروو ملاييکي په هغه نه وې خبري، هغه نومونه چي ادم (ع) ته يې ورښوولي وه ملاييکي په هغه نه وې خبري، نو دلته وو چي خدای جل جلاله ملاييکوته وويل چي زه د ځمکو او اسمانو په پټو خبريم او هغه څه چي تاسو پټ او يا ښکاره کوئ ماته معلوم دي.

له دې ايت څخه په ښکاره توګه معلوميږي چي ملاييکي په پټو نه دي خبري، هغوئ نه وې خبري چي ادم (ع) د داسي صفتو څښتن دئ، چي هغه يې د پيدا سو تر ټولو غوره (اشرف المخلوقات) ګرځولئ دئ، هغوئ د هغو شيانو په نومونونه پوهيدلې چي خدای جل جلاله ادم (ع) ته ورښوولي وه، که چيري فرښتې په پټو خبري واي، نو هغه نومونه چي ادم (ع) ته ورښودل سوي و دوئ به هم په خبري واي نو دلته دئ چي خدايجل جلالههغوئ ته وروښودله چي د ځمکي او اسمانو پټې چاري يوازی په الله جل جلاله پوري اړه لري.

مګر فرښتوته يې ځيني چاري چي د هغو دندي دي او زموږ له ستر ګو څخه پټې دي ورښوولي دي، مثلاً موږ نه پوهيږو چي موږ کله مرو، په کوم ځای کي مرو او په څنګه حال کي مرو، مګر خدای جل جلاله حضرت عزراييل (ع) ته دا چاره ورښودلې ده، ترڅو هغه د هرچا روح پر ټاکل وخت او ټاکلي ځای چي خدای جل جلاله ورته ښودلئ دئ واخلي په دغي چاري پوهيدل دا مانا نه لري چي فرښتې له پټو څخه خبري دي، بلکي خدای جل جلاله ځيني چاري د هغو د دندو له مخي هغوئ ته ورښودلي دي، کنې فرښتې هم لکه انسانان دپټو چارو څخه ناخبري دي، ځکه که چيري هغوئ په پټو خبري واي نو د حضرت ادم (ع) په اړه به په شک کي نه لويدلای.

Download from: www.aghalibrary.com

۲- پردې دليل چي پيغمبران په پټو نه وه خبر:

كه څه هم د ټولو پټو څخه يوازي د خداى جل جلاله د خبرتيا لپاره همدا يو ايت بس دى چي وايي . (و عنده مفاتيح الغيب لايعلمها الاهو) په ټولو پټو رازونو له الله جل جلاله څخه پرته بل څوک نه پوهيږي.( النمل – ٦٥) مګر دا چي د پټو موضوع يوه الهي چاره ده او پيغمبران د يوه بشر په څېر نه سي کولائ چي د خداى جل جلاله په ځانګړو چارو خبر و اوسي، نو په وارو وارو بيا بيا دې موضوع ته اشاره سوې ده چي په يو بل مبارک ايت کي فرمايي : ﴿ يَوۡمَ يَجۡمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبۡتُمۡۖ قَالُواْ لَا عِلۡمَ لَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴾(المائده – ۱۰۹)هغه ورځ چي خدايجل جلاله خپل رسولان او پيغمبران راټوله وي نو د هغو څخه د خپلو دندو او وظيفو په اړه پوښتنه کوي چي خلکو ستاسو د بلني په جواب کي څه وويل.

نو هغوئ ورته وايي:

خدايهجل جلاله! ته ښه پوهېږې موږ علم او پوهه نه لرو،ته په ټولو ښکاره او پټو خبر يې.

هغه قراني اياتونه چي د پيغمبر صلى الله عليه و سلم له پټو څخه دبې خبرى دلايل وړاندي کوي:

حضرت محمد صلى الله عليه و سلم که څه هم چي د خداى جل جلاله له نازولو څخه وو، مګر په قران عظيم الشان کي راغلي دي چي

Download from: www.aghalibrary.com

هغه هم له پټو څخه نه وو خبر، خدای جل جلاله حضرت محمد صلی الله علیه و سلمته د بي بي مریمي په کیسه کي فرمايي:

(ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۚ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يُلۡقُونَ أَقۡلَٰمَهُمۡ أَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ مَرۡيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ)( ال عمران- ۴۴)او بیا خدایجل جلاله حضرت محمدصلی الله علیه و سلم ته امر کوي چي مومنانو ته و وایه چي د هغوئ حضرت(محمدصلی الله علیه و سلم په پټو نه دئ خبر:

(قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ)(الانعام_۵۰)و وایه چي زه نه وایم د خدایجل جلاله خزانې زما سره دي او زه په غیبو نه یم خبر او نه وایم چي زما سره فرښته ده زه یوازي له هغه څه څخه چي ما ته وحي کیږي پیروي کوم.

په یو بل مبارک ایت کي خدای جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه و سلم ته امر کوي.چي دوئ ته و وایه چي زه هیڅا ته ګټه او تاوان نه سم رسولائ او په همدې توګه له پټو څخه نه یم خبر او که چیري زه له پټو خبر وائ نو د پټو په اړه به مي تاسو ډیري خبري کړي وائ او ډیري پټې به مي تاسو ته تشریح کړي وائ.قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا

Download from: www.aghalibrary.com

ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ )( الاعراف – ۱۸۸)اې پیغمبره و وایه !زه خپل ځان ته خیر او شر نه سم رسولای،مګر هغه څه چي خدایجل جلاله و غواړي که چیري زه له پټو خبر وای نو ځان ته به مي ډېر زیات خیر رسولئ وای او ماته به هیڅ تاون او ضرر نه رسېدلای زه یوازي مسلمانانو ته زیرئ ورکونکی او د هغو بېرونکئ یم.

په یوه حدیث شریف کي راځي چي حضرت عمر بن الخطاب (رض) روایت کړئ دئ وایي یوه ورځ جبراییل (ع) د یوه سړي په شکل حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ته راغئ او له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و سلم څخه یې څوسوالونه وکړه چي داسي وه: اخبرنی عن الساعة (ماته ووایه چي قیامت څه وخت دئ؟)

پیغمبر صلی الله علیه و سلم جواب ورکړ :

اما المسئول عنها باعلم من السائل (څوک چي سوال کوي ترجواب کوونکي ښه خبر دئ).

وروسته له هغه چي دا سړی ولاړئ رسول اکرم صلی الله علیه و سلم له صحابوو څخه وپوښتل دا سړی مو وپیژندئ؟

صحابو وویل نه، حضرت محمد صلی الله علیه و سلم وفرماییل چي دا جبراییل (ع) وواغلی وو چي تاسو ته مو دین درزده کړي.

په دې حدیث شریف کي جبراییل (ع) د ایمان اسلام احسان، او د اخیرت د ورځي په اړه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم څخه

Download from: www.aghalibrary.com

پوښتني وکړي، هغه څه چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم زده وه هغه يې ورته وويل او په څه چي نه پوهېدئ و يې ويل نه يم خبر، نو بناً دا حديث شريف دا په ډاگه کوي چي حضرت محمد صلی الله علیه و سلم له پټو څخه نه وو خبر.

په دې اړه چي پیغمبران له پټو نه دي خبر ديوه ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ خبروته ستاسو پام را اړه وم.

زده کوونکی : ايا پیغمبران له پټو خبر نه وه؟

ښوونکی : نه.

زده کوونکی : مگر پیغمبرانو د ډیرو پټو چارو په اړه معلومات ورکړي.

ښوونکی : د جبراییل (ع) په واسطه د پټوڅخه خبر ورکول پټ نه دي د مسلمانانو په نظر د پټو پیژندل د خبر له ورکولو سره توپير لري.

زده کوونکی : دا موضوع ماته یوڅه گونگه ده یوڅه يې راته تشريح کړه.

ښوونکی : کله چي يو پیغمبر تاسوته د قيامت د حالتو په اړه چي پټ دي معلومات درکړي اوس تاسو له پټو خبریاست؟

زده کوونکی: نه داسي نه ده ځکه دا پټي نه دي بلکي زه د يوه پیغمبر له خولې د قيامت له حالتو څخه خبر سوئ يم.

ښوونکی : پیغمبران هم له پټو نه وه خبر بلکي هغوئ ته د خدای جل جلاله له پلوه د جبراییل په واسطه وحي راتلي چي د هغو په رڼا کي خپلي دندي ترسره کړي.

زده کوونکی : نو ټول پیغمبران له غيبو څخه نه وه خبر؟

ښوونکی: وو کې.

زده کوونکی : څه دليل لرې چي پیغمبران په پټونه وه خبر؟

Download from: www.aghalibrary.com

ښوونکی : د یوه مسلمان لپاره دلیل قران کریم دی او په قران کریم ټولو پیغمبرانو او زموږ خپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په دې اعتراف کړی دی چي په پټونه دي خبر او خدای جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه و سلم ته ویلي دي چي خلګوته ووایه زه له پټو خبر نه یم او په پټو یوازي خدای جل جلاله خبر دئ ( عالم الغیب و الشهادت ) .

زده کوونکی: د پیغمبرانو د ژوند په اړه یو ژوندی مثال غواړم چي اطمینان مي حاصل سي.

ښوونکی: آیا حضرت محمد صلی الله علیه و سلم له دې څخه خبر وو چي مشرکین څو ورځي وروسته غواړي چي هغه په خپل کورکي ووژني؟

زده کوونکی : نه پوهېږم.

ښوونکی : که هغه خبر وای نو یوه شپه مخکي به تښتېدلی وائ.

زده کوونکی : سمه ده .

ښوونکی : آیا آدم (ع) په دې خبر وو چي شیطان هغه ته بازي ورکوي؟

زده کوونکی:نه وو خبر

ښوونکی : ته خپله وایې چي پیغمبران له پټو خبر دي مګر دلته بیا وایې چي ادم (ع) له دې څخه نه وو خبر چي شیطان یې تیرباسي.

زده کوونکی : له دې قراني کیسې څخه په رښتیا دا څرګندیږي چي ادم (ع) له پټونه وو خبر کنې د شیطان بازی به یې نه خوړلائ.

ښوونکی : آیا ادم (ع) خبر وو چي زوی یې غرقیږي؟

زده کوونکی: که چیري هغه خبر وائ نو ولي یې خدای جل جلاله ته دعا کوله چي هغه وژغوري.

Download from: www.aghalibrary.com

ښوونکی: نو بناً نوح (ع) په پټو نه وو خبر.

زده کوونکی: ابراهیم (ع) چې د پیغمبرانو پلار دی ښایي چې په پټو به خبر وو.

ښوونکی: د ابراهیم (ع) په کیسه خبر یې؟

زده کوونکی: کومه کیسه یې.

ښوونکی: د شپږ ویشتمې سپارې په پای کې راغلي دي چې څو تنه ملاییکې د انسانانو په شکل و ابراهیم (ع) ته میلمنې راغلې ،ابراهیم (ع) ژر ولاړی او د هغوئ لپاره یې خوسکی (گوساله) حلال کړئ او ډوډی یې ورته جوړه کړه.

زده کوونکی: آیا ابراهیم (ع) نه خبر وو چې دا ملاییکی دي؟

ښوونکی: که چیری هغه پوهیدلائ نو خوسی به یې ولي ورته حلاله وئ او هغوئ ته به یې ډوډۍ ولي جوړوله.

زده کوونکی: ددې څخه خو ښکاره کیږي چې هغه نه پوهیدئ چې دا ملاییکي دي.

ښوونکی: ملایکو ډوډۍ نه خوړه ابراهیم (ع) ډیر وارخطا سو او له هغوئ څخه یې پوښتنه وکړه چې ولي ډوډۍ نه خورئ ملاییکو ورته وویل موږ د خدای جل جلاله فرښتې یو راغلي یوچې تاته زیری درکړو چې خدای جل جلاله تا د یوه پوه زوی پلار کوي.

زده کوونکی: له دې قراني کیسې څخه خو سل په سلو کې دا څرگندیږي چې ابراهیم (ع) له پټو څخه نه وو خبر.

ښوونکی: که بیا هم فکر کوې چې یو پیغمبر له پټو خبر دی قران عظیم الشان پرانیزه او نوم یې په قران عظیم الشان کې پیدا کړه او کیسه یې وگوره چې پوه سې هیڅ پیغمبر له پټونه دی خبر.

زده کوونکی: بناً پټې یوازې د خدای جل جلاله ځانگړئ کار دئ.

Download from: www.aghalibrary.com

ښوونکی: ووکې له پټو څخه خبرتیا یوازي د خدای جل جلاله صفت دئ، هيڅ پيغمبر هيڅ ملايکه او هيڅوک له پټو څخه نه دي خبر.

د پيغمبرانو لپاره يو ځانګړنه:

د پورتنيو څېړنو په نظرکي نيولو سره پټي چاري هغه پديده ده چي يوازي او يوازي په الله جل جلاله پوری اړه لري او بل هيڅوک ملاييکي، پيغمبران، پيريان او نور مخلوقات هغه ته لاس رسی نه لري.
مګر ځيني پټي چاري سته چي پيغمبران د خدای جل جلاله له لوري د وحي په واسطه د هغو څخه د خپلو دندو د ښه ترا تر سره کولو لپاره خبر کړل سوي دي چي په هغو د خدای جل جلاله دوحدانيت او د اسلام د مقدس دين د لوړتيا لپاره کوښښ وکړي او دا د هغو له معجزو څخه شمېرل کيږي. خدای جل جلاله د ځان په اړه وايي

(عَـٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦ إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا)(الجن – ٢٦ – ٢٧)

خدای(ح) له پټو خبر دئ او د هغه په پټو هيڅوک نه دي خبر مګر ځني پيغمبران چي هغه و غواړي.
حضرت امام قرطبی (رح) وايي: پيغمبران په معجزو باندي تاييد کيږی، چي هغه دځينو پټو چارو ښکاره کول دي چي هر څوک نه په پوهيږي او په يوبل ځای کي بيا وايي:
اسلامي پوهان وايي چي خدای جل جلاله له پټو څخه په خبر ذات

Download from: www.aghalibrary.com

باندی تعریفیږي، دا ځکه چي له هغه څخه پرته په دې پټو چارو بل څوک نه دي خبر مګر ځینو خاصو خلګوته یې چي دده له لوري رالیږل سوي دي او پیغمبران یې بولي د جبراییل امین په واسطه له ځینو پټو رازونو څخه خبر ورکړئ دئ ترڅو د خدای جل جلاله د حقانیت او خپلي پیغمبرئ د زبات لپاره یې وکاروي.

۳- پردې دلیل چي پیریان په پټو نه دي خبر:

ځیني مشرکین په دې عقیده دي چي پیریان له پټو خبر دي، مګر په قران عظیم الشان کي د سلیمان (ع) په کیسه کي د دوو پیریانو جنها او عفریت د نومونو یادونه راغلې ده چي له سلیمان (ع) سره یې جبراً کار کوئ، له هیڅ ډول پټو څخه نه وه خبر.

دحضرت سلیمان (ع) کیسه داسي ده چي د خدای جل جلاله په امر له هغه سره یوې ډلي پیریانو کار کوب (ومن الجن من یعمل بین یدیه باذن ربه)

کله چي به د هغوئ څخه کوم یوه زموږ له فرمان څخه سرغړونه کول نو موږ به هغه په سوځونکي اور سوځئ (و من یزغ منهم عن امر ناانذقه من عذاب السعیر)

کله چي مو د سلیمان (ع) د مرګ پریکړه وکړه نو د هغه په مرګ هیڅوک نسول خبر ترڅو وینوو د هغه لکړه وخوړه او کله چي دهغه لاښ پرمځکه راوغورځیدئ، نو پیریان پوه سول ،که چیري هغوئ په پټو خبر وائ نو دونه وخت به په دې بند کي نه پاته کېدل.

(فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ

Download from: www.aghalibrary.com

ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ (سبا-١۴)

له دې کیسې څخه په واضحه توګه معلومیږي چي پیریان له پټونه وه خبر.

۴- پردې باندي دلیل چي ټول پیدا سوي له پټونه دي خبر:

په مخکنیو پاڼوکي مو ولوستل چي ملاییکي، پیغمبران او پیریان له پټونه دي خبر مګر ځینوته یې د هغو د دندو له کبله د ځینو پټو په اړه معلومات او خبر ورکول سوئ دئ. په همدې اساس نور ټول پیدا سوي هم له پټو نه دي خبر داچي د پیغمبرانو مقام ډیر لوړ دئ نو له دې کبله هغوئ ته د ځینو پټو په اړه ځکه معلومات ورکول سوي وه چي د خپلو معجزو په توګه یې وکاروي، مګر دا چي ټول انسانان داسي دنده نه لري اوټول مجبور دي چي د الٰهي وحیو په نظرکي نیولو سره پر قرآن عظیم الشان ایمان راوړي او د قراني معجزو څخه ګټه واخلي، نو په دې اساس له پیغمبر صلی الله علیه و سلم څخه وروسته بل هیڅوک له پټو څخه نه دي خبر، خدای جل جلاله دي وکي چي هغه صحابي وي، تابعي وي او یا کوم بل لوړ شخصیت وي.

۵: فال کتونکي چي د پټو دلیدو دعوه کوي کافران دي:

دا چي پټي لیدل خدای جل جلاله ځانګړې چاره ده نو کله چي فال کتونکي، کوډګران او جادوګران د پټودلید دعوه کوي د قراني آیتونو په رڼا کي هغوئ کافران دي او هغه کسان چي دغه کسانو

Download from: www.aghalibrary.com

(جادوګرانو، فال کتونکو او کوډګرانو) ته په دې موخه ورځي چي هغوئ پټې ويني او باور پر کوي درې حکمونه لري:

لومړی حکم:

څلويښت ورځي د لمانځه نه قبلېدل: کله چي يوڅوک فال کتونکي يا جادوګر ته ورسي او له هغه څخه د پټو چارو په اړه پوښتنه وکړي مګر پرخبرو يې باور ونکړي او هغه دروغجن وبولي فقط د همدې تګ په خاطرې څلويښت ورځي لمونځ نه قبليږي. حضرت صفيه (رض) د حضرت پيغمبر صلی الله عليه و سلم د ځينو مېرمنو څخه روايت کوي چي حضرت محمد صلی الله عليه و سلم وفرماييل: هرڅوک چي فال کتونکي يا جادوګر ته ولاړ سي او له هغه څخه يوڅه وپوښتي څلويښت ورځي يې لمونځ نه قبليږي.

۲- کافر کېدل:

کله چي کوم څوک فال کتونکي ته ولاړ سي او له هغه څخه د پټو په اړه يوڅه وپوښتي او باور په وکړي نو پر قران شريف هغه کافر سو، حضرت ابي هريره (رض) او حضرت حسن بن علي (رض) ويلي چي حضرت پيغمبر صلی الله عليه و سلم وويل: هر هغه څوک چي فال کتونکي او جادوګر ته ورسي يوڅه ځني وپوښتي او باور پر وکړي نو پرهغه څه چي پر محمدصلی الله عليه و سلم نازل سوئ دئ کافر سو. ځکه په دې کار يې پيدا سوي هم د پيدا کوونکي په چارو کي ورګډ کړل خدای جل جلاله فرمايي: (قل لايعلم من فی السماوات ولارض الغيب الا الله) (النمل – ٦٥)

Download from: www.aghalibrary.com

٣: د جادوګرانو درازونو د ښکاره کولو لپاره پوښتنه:
کله چي يوڅوک يو فال کتونکي ياجادوګرته ورسي او له هغه څخه له دې کبله پوښتنه وکړي چي درواغ يې خلګوته په زبات ورسوي دا کار جايز او روا دی.

دجادوګرانو اوفال کتونکو اړيکي له شيطانانو سره:
شيطانان چي د کفارو پېريانو له ډلي څخه دي د انسانانو د لار ورکئ لپاره د فال کتونکو او جادوګرانو سره اړيکي ساتي د بي بي عاييشې (رض) څخه روايت دئ چي حضرت محمدصلی الله عليه و سلم وويل: ملاييکي دوريځو په منځ کي د مځکو د ځينو چارو په اړه سره بږغيږي، دا خبري شيطانان اوري او و فال کتونکو او جادوګرانوته يې رانقلوي او فال کتونکي اوجادوګران بيا له هغه سره سل نور درواغ ګډوي.
دا حديث شريف لاندني ټکي موږ ته را په ګوته کوي:

١- شيطانانو (جادوګران د خلکو د بې لاري کولو لپاره په يوريښتني غلا سوي موضوع سل نور درواغونه تړي.
۴- شيطانان دا کارونه ځکه کوي کله چي د هغه فال کتونکي او يا جادوګر يوه خبره رښتيا سي نو بيا انسانان د فال کتونکو نوري ټولي خبري منی او د کمزوري باور او د رسول الله صلی الله عليه و سلم دلارښوونو څخه باخبره انسانان دلاري څخه بې لاري کوي.
۵- لازمه نه ده چي د فال کتونکو او جادوګرانوپر خبرو باور وکړو.
٦- له جادوګرانو او فال کتونکو سره اړيکي له شيطانانو سره اړيکي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

۷- د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم امت باید د فال کتونکو پر خرافات باور ونکړي.

۸- جادوګران او فال کتونکي په خپلو درواغو په زور دځینو خلکو نښې او نښانې وایي او د هغو په زړونو کي د هغو خلګو په اړه شک او تردید اچوي او د هغه سړي سره دښمنی کوي، خپله شک کول حرام او ناروا کار دی، له مسلمان سره دښمنۍ ناروا ده او له مسلمان سره جنګ اودعوه هم حرام کار دی نو بیا د فال کتونکي د یوه درواغ له کبله انسان درې ناروا کارونه ترسره کوي.

د ټول عالمانو په نظر فال کتونکو او جادوګرانو ته د پیسو ورکول حرام دي ځکه دا پیسې پریوې باطله او درواغجنه لاره لګول کیږي او په باطله او ناروا لاره کي د پیسو لګول حرام کار دي، یو ریښتنۍ مسلمان باید کوښښ وکړي چي خپلي پیسې پر سمه لاره ولګوي، ځکه دا خیرت په ورځ له انسان څخه د پیسو پیدا کولو او د پیسو لګولو په اړه پوښتنه کیږدي له حضرت ابي سعید خدري (رض) څخه روایت دئ چي حضرت محمد صلی الله علیه و سلم وفرماییل :

پنځه کسه جنت ته نه داخلیږي : تل پاتی شراب څښونکئ پرجادو باورکوونکئ، د وصلهٔ رحمی پرې کوونکی، فال کتونکئ او د خیر په کار کي احسان اچونکئ.

و فال کتونکو او جادوګرانو ته دتګ تاوانونه :

هغه کسان چي فال کتونکواو یا جادوګرانوته ورځي د لاندي ګناهونو مرتکب ګرځي.

۱- انسان د پټو په اړه یو درواغ خبره ربښتیا بولي چي دا کفر دی.

۲- خپلي پیسې په باطله لاره کي لګوي.

Download from: www.aghalibrary.com

۳- یو تیر ایستونکۍ خپلي تیر ایستني ته نورهم هڅوي.

۴- تیر ایستني ته نوره لاره پرانیزي.

۵- د فال کتونکو او جادوګرو په اشاره ناځي.

٦- پر خپلو خپلوانو او دوستانو باندي بې ځایه شک کوي.

۷- بې ګناه کسان تورنوي.

۸- له بې ګناه خلګو سره، د فال کتونکو او جادوګرانو په خبرو دښمني کوي.

۹- د خدای جل جلاله له امرونه سرغړونه کوي.

۱۰- کافري تصدیقوي.

۱۱- د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم سنتونه هیروي.

۱۲- پر کفري نظریو باور کوي.

۱۳- باور او عقیده له لاسه ورکوي، په داسي حال کي چي پر هغو باور وکړي.

۱۴- د څلوېښت ورځو لمنځو ثواب له لاسه ورکوي.

۱۵- او پر خرافاتو او ناسمو شیانو باور کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

# پنځم څپرکی

## باطل خدایان (معبودان)

په دې څپرکي کې لاندې توکي ترڅېړنې لاندې نيسو

۱- جوړ سوي باطل خدایان (تکویني)
۲- شرعي باطل خدایان (تشریقي)
۳- نږدې باطل خدایان (تقریبي)
۴- شاهي باطل خدایان (طاغوتي)
۵- زیات شمېریز باطل خدایان (تعددي)
٦- واښه، حیوانان او ستوري باطل خدایان (نباتي، حیواني او نجومي)
۷- توکیز باطل خدایان (اشیاء)

Download from: www.aghalibrary.com

# باطل خدایان

په مخکنیو لوستونو کي مو ولوستل چي د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په زمان کي د پیداسو دعبادت کولو بېلا بېل ډولونو ستون درلودی دا پیدا سوي چي، ښه خلک،پیغمبران، پرښتې او د خدای جل جلاله ولیان وه چي د خدای جل جلاله بندګانو ته یې دیوه خدای جل جلاله د پېژندني لپاره ډیري هڅي او کوښښونه کړي وه او په دې لاره کي یې زیات تکلیفونه ګاللي وه او په همدې لاره کي شهیدان سوي وه، څو پیروانو یې د هغوئ سره د زیاتي میني په خاطر د هغوئ لاره پرېښوده اود هغوئ عبادت یې پیل کړئ، حضرت عیسي (ع) یې په دې ګمان چي دښمنانو مړ کړئ د بندګی شخه د خدایئ تر اندازې ورسوئ، د خپلو لرغونو خلکو پړي (مجسمې) یې جوړي کړې او یا به یې د هغو قبرونوته سجدې کولې، قرآن عظیم الشان او د حضرت نبي کریم صلی الله علیه و سلم حدیثونو ټولي هغه چاري چي یو خدای جل جلاله یې هیر کړی او د پیدا سوو عبادت کوي باطلي بللي او د هغوئ خدایان یې موږ ته را پېژندلي او حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و سلم دخپل امت د ژغورني لپاره خپلي کړنیز (فعلي) او یادیز (فکري) سنتونه پرې ایښي دي ترڅو امت یې د هغو شخه په ګټه اخیستنه له شرک او بې ایمانئ شخه ځان وژغوري.

خدای جل جلاله فرمایي موږ انسان ته دوې لاري ښه او بد( خیر او شر) دواړي ښودلي دي ( و هدیناه النجدین) ترڅو همدا انسان په خپله

Download from: www.aghalibrary.com

پوه باند پرسمه لاره ولاړسي او له بدي لاري ځان وژغوري.

صحابه کرامو هم ددغه امر په اوریدو سره همداسي کول هم به يې ښه پوښتل او هم بد ترڅو دښوو له پیژندلو سره هغه ترسره کړي او د بدو په پیژندلو سره د هغه څخه ځان وژغوري.

حضرت حذیفه بن یمان (رض) وايي کله چي به یوچا له حضرت محمد صلی الله علیه و سلم څخه د اخیرت په اړه سوال کوئ، ما به دبدو ( شر) پوښتنه کول، ترڅو د هغو په پیژندلو سره له بدو څخه ځان وژغورم.

له یوه پوه څخه پوښتنه وسوه چي ادب دي له چا څخه زده کړې ول له بې ادبانوڅخه، ځکه هر کار چي به بې ادبانو کوئ له هغه څخه مي ځان کتئ‌نو ادب مي زده سو.

له دې کبله چي زموږ باور او ایمان په بشپړه توګه پاک و اوسي نو لازمه ده چي باطل خدایان چي د مکې قریشو او نورو کفارو به يې عبادتونه کول وپیژنو او ځانونه له داسي کارونو څخه وژغورو او د خدای جل جلاله په عبادت کولو سره له ټولو شرکونو څخه ځان خلاص کړو، ترڅو په دنیا کي د یوه باکرامته او اشرف المخلوقات انسان په څېر ژوند وکړو او په اخیرت کي هم د یوه منونکو تر بیرغ لاندي راسو.

ځکه په کلیمه طیبه (لااله الاالله محمد رسول الله) لومړی باید ټول خدایان نه (نفي) کړو او وروسته دیوه خدای جل جلاله پر ستون ایمان راوړو.

الحمدلله موږ مسلمانان یو په دې کي هیڅ شک نه سته او دا کلمه له ماشومتوبه څخه وایو مګر مهمه داده چي دا کلمه په بشپړه توګه وپیژنو او هغه په اساسي مانا باندي قبوله کړو. نو د کلمې دلا ښه

Download from: www.aghalibrary.com

تر اپوهیدو لپاره د لاندي سوالو او جوابونو لوستل بې ګټې نه دي.

س : (لا اله) څه مانا لري او په باور او ایمان کي هغه څنګه راپېژني ؟

جواب : (لا) په عربي ژبه کي دنه توری دئ چي وروسته راتلونکي توری نه (نفي) ګرځوي.

س : په (لا) باندي چي نه دئ څه شي نه (نفي) ګرځول سوئ دئ؟

جواب : (اله) په نه(نفي) سوئ دئ چي باطل خدایان دي.

س : (الاالله) څه مانا لري؟

جواب : د اثبات په مانا.

س : څه شي ثابته وي؟

جواب : یوازي د خدای جل جلاله د عبادت وړتیا.

س : (الا) څه مانا لري او ولي (الا الله) وایو؟

جواب : (الا) په عربي ژبه کي د بیلتون (استثنا)توریٔ دئ چي وروسته توریٔ د مخکي راغلي توري څخه بیل (مستثنٰی) کوي، چي په پښتو ژبه کي په ماور یا پرته باندی راځي. یعنې پرته یا ماور د یوه خدایه جل جلاله څخه.

س : د باطلو معبودانو یا خدایانو څخه چي په کلمه طیبه کي نه (نفي) ګرځول سوي دي هدف څه شي دئ؟

جواب : ټول هغه سته چي په یو ډول نه په یوډول د هغه عبادت کیږي.

س : دا خدایان په کومو پیداسو(مخلوقاتو)کي دي؟

جواب : هغه خدایان چي د عبادت وړ نه دي او مشرکینو په لرغونې

Download from: www.aghalibrary.com

زمانه او یا هم اوس کي د هغه عبادت کوي چي له ملاییکو، پیغمبرانو ښوخلګو، پیریانو، ځیني حیوانات لکه غوا، فیل او نور، پیریان او شیطانان ځیني اسماني پیدا سو(مخلوقات) لکه لمر، سپوږمۍ، او ستوري او یا ځیني جامدات لکه ډبري، غمي او داسي نور چي باطل او په یوشکل یې عبادت کیږي.

س : آیا موږ کولای سو چي ملاییکي، پیغمبران او یا هم د خدای جل جلاله دوستان په باطلو خدایانو کي ورګډ کړو؟

جواب : دا چي هیڅ پیدا سوئ د دې وړتیا نه لري چي عبادت یې و سي نو بیا د هر پیدا سوي عبادت که ملاییکه وي، یا د خدای جل جلاله نږدې دوستان وي او یا هم پیغمبران باطل دئ، دا په دې چي هغوئ حقیقي معبودین نه دې او هرڅوک چي د هغوئ پر معبودیت باندي باور لري هغوئ باطل دي، هغه پرحق پیغمبر دی یا پرحق ملاییکي دي او یا هم د خدای جل جلاله دوستان دي مګر د هغه په معبود باندي شمېرل یو باطل کار دئ.

س : آیا ښه به نه وي چي د خپل باور او عقیدې دلاروښنتیا لپاره د قریشو هغه خدایان وپېژنو چي هغوئ یې عبادت کوئ؟

جواب: دا ډېر مهم کار دی، ځکه د باطل خدایانو پېژندل موږ د هغو له عبادت کولو څخه راګرځوي. بناً لازمه ده چي د باطلو خدایانو د پېژندلو لپاره یو منظم چوکاټ په لاندي ډول انځور کړو.

Download from: www.aghalibrary.com




**الف : جوړ سوي (تکویني) باطل خدایان :**

د تکویني یا جوړ سوي خدایانو څخه هدف دا دی چي یو څوک په دې باور ولري چي یو پیدا سوی (مخلوق) کولای سي چي د خدای جل جلاله په ټېنو چارو کي تصرف وکړي.

ځکه پټې چاري یوازي په خدای جل جلاله پوري اړه لري او انسان کولای سي چي یو پیداسوي(مخلوق) په څېر په هغه کي د خپل توان تر اندازې پوري تصرف وکړي،مشرکین قریش په دې باور وه چي ملاییکي ، پیغمبران، پیریان او ټول نیک خلک په ټېنو چارو خبردي او کولای سي د خدای جل جلاله په ځانګړو چاروکي لاس ووهي، قرآن عظیم الشان د هغوئ دا باور رد او باطل کړئ او پټې یې یوازي د خدای جل جلاله ځانګړې چاري وبللې او انسان ته یې د هغه دتوانایي سره سم اجازه ورکړه سوه. په دې اړه مخکی د پټو په څېرکي کي ډېري څېړني وړاندي سوې.

Download from: www.aghalibrary.com

**ب : شرعي باطل خدايان:**

د اسلام له نکته نظره د حلال د حرام د ښه او بد او روا او ناروا د ټاکلو واک يوازي له الله جل جلاله سره دی.

خدای جل جلاله پيغمبرانو ته وحي را نازلوي چي څه حلال دي او څه حرام، څه روا دي او څه ناروا او څه ښه دي او څه بد.

مثلاً د خدای جل جلاله له لوري وحي نازلي سوي چي د خوګ غوښي خوړل حرام دي، نوځکه هيڅا حتٰی خپله حضرت پيغمبر صلی الله عليه و سلم اجازه نه درلودله چي و وايي د خوګ غوښي حلالي دي.

د ښځو لڅ ګرځېدل حرام دي نجوني او ښځي بايد له کورونوڅخه د باندي په شرعي حجاب کښي وګرځيږي او هيڅوک حق نلري چي ووايي د حجاب کول بدکار دی.

نوځکه ويلای سو چي ددا ډول چارو صلاحيت يوازي له خدای جل جلاله سره دی او خدای جل جلاله په دې اړه خپل قانون ترموږ پوري د وحي په واسطه را رسولئ دئ.

مسيحيانو دا صلاحيت خپلو علماو او زاهدانو ته ورکړئ دئ، نو د اسلام له نکته نظر هر هغه چاته چي دا صلاحيت ورکول سي هغه د خپل خدای د منلو په مانا دی.

د دې لپاره چي موږ مسلمانان داسي تېروتنه و نه کړو او ونه وايو چي موږ د خدای جل جلاله عبادت کوو مګر اقتصادي، سياسی او ټولنيز قانونه د انسانانو منو، له دې کبله په قران عظيم الشان او د نبي کريم صلی الله عليه و سلم په سنتونو کي موږ ته د مسيحيانو کيسه سوې وه.

ددغو قراني آياتونو په رڼا کي په هغو چارو کي چي خدای جل جلاله موږ خپل احکام د هغه په اثر ليږلي وي له انسانانو څخه پيروي کول په اصل کي د هغو بندګي کول دي. يوازي سجده کول عبادت نه

Download from: www.aghalibrary.com

دئ بلکي د خلګو خبري د حلال او حرام ښه او بد، حق او باطل او نور ټول چارو منل چي د خدايي امرونو سره په ټکر کي راځي عبادت کول دي.

**ج : شاهي (طاغوتي) باطل خدايان :**

د شاهي خدايانو څخه مراد هغه ډله کسان دي چي په زور او ظلم سره پر خلګو پاچاهي او مشري کوي او ځان ته د خدای مقام ورکوي او ناپوه او ساده خلک د هغو عبادت کوي، مثلاً فرعون به ويل (ان ربکم الاعلی) زه ستاسو ستر خدای يم. کلمه طيبه دا ډول ټول خدايان نه (نفی) ګرځوي اوخدای جل جلاله يوازنی دعبادت وړ او لايق څوک پيژني.

(د امام اعظم ابی حنيفه دلايل) د کتاب ليکوال په عقايدو کي وايي : طاغوت دې ته وايي چي يوڅوک يو فاجر او فاسق رييس، خان، ملک او پاچا د خدای جل جلاله څخه په سرغړونه ومني. (۱۵ ص ۴۹ – ۵۰)

په لرغوني پېرکي داسي رواج وو چي د خدای جل جلاله ترحکمونو به رواجونو، عنعناتو، قومي پريکړو، د خانانو او ملکانو خبروته ډير ارزښت ورکول کيدی او هغوی به فکر کوئ چي زموږ ګټه په همدې کي ده، مثلاً خدای جل جلاله به د يوې موضوع په اړه يوټاکل سوئ حکم درلودی، مګر يو خان، رييس او ځايي ملک به د خدای جل جلاله د حکم پرضد يوبله پرېکړه درلودله، مثلاً ددې پرځای چي وژونکی د خدای جل جلاله د حکم پر اساس و وژل سي د کلي ملک به بله فيصله کوله چي ددې وژني په مقابل دي دونه ښځي ورکول سي او خلګو به هم له دې پريکړي څخه ملاتړ کوی، ياځينو

Download from: www.aghalibrary.com

شاهانو یا خانانو به خلک و خپل عبادت ته رابلل او نورو به هم د هغوی امرونه منل.

### د : نږدې (تقریبي) باطل خدایان :

له نږدې (تقریبي) خدایانو څخه هدف هغه خدایان دي چې ځیني انسانان و خدای جل جلاله ته د نږدې والي په موخه د پیدا سو(مخلوقاتو) ملاییکو، پیغمبرانو او د ښو خلکو عبادت کوي، که څه هم هغوی و خدای جل جلاله ته د هغوی د نږدې کولو وسیله بلله، په پیل کي یې فکر کوی چې هغه د شر د خلاصون لپاره راغلئ دئ. ترڅو ځان یې قربان کړئ،څو خدای جل جلاله د انسانانو ګناهونه وبخښي هغوی د دغو اشخاصو په لمانځنه کي دونه غرق سوي دي څو د هغه عبادت یې پیل کړی او اوس هغوی یو خدای جل جلاله پرې ایښئ دئ، صلیب او د حضرت عیسي (ع) بت یې په کلیسا کي ایښئ دئ او د هغه عبادت کوي او یو خدای جل جلاله یې هیر سوئ دئ.

دا کار خپله شرک او کفر دئ، ځکه عیسی (ع) د خدای جل جلاله پیغمبر دئ، پیدا سوئ (مخلوق) دئ او د عبادت وړ نه دئ، عبادت یوازي د خدای جل جلاله په ذات پوري اړه لري.اوس پاپانو او کشیشانو په کلیساو کي ځانونه د خدای جل جلاله او پیدا سو (مخلوقاتو) ترمنځ د اړیکي په توګه بولي، د هغوی په عقیده هر انسان نه سي کولاي د خدای جل جلاله سره اړیکي ونیسي ځکه انسانان ګناهکار او تورمخي دي هغوی باید کشش ته ورسي ترڅو هغه یې خدای جل جلاله ته شفاعت وکړي.

په کلیسا کي یو صندوخ ایښودل سوئ دئ چې صندوق الغفران (د بخښنی صندوخ) یې بولي د دې صندوخ په منځ کي کشش ناست

Download from: www.aghalibrary.com

وي او ګناهکاره کس ځي او هغه ته وايي چې ګناهونه يې ور وبخښي، کشش هغه او خدای جل جلاله ترمنځ د يوې الې په توګه دنده اجرا کوي، دا کار د هغوی له نظره يو بد کار نه دی مګر قران عظيم الشان دا کار يو بد کار راپيژني.

د هغوی په نظر کشيش او پاپ د هغوی شفاعت کوونکي دي مګر د قران له نکته نظره څخه هغو دا کشيش او پاپ خپل نږدي ( تقريبي) خدای بللئ.

قريشو هم همدا سي کول هغو به هم خپل ځيني نيک خلګ خدای جل جلاله ته واسطه کول ، هغوی به يې په ژوندوني لمانځل او له مرګ څخه وروسته به يې د هغو بتان جوړول او عبادت به يې کوئ او کله چې به د هغوئ څخه پوښتنه وسول چې ولي دې بتانوته سجده کوئ، نو هغو به ويل چې دا بتان موږ خدای جل جلاله ته نږدې کوي.

امام قرطبي رحمة الله وايي: حضرت قتاده (رض) وويل: کله چي به له هغوی څخه پوښتنه وسوه چي ستاسو خدای جل جلاله څوک دی، ستاسو پيدا کوونکی څوک دئ، مځکي او اسمانونه چاپيدا کړي دي، د اسمانه څخه اوبه څوک راتويه وي؟ هغوی به ويل خدای جل جلاله نو کله چي به ورته وويل سول : نو ولي ددې بتانو عبادت کوی؟

هغوی به ويل ترڅو موږ خدای جل جلاله ته نږدې کړي او خدای جل جلاله ته زموږ شفاعت وکړي.

سوال : ولي قريشو چي د بتانو عبادت يې کوي اود حبشيانو چي د ښو خلګو دقبرونو عبادت يې کوئ چاري غندل سوي دي؟

جواب : ځکه چي هلته څو مشکلات منځ ته راتلل.

۱- هغو فکر کوئ چي خدای جل جلاله ليري دئ او موږ بايد خدای جل جلاله ته د نږدې والي په موخه واسطه ولرو چي موږ هغه

Download from: www.aghalibrary.com

جل جلاله ته نږدې کړي په داسي حال کي چي خدای جل جلاله فرمايي (فاني قريب) زه مي بندګانو ته ترهرچا ورنږدې يم.

۲- هغوئ په ډيرو حالتو کي هغو پيدا سوی (مخلوق) ترخدای جل جلاله مهربانه بللئ، ځکه که چيري هغو خدای جل جلاله مهربانه بللای نو ولي يې له هغه سره په مخامخ توګه خپل مشکل نه شريکوی.

۳- په دې ځای کي د مشکلاتو په وخت کي و خدای جل جلاله ته د پاملرني پرځای و بندګانو ته پاملرنه کيدل، په داسي حال کي چي قرآن عظيم الشان فرمايي :

( أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَـٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ (النمل-٦٢)

په دې آيت شريف کي بيان شوي دي چي مشکل حلوونکی الله جل جلاله دی او هيڅوک نسي کولای د انسانانو مشکلات حل کړي ددې آيت شريف په پای کي راغلي دي آيا بل د عبادت وړ څوک سته؟ چي له خدای جل جلاله څخه پرته دا کار وکړي. بناً موږ د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم پيروان په دې باوريو چي :

۱- خدای جل جلاله مهربانه ذات دی او ترهغه هيڅ مهربانه څوک نسته، که چيری زموږ مور پر موږ مهربانه ده مګر د خدای جل جلاله مهرباني تر زرو مندو زياته ده نوبناً موږ له هرڅه او هرچا څخه وېراندي خپل مشکل هغه ته وړاندي کوو او هغه هم زموږ مشکل را حلوي.

Download from: www.aghalibrary.com

۲- موږ په دې باور یو چې خدای جل جلاله موږ ته تر خپل شاه رګ رانږدې دئ (اقرب الیه من حبل الورید) بناً موږ چې په هرځای کې یو خدای جل جلاله ته د نږدې والي لپاره هیڅ واسطې ته اړتیا نه لرو، بلکې خدای جل جلاله ځان ته نږدې بولو او د هغه عبادت کوو او د مشکلاتو په وخت کې لاسونه ورته لپه کوو.

۳- په دې باور لرو چې پیغمبرانو، د خدای جل جلاله دوستانو، صحابه وو او د رسول اکرم صلی الله علیه و سلم کورنی هم د مشکلاتو په وخت کې د خدای جل جلاله دربارته مخه کول، موږ د هغو په پیروي د خدای جل جلاله دربارته مخ کوو.

### هـ : شمېریز باطل خدایان :

تعدادي یا شمیریز د زیات شمیر خدایانو په مانا دئ، مشرکینو د جاهلیت په زمان کې پر زیات شمیر خدایانو باور درلودی.

۱- د عربو په منځ کې ډیرو خدایانو ستون درلودئ، په لرغوني پېرکې په ډیرو قومونوکې د زیاتو خدایانو درلودل رواج وو چې یو له دغو قومونو څخه عرب وه، هغوی د بېلابیلو هدفونو لپاره بېلا بېل خدایان درلودل او د هغوئ عبادت به یې کوئ لکه لات ، عزی، هبل او داسي نور چې د کعبې د خوني پرشاوخوا ۳٦۰ بتونه درول سوي وه.

۲- د نوح (ع) قوم هم د زیاتو بتانو عبادت کوی، کله چي حضرت نوح (ع) خپل قوم د یوه خدای جل جلاله عبادت ته راوبلل، قوم یې یوبل ته ویل ( وقالوا لا تذرن الهتکم و لا تذرن وداولاسواعا و لایغوث ویعوق ونسرا) ویې ویل خپل خدایان مه پرېږدی، ( وده، سواع، یغوث، یعوق اونسر) مه پرېږدی.

۳- د بابلیانو د زیاتو خدایانو په کتارکې شپږ خدایان ډېر

Download from: www.aghalibrary.com

مشهورول چي دا شپږ هم پر دوو ډلو ويشل سوي ول لومړۍ ډله يا درې ګون لومړي درې خدايان د ځمکي خدای، د جنګ او هوا خدای او د اور خدای ول او دوهم درې ګون د نورو درې خدايانو څخه جوړوو چي د لمر خدای، د سپوږمۍ خدای او د مونث خدای پکښي شامل ول. (۱۰- ص۱۸)

۴- اريايي هندواڼو د نور مشرکانو په څېر د دنيا پر پيدا کونکي باور درلودی او هغه يې د برهما ( تل پاتي) په نامه پېژندی، هغوئ په پيل کي بت خانې نه درلودې اوپه پرانيستوځايونو کي به يې د اسماني توکو عبادتونه کول، ترڅو د وخت په تېريدو سره يې ډېر بتونه او زياتي بتخانې جوړي کړې او څو نور خدايان يې د مور، د ځمکی ملکه، او د کبرا مار په نومونو پرخپلو خدايانو ور زيات کړل د هندواڼو درې ګون يا درې مشهور خدايان عبارت دې له : برهما، سنيوا او ويشنو څخه. (۱۰-ص (۳۱ -۳۲)

۵- د درې ګون ( تثليث) نظريه د مسيحيانو له نظره : کله چي دعيسى (ع) پيروانو د يو والي (توحيد) عقيده د يهودي شاول ترطوسي د دسيسې په پايله کي په درې ګون ( تثليت) واوښته نو د هغوی او هندواڼو د مذهبونو ترمنځ توپير يوازې په نومونو کي دی او بس.

Download from: www.aghalibrary.com

# شپږم څپرکی

## شرک یا د پیدا سو شیانو عبادت کول

په دې څپرکي کي لاندي موضوعات ترڅېړني لاندي نیسو:

۱- د شرک تعریف او د هغه ډولونه
۲- د پیغمبرانو مقابله له شرک سره
۳- د شرک تاریخچه
۴- څنګه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم امت د شرک څخه ځان خلاص کړئ؟

Download from: www.aghalibrary.com

# د شرک پېژندل

د شرک په اړه د څېړنې په وخت کې باید لاندنۍ نکتې په نظر کې ولرو.

**الف : د مشرک پېژندنه :**

دا یو ډېر خطرناک بحث دئ، ځکه د شرک یا د پیدا سوو شیانو د عبادت په اړه بېلابېل نظرونه ستون لري او د هغه پېژندل د یوه انسان لپاره لږ څه مشکل کار دئ، مگر ددې مشکل حل په قرآن عظیم الشان او نبوي احادیثو کې ډېر ساده او ښکاره دی.

**ب : د شرک خپرېدل :**

شرک د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په خبره لکه کوچني مېږیان داسې دی چې انسان په هغه خبر نه وي او هغه یې په وجود کې تیریږي (خپاره کیږي) حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و سلم فرمایي : له دې شرکه څخه ځان گوری ځکه شرک تر کوچنیو مېږیانو ډېر پټ دی.یو چا وپوښتل څنگه ځان ځني وگورو؟ هغه وفرمایل ووایاست (اللهم انا نعوذبک ان نشرک بک شیئافعلمه و نستغفرک لما لا نعلمه)

**ج : د شرک خطرونه :**

شرک د نورو ټولو گناهونو په پرتله تر ټولو سخته او نه بخښل کیدونکې گناه ده، قرآن عظیم الشان په دې اړه وایي چې هره گناه

Download from: www.aghalibrary.com

بخښل کیږي مګر شرک نه بخښل کیږي او د مشرک سړي عذاب جهنم دی.

د : د شرک منل :

د شرک اساسي مشکل په دې کي دئ چي ډېر هغه کسان چي دخدای جل جلاله پر ستون باور لري، هیڅکله دې ته نه تیاریږي چي ومني د هغه کړني شرکي دي.

ځکه شیطان په خپل چم او وسوسه سره د هغه په زړه کي د ښو خلګولکه ملاییکه وو، پیغمبرانو، د خدای جل جلاله دوستانو او اولیاء الله مینه په دونه زور سره وراچولې ده چي دخدای جل جلاله و مرتبې ته یې نږدې کړي دي او یایې هغوئ د شفاعت او واسطې په توګه نیولي او دا کار روا بولي او دا کار د دین څخه مخالف هم نه بولي او هیڅکله دا خبره نه مني چي ده دا کار په شرک کي راځي اوس دلته سوال پیدا کیږي چي ددې ټولو مشکلاتو د حل لپاره کومه لاره سته؟

د دې سوال په جواب کي ویلائ سو چي د دې مشکل د حل لپاره اساسي لاره سته چي کولائ سي موږ له شرکه خلاص کړي:

لومړی : رښتیني اخلاص:

د خدای جل جلاله سره اخلاص انسان دې ته اړباسي چي هغه څه کوم چي عادت یې ګرځیدلي دي هیر کړي او پرهغه څه چي حقیقت دي خپل باور ټینګ کړي، ځکه چي شیطان ټوله انسانان وبدي لاري ته سمه وي مګر نسي کولای چي د خدای جل جلاله مخلص بندګان له لاري څخه وباسي ځکه خدای جل جلاله خپله وایي (الا عبادک منهم المخلصین)

Download from: www.aghalibrary.com

دوهم : د دغو حقیقتونو پېژندل د قران او احادیثوپه رڼا کي:
قران عظیم الشان په ډېرو ایاتونو کي له شرک او مشرکینو څخه بحث کوي، کله چي دغه ټول ایاتونه راټول کړو او ټول هغه حدیثونه چي صحیحو کتابونو رانقل کړي دي ترڅېړني لاندي ونیسو، د شرک په حقیقت په ښه توګه پوهیږو.

دریم : د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم موقف د صحابه کرامو او دحضرت محمدصلی الله علیه و سلم اهل بیت ژوندکه وڅېړو په اسانۍ سره پوهیږو چي هغوئ د هري هغي پدیدې سره چي کفري یا شرکي پدیده به وه،ځنګه مبارزه کړې ده او د دې خطرناک وایروس څخه یې په ځنګه توګه ځان خلاص کړی وو.

څلورم : د مشرکینو د ژوند تاریخ :
له اسلام څخه وړاندي د قران عظیم الشان زیات ایاتونه او زیات شمېر نبوي احادیث موږته د جاهلیت د زمانې څخه د عربو کیسې کوي او د هغوئ بد دودونه او رواجونه موږ ته را په ګوته کوي چي انسان د هغه په پېژندنه سره پوهیږي چي شرک څه شي دئ؟

پنځم : تر ټولو اساسي نکته:
په دې لاره کي داده چي موږ باید په خپل فکر یوکارته شرک ونه وایو اونه یوکارته ښه کار ترڅو د هغه په اړه په قران او احادیثو کي کوم څه و نه وینو، بناً شرک څه شي دئ، هرڅوک ښایي یوخاص نظر ولري مګر حقیقي شرک موږ ته یوازي قراني عظیم الشان او نبوي احادیث را په ګوته کوي

Download from: www.aghalibrary.com

## شرک په لغات کي:

شرک د شريک او نصيب په مانا دئ کله چي موږ وايو: يو چا له خدای جل جلاله سره شرک وکړئ، هغه ته يې شريک ونيوی، بناً هغه ته مشرک يا مشرکي وايو (٦- ص ۴٦۳)

په فرهنگ عميد کي شرک د کفر، د زياتو خدايانو د منلو په مانا راغلی دی او په همدې توگه د نصيب او برخي په ماناهم راغلی دی (۲٦- ۲ج – ص ۱۳۱۱)

په سورته انعام کي راغلي دي (لاشريک له) يعنی هيڅوک په مالکتوب، ذات او صفاتو کي د هغه شريک نسته.

## شرک په اصطلاح کي:

د پيدا سو(مخلوقاتو) شريکول په ذات، صفاتو، نومونو، عبادتونو، کومک غوښتنو او واسطه کول ته شرک وايي.

له پورتني تعريف څخه ښکاريږي چي شرک پر شپږ ډوله دی:




۱- د خدای جل جلاله په ذات کي شرک :

د خدای جل جلاله په ذات کي څوک شريکول، مثلاً څنگه پردې

Download from: www.aghalibrary.com

عقيده ولرو چې فلاني کس د خدای جل جلاله زوی، لور، مېرمن، ملګری، مور او يا کوم بل دوست دی.
- مشرکين مسيحيان حضرت عيسي (ع) د خدای جل جلاله زوی بولي.
- ځيني مشرکان ملايکه د خدای جل جلاله خوندي بولي او داسي نور ډېر ډولونه ذاتي شرکونه سته.

۲- د خدای جل جلاله په صفتونو کي شرک:

مخکي مو ولوستل چې خدای جل جلاله ټول صفتونه ځان ته ځانګړي کړي دي هيڅوک نسي کولای دا ډول صفتونه ولري، که چيري دا ډول صفتونه د خدای جل جلاله څخه پرته پيدا سو ته که ملايکي وي، پيغمبران وي او يا د خدای جل جلاله دوستان وکارول سي دا د شرک يو ډول دئ، مثلاً مشرکانو عادت درلودئ چې د پټو علم چي د خدای جل جلاله ځانګړی صفت دئ پرانسانانو پوري وتړي، په داسي حال کي چې خدای جل جلاله فرمايي: (وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ) (الانعام-۵۹)

Download from: www.aghalibrary.com

۳- په کړنو (تصرفاتو) کي شرک :

د مکې قريش مشرکين په دې باور ول چي پيدا سوي کولائ سي چي په هغه کړنو کي چي د الله جل جلاله ځانګړي کړني دي انسان لاسوهنه يا تصرف وکړي، دنړۍ نظام ، لمر، سپوږمۍ او سیارې تصرف کړي او ياداچي پيدا سوي کولائ سي چي انسان ته ګټه يا تاوان ور و رسوي.

مثلاً هغوی به ويل فلانئ ونه کوم چا پرې کړه ښايي مړ سي، يا که چا فلانی مرغه وويشتئ هغه به ړوند سي او يا دا چي که پرفلانئ ونه طواف وکړي ناروغي به يې جوړه سي.

د هغوئ بېلا بېل بوتونه ددې ډول تصرفاتو سمبولونه ول مثلاً هغوی په دې باور ول چي يوبت کولائ سي چي دانسان لپاره ګټه را ټوله او ياهم تاوان ليري کړي، د هغوئ دا باور نه يوازي پر بتانو وو بلکي پر حيواناتو، الوتنکو، ونو، ټېو، وښو او يا جامدو شيانو لکه ډبري، غمي او نورو داسي شيانو باندی هم وو.

- ځينو مشرکينو يوه سپېڅلې ونه درلودله او و هغې وني ته يې درنښت کوی او يا به يې هم بوټې مقدس شمېرل.

- ځيني مشرکينو د ناروغئ ليري کول د انسان په لاس بلل په داسي حال کي چي مرګ، ژوند، مړول او داسي نور يوازي د خدای جل جلاله کړني او چاري دي.

۴- په عبادتونو کي شرک :

د قران عظيم الشان له نظره ټول عبادتونه يوازي الله جل جلاله لره دي مګر د مکې مشرکينوقريشو ځيني عبادتونه خدای جل جلاله ته کول او ځيني نور بتانوته چي د ښو او نيکو خلکو پېږي (مجسمي) وې.

Download from: www.aghalibrary.com

مثلاً هغوئ به خپل نظر او قرباني بتانو ته کول نه خدای جل جلاله ته.
نو په دې توگه به هغوئ پیدا سوي د خدای جل جلاله سره په عبادت کي شریکول چي د هغوئ دا ډول کړنو ته په عبادت کي شرک وايي.

۵- په مرسته غوښتنه کي شرک :
د مکې مشرکینو قریشو به دمشکلاتو په وخت کي د دې پرځای چي خدای جل جلاله ته رجوع وکړي پیدا سو (مخلوقاتو) ته به یې رجوع کول او له هغو څخه به یې مرسته غوښته . هغوئ دا چي یوازنی خدای جل جلاله مهربانه ذات دی اوټل انسانانو ته خیر رسوي هیر کړی وو او د هغه جل جلاله پرځای به یې پیدا سوته د مرستي او کمک لپاره لاس غځوئ.
قران عظیم الشان مسلمانانو ته لارښوونه کوي چي هیڅکله باید فکر ونکړي چي تر خدای جل جلاله مهربانه بل څوک سته بلکي هغوئ باید د هر مشکل په وخت کي د هغه ذات پر لور مخ کړي چي تر ټولو ډېر لوی، مهربانه او نږدې دی چي دا ذات الله جل جلاله دی، بناً موږ باید هر وخت یوازي له هغه څخه مرسته وغواړو چي (ایاک نستعین) ایت موږ ته ددې خبري د زبات لپاره تر ټولو ښه ثبوت دی.

٦- په واسطه نیولو اونږدې کېدلو کي شرک :
د ځینو مشرکینو مشکل دا دی، چي د خدای جل جلاله په اړه داسي فکر کوي لکه د نورو پاچاهانو یا جمهور رییسانو په اړه چي یې کوي، چي و هغه ته درسېدو لپاره د باډیگارد، وزیر، د دفتر رییس، سلاکار، سکرتر او نورو ته اړتیا سته.

Download from: www.aghalibrary.com

هغوی د هغه جل جلاله په اړه عیني د پیداسو په څېر فکر کوي او خدای جل جلاله د پیدا سو په څېر بولي، نوځکه قریشو مشرکینو او نورو بت پرستانو هغه جل جلاله ته نور خلګ او شیان واسطه کول.

مشرکینو فکر کوئ چي خدای جل جلاله ته د رسېدو لپاره و نورو پاچاهان ته د رسېدو په څېر یو لړ مراتب ترسره سي لومړی باید څوک و یو لړ نور متصروفینو ته ورسي ترڅو خدای جل جلاله ته ورسیږي.

خدای جل جلاله د توحید په سورت کي فرمایي چي خدای جل جلاله بې نیازه ذات دئ (الله الصمد) نو ټولو هغو کسانو ته چي سکتر، وزیر باډیګارد او نور پکښي راځي اړتیا نه لري.

او ددې له کبله چي ټوله پوه سي چي خدای جل جلاله هغوته نږدې دی دا ایت یې نازل کړی دی چي وایي ( اذا سالک عبادی عنی فانی قریب) کله چي زما بندګان مابولي زه هغوته نږدې یم او په یو بل ایت مبارک کي وایي (منل حبل الورید) خدای جل جلاله خپلوبندګانو ته ترخپلي مرۍ هم ورنږدې دئ.

نو ددغو اساساتو په نظرکي نیولو سره ډېر مسلمانان یوازي دخدای جل جلاله سره په مستقیمه توګه اړیکي ساتي او له واسطه د شي څخه ځان ګوري.

۷- په ربوبیت کي شرک :

خدای جل جلاله د کایناتو پیدا کوونکئ دئ (الحمدلله رب العالمین) څښتن او مالک (له المک وله الحکم) د ټولي نړۍ اداره او کنټرول یوازي د هغه جل جلاله په لاس کي دئ او هغه بل هیچا ته اړتیا نه لري. (الله الصمد) خدای جل جلاله بې نیازه دئ.

په ربوبیت کي شرک دې ته وایي چي ځیني مشرکین په دې فکر

Download from: www.aghalibrary.com

کي دي چي دا نړۍ خدای جل جلاله یوازي نه ده جوړه کړې، بلکه له نورو ذاتونو سره یې د چارو وېش کړئ دئ، ځیني چاري یې په خپل لاس کي اخستي او ځیني یې نوروته سپارلي دي، ترڅو هغوئ هرڅنګه چي یې زړه غواړي په هغه کي تصرف وکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

# د شرک او د پیداسو د عبادت تاریخچه

د توحید او یوه خدای جل جلاله د عبادت عقیده د انسان له پیدایښت سره سم مځکي ته راغله، حضرت آدم (ع) د مځکي پر سر لومړی دیوه خدای جل جلاله عبادت کوونکئ کس وو.

او په همدې توګه د ټولو پیغمبرانو لړۍ د همدې یوه هدف لپاره راغلل او قران عظیم الشان د وروستي اسماني کتاب په حیث مځکي ته راغئ چي د توحید ټول اساسات يې و بشر ته بیان کړي دي.

د پیغمبرانو په وړاندي په هره زمانه کي بېلابېل انساني او پیریاني شیطانان درېدلي دي او د یوالي د فلسفې خلاف يې خپل جنګ اعلان کړی دی او هر وخت يې د نو-نو نظریو په رامنځ ته کولو کوښښ کړئ چي خلک د یوه خدای جل جلاله د عبادت څخه لیري او له لاري څخه بې لاري کړي.

دا شیطانانو کوښښ کړئ او کوي يې چي د خلګو لید د خدای جل جلاله څخه لیري او پر پیدا سو راوګرځوي، پیدا سوي يې د مرسته کوونکي، پیدا کونکي، مشکل کښونکي، د انسانان او خدای جل جلاله ترمنځ اړیکه جوړونکي په څېر ښودلي دي.

او په دې توګه يې انسانان د انسانیت له چوکاټه ایستلي او د خدای جل جلاله تر مرتبې يې رسولي دي او په دې شکل یو انسان له بل انسان څخه بېروي او یو بل انسان ته هغه په پناه وروړو مجبوروي.

له هغه څخه مرسته غواړي او په دې توګه خپل مشکلات د پیدا

Download from: www.aghalibrary.com

کوونکي پرځای پیدا سوي ته وړاندي کوي.

او یا يې انسان تر خدای جل جلاله مهربانه بللئ او هغه يې مشکل کښونکئ ورپېژندلئ دئ، ترڅو د مشکل په وخت کي د هغه څخه مرسته وغواړي او په دې شکل يې د انسانانو پرې مقدس ګرځولي او انسانان يې په داسي صفتونو یاد کړي چي هغه خاص د خدای جل جلاله صفتونه دي.

لنډه دا چي پیغمبرانو دنده درلودله چي د انسانانو پاملرنه له پیدا سو وکارې او پر پیدا کوونکي يې ښخه کړي.

او شیطانان هم يوه دنده لري هغه دا چي د انسانانو پاملرنه له پیدا کوونکي څخه لیري کړي او پرپیدا سوي يې ښخه کړي.

د شرک د ښه پېژندلو لپاره مهمه دا چي د شرک او مشرکانو تاریخ وڅېړو او وګورو چي تېر وتنه په کوم ځای کي ده.

د شرک یا انساني عبادت پیل :

کله چي موږ وغواړو د شرک په اړه څېړني وکړو نو له هر اړخه چي هغه څېړو دې نکتې ته رسیږو چي شرک د انساني او پیریاني شیطانانو په واسطه رواج سوئ دئ.

او په هرځای کي همدا يو هدف لري هغه دا چي (انسان له پیدا کوونکي څخه لیري وپیداسوي ته يې نږدې کړي).

د شرک عقیده د توحید له عقیدې سره یوځای د خلګو په منځ کي رواج سوه مګر د نوح (ع) په زمانه کي د عروج معراج ته ورسېده چي نوح (ع) يې پرضد راپورته سو، چي قران هم موږ ته دنوح (ع) د زمانې د بوتانو په اړه خبر راکوي.

په ځینو زمانو کي له مړو څخه بېره د شرک د رامنځ ته کېدو لامل

Download from: www.aghalibrary.com

سوه ځکه هغوئ به په قبرونو کي مړي په تنابونو تړل او قبرونوبه يې ډېر ټينګ بندول، ترڅو په دې توګه د مړو د بيرته راتګ څخه مخنيوی وکړي، له مړو څخه ېېره کرار کرار په درنښت بدله سوه او له درنښته څخه په عبادت بدل سوه، چي اوس هم د دې مذهب ځني ريښې په جاپان کي سته د هغوئ زيات شمېر مجسمې يا پېړي د خپلو تيرو سوو خلګو دي (۱۰-ص ۱۱)

شرک د موسی (ع) په زمانه کي :

خدای جل جلاله حضرت موسی (ع) د بنی اسراييلو دلارښووني لپاره راولېږی، موسی (ع) هغوئ ته خپل دعوت د يوه خدای جل جلاله د عبادت لپاره وکړی، مګر کله چي کوه طور ته د الله جل جلاله دلارښوونو د روږلو لپاره ولاړئ سامري د هغه پيروان و شرک ته وبلل او يو ګېلګی(خوسکی) يې هغوته د خدای په څېر ورپېژندئ، موسیٰ (ع) ډېر کوښښ وکړئ چي هغوئ بيرته د يو والي عقيدې ته راوګرځوي، اوس هم څوک چي د موسی (ع) د پيروي دعوه کوي، د خدای جل جلاله صفتونوپه داسي توګه تاويله وي چي هغوئ د يووالي له عقيدې څخه باسي. ځکه هغوی ځيني انساني صفتونه پرخدای جل جلاله باندي تړي او کله خو هم خدای جل جلاله تر انسان ناتوانه بولي او يا هم پر خدای جل جلاله باندي درواغ تړي چي هغوی يې ازاد انسانان پيدا کړي دي او نور انسانان يې د حيواناتو په څېر د هغوئ غلامان پيدا کړي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

**شرک د عیسیٰ(ع) څخه وروسته:**

خدای جل جلاله حضرت عیسي (ع) د معجزو سره راولېږی هغه خلک یووالي( وحدانیت) ته رابلل، ځیني متعصبو یهودانو غوښتل چي دیووالي (توحید) عقیده په شرک باندي واړه وي، څکه هغوئ نسوائ کولائ چي پرخدای جل جلاله اود هغه پر پېغمبر باندي باور پرېږدي.

د توحید د عقیدې او د حضرت عیسي (ع) د پیروان یو سرسخته دښمن شاوول ترطوسي ( بواس) وو، هغه د یهودانو یو جنګي سالار وو او د حضرت عیسی (ع) په زرګونه پیروان یې وژلي وه، کله چي هغه د حضرت عیسی (ع) سره په وسله واله مبارزه کي ناکامه سو، نو دې پایلي ته ورسېدئ چي هغوئ ته د توري په څوکه ماته نسي ورکولای نو له ځانه سره یې پرېکړه وکړه چي د عیسي (ع) او له پیروانو سره به یې له یوي بلي لاري جنګیږي چي هغه فکري جنګ دئ هغه د دې مبارزې لپاره د هندي فلسفې عقیدتي کتابونه اغریق دیونان او نورو ځایونو مذهبي کتابونه ولوستل هغه په دې کتابونه کي وموندل چي په لرغوني هندکي د دریو خدایانو فلسفه چلېده او په همدې توګه د خدای جل جلاله په اړه یې دلته ډېر نظریات ولیدل چي په هغه نیمه لاره کي پاته وه او سرته نه وه رسیدلي، څکه د مځکی پیدا کوونکي ته د رسیدو لپاره فکر ډېره ښه وسیله وه، مګر د خدای جل جلاله د ذات په اړه تصور کول ډېره پیچلې مسله ده چي فکر د هغه لپاره وسیله نه سوائ کیدائ او انسان د خدای جل جلاله له پلوه الٰهي وحیو ته اړتیا پکښي لیده.

مګر د دې برعکس د عقیده یي فساد لپاره لازمه ده چي دیووالي په عقیده کي شکونه پیدا کړل سي او د الهي وحي څخه په کار اخیستنه سره پیغمبران د خدای جل جلاله ترمرتبې پوري و رسول

Download from: www.aghalibrary.com

سي او د خدای جل جلاله دوست په نامه يې د مذهب رښې په تېشه ووهې، نو د دې هدف د ترسره کولو لپاره هغه يوه ورځ په يوه فقيرانه کالوکي د خلګو مخې ته راغئ، خلګو چې هغه لا له وړاندي پېژندئ او د جنګ په ميدانو کي ،په شاهي درباروکي او په نورو ځايوکي يې په شان او دبدبه ليدلی وو د هغه دې حالت ته ډېر حيران سول او له هغه څخه يې د علت پوښتنه وکړه.

چي څنګه يې په يوه شپه ټول څه بدل سوه او له پاچاهۍ څخه ګدايي ته ورسېدئ؟ هغه چي کله خلګ دځان په لور ځير وليدل نويې د خپل مکر جال و غوړوی او و يې ويل :

تېره شپه د شام په دښته کي تلم يو ناڅاپه مي يو اسماني ږغ واورېدی چي ماته يې په درد ويل اې پولسه! ته ولي زما بې چاره بنده ګان په تکليفوې او ولي يې وژنې؟ ما وپوښتل تاسو څوک ياست او له ما څخه څه غواړئ؟ هغه وويل:

زه عيسی (ع) يم چي د انسانانو خدای او د خدای جل جلاله زوی يم او اوس مي دپلار څنګ ته ناست يم اود خپلو بندګانو حالت څارم.

ما له هغه سره تعهد وکړئ چي وروسته له دې به د هغه بنده ګان نه په تکليفوم او خپله مي هم توبه وکښل او د هغه د بندګئ جغ مي په غاړه کئ؟

پولس ادعا وکړه چي حضرت عيسی (ع) پيغمبر نه دئ بلکي د خدای جل جلاله زوئ دئ او دا چي خدای جل جلاله له پيغمبرانو څخه پرته د بل چا سره خبري نه کوي نو زه نور پيغمبريم.

يهودي پولس په دې توګه د نبوت دعوه وکړه او په عيسويت کي يې يو لړ اساسات داخل کړل چي اوس هم سته او سپيڅلی بايبل يې بولي چي عيسی (ع) له هغه څخه ناراضه وو او دی.

Download from: www.aghalibrary.com

موږ کولای سو چي دلته د بایبل ځیني مثالونه راوړو : د یوحنا انجیل په اوه لسم باب کي راغلي دي ( خدای د عیسی پلار دی او عیسی د خدای ګران زوی دی).

د غلاطیان رسالې په څلورم څپرکي څلورم ایت کي راغلي : څنګه چي زمانه وکمال ته ورسېده خدای خپل زوی راولېږی چي له ښځي وزېږیدی.

په دې توګه یولس هغوی مشرکین وګرځول، د خدای جل جلاله پیغمبرې د خدای جل جلاله زوی وبلی او هغه یې په الهی پاچاهي کي شریک کړی او کرار کرار د هغوی په منځ کي صلیب خپور سو چي اوس د هغوئ زیات شمېر خلګ د یوه خدای جل جلاله نوم پر ژبه نه راوړي اود عیسی (ع) عبادت کوي، هغوی خپلي کلیساوي بدلي کړې او د یوه خدای جل جلاله عبادت یې پرېښوئ د عیسی (ع) بت یې کلیساته راوړی چي پریو صلیب باندي یې د هغه په دارکېدل انځور کړي دي، د بت پرستانو او عیسویان توپیر یوازي په دې کي دی چي هغوئ د بتانو عبادت کوي او دوی د عیسی (ع) .

د عربو په منځ کي شرک :

د عربو په منځ کي هم د توحید عقیده چي حضرت ابراهیم (ع) تبلیغ کړې وه د وخت په تېریدو سره د انساني او پیریاني شیطانانو په لاس له منځه ولاړه یا هیره کړل سوه.

عربو هم د خدای جل جلاله له عبادتو مخ واړه وه او د خلکو عبادت یې پیل کړی هغو د هغو ټولو خلګو چي د دوی په نظر ښه خلګ وه او د خدای جل جلاله دوستان وه پړي جوړ کړل او د هغو عبادت به یې کوی او په دې توګه یې ابراهیمي عقیده پرېښوده او حتی د ابراهیم (ع) او

Download from: www.aghalibrary.com

اسماعیل (ع) بتان یې جوړ کړل او د کعبې خونې ته یې دننه یووړه.
ټول هغه عبادتونه لکه طواف، قرباني، نذر او نورچې د خدای جل جلاله لپاره به کېدل یې د بتانو او پړو لپاره کول.
د کعبې خونه چې د توحید سمبول و د ۳٦۰ بتانو په ایښودلو سره په یو لوئ موزیم بدله سوه.
بېلا بېل بتونه په بېلابېلو نومونو لکه (هبل)، (لات)، (منات) (نسر) او نور کښېښول سوي و.
که څه هم چې عرب په اصل کې د ابراهیم (ع) او اسماعیل(ع) پېروان وه او قران عظیم الشان د هغه په اړه فرمایي چې هغه یو موحد مسلمان وو نه نصراني وو او نه یهودي.

(مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ )(آل عمران - ٦٧)

عربانو د وخت په تېرېدو او د شیطان په وسوسو سره د ابراهیم (ع) دین پرېښودی او په بېلابېلو بهانو یې د اسلام مبارک دین د اساساتو څخه سرغړونه وکړه او بتانو او انسانانو ته په هغه عظمت او در نښت قایل سوه چې یوازې له خدای جل جلاله سره ښایي، په دې توګه هغوئ مشرکین سول او د کعبې په خونه کې یې د بتانو عبادت پیل کړئ.
هغه بتان چې عربویې عبادت کوئ ډېر یې د ښو او نیکو خلکو پړې وه ځیني یې د بېلابیلو ځایونو څخه لکه فارس راوړل سوي وه او ځیني یې د نوح (ع) د قوم څخه پاته وه.

Download from: www.aghalibrary.com

# شرک او مشرکین په قران او سنتو کي

په قران عظیم الشان کي د شرک په اړه زیات شمیر ایاتونه راغلي دي، خدای جل جلاله په قران عظیم الشان کي د شرک، د شرک د بري او د ټولو انسانانو له شرک څخه د پیغمبرانو په واسطه دلیري کوني او د مشرکینو د بدو عادتونو په اړه موږ ته معلومات را کوي چي هغوئ په څنګه ډول د پیدا سوو عبادت کوئ، دا آیتونو پر درو برخو وېشل کیږي.

۱- لومړی برخه :
د شرک جزا
۲- دوهمه برخه :
د پیغمبرانو بلنه د شرک څخه دلیري والي په موخه.
۳- دریمه برخه
د مشرکینو عادتونه.

## لومړئ برخه د مشرک جزا :

د شرک په اړه زیات شمېر ایاتونه را نازل سوي دي چي د خدای جل جلاله سره شریک نیول او و انسانانوته مخ اړول یې ناروا او غلط کار بللئ دئ او هغوئ چي په عبادت، مرسته غوښتنه او یا په نورو چاروکي د حیوانانو، انسانانو او نور موجوداتو د خدای جل جلاله په چاروکي ورشریکوي د هغوئ لپاره یې سخت عذابونه بیان کړي دي.
ددغو خرافتي چارو په اړه دغه آیت مبارک وګوری:

Download from: www.aghalibrary.com

﴿وَأَذَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٌ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُۥ ۚ﴾(التوبه – ۳)د خدايجل جلاله او د هغه د رسول اشاره د حج اکبر په ورځ دا وه،چي خدايجل جلاله او د هغه پيغمبر له مشر کينو څخه بېزاره دي.

کله چي يو څوک زيات عبادت کوي، ډېر زحمتونه گالي، ډېر کوښښونه کوي، مگر کړني يې شر ک ته ورته وي، هيڅ گټه نه وړي، ځکه چي خدای جل جلاله او د هغه رسول صلی الله عليه و سلم د هغه څخه بېزاره وه اوسي، د هغه ټولي کړني بې گټې دي.

ايا تردې بله سخته جزا سته چي خدای جل جلاله او د هغه رسول صلی الله عليه و سلم ورڅخه بېزاره وي، له مشر کينو څخه دا بېزاري په پورتني ايت کي په ښکاره توگه بيان سوې ده.

او تر ټولو خطرناکه خبره خو لا دا ده چي په اخيرت کي د ټولو گناهونو د بخښني امکانات سته مگر د شر ک د بخښني هيڅ چانس نسته، ځکه خدای جل جلاله فرمايي :

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴾(النسا – ۱۱٦)خدايجل جلاله شر ک نه بخښي،له دې څخه پر ته نور ټول گناهونه چي څوک بخښنه ځني و غواړي بخښي،او هر هغه څوک چي د خدايجل جلاله سره شر ک کوي،ډېر زيات لار ورکئ سوئ دئ.

حضرت معاذ (رض) فرمايي چي حضرت نبی کريم صلی الله عليه

Download from: www.aghalibrary.com

و سلم راته وويل آيا پوهېږې چي د خداى جل جلاله حق پربندګانو څه دى او د بندګانو حق پرخداى جل جلاله څه دى؟

ما ورته ويول: چي خداى جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهيږي.

حضرت محمد صلى الله عليه و سلم وويل: د خداى جل جلاله حق پربنده دا دى چي د هغه جل جلاله عبادت وکړي او له هغه جل جلاله سره څوک او څه شي شريک نکړي او د بنده ګانو حق پرخداى جل جلاله دادى کله چي بنده له هغه جل جلاله سره شريک نه وي نيولې، هغه ته عذاب ورنکړي ( د بخاري شريف ۲٦۴۴ شميره حديث)

حضرت عبدالله (رض) فرمايي کله چي دا ايت شريف نازل سو:

(الذين امنوا ولم يلبسو ايمانهم بظلم) هغوى چي ايمان يې راوړئ دئ او خپل ايمان يې په ظلم نه دئ ملبس کړئ.

موږ ټولو وويل چي اې رسول الله صلى الله عليه و سلم په موږ کي کوم يوه پرخپل ځان ظلم نه دى کړى ( موږ هريوه خامخا يوه ګناه کړې ده چي ګناه کول پرخپل نفس باندى ظلم دى).

پيغمبر صلى الله عليه و سلم وويل : ددې ايت مانا ښنګه چي تاسو درک کوى داسي نه ده منظور له دې څخه دا دئ چي هغو خپل ايمان په شرک ملبس کړى نه دى، آيا تاسو نه دي اوريدلي چي حضرت لقمان خپل زوى ته څه وويل : (يابنى لاشرک بالله ان الشرک الظلم عظيم)

اې زويکيه د خداى جل جلاله سره شريک مه نيسه ځکه چي شرک ستره ګناه ده . ( د بخارى شريف ۳۱۱۰ شمېر حديث)

حضرت ابى هريره (رض) فرمايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل : له بربادونکو څخه ځان وژغورى : د خداى جل جلاله سره شريک نيول او جادو. ( بخارى شريف ۵۳۲۲ شميره حديث)

حضرت انس (رض) وايي چي د نبى کريم صلى الله عليه و سلم

Download from: www.aghalibrary.com

څخه دلويو ګناهونوپه اړه پوښتنه وسوه : هغه وويل د خدای جل جلاله سره شريک نيول، د مور او پلار زهيرول، وژنه او پر درواغ شاهدي ورکول.

شرک يو ستر ظلم دی:

ظلم بيلابيل ډولونه لري مګر تر ټولو ستر ظلم د ځان په اړه ظلم دی، انسان چي کله ځان په شرک اخته کوي، پر خپل ځان ډير لوئ ظلم کوي، ځکه ځان د خدای جل جلاله له رحمته څخه ليري کوي، د خدای جل جلاله سره خپله دښمني اعلانه وي او د خدای جل جلاله عذاب د ځان پر لور رامات وي، نو له دې کبله لقمان خپل زوی ته له هرڅه څخه وړاندي لارښوونه کوي چي د شرک څخه ځان وساته چي ستر ظلم او لويه ګناه ده او خدای جل جلاله د لقمان دا حکمت خپلو بندګانوته داسي بيانه وي . (وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَـٰنُ لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَـٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٌ ) ( لقمان – ۱۳)هغه وخت چي لقمان خپل زوی ته نصيحت کوئ هغه ته يې وويل چي اې زما بچيه له خدايجل جلاله سره شريک مه نيسه ځکه شرک خورا لوی ظلم دئ.

Download from: www.aghalibrary.com

## دوهمه برخه :

د پيغمبرانو دعوت له شرک څخه دليري والي په موخه :

هر کله چي د کوم پيغمبر تاريخ لولو نو وينو چي د ټولو پيغمبرانو يوازنۍ بلنه توحيدته وه، او له شرک څخه ځان ساتنه وه قران عظيم الشان په دې اړه وايي : (وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ )( الزمر– ٦٥)تا ته او ټولو هغه کسانو ته چي ستا څخه مخکي وه وحي سوي دي هر وخت چي تاسو شرک و کي نو هغه وخت مو ټول عملونه باطل سول او د تاوانيانو له ډلي څخه به اوسی.

(وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ) ( لقمان –۱۳)هغه وخت چي لقمان خپل زوی ته نصيحت کوئ هغه ته يې وويل چي اې زما بچيه له خدايجل جلاله سره شريک مه نيسه ځکه شرک خورا لوی ظلم دئ.

هغه څه چي په دې اړه د فکر وړ دي، و خپل زوی ته د لقمان لومړني نصيحتونه دي، لقمان هغه شوک دئ چي خدای جل جلاله وايي ( آتينا لقمان الحکمه) موږ لقمان ته حکمت ورکړی دئ، بناً په دې ځای کي شک نسته چي لقمان يو هوښيار کس وو، دا سړی چي د قران عظيم الشان په وينا د حکمت خاوند سړی دی او حکمت يې هم له خپله ځانه څخه نه دئ بلکي د خدای جل جلاله له رحمت څخه دی د هغه لومړنی نصيحت وخپل زوی ته دا وو چي له شرکه ځان وژغوره (

Download from: www.aghalibrary.com

يا بنى لا شرک بالله) اې زويکيه له خدای جل جلاله سره شرک مه نيسه
.

د لقمان پوهي او حکمت له هغه څخه دا غوښتنه کول چي زوی ته دي داسي وه وايه ځکه هر پوه او هوښيار کس د بد بختيو له ګرداب څخه ځان کاږي او ځان له دې خطرناک مکروب څخه چي په ميليونو انسانان په اخته دي ساتي.

بناً د يوه هوښيار او پوه کس لپاره لازمه ده چي د ژوندانه چارو ترمخه خپلو زده کوونکوته د شرک څخه دځان ساتني زده کړه ورکړي، ځکه حکمت او پوهه دا غواړي، چي له هغه څه چي د خدای جل جلاله سره دښمني ده ځان وژغوري او له هغه څه چي هيڅ د بخښني چانس نه لري ځان وژغوري... او له هغه څه چي ټولو پيغمبرانو او امت يې ځان ځني کتی ځان وګورو... ځکه د هرڅه په پيل کي بايد انسان د شرک د رزايلو او د بې ايمانی څخه ځان خلاص کړي ... کفرډېر څرګند دی ... مګر شرک ډير پټ دی... مؤمن مسلمان کافر کيږي نه ولي ډيرکسان سته چي خرافتو له کبله د خدای جل جلاله د مبارکو آيتونو، او د نبي کريم صلی الله عليه و سلم د حديثونو په پام کي دنه نيولو سره په دې خطرناکه ناروغی اخته کيږي.

مګر هغوی چي خدای جل جلاله پوهه ورکړې ده د لقمان د پوهي په څېر، د هغوی لومړۍ زده کړه د شرک څخه د ځان ساتني زده کړه وي ... لقمان خپل زوی ته په خوږه ژبه وايي (يابنى) اې زوی کيه! هغه هغه چاته چي ته چي ډېر ورته ګران دی او له هغه سره ډېره مينه لري وايي چي زړه دي د الله جل جلاله څخه پرته له نورو ټولو څخه خالي کړه.

هغه د شرک له مکروبونو او وايرسونو څخه خبره وو او په لومړي

Download from: www.aghalibrary.com

درس کي ورته وايي چي دخدای جل جلاله سره شریک مه نیسه.

لقمان چي یو پوه سړی وو لومړۍ درس یې له شرک څخه دلیري والي درس وو، مګر د ټولو الهي پیغمبرانو چي د نبوت او رسالت ستر مقام یې درلودی او هره اړخه پوه او لوی کسان ول په وارو وارو یوازي خپلو زامنوته بلکي ټولو انسانانوته د توحید تبلیغ کړی او ویل به یې (ماکان لنا ان شرک بالله من شیء) نه ښایي موږ ته چي له هغه سره وي، موږ یو څوک یا یو شی شریک کړی.

(وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ)( یوسف – ۳۷)ما مي د پلرنو ابراهیم ، اسحق او یعقوب پیروي وکړه،موږ ته نه ښایدل چي د خدایجل جلاله سره یو شئ شریک کړو،دا د لوئ خدایجل جلاله څخه پر موږ باندي یو لوئ رحمت دئ مګر ځیني خلګ د دې رحمت شکر نه کاږي.

(لَقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ( المائده –

Download from: www.aghalibrary.com

۷۲)هغوئ چي و یې ویل هغه د مریمي زوئ عیسیٰ خدایجل جلاله دی هغوئ په بشپړه توګه کافران سول پر دې سربېره چي خپله همدغه مسیح(ع) ویل اې بني اسراییلو د یګانه خدایجل جلاله چي زما او ستاسو پروردګار دئ عبادت وکړی هر هغه چا چي په تاسو کي هغه ته شریک و نیوئ خدایجل جلاله جنت پر هغوئ حرم دئ او د هغو ځائ دوږخ دئ او ستمکارن دوستان او قریبان نه لري.

﴿هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ﴾ (ال عمران – ٦٦) اې اهل کتابو راسئ هغو خبرو ته چي زموږ او ستاسو په منځ کي یو شان دي،چي یوازي له یوه خدایجل جلاله څخه پرته د بل شي عبادت و نه کړو او بل شی هغه ته ورته و نه بولو،ځني زموږ،ځیني نور،پرته له یوه خدایجل جلاله څخه په خدایي و نه مني،هر کله که چیري (له دې دعوت څخه)سر و رغړوي،و وایاست : تاسو شاهدان و اوسئ چي موږ مسلمانان یو.

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا﴾ ( الکهف – ۱۱۰)ورته و وایه چي زه یوازي ستاسو په شان یو بشر یم زما یوازنی ځانګړنه له تاسو څخه دا ده

Download from: www.aghalibrary.com

چي ماته وحي کيږي هر هغه څوک چي د خدايجل جلاله د ليدو تمه لري،ښه کارونه دي کوي او د خدايجل جلاله په عبادت کي دي څوک نه شريکوي.

ددغو اياتونو پر اساس چي کله د پيغمبرانو د ژوند تاريخ لولو نو وينو چي ټولو پيغمبرانو (ع) خپل امتونه تل يووالي (توحيد) ته رابلل، مګر شيطان د هغو د تېر ايستولو لپاره درې وسيلې کارولې:

لومړۍ وسيله :

د پيغمبرانو او ديوالي د عقيدې (توحيد) څخه په ښکاره انکار.

دوهمه وسيله :

د پيغمبرانو د امت مشرک کول

دريمه وسيله :

د مسلمانانو خپل منځي اختلاف منځ ته راوړل .

کله چي پيغمبرانو خلګ د يوه خدای جل جلاله عبادت ته رابلل، ډيرو خلګو د پيغمبرانو خبروته غوږ نيوی او په عقلي دلايلو، معجزو د پيغمبرانو لوړو شخصيتونو او نورو دلايلو به مسلمانان کېدل او له ګناهونو او جرمونو څخه به يې ځان وساتی، انساني او پيرياني شيطانانو فکر وکړی چي د هغوئ په بشپړه توګه کافران کول سخت کار دی، حتیٰ په سلا او وژنه يې هم ونکړائ سوای، چي د هغوئ له زړونو ديوالي (توحيد) عقيده ليري کړې، نو هغه وو چي نورو لاروته يې لاس واچوی، ترڅو په هغه لاره مسلمانان د يوه خدای جل جلاله د عبادت څخه ليري کړي، دا خطرناکه لاره شرک وو که چيري موږ هره ګناه وڅېړو په اخير کي په يو لاره نه په يوه لاره د خدای جل جلاله د رحمت په اساس هغه بخښل کيږي، مګر يوه ګناه چي د بخښلو هيڅ امکان يې نسته هغه شرک دئ ځکه خدای جل جلاله خپله شرک يو ستر ظلم بللی

Download from: www.aghalibrary.com

( ان الشرک الظلم عظیم)
او د شرک ګناه هیڅکله نه بخښل کیږي.

## دریمه برخه :

د مشرکینو عادتونه :

په قران عظیم الشان او نبوي احادیثو کي د مشرکینو دعادتونو په اړه په اوږده توګه بحثونه شوي دي، دا ایاتونه د مشرکینو د بدوعادتونو څخه موږ ته خبر راکوي دا بد رواجونه چي د جاهلیت په زمانه کي یې په قریشو مشرکینو، د حبشې په مشرکینو او د هغو شاوخوا نورو مشرکینو کي یې ستون درلودئ ځکه ترموږ رارسول سوي ترڅو پوه سو چي هغوئ څنګه له توحید څخه لیري او مشرکین سول او څنګه بیرته د توحید پرخلاف وجنګېدله ترڅو د دغو حقایقو په نظرکي نیولو سره مسلمانان شرک وپیژني او له هغه څخه ځان وساتي.

۱- په عبادتونو کي واسطه پلټنه :

مشرکینو به پیدا سوي خلګ او شیان و خدای جل جلاله ته د نږدې والي په نوم د خپل ځان اوخدای جل جلاله ترمنځ ټاکل پرځای د دې چي په مستقیمه توګه د خدای جل جلاله عبادت وکړي هغه ته به یې یوه واسطه پیدا کول کله چي به پرهغوی نیوکه کېدل چي تاسو ولي ددې بتانو عبادت کوئ نو هغه به ویل چي موږ د دوئ عبادت نه کوو بلکي دا هغه شیان دي چي خدای جل جلاله ته نږدې یا یې دوستان دي چي موږ هم خدای جل جلاله ته نږدې کوي، خدای جل جلاله په دې اړه فرمایي :

Download from: www.aghalibrary.com

خبر اوسئ چي خالص دین یوازي پاک خدایجل جلاله لره دئ هغوئ چي پر ته له الله جل جلاله یې نور څوک یا نور څه اولیا او دوستان نیولي او وایي: موږ د هغو عبادت نه کوو بلکي دا موږ خدائ ته نږدې کوي،خدایجل جلاله به د دوئ د دې اختلاف په اړه حکم وکړي او خدایجل جلاله هیڅ درواغجن او کافر نه خوښوي(... – ۱۹۳ – ۱۹۴).

دا ایت شریف د قریشو کړني ډیري بدي بولي او ورته وایي چي تاسو و وایاست چي موږ د خدای جل جلاله عبادت کوو مګر دا بتان و خدای جل جلاله ته د نږدې والي له کبله کاره وو، ستاسو داکړنه یو درواغ او کفر دی، ځکه ستاسو دا کار د توحید او خدای جل جلاله عبادت څخه ډېر لیري دئ، ځکه خدای جل جلاله یو مهربانه ذات دئ د بتانو واسطه کولو ته اړتیا نه لري.

کله چي قریشو دا دلیل راوړي چي موږ دا کار و خدای جل جلاله ته د نږدې والي له کبله کوو، خدای جل جلاله د هغو دا نظر رد کړی او خلګوته یې وښول چي دا د بت پرستو او جاهلو خلګو خیال دی، ځکه که چیري یو څوک زما حقیقي بنده وي زه هغه ته نږدې یم، نو ځکه بل چاته اړتیا نه لری چي ماته یې د نږدې والي لپاره وکاره وي.

۲– د پیغمبر عبادت کول:

عیسوي مشر کینو چي کله د توحید عقیده پرېښوده او انساني او پیریاني شیطانانو هغوی خپله د حضرت عیسی (ع) عبادت ته ورکش کړل، هغوی د عیسی (ع) پړی (مجسمه) جوړه کړه او د خپلو عبادتخانو دننه یې کښېښوده او د هغه عبادت یې پیل کړی چي تر اوسه ادامه لري.

حضرت ابراهیم (ع) چي قران عظیم الشان هغه بت ماتونکئ

Download from: www.aghalibrary.com

راپېژندلئ او د هغه کیسه په بشپړه توګه په قران عظیم الشان کې راغلې ده، قریشو مشرکینو د هغه او د زوی اسماعیل (ع) پرې جوړ کړل او په کعبه شریف کې یې کېښېښوول.

نصرانیانو فکر کوئ چې هغو د عیسی سره زیاته مینه لري او د هغه صفتونه او ستاینه به یې کول، څو هغوئ د هغه (ع) په ستاینه کې دونه ډېرښت ( افراط) وکړی چې هغه یې د پیدا سوي (مخلوق) له مرتبې څخه پورته کړی او د خداي ستایني یې ورته منسوبې کړې، که څه هم چې دا د یوې دسیسې په پایله کې پیښه سوه چې د شارل یولس لخوا جوړه سوې وه، مګر وروسته هغه د ټولو نصرانیانو په منځ کې خپره سوه او هغوی یو پیغمبر د انساني صفتونو څخه وکښئ او د خدای جل جلاله صفتونه یې ورکړل او هغوی په خپله مینه کې د ډېرښت (افراط) له کبله ځانونه مشرکین وګرځول، ځکه کله چې د یوه انسان زیاته ستاینه او صفت وسي او د خدای جل جلاله ستایني هغه ته ورکول سي دا په حقیقت د خدای په حق کې تېرئ کول دي، چې دې تیري ته شرک وایي.

۳- د خدای جل جلاله د دوستانو عبادت :

لات، عزي او منات په حقیقت کې ښه خلک وه چې د مرګ څخه وروسته یې هم خلکو ډېر درنښت کوئ او تردې اندازې یې ورسوی چې د هغه بت یې جوړ کړی او عبادت یې کوی، موږ دلته دلات بت په اړه ځیني ټکوته ستاسو پام را اړو چې دطایف او شاوخوا خلکویې عبادت کوی، لات په حقیقت کې یو ډېر ښه سړی وو چې مخکي له مرګ څخه یې د خلکو مرسته کول په خاصه توګه هغه حجاجوته په خپل کورکي ځای ورکوی او هغوئ ته به یې ډول خواړه چې سویق نومیدل

Download from: www.aghalibrary.com

په ډالۍ کي ورکول.

کله چي هغه مړ سو خلګو هغه په ډېر درنښت ياده وی او د هغه د قبر زيارت به يې کوی، وروسته يې پرهغه ګنبده جوړه کړه او په هغه به يې توسل کوی او د هغه د قبر طواف به يې کوی او د نوربتانو په اړه لکه عزي و منات هم ورته کيسې پيښي سوي دي. لکه څنګه چي خدای جل جلاله په قران عظيم الشان کي فرمايي :

﴿أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ (۱۹) وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ (۲۰) أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ (۲۱) تِلۡكَ إِذٗا قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ (۲۲) إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهۡوَى ٱلۡأَنفُسُۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلۡهُدَىٰٓ (۲۳)(النجم-۱۹-۲۳)

۴- د قبرونو عبادت :

(د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په زمانه کي د حبشې مشرکينو د خپلو سترکسانو د قبرونو درنښت او عبادت کوی، قبرونو ته به يې سجدې کولې او قبرونه يې خپل سجده ځای ګرځولی وو.

بي بي عاييشه (رض) فرمايي چي ام حبيبه او ام سلمه د هغو کليساو په اړه چي په حبشه کي يې ليدلي وي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته کيسه کول، حضرت نبي کريم صلی الله علیه و سلم هغوئ ته وويل: هغوئ هغه کسان دي کوم چي کله يې مشر مړ سي هغوئ يې پرقبرونو

Download from: www.aghalibrary.com

طوافونه او سجدې کوي او د هغوی انځورونه کاږي دا خلک به د اخیرت په ورځ د بدترینه پیدا سوو (مخلوقاتو) څخه وي دا حدیث د بخاري شریف په الصلاة څپرکي کي راغلئ دئ.

په یوبل حدیث شریف کي چي بي بي عاییشه (رض) د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم څخه روایت کړئ دئ راغلي دي کله چي نبي کریم صلی الله علیه و سلم پر مرګوني ناروغي پروت وو (د کومي له لاسه چي وفات سو) نو ویل یې ( خدای جل جلاله پر یهودو او نصارو لعنت وکړی ځکه چي د خپلو پیغمبرانو زیارتونه او قبرونه یې عبادت ځایونه او مسجدونه وګرځول.

پیغمبر صلی الله علیه و سلم له دې کبله چي امت یې د هغه قبرته عبادت ونکړي خدای جل جلاله ته دعا وکړه او ویې ووېل : (اللهم لا تجعل قبری و ثنالعن الله قوما اتخذوا قبور انبیائهم مساجد) ستر ربه زما له قبره څخه بت مه جوړه وه خدای جل جلاله پر هغه قوم چي د خپلو پیغمبرانو د قبرونو عبادت یې کوی لعنت وکړې.

هغه په یوبل حدیث شریف کي په ښکاره توګه خپل امت ته امر کوي ( لا تجعلن قبری وثنالعن الله قوما اتخذوا قبور انبیائهم مساجد) زما له قبره څخه بت مه جوړه وی، پرهغه قوم دي د خدای جل جلاله لعنت وي چي د خپلو پیغمبرانو قبرونوته سجدې کوي.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم ددغه ښکاره امر په نظر کي نیولو سره موږ مسلمانان چي د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم امت یو پردې سربېره چي د هغه ډېر زیات درنښت لرو او له هغه سره ترمور، پلار، اولادونو او نورو دوستانو زیاته مینه لرو مګر زموږ دا مینه باید افراطي نه وي چي د هغه قبرته سجده وکړو.

ځکه زموږ مینه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د لارښوونو

Download from: www.aghalibrary.com

په رڼا کي ده نه ده یهودو او نصارو په تقلید چي د خپلو پیغمبرانو او سترو شخصیتونو د قبرونو عبادت به یې کوی.

خدای جل جلاله حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ته وایي چي ټول پیغمبران بشر ( انسانان) وه، او د بشریت د لارښووني لپاره د خدای جل جلاله له پلوه راغلي دي چي د وحي له لوري یې د خدای جل جلاله حکمونه ترخلګو رسول .(قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ) (ابراهیم۱۱)

په دې ایت شریف کي مؤمنانوته د پیغمبرانو ټول حقایق بیان سوي دي لکه څنګه چي به هغو خپلو پیروانو ته ویل چي موږ بشر یو ستاسو په څېر انسانان یو، د خدای جل جلاله بنده ګان یو او زموږ توانایي ترهغه ځایه ده تر کومه ځایه چي خدای جل جلاله موږ ته اجازه راکړې ده.

خدای جل جلاله زموږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و سلم ته امر کوي چي ته صحابوو او نور ټول امت ته ووایه چي ته یو انسان، پیدا سوي او بشریې .

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ

Download from: www.aghalibrary.com

بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا (الكهف-۱۱۰)

اصحابو کرامو هم په دې سره خدای پېژندنه پیغمبر پېژندنه او خپل ایماني موقف وپېژندئ او په دې اړه له صحابه کرامو څخه زیات روایتونه هم راغلي دي.

۵- د پیدا سوو په وړاندي په دعا لاسونه لپه کول:

دمکې مشرکینو عادت درلودی چي د پیدا سو په وړاندي یې په دعا لاسونه لپه کول کله چي څوک د پیدا سو په وړاندي لاسونه لپه کړي چي د هغه مشکل حل کړي، یا هغه ته اولاد ورکړي، یاکومه ګټه ور ورسوي او یا د هغه په وړاندي سرټیټ کړي چي یوڅه ورکړي، د قران عظیم الشان له نکته نظره دا کار حرام او ناروا دی، دا مهمه نه ده چي هغه څوک ښه څوک یا بد څوک وي، انسان وي حیوان وي نبات وي او یا جامد وي،ځکه په قران عظیم الشان کي (من دون الله) له الله جل جلاله څخه پرته ویل سوئ دئ اوس هغه څوک چي دغو مشرکینو به د دعا لاسونه ورته لپه کول له الله جل جلاله څخه پرته کوم څوک وو نو قران عظیم الشان و مشرکینو قریشوته داسي فرمایي : (إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ )(الاعراف : ۱۹۴)هغو کسانو ته چي د خدای پرته دي تاسو ورته ژاړئ او د هغو عبادت

Download from: www.aghalibrary.com

کوئ،عيني ستاسو په څېر بندګان دي هغوئ ستاسو لپاره هيڅ نه سي کولائ او ستاسو فريادونو ته مثبت جواب نه سي ويلائ،که چيري تاسو په خپلو خبرو کي رښتني ياست نو تاسو هغو ته فرياد و کئ او و ګورئ چي هغه تاسو ته څنګه جواب در کي.

اوس به را سو هغه درسونو ته چي له دغه ايت څخه لاس ته راځي:

الف : په دې ايت شريف کي مشرکينو ته ويل سوي دي چي ستاسو اساسي مشکل دادئ چي تاسو له هغه چا څخه مرسته او کومک غواړئ چي ستاسو په څېر بندګان دي( عباد امثالکم) بناً هر هغه څوک چي يو داسي شي چي له خدای جل جلاله څخه غوښتل کيږي له بنده څخه و غواړي د ګناه مرتکب ګرځي.

ب : په نصرانيانو کي د مشرکينو مشکل :

عربان او نور هغه خلګ ول چي له الله څخه پرته يې په بل چا پوري زړه تړلئ وو، لاسونه يې له خدای جل جلاله څخه پرته د بل چا پر لور پورته کړي وه او له هغوئ څخه يې مرسته غوښته، اوس دلته قراني قاعده داسي ده چي له خدای جل جلاله څخه پرته بايد و بل چا ته د عاجزئ ، بېچارګۍ، مشکل حل کووني او خير رسوني لپاره لاسونه اوږده نه کړل سي، کله چي يوڅوک له الله جل جلاله څخه پرته په دغو چاروکي مرسته وغواړي سمدستي له کوم مشکل سره مخ کيږي.

ج : په قراني ايت کي راغلي دي (من دون الله) له خدای جل جلاله څخه پرته اوس که چيري موږ ته دلته سوال پيدا سي چي (من دون الله) څوک او څه شي دي؟ طبعي خبره ده چي دا به يو ډېر جاهلانه سوال

Download from: www.aghalibrary.com

وي ځکه په (من دون الله) کي ټول کسان او شيان شامل دي انسانان،حيوانان، نباتات، مايعات او جامدات په دې آيت شريف کي د پيغمبرانو، د خدای جل جلاله دوستانو، ښو او نيکو خلکو او نورو په اړه کومه ځانګړتيا (استثنا) نه ده راغلې چي هغوی په دې حکم کي شامل نسي، بناًپه دې حکم کي عيسويان چي د دعا لپاره حضرت عيسی (ع) ته د دعا لاسونه پورته کوي، هغه يهود چي د حضرت عيسی (ع) خپل مشکل کشا بولي او هغه کسان چي دلات عبادت کوي هم په دې حکم کي شامل دي، لات په اصل کي يونيک سړی تيرسوی دئ چي د مرګ مخکي به يې له خلګو سره مرستي او کومکونه کول او په خاصه توګه يې د خدای جل جلاله دکور د حجاجو ډېر کومک کوی او هغوئ ته به يې يو ډول خواړه چي سويق نوميده ورکول، کله چي هغه ومړ خلګو به يې زيارت کوی او پر قبريې يوه ګنبده ور جوړه کړه او هغه به يې واسطه کوئ او د هغه پر قبر به يې طواف کوئ او وروسته يې د هغه بندګي شروع کړه او له هغه څخه به يې مرستي او کومکونه غوښتل.

د : خدای جل جلاله مشرکينوته وويل د هغه کسانو چي تاسو عبادت کوئ هغوئ ستاسو په څېر بنده ګان دي او که چيري بيا هم پرخپله دې کړنه ټينګار کوئ نو بيا له هغوئ وغواړئ او هغوئ دي يې هم قبول کړي که چيري تاسو رښتيا ويونکي ياست. په داسي حال کي چي هغوئ نه سي کولای ستاسو عادي خبروته جواب و وايي نو هغوئ څنګه کولائ سي چي ستاسو مرسته وکړي او تاسو ته خير و رسوي،نو له دې څخه ښکاري چي تاسو درواغجنان ياست او ستاسو عقيده باطله او نا بشپړه عقيده ده.

په دې ايت کي هغوی ته ښودل سوي دي چي اول خو هغوی

Download from: www.aghalibrary.com

ستاسو په څېر بنده ګان دي، نو تاسو باید له بنده ګانو څخه څه و نه غواړی، دوهم دا چې تاسو باید له خدای جل جلاله څخه پرته له بل چا څخه مرسته ونه غواړی او که چیري تاسو بیا هم ټینګار کوی نو بیا یې ځیني وغواړی چې تاسو ته خپله په ډاګه سي چې هغوئ هیڅ نسي کولای په یو بل ایت کي دداسي عمالو په اړه راځي :

(إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ) (فاطر : ۱۴)

که چیري تاسو هغوئ خپلي مرستي ته رابولئ نو هغوئ ستاسو ږغ نه اوري او که چیري اورې یې هم تاسو ته جواب نه سي ویلائ...تر پایه

هغه درسونه چي له دې ایت څخه اخستل کیږي :

الف : خدای جل جلاله د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د زمانې مشرکینو ته وایي هغوئ چي مړه سوي دي او تاسو لاسونه ورته پورته کوئ چي خیر در و رسوي، هغوئ ستاسو ږغ نه اوري، ځکه که چیري هغوی کولائ سوائ چي چاته خیر و رسوي نو دا خیر به یې خپل ځان ته رسولی وائ، او ځان به یې د مرګ څخه ساتلئ وائ.

دا زموږ مؤمنانولپاره یو ښه درس دئ چي د مشرکینو دا کار یو جاهلانه کار وو څوک باید د خدای جل جلاله پرته د بل چا څخه مرسته ونه غواړي نه باید چاته د خیر رسوني لپاره لاس اوږد سي او نه خوله خلاصه سي خو پرته له خدای جل جلاله څخه.

Download from: www.aghalibrary.com

ب : خدای جل جلاله يوځل بيا د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم د پېر مشرکينوته وايي هرکله چي تاسو فکر کوئ چي يا هغوئ زموږ خبري اوري او پردې باطله عقيده ټينګار کوي، که چيری هغوئ ستاسو دعا اوري، قبلولای يې نه سي، ځکه هغوئ د دعا د قبلولو توان نه لري، دا هم زموږ لپاره يو درس دی چي پيدا سوي زموږ دعا نه اوري او نه يې قبلولائ سي نو بيا د دغه ايت شريف په پام کي نيولو سره موږ هيڅ مجبوريت نه لرو چي د خدای جل جلاله څخه پرته بل چا يا شي ته د مرستي لپاره لاس اوږد کړو.

ج : په دې ايت شريف کي د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم د زمانې مشرکينو ته ويل سوي دي که چيري تاسو پر خپلي دې کړني همداسي پاته سئ هغه کسان چي تاسويې خپل دوستان بولئ او د خدای جل جلاله پرځای له هغو څخه مرسته غواړئ، هغه کسان به ستاسو شرک رده وي او تاسو به ملامته وي.

بناً موږ مؤمنانو ته په کار ده چي دا ايت خپل د عقيدې بنسټ وګرځو او هيڅکله داسي کار و نه کړو چي د قران عظيم الشان خلاف وي. ځکه موږ په دې عقيده يو چي ټولو پيغمبرانو او دخدای جل جلاله دوستانو خلګ له خدای جل جلاله سره مخامخ اړيکوته رابلل.

## ٦- مشرکينو قريشوبه پيدا سوي مشکل حلونکي بلل :

د مشرکينو اساسي مشکل دا وو چي د ناروغۍ تکليفونو او نورو مشکلاتو په وخت کي به يې خدايجل جلاله هيروی او پيدا سو (مخلوقاتو) ته به ورتلل او هغوی به يې د مشکلاتو حلونکي بلل، خدای جل جلاله هغوی ته وويل :

Download from: www.aghalibrary.com

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَـٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ ( النمل : ٦٢)هغه څوک دئ چي د دعا کونکي دعا قبلوي او بد حالت ليري کوي او تاسو په مځکه کي خپل ځای ناستئ ټاکي آيا خدايي له خدايجل جلاله سره ده؟ډېر کم يادېږي.

د دې لپاره چي د مشرکينو افکار د حضرت محمدصلی الله عليه و سلم په امت کي په بشپړه توګه له منځه ولاړ سي مفسرين په دې اړه داسي تفسيرونه وړاندي کوي.

امام رازی (رح) وايي : اړتيا هغه څه ده چي انسان يو چا ته اړ باسي او بې چاره هغه څوک دئ چي ناروغي، نيستي يا کوم مشکل هغه د خدای جل جلاله ددربارته اړ باسي او بيا وايي : ((فانه لا يقدر احد على كشف مادفع اليه من فقر الى غنى و مرض الى صحة وضيق الى سفة الا القادر الذي لا يعجز والقاهر الذي لاينازع) هيڅوک د تاوان په ليري کولو توانمند نه دي چي نيستمن ستمن کړي، ناروغ روغ کړی او سختي په اساني بدله کړي مګر پرته له توانا ذات څخه چي هيڅکله عاجزه کيږي نه چي هيڅوک نسي کولای له هغه سره منازعه وکړي.

د نمونه تفسير ليکوال ليکلي : کله چي د انسانانو پرمخ ټولي لاري تړل کيږي، چاره يې غوښي ته رسيږي او له هره پلوه مايوسه کيږي نو په دې وخت کي يوازنی څوک چي د مشکلاتو د حل لاره ورسره ده، چي په زړونو کي د اميد ډيوې بلوي او مشکلات له منځه وړي يوازي هغه ستر ذات دی او بس.

Download from: www.aghalibrary.com

هغه زیاتوي (که څه هم خدای جل جلاله د هرچا دعا، چې ټول شرایط یې پوره وي قبلوي، مګر په پورتني ایت کې د بې چاره پر کلمه باندې ټینګار سوئ دئ، نو په دې دلیل د دعا یو شرط له پیدا سوو څخه په بشپړه توګه سترګې پټول دي او خپل ټول روح او زړه یوازې له خدای جل جلاله سره مشغولول دي. ټول څه یوازې د هغه بلل دي او د هرمشکل یوازنی حل کوونکئ هغه بلل دي، دا پرځای خبره ده چې نړۍ د سامان الاتوځای دئ او مؤمنان په بشپړه توګه کارځني اخستلای سي مګر هیڅکله په دې سامان الاتي نړۍ کې ځان نه ځني ورکیږي.

هغه له سامان الاتو او اسبابوڅخه ګټه اخلي مګر د اسبابو د پردې ترشا مسبب الاسباب ذات ویني او هرڅه له هغه څخه غواړي، که چیري په رښتیا سره انسان د دعا لپاره دغه ټولي لاري وهي نو د دعا د قبلیدو مرحلې ته رسیږي.

مؤمن انسان د مشکلاتو دجوړیدو په وخت کي لومړی دنړۍ سامان الاتوته رجوع کوي، د درملو د لاس ته راوړو لپاره ډاکټرته ځي او درمل لاس ته راوړي مګر باور لري چې دروغتیا ورکونکی یوازي الله جل جلاله دی او د نور مشکلاتو د پیښیدو په حالت کي هم له مادي الاتو څخه ګټه اخلي مثلاً کله چي ډوبیږي کوښښ کوي چي له ژغورنکو بېړیو څخه کار واخلي، له مسئولو کسانو سره په ټلیفون کي وږغیږي، مګر کله چي یې د ټولومادي امکاناتو څخه امید پرې کیږي اونور مادي اسباب نه یي کولای چي د هغه د درد درمل سي نو بیا یوازي مسبب الاسباب ذات (الله) جل جلاله ته ځان ور رسوي.

امام احمد د ابی تمیمه هجیمي څخه روایت کوي چي یوه هجیم سړی وویل: و مي ویل اې د خدای جل جلاله رسوله! څه شي ته خلګ رابولې؟ هغه وویل: د یوه خدای جل جلاله پر لور د هغه خدای جل جلاله

Download from: www.aghalibrary.com

پر لور چي کله کوم مشکل در پېښ سي هغه ياد کړې او هغه دي مشکل حل کړي او کله چي په داسي يو ځای کي و اوسېږې چي هيڅوک نه وي هغه ته وربږغ کړې هغه جواب درکړي. تر پايه.

په نهج البلاغه کي راځي : د رحمت له خزانې هغه څه وغواړی چي بل څوک يې نه سي درکولای لکه اوږد عمر، روغ صحت او اوږدې ورځي نو بيا به و وينی چي خدای جل جلاله د خپلو خزانو کلیې ستاسو په لاس کي درکوي، هغه تاسو ته واک درکړئ دئ چي هر وخت مو زړه غواړي دعا وکړئ ترڅو پر تاسو الهي رحمت و اوري.

۷ – مشرکينو به تاوان او ګټه چي يوازي د خدای جل جلاله له پلوه انسان ته رسيږي پر پيداسو تړل :

د پيغمبرانو او نيکو خلکو د پېروانو اساسي مشکل دا دئ چي هغوئ فکر کوي چي د دوئ لاربشود دوئ ته ګټه يا تاوان رسولای سي، مثلاً هغوئ فکر کوي چي هغه دوئ ته اولاد ورکولائ سي، يا د مشکلات په وخت کي د هغو مشکلات حلولای سي او دوئ ته ګټه رسولای سي.

د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم د امت خير په دې کي دی چي خدای جل جلاله لا له وړاندي هغوی له داسي تېروتنو څخه خبر کړي دي او کله چي موږ قران عظيم الشان لولو نو هغه موږ ته امر کوي چي له داسي خرافاتو څخه ځان وژغورو.

خدای جل جلاله حضرت محمد صلی الله عليه و سلم ته فرمايي :

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ

Download from: www.aghalibrary.com

إِنْ أَنَاْ إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ) ( الاعراف :۱۸۸) ورته و وایه چي زه خپل ځان ته خير او شر نه سم رسولائ،ما ته هغه څه را پيښيږي چي خدايجل جلاله ماته مکرر کړي دي او که چيري زه په پټو پر ته له هغه څه چي ماته وحي کيږي خبروائ نو پر خپل خير او ګټه به مي همېشه زياتونه کول او هيڅکله به مي تکليف او زحمت نه ليدی زه نه يم مګر يو بيرېدونکی رسول او مومنانو ته زيرۍ ورکونکی.

له دې ايت شريف څخه لاندني ټکي په لاس راځي :

الف : په دې ايت شريف کي خدای جل جلاله حضرت پيغمبر صلی الله عليه و سلم ته امر کوي چي خپل امت دي پوه کړه چي ته هغوی ته ګټه او تاوان نه سې رسولای.

ب : دا چي پيغمبران چاته ګټه او تاوان نه سي رسولای ګټه او تاوان يوازي د خدای جل جلاله له پلوه دی دلته په ښکاره توګه بيان سوي دي.

ج : د دې ايت پر اساس پيغمبران نه سي کولای چي ځان ته ګټه يا تاوان ورسوي مګر هغه څه چي خدای جل جلاله وغواړي هيڅوک يې مخنيوی نه سي کولای.

د : خدای جل جلاله حضرت محمد صلی الله عليه و سلم ته امر کوی چي خپل امت ته دي داسي ووايه : (قل لا املک لنفسی نفعلولاضرا الاماشا الله) ووايه چي زه د خپل خير او شر څښتن نه مګر هغه څه چي خدای جل جلاله زما لپاره غوښتي وي، پيغمبرصلی الله عليه و سلم نسوای کولای چي خپل زوی له مرګه راوګرځوي، يا خپل يوه يارته چي عبدالله ابن ام مکتوم نومېدی او ړوند وو سترګي ورکړي اويا په هغه وخت کي چي کفارو سميه او ياسر شهيدانول لاسونه يې ور

Download from: www.aghalibrary.com

وچ کړي او ډبري پرهغوی وه اور وي او یا ټوله کافران په یوځل دغره له سره ورغړوي او یا په سلګونه نورکارونه چي د هغوی د ظلمونو د مخنیوي لپاره کیدلای سي وکړي.

پیغمبر صلی الله علیه و سلم په خپلو ستر ګو لیدل چي له یارانو سره یې ظلم کیدی مګر هغه په صبر او حوصله سره دا ظلم زغمئ او هر کله به یې دداسي مشکلاتو په وخت کي د خدای جل جلاله پر لور لاسونه لپه کړي وه.

ځکه (الاماشاء الله) په قران عظیم الشان کي دیوه قید په څېر راغلئ وو چي د ټولو مشکلاتو یوازني حلوونکئ الله جل جلاله دئ، دا د مؤمنانو لپاره یو لوی درس دئ چي حضرت محمد صلی الله علیه و سلم پرخپل ستر توب سربېره، چي خدای جل جلاله خپل پیغمبر ټاکلئ دئ نه سي کولای چي ځان او یانوروته ګټه ورسوي، نو بیا نور کسان چي رتبه یې تر پیغمبر صلی الله علیه و سلم کښته ده څنګه کولای سي چي نوروته ګټه یا تاوان و رسوي.

او وني، پاڼې او نباتاتو خو بیخي چاته ګټه او تاوان نه سي رسولای، د دغو مبارکو ایاتونو پر لوستنه سربېره څنګه یو انسان بیا هم د خدای جل جلاله څخه پر ته له بل چا څخه مرسته غوښتلای سي؟ یو پېغمبر له دغونه سترتوب سربېره نه سي کولای چي ړوند سم کړي ناروغ روغ کړي نو کاڼې، ډبري، لرګي او قبرونه څنګه کولای سي چي داسي یو کار ترسره کړي؟

هـ : خدای جل جلاله په صراحت سره و پیغمبر صلی الله علیه و سلم ته وايي چي خپل امت دي پوه کړه چي ((وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ)) که چیري زه له وحیو پر ته په بل څه پوهیدای نوما به هغه مشکلات چي ماته را پیښیږي بدلولای او

Download from: www.aghalibrary.com

خپله ګټه او تاوان به مي ډېر او لږ ولای.

په دې ځای کې مومنانو ته ورښودل سوې ده چې تاسو د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و سلم ژوند وګوری هغه ډېر وختونه له ډېرو لویو مشکلاتو سره مخ سوئ دئ که چیري هغه په پټو خبروای نو هغه به هیڅکله له مشکلاتو سره نه وای مخ سوئ. په دې اړه امام ابن کثیر وایي : په دې اړه ترټولو ښه تفسیر د ابن عباس (رض) څخه د ضحاک دی که چیري موږ په پټو پوهیدلای نو نیکیاني به مو ډېرولای له نیکیانو څخه هدف د مال ډېرېدل دي او په یوبل روایت کي بیا که چیري موږ پوهېدلای چي د کم شي رانیول موږ ته ګټه کوي نو موږ به هیڅکله له نیستمنۍ سره نه مخ کیدلای.

ابن جریر وایي: نور وایي که چیري موږ له پټو خبروای د وچو کلونو لپاره به مو له ابادو کلونو څخه ګټه اخیستلای او همداسي به مو د ګرانۍ لپاره آماده ګي نیولای. عبدالرحمن بن اسلم وایي : که چیري موږ پوهیدلای نومخکي له دې چي کمه ناروغي راوه رسیږي موږ به دځان درملنه کولای.

لنډه دا چي دا ایت دا خبره په ډاګه کوي چي ټول پیغمبران د تاوان رسېدو په وخت کي له تاوانه نه وه خبر او زیات وخت به په راکړه او ورکړه (رانیولو او خرڅولو کي) تېروتل چي دا خپله پردې دلالت کوي چي پیغمبران له پټو نه وه خبر.

او دا قراني ایتونه مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي هیڅکله په دې فکر کي نه سي چي پیغمبران له پټو خبر دي ځکه که هغوی له پټو خبروای نو هیڅکله به له کوم مشکل سره نه مخ کیدلای .

Download from: www.aghalibrary.com

## دحضرت محمد صلی الله علیه و سلم امت له شرکه څنګه خلاصون پیدا کړی؟

که څه هم چې د نورو پیغمبرانو امتونو تر کلتوري، عادتي،رواجي، فلسفي او فکر د تیر وتلو فکري مکتوبونو تر تاثیر لاندي له حقیقي لاري څخه واوښتل او له ډولونو څخه په یو ډول یې د توحید لاره هېره کړه او ځان یې په شرک اخته کړئ.

مګر د خدای جل جلاله د رحمت په اساس د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم امت له شرکه څخه خلاصون وموندی او د هغه علتونه هم په لاندي توګه دي:

۱- قران عظیم الشان :

دحضرت محمد صلی الله علیه و سلم د امت د خلاصون لومړی علت د قران عظیم الشان ساتنه ده، خدای جل جلاله دا سپیڅلی کتاب د فتنو څخه په خاصه توګه د شرک له فتنې څخه د بشریت د خلاصون لپاره د قیامت تر ورځي ساتي، د محمدصلی الله علیه و سلم امت ددې ستر نعمت څخه په ګټه اخیستنه سره له شر څخه ځان ژغوري او هرکله چې کومه تېروتنه ځني کيږي سمدستي قران عظیم الشان ته رجوع کوي د شرک ناروغۍ د قراني درمل په زور درملنه کوي او ځان له دې ناروغۍ څخه ساتي.

مخکي مو ولوستل چي قران عظیم الشان موږ ته د قریشو، نصرانیانو، یهودو او نور مشرکانو عادتونه بیان کړي وه او موږ کولای

Download from: www.aghalibrary.com

سوای چې د هغو د مشرکانه عادتونو په نظر کي نیولو سره له شرکه ځخه ځان وژغورو.

قران عظیم الشان د حضرت نوح (ع) د زماني حال، عادت او دودونه په بشپړه توګه موږ ته وړاندي کړي دي چې موږ کولای سو هغوته په کتنه د شرک څخه ځان وژغورو.

۲- نبوي احادیث :

حضرت پیغمبرصلی الله علیه و سلم په خپلو لارښوونو سره په اسلام کي د شرک لاره وتړل، هغه خپلو امتیانوته د توحید یووالي، عقیده په واضحه توګه بیان کړه او په همدې توګه یې خلګوته لارښوونه وکړه چې شرک یو ډېر خطرناک مکروب دی، هغه د خطرناکو مکروبونو په څېر دئ چې دهغه د لیدلو لپاره د قوي ایماني ذره لید اړتیا سته.

محمد صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي (الشرک فیکم اخفی من دبیب النمل) شرک ستاسو په وجود کي ترمېږیانو هم کوچنی او وړوکی دی.

دا مقایسه د شرک او میږیانو ترمنځ ځکه سوې ده چې انسان په ډېرو حالتونو کي و لویو شیانو ته پاملرنه کوي، مګرځیني خطرناک مکروبونه چې د انسان د هلاکت سبب ګرځي په اسانۍ نه لیدل کیږي، شرک ډېر وختونه د انسان په وجود کي ډیرښت مومي او انسان له هغه څخه نه وي خبر او خدای دي نه کوي په همدې شرک له دنیا څخه ځي او په هغه دنیا کي د سختو عذابونو حقدار ګرځي.

حضرت رسول الله صلی الله علیه و سلم د هري شرکي کړني په اړه په واضحه توګه په خپلو احادیثوکي معلومات وړاندي کړي دي چې د

Download from: www.aghalibrary.com

هغو په پیروي سره د دغي خطرناکي ناروغۍ او بد مکروب څخه ځان ساتلای سو او په همدې توګه یې د ځان په اړه هم په تول پوره خبري وړاندي کړي دي ځکه هغه پوهېدئ چي شرک تل د پیغمبرانو په ډېره مینه او د هغو په اړه په افراط کي منځ ته راځي.

هغه په دې اړه زیات احادیث ویلي چي ځیني یې په لاندي توګه دي:

الف : د حضرت پیغمبرصلی الله علیه و سلم لارښووني د هغه د زیاتي ستاینی په نه کولو کي:

د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و سلم د ستاینې او پیژندني په اړه په نبوي احادیثو کي ځیني حدیثونه رانقل سوي دي، چي تر ټولو مهم حدیث په دې اړه د خاص مؤمن په اړه یو حدیث دی چي بخاري رحمة الله روایت کړی دئ :

حضرت عبدالله بن عباس (رض) روایت کوي چي حضرت عمر (رض) وویل: چي حضرت پیغمبر صلی الله علیه و سلم د دریځ پرسر وویل : زما په ستاینه کي زیاته مبالغه مه کوی، څنګه چي نصرانیانو د حضرت عیسي (ع) په ستاینه کي زیاته مبالغه کول او هغه ته یې د خدای وی وویلی نو کافران شول ، زما په اړه دونه ووایاست چي هغه د خدای رسول او بنده دی.

فتح الباری ددې حدیث په سرحد کي وایي : لا تطرونی اطراء : باطلي ستاینې ته وایي، مثلاً د یوچا ستاینه مي وکړه او په ستاینه کي مي یې زیاتوالی وکړی.

او له (کما اطرت النساري ابن مریم) څخه هدف دادی څنګه چي نصرانیانو، د حضرت عیسي علیه السلام د بنده ګي له مقامه څخه وه

Download from: www.aghalibrary.com

ايستي او هغه يې د الوهيت په لور کش کړی.

په حقيقت کي يو انصاف د خدای جل جلاله په صفت ستايل يو باطل صفت دی، پيغمبرصلی الله عليه و سلم خپلو امتيانوته درس ورکړی چي تاسو بايد د کلمې ويلو په وخت کي داسي شاهدي ورکړی چي حضرت محمد صلی الله عليه و سلم د خدای جل جلاله بنده او رسول دئ.

د هغه بنده ګي د هغه پر پيدا سوي (مخلوق) والي او پر عبادت له مکلفوالي څخه بحث کوي، د هغه د پيغمبر والي صفت هغه د بنده ګي له صفت څخه نه سي خلاصولای هغه هم مکلف وو چي عبادتونه ترسره کړي، هغه زوی نه درلودی او ټول زامن يې په کوچني والي کي وفات سول، دا يو بل دليل دی چي هغه نسوای کولای چي چاته زوی ورکړي ځکه که چيري هغه دا توانايي درلودلای نو هغه به ځان ته ډير زامن پيدا کړي واې او کله چي د مکې قريشو وغوښتل هغه و وژني، هغه له ابوبکرصديق (رض) سره وتښتېدی او حضرت علي بن ابی طالب يې په خپل ځای کي بيده کړی.

که چيري هغه د دې واک درلودلای چي ځان ته زوی پيدا کړي نو ځان ته به يې زيات زامن پيدا کړي وای، مګر هغه دا کار ونکړ، ځکه هغه يو بنده وو او نه يې سوای کولای چي داسي يو کار وکړي، ځکه زوی ورکول، اولاد ورکول، ژوندي کول او وژل يوازي د الله جل جلاله په توان کي کارونه دي.

او په همدې توګه په دې حديث شريف کي حضرت پيغمبرصلی الله عليه و سلم خپل امت ته له پيغمبرانو او خپلو دوستانو سره د سلوک په اړه لارښوونه کوي، چي تاسو، بايد د پيغمبرانو په ستاينه کي زياده روي ونه کړی، پيغمبري او بنده ګي د هغو لپاره ښه مقام دی.

Download from: www.aghalibrary.com

د ابن کثیر لیکوال وایي : خدای جل جلاله خپل رسول په یو ډېر ښه مقام او سپېڅلي کلمه ستایلی دئ چي هغه عبد (بنده) ده لکه څنگه چي وایي:

هغه ته یې د قران د نازلیدو، د بلني پروخت او د معراج پروخت په عبد (بنده) ویلي دي او هغه ته یې د زړه تنگۍ په وخت کي او یا هم د مخالفینو د تکذیب په وخت کي د عبادت کولو امر کړی دئ.

علامه قرطبي په جامع الاحکام تفسیر کي فرمایي : پوهان وایي : که چیري د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم لپاره تر (عبد) مشرفه نوم وای، نو حضرت محمد صلی الله علیه و سلم به یې له دې ټول ستر توب سره په هغه نامه نوموی.

ب : زیار تونه په سجده ځایونو نه بدلول:

حضرت عبدالله بن عتبه (رض) وایي چي حضرت بي بي عایشه (رض) او حضرت عبدالله بن عباس (رض) وفرمایل چي پیغمبرصلی الله علیه و سلم وویل : د خدای جل جلاله لعنت دي پریهودو او نصراو باندي وي، د خپلو پیغمبرانو قبرونویې په سجده ځایونو بدل کړل، پیغمبرصلی الله علیه و سلم خپل امت ته د دې کاره څخه منعه کړې.

داحدیث شریف موږ ته بیانوي چي د پیغمبرانو پرقبرونو د مسجدونو جوړول د سخت لعنت سبب گرځي او پرنصرانیانو او یهودیانو د لعنت سبب هم سو نو ځکه یې خپل امت له دې کاره څخه منع کړی.

حضرت عطا د یسر زوی فرمایي پیغمبرصلی الله علیه و سلم وفرمایل : ربه جل جلاله زما له قبره بت مه جوړه وه چي زما امت د هغه عبادت وکړي، پرهغه قومونو چي د خپلو پیغمبرانو پرقبرونو یې سجده ځایونه جوړ کړه زیات غضبه وسو.

Download from: www.aghalibrary.com

پیغمبر صلی الله علیه و سلم دعا کول چې امت یې لار ورکی نه سي چې د هغه د قبر عبادت وکړی، له هغه څخه اولاد وغواړي او قبرته یې سجده وکړي، ځکه یهودان د دغو کړنو د ترسره کولو په خاطر د لعنت وړ وګرځېدل.

ج : د ونو مقدس نه شمېرل :

حضرت ابي واقدلیثي (رض) فرمایي کله چې پیغمبرصلی الله علیه و سلم حنین ته ولاړی، دیوې وني په څنګ کې تیر سو چې په مشرکینو پوري یې اړه درلودل او هغې ته یې ( ذات انواط) ویل او پر هغه یې خپلي سلاوي ځړولې مسلمانان پیغمبرصلی الله علیه و سلم ته وویل چې: ای د خدای جل جلاله رسوله موږ ته هم (ذات انواط) وټاکه، پیغمبرصلی الله علیه و سلم وویل سبحان الله، ستاسو دا خبره هغسي خبره ده کوم چې د موسی (ع) قوم هغه ته ویل: موږ ته بتان وټاکه د مشرکینو د بتانو په څېر، په خدای جل جلاله دي مي قسم وي چې تاسو د تیرو زمانو د خلګو خبري کوئ.

او په همدې توګه د رضوان تروني لاندي چیري چې د رضوان بیعت سوی خلګوبه لمونځونه کول، هغه ونه یې له منځه یووړل ابن وضاح وایي : عمربن خطاب (رض) امر وکړی چې هغه ونه تر کومي لاندي چي له رسول صلی الله علیه و سلم بیعت سوئ دئ چپه کړی وایي دا کار یې وکړی،ځکه هغو ولیدل چي خلګ به تلل او تر هغې وني لاندي به یې لمونځونه کول، هغه له دې بېریدی چې داسي نه وي خلګ د هغه ډېر مینان سي،نوځکه یې امر ورکړی چي هغه له ریښو وکاږی. ( متفق علیه).

طارق د عبدالرحمن وایي زه تر یوه مسجد تېریدلم چي خلګو په

Download from: www.aghalibrary.com

هغه کي لمونځ کوی، مايي په اړه وپوښتل هغو راته وويل: دا د هغه وني مسجد دی تر کومي لاندي چي له حضرت پیغمبر صلی الله علیه و سلم سره صحابه کرامو بیعت وکړی، زه سعید بن مسیب ته ورغلم او دا کیسه مي ورته وکړه، حضرت سعید بن مسیب وویل:

زما پلار له هغه کسانو څخه وو چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره يې تردې وني لاندي بیعت وکړی، هغه راته وويل چي موږ په وروسته کلو کي يو وخت هلته ولاړو زموږ څخه د هغي وني ځای هیر وو هغه مو پیدا نسوای کړای.

وروسته حضرت سعید بن مسیب وویل د حضرت پیغمبر صلی الله علیه و سلم اصحابو هغه ونه پېژندل؟، دا دا مانا لري چي تاسو تر هغو زیات خبر یاست.

د حضرت سعید بن مسیب خبري چي يو له تابعینو او له پوهو اسلامي عالمانو څخه دی دا مانا لري چي هغه ونه یوازي یوه عادي ونه وه او صحابه یا پیغمبر صلی الله علیه و سلم هغې وني ته په کومه سپیڅلتیا نه وو قایل چي مسجد ورته جوړ کړي، ځکه ونه یو پیدا سوی شی وي کومه ګټه یا تاوان چاته نه سي رسولای.

حضرت سعید هغه ځوان و ترټئ چي دا له ځانه جوړي سوي کیسې، هیري کړي،ځکه تاسو تر صحابوو زیات نه پوهېږی.

د : د الله څخه پر ته په بل شي له سوګند خوړو څخه ځان ساتل:

قسم یا سوګند په هغه څه باندي کیږي چي د انسان په وړاندي هغه د پیدا کوونکي مرتبه ولري، نو ځکه یو مؤمن ته د خدای جل جلاله له نامه څخه پر ته په بل شي د قسم یا سوګند خوړلو اجازه نه سته.

رسول الله صلی الله علیه و سلم د خدای جل جلاله څخه پر ته په بل

Download from: www.aghalibrary.com

شي د قسم خوړلوپه اړه فرمايلي دي. ( من حلف بشيء دون الله فقد اشرک) هر هغه څوک چي له خدای جل جلاله څخه پرته په بل شي سوګند وخوري نو يقيناً شرک يې کړی دئ)) او هغه صلی الله عليه و سلم په يو بل ځای کي فرمايي: (( من حلف بغيرالله فقد کفر او اشرک)).

((هر څوک چي د خدای جل جلاله له نامه څخه پرته په بل شي سوګند وخوري قطعاً کافر سو او يا دا چي شرک يې وکئ)).

دا حديث امام احمد په صحيحو اسنادو له عمر بن الخطاب (رض) څخه روايت کړی دئ او امام ابو داود ترمذي همدغه حديث په صحيحو اسنادو له عبدالله بن عمر (رض) څخه روايت کړی دئ.

# ۳- د صحابه کرامو او اهل بيتو دريځ د شرک سره د مبارزې په وړاندي:

د حضرت محمد صلی الله عليه و سلم درنې کورنۍ او درنو يارانو له شرک سره په مبارزه کي ډېر کار کړی دئ چي دلته يې څو مثالونه را اخلو:

الف :دحضرت ابوبکر (رض) دريځ د حضرت پيغمبرصلی الله عليه و سلم د مړيني په وخت کي: کله چي حضرت محمد صلی الله عليه و سلم له دې فاني نړۍ د لافاني نړۍ پرلور وګرځيدی ځيني مسلمانان ډېر وارختا او اوتر وه، هغوی ګمان نه کوی چي حضرت رسول اکرم صلی الله عليه و سلم دي رحلت وکړي، حتیٰ ځيني خو له دې بېريدل چي څنګه د خلکو په منځ کي د هغه صلی الله عليه و سلم د

Download from: www.aghalibrary.com

مړيني خبر خپور کړي، مګر حضرت اوبکر صديق (رض) په خپل قوي ايمان د خلګو په وړاندي ودرېدئ او ويې ويل:

(د چا پروردګار چي الله جل جلاله دی، الله جل جلاله ژوندی دئ نه مري او هغه څوک چي خپل پروردګار حضرت محمدصلی الله علیه و سلم بولي او هغه له بنده ګۍ څخه کاږي او تر الوهيته يې رسوي، د هغو پروردګار مړ سو، اې خلګو له خدای جل جلاله څخه وبېرېږۍ، اې خلګو! خپل مذهب مو ټينګ وساتی پرخپل رب توکل وکړی، د خدای جل جلاله دين پرخپل ځای پاته وي ...ترپايه.

خدای جل جلاله فرمايي:

(وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ )(عمران – ۱۴۴)محمدصلی الله علیه و سلم یوازي د خدايجل جلاله را لېږل سوی وو او له هغه څخه مخکي هم را لېږل سوي ول،که چيري هغه مړ سي يا و وژل سي تاسو بيرته شاته ګرځئ؟هر هغه څوک چي بيرته شاته و ګرځي هيڅکله خدايجل جلاله تاون نه سي رسولای او په تېزئ سره به خدايجل جلاله شکر کښونکو ته اجر ورکړي.

دا ايت شريف د مسلمانانو فکري خط د حضرت پيغمبرصلی الله علیه و سلم په اړه بيانوي، چي هغه د ټولو پيغمبرانو په څېر د خدای جل جلاله را لېږل سوي وو، د هغه مرګ بايد مؤمنان له ايمانه څخه ليري نه کړي، ځکه هغه پيدا سوی وو او هر پيدا سوی له منځه ځي.

Download from: www.aghalibrary.com

ب : د حضرت عمر (رض) دریځ (حجرة الاسود) د مچولو په وخت کې :

که څه هم د اسلام په سپېڅلي دين کې، سپېڅلی او د قدس شيان وجود لري لکه د کعبې خونه، حجرالاسود او نور مګر د هغو سپېڅلتيا دا مانا نه لري چې خلګ د کعبې عبادت وکړي او يا عقيده ولري چې حجرة الاسود کولای سي چې چاته ګټه يا تاوان وه رسوي بلکې د کعبې خونه د نړۍ د مسلمانانو ديووالي سمبول دئ او ټول پوهيږي چې خدای جل جلاله له کور درلودلو څخه پاک او سپېڅلی دی دا کور يوازې، له دې کبله چې عبادت پکښې کيږي دسپېڅلتيا له کبله يې خدای جل جلاله ته نثبت ورکول سوی دئ لکه د ( ناقه الله ) د خدای جل جلاله اوښه چې د يونس (ع) معجزه وه يا لکه عبدالله (دخدای جل جلاله بنده ) او داسې نور.د پيغمبرصلی الله عليه و سلم ياران د دې مطلب په پوهيدلو سره ټولې چارې د همدغو لارښوونو په رڼا کې ترسره کولې، حضرت عباس (رض) فرمايي چې حضرت عمر(رض) حجرالاسودته راغلی او هغه يې مچ کړه او ويې ويل : زه پوهيږم چې ته يو ډبره يې نه ګټه رسولای سې او نه هم تاوان او که چيري ما حضرت پيغمبرصلی الله عليه و سلم نه ليدلای چې تامچوې نو ما به هيڅکله نه وای مچ کړې.د حضرت عمر(رض) هدف دا دی چې حجرالاسود چاته ګټه او تاوان نه سي رسولای، مګر پرته له دې چې يوه سپېڅلې ډبره ده او له جنته راغلې ده، حتی همدا د جنت ډبره نسي کولای چې چاته ګټه او تاوان ورسوي، موږ مسلمانان يوازې د حضرت پيغمبرصلی الله عليه و سلم د يوه سنت په توګه هغه مچوو، مګر په دې باور چې هغه يوازې يوه ډبره ده نه چاته ګټه رسولای سي او نه تاوان.

Download from: www.aghalibrary.com

# د شرک ډولونه د لوی والي او کوچنيوالي له اړخه

شرک پر دوه ډوله دی:

۱- شرک اکبر:

شرک اکبر (لوی شرک) هغه شرک ته وایي چي انسان پیدا سوي چي په هره مرتبه کي وي په ذات ،صفاتو او عبادتو کي له خدای جل جلاله شریک کړي. او یا دا چي خدای جل جلاله ته د نږدې والي په موخه نورپیدا سوو ته رکوع یا سجده وکړي او ووايي (لیقربونا الی الله زلفی).

۲- شرک اصغر:

هغه چارو ته وایي چي شرک وي مګر په هغو چاروکي چي شرک اکبر دی نه راځي، لکه ریا: ریا په ځینو کړنواو وینو کي، د خدای جل جلاله څخه پرته په بل شي قسم خوړل، اویا دا چي وویل سي ماشاءالله وشا فلان ( هغه څه چي خدای جل جلاله غوښتي وي او فلاني غوښتي وي) او داسي نوري ورته چاري،څکه رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي.

(اخوف ها اخاف علیکم الشرک الاصغر) زما ډېر بېره ستاسو په اړه په شرک اصغرکي ده، د هغه څخه په دې اړه وپوښتل سول هغه جواب ورکړی: ((الریاء)) کار، خبري او یا حالت خلګوته ښکاره کول.

داحدیث امام احمد، طبراني او بیهقي د محمود بن لبید انصاری

Download from: www.aghalibrary.com

(رض) څخه روایت کړی دئ او په همدې توګه دا حدیث امام طبراني له محمود بن سید، له رافع بن حدیج او بیا له حضرت رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه روایت کړی دئ.

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې وېې ویل : له رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه مي واوریدل چې ویل يې: اول سړی چې دا خیرت په ورځ هغه ته حکم کیږي، هغه شهید دی چې داخلیږي او هغه جل جلاله خپل نعمتونه ورښکاره کوي او ځان يې ورښاره کوي فرمايي: د هغه په وړاندي دي څه وکړل؟

وايي: ستا په لاره کي وجنګېدم څو شهید سوم.

فرمايي : درواغ دي وويل ته د دې لپاره جنګیږې چې خلګ و وايي هغه زړه وردئ او خلګو وویل، نو بیا به د هغه په اړه امر وسي چې دوږخ ته يې بوزی.

دوهم سړی هغه څوک دی چې زده کړه يې کړې او نوروته يې زده کړه ورکړې ده او قران يې ویلی هغه ته خپل نعمتونه او ځان ورښکاره کوي او بیا پوښتنه ځني کوي چې ددغو په وړاندي دي څه وکړل؟

هغه به وايي : زده کړه مي وکړه او نوروته مي وروښودل او ستا درضا لپاره مي قران عظیم الشان ووایه.

هغه به وفرمايي: درواغ دي وويل تا علم وکړی چې خلګ و وايي چې عالم يې قران دي زده کړی چې خلګ و وايي چې قاري يې او خلګو همداسي و ويل او بیا د هغه په اړه امر کیږي چې دوږخ ته يې واچوی هغه به دوږخ ته واچوي.

بل سړی به راولي هغه به هغه سړی وي چې خدای جل جلاله پراخ سترخان ورکړی وي او زیاته ستمني به يې ورکړې وي هغه ته به ټول نعمتونه وروښودل سي او ځان به يې هم وروښودل سي او بیا بهٔ

Download from: www.aghalibrary.com

پوښتنه څني وسي چې له دغو سره دې څه وکړل؟

هغه به وايي : هيڅ داسې لار چې ستا خوښه وه داسې پاتې نه سوه چې ما دې خپله ستمني نه وي پکښې لګولې هغهجل جلاله به وفرمايي : درواغ دې وويل داکارونه دې ځکه کول چې خلک و وايي سخي دی، وروسته به هغه په اړه امر و سي چې دوږخ ته يې کش کړئ او بيا به هغه هم دوږخ ته ور واچوي.

Download from: www.aghalibrary.com

# اووم څپرکی

## د وسیلې،واسطې او شفاعت فلسفه

په دې فصل کې به لاندي موضوعات و څېړو

۱: د وسیلې اصطلاح او یا کلیمه
۲: د واسطې اصطلاح او یا کلیمه
۳: د شفاعت اصطلاح یا کلیمه

Download from: www.aghalibrary.com

# پیل

یو له هغه ډېرو مهمو تېروتنو څخه چي خلک په سهوه کي اچوي هغه د واسطې،وسیلې او شفاعت د کلیمو ګډول دي.
مخکي له دې چي دا اصطلاحات د اعتقادي لاري تر څېړنه لاندي و نیسو ښه به دا وي چي دا درې اصطلاوي په عمومي ژوند کي و څېړو تر څو پوه سو چي هره اصطلاح په کومه منفي او په کومه مثبته توګه کارول کیږي او وروسته د عقیدتي نکته نظره څخه هغه تر مطالعې لاندي و نیسو.

د وسیلې کلیمه
س:وسیله څه شي ته وایي؟
ج:هغه څه چي د هغه په واسطه سره توسل کیږي او خدایجل جلاله ته انسان نږدې کیږي چي عبارت د ښو کارنو له کولو او د بدو کارنو له پرېښول څخه ده.
س:وسیله په دنیا او اخرت کي څه حکم لري؟
ج:وسیله هم په دنیا او هم په اخرت کي یو پر ځای کار دئ.
س:وسیله په دنیا کي څه ډول وي؟
ج:وسیله په دنیوي چارو کي په مثبته توګه استعمالیږي،مثلاً یو محصل و اول نمره توب ته ملاتړلې،هغه خپلو زده کړو ته پر وخت حاضریږي د استاذانو احترام کوي او خپل درسونه پر وخت وایي کورني کارونه په سمه توګه تر سره کوي او په خپلو درسونو کي زیات زحمت کاږید هغه دغه ښې کړني د هغه له ناکامی څخه د خلاصون او د

Download from: www.aghalibrary.com

بریالیتوب یوه وسیله سوه.

کله چي دغه ځوان پردنده ګمارل کیږي نو د خپلو ښو تصدیقپاڼواو لوړو نمرو په برکت هغه له هیڅ مشکل سره نه مخ کیږي او هرځای چي وغواړي دنده ورته پیدا کیږي.

س : وسیله په اخیرت کي څه ډول ده؟

جواب : وسیله په اخیرت کي هم د ښوچارو د ترسره کولو په واسطه کیږي، یا د انسان ښه او نیک عملونه ددې سبب ګرځي چي په اخیرت کي هغه نیکمرغه او بریالی کړي. نو له همدې کبله خدای جل جلاله موږ ته امر کوي چي زما د رضا او خوښی لپاره وسیله پیدا کړی قران عظیم الشان په دې اړه فرمایي :

(یَٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَیۡهِ ٱلۡوَسِیلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِی سَبِیلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ )( المائده : ۳۵)اې هغه کسانو چي ایمان مو راوړی دی تقوا او پرهیزګاري خپله دنده و ګرځوی،و خدایجل جلاله ته د نږدې والي وسیله پیداکړی او د خدایجل جلاله په لاره کي جهاد و کی ښایي د راستکارنو پر لار و اوسی.

س : ددغه آیت د ښه درکوني لپاره کوم ځای ته رجوع وکړو؟

جواب : ښه به وي چي د مفسرینو نظریات په دې اړه وڅېړل سي. د ټولو مفسرینو د نظریو لنډون داسي دی چي د انسان ښه کړني د هغه وسیله ده.

د طبري تفسیر لیکوال د وسیلې په اړه لیکي : ( واطلبوا القربه الیه بالعمل بما یرضیه) تاسو خدای ته نږدې والی په هغه کړنو لاس ته راوړی چي خدای جل جلاله یې غواړي او پرې خوښیږي.

Download from: www.aghalibrary.com

د ابن کثیر تفسیر لیکوال لیکي: حضرت عبدالله بن عباس (رض) وسیله د خدای جل جلاله ته د نږدې والي په مفهوم تفسیر کړې ده.

نږدې والی هغه وخت منځ ته راځي چي خلګ د خدای جل جلاله امرونه د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په څیر ترسره کړي، ځکه خدای جل جلاله فرمایي (فاذکروني اذکرکم واشکروالي ولا تکفرون) مایاد کړي چي زه تاسو یاد کړم، زما شکر وکړی او کافران کیږی مه.

په تلاوت سره د خدای جل جلاله یادول د خدای جل جلاله امر پرځای کول دي د نبی کریم صلی الله علیه و سلم سنت او د نعمت شکر هغه وخت ترسره کیږي، چي د بدن په هر غړي د هغه خپل عبادت ترسره سي.

او انسان هغه وخت نه کافر کیږي چي پر قراني احکامو بشپړ ایمان ولري.

حضرت قتاده ددې مبارک ایت په تفسیر کي وایي (تقربوا الیه بطاعته والعمل بما یرضیه) تاسو خدای جل جلاله ته په هغه څه چي هغه جل جلاله پرې خوشاله کیږي نږدې والی حاصل کړی.

د منتخب تفسیرلیکوال لیکي: ( واطلبوا ما یقربکم الی ثوابه من فعل الطاعات والخیرات) له ښو او نیکو کارونوڅخه هغه څه وغواړی چي تاسو ثواب ته نږدی کوي.

د مفاتیح الغیب تفسیر لیکوال لیکي: ((اعلم ان مجامع التکلیف محصورۀ فی نوعین لا ثالث لهما).

احد هما ترک المنهیات والیه الاشاره قوله (اتقوالله) ثانیهما: فعل المامورات، والیه الاشاره بقوله تعالی: (وبتغوا الیه الوسیلۀ) پوه سه چي ټول شرعي تکلیفونه په دوو شیانو کي اندازه سوي دي چي دریم نه لري:

Download from: www.aghalibrary.com

د هغه اول د منع سو څخه ځان ساتل او هغه ته په اتقوالله سره اشاره سوې ده .

د هغه دوهم : د امرونو پرځای کول چي هغوته په (وبتغوا اليه الوسيلة) باندي اشاره سوې ده.

د بيضاوي تفسير ليکوال ليکي ( ای ماتتوسلون به الي ثوابه والربغی منه فعل الطاعات و ترک المعاصی) د اطاعت په کولو او د ګناهونو په پرېښودلو خدای جل جلاله ته توسل کوی او ځان هغه جل جلاله ته نږدې کوي.

د الوسيط تفسير ليکوال ليکي : ((الوسيله) هر فعلية بمعنی مايتوسل به ويتقرب الی الله عزوجل من فعل الطاعات و ترک المعاصی) وسيله د فعليه پروزن ده د هغه څه په مانا چي څوک توسل په نيسي او په هغه سره خدای جل جلاله ته يوڅوک نږدې کيږي د اطاعتونو په کول او د ګناهونو د پرېښودلو په پايله کي.

د الميزان تفسير ليکوال ليکي: خدای جل جلاله په قران عظيم الشان کي فرمايلي : ( و ابتغوا اليه الوسيلة) وسيله کول په حقيقت کي دخدای جل جلاله له لاري څخه پيروي کول دي په دې توګه چي لومړی د هغه د امرونو په اړه پوهه ترلاسه کړی، په دوهم ورځ کي د هغه بندګي پيل کړی او په دريم پړاوکي د مستحباتو او سنتونو په لټه کي سئ.

د نمونه تفسيرليکوال ددغه آيت په تفسير کي ليکي:

په دې ايت شريف کي د توسل او يا وسيله موندني وېکي ته اشاره سوې ده او په وسيله موندني باندي امر سوئ دئ.

وسيله په اصل کي نږدې کيدلو يا د نږدې کيدلو علتونو ته وايي.

نو پر دې اساس په پورتني ايت کي خورا پراخه مانا لري هرهغه

Download from: www.aghalibrary.com

کار يا کړنه چي و خدای جل جلاله ته د نږدې والي لامل ګرځي هغه وسيله ده چي په دغو کړنو کي تر ټول مهم پرخدای جل جلاله باور درلودل له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مينه درلودل، جهادکول او عبادتونه دي.

لمونځ، روژه، زکات، حج او صله رحمي د عباداتونو اساسات بلل کيږي.

لنډه دا چي دلته يو سوال پيدا کيږي چي د خدای جل جلاله د رضا د حاصلو لپاره تر ټولو ښه لاره کومه يوه ده؟

په جواب کي کولای سو ووايو چي د نړۍ زياتو اسلامي پوهانو په قران عظيم الشان کي د وسيلې د کلمې د تفسير په اړه زيات شمير دلايل وړاندي کړي دي، هغوی د زياتو وسيلو په اړه بېلابېل نظريات وړاندي کړي چي د خدای جل جلاله د رضا لپاره کار ځني اخستل کيدلای سي چي ددغو وسايلو څخه ځني په لاندي توګه دي.

١- د خدای جل جلاله پرستون باور يا د عقيدې درلودل.

٢- په هغو ټولو چارو باور او عقيده درلودل، چي قران عظيم الشان او نبوي احاديثو موږ ته بيان کړي دي.

٣- نيک او ښه کارونه چي د قران عظيم الشان او نبوي احاديثو سره سم ترسره سي.

٤- د خپلو ستمنيو په روا لاروکي لګول.

٥- ښه او نيک اخلاق.

٦- له شرک او کفر څخه ځان ليري ساتل.

٧- له ټولو هغو چارو څخه ځان ساتل چي په قران عظيم الشان او نبوي احاديثو کي له هغو څخه د ځان ساتني امر سوی دی.

٨- له ټولو نا اخلاقي چارو څخه ځان ساتل.

Download from: www.aghalibrary.com

۹- د ژبي او نورو ټولو غړو ساتل له بدو څخه.

س : توسل څه ته وايي؟

جواب : توسل هغه کړني ته وايي چي څوک ټولي هغه کړني چي د خدای جل جلاله رضایت پرې حاصلیږي او د هغه په واسطه انسانان هغه جل جلاله ته نږدې کیږي. واسطه یا وسیله وګرځوي .

س : د مشکلات د حل لپاره کوم ډول وسایل باید وړاندي کړل سي.

جواب : د مشکلاتو د حل لپاره څو شرطونه ډېر مهم دي:

لومړی شرط : مؤمن انسان باید د مشکلاتو د حل لپاره یوازي د خدای جل جلاله څخه مرسته وغواړي، ځکه خدای جل جلاله موږ امر کړي یو ترڅو یوازي له هغه مرسته وغواړو او موږ د لمانځه په هر رکعت کي وایو (ایاک نعبد وایاک نستعین ) لویه ربه یوازي تا لمانځو او یوازي ستا څخه مرسته غواړو.

دوهم شرط : لاسونه یوازي د لوی خدای جل جلاله پر لور لپه کول او یوازي له هغه جل جلاله څخه د مرستي غوښتل ځکه چي هغه جل جلاله فرمايي : ( وقال ربکم ادعونی استجب لکم)

(٦۰ ایت - سوره غافر)

ادعو : د امر کړ( فعل) دې د وغواړی په مانا.

او (نی) د متکلم ضمیر دی، خدای جل جلاله امر کړی چي زما څخه وغواړی او بیایې فرمایلي دي ( استجب لکم) زه یې قبلوم.

دریم شرط : په دې باور درلودل چي ترخدای جل جلاله بل مهربانه او رحیم څوک نسته بناً اول باید مهربانه ذات ته رجوع وسي.

څلورم شرط : په دې باور درلودل چي ماته تر خدای جل جلاله نږدې بل څوک نسته، نو په دې اساس موږ باید لومړی هغه چاته

Download from: www.aghalibrary.com

رجوع وکړو چي موږ ته تر هرڅه نږدې وي او خدای جل جلاله خپلو بندګانو ته لارښوونه کوي چي یوازي هغه وبولي او له هغه پر ته بل څوک راونه بولي او هغه د قبلوني قول او وعده کړې ده او فرمایلي یې دي :

(وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِى وَلْيُؤْمِنُواْ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ) (١٨٦ سوره البقره) کله چي زما بندګان زما په اړه ستا څخه و پوښتي زه نږدې یم او دعا کوونکي دعا هغه وخت چي ما و بولي قبلوم نو بیا دي هغوئ هم زما بلنه و مني او پر ما دي ایمان راوړي چي لاره پیدا کړي.

پنځم شرط : په هغه توګه توسل کول چي خدای جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه و سلم موږ امر کړی وي.

س : تاسو وویل چي موږ باید د قران او حدیثو په رڼا کي توسل وکړو نو کوم توسلونه د قران او احادیثو په رڼا کي سم دي چي موږ له هغو څخه په ګټه اخیستنه باندي خپل مشکلات حل کړو؟

جواب : د قران او احادیثو په رڼا کي توسلونه په لاندي توګه دي:

١- د خدای جل جلاله په نامه سره توسل :

کله چي موږ ته کوم مشکل مخي ته راځي نو باید د خدای جل جلاله نوم پر ژبه راوړو او د هغه په واسطه کولو سره د خپل مشکل د حل غوښتنه وکړو مثلاً :

(اې الله جل جلاله! ناروغ یم او روغتیا بخښونکی ته یې روغ مي کړه.

ای الله جل جلاله مشکل لرم ته مي دا مشکل حل کړه.

Download from: www.aghalibrary.com

انسان پوهیږي چي یوازنی مشکل حلونکی هغه جل جلاله دی نوځکه تل د خپلو مشکلاتو له کبله هغه ته رجوع کوي.

خدای جل جلاله په قران عظیم الشان کي فرمایي (امن یجیب المضطر اذا دعا و یکشف السوء عنه)

اې الله جل جلاله په غم اخته یم له غمه مي خلاص کړه انسان پوهیږي چي ټول خیر او شر د الله جل جلاله له پلوه دی او یوازي هغه جل جلاله کولای سي چي هغه ته خوښي ور په برخه او غم ځني لیري کړي (و یکشف السوء عنه ).ای ستر ښتنه! اولاد نه لرم نیک او صالح اولاد را په برخه کړه ځکه انسان په دې باور او عقیده لري چي محي ( ژوندی کوونکی) یوازي هغه جل جلاله دی.

۲- د خدای جل جلاله له نومونو څخه په یوه نوم باندي توسل :

مثلاً : یاغفور یا رحیم، یا رحمن، یا ذوالجلال و الاکرام، او یا هم د مشکلاتو دعا چي له حضرت عبدالله ابن مسعود څخه روایت سوې ده : (اللهم انی عبدک، ابن عندک، ابن امتک، ناصیتی بیدک ماض فی حکمک، عدل فی قضاوک اسالک اللهم بکل اسم هولک سمیت به نفسک ، او انزلته فی کتابک او علمته احدا من خلقک او استاثرت به فی علم الغیب عندک ان تجعل القران ربیع قلبی ).

۳- د خدای جل جلاله په صفتونو باندی توسل :

(اللهم انی اسالک باسمائک الحسنی و صفاتک العلیا) اې ستر ربه په حسنا نومونو او ستا په لوړو ستاینونومونو ستا څخه مرسته غواړم (اللهم برحمتک اسشغیث) اې ستر ذاته ستا د رحمت غوښتونکی او استغاث یم.

Download from: www.aghalibrary.com

۴- په خپل ایمان توسل کول :

مثلاً : ( اللهم انی امنت بک و برسولک فاغفرلی و فقنی) خدایه ما پر تا جل جلاله او ستا پر رسول صلی الله علیه و سلم باندي ایمان راوړی دی، ما وبخښه او بریالیتوب را په برخه کړه. ( ربنا اننا سمعنا منادیا ینادی للایمان ان آمنوا بربکم فامنا ربنا فاغفرلنا) اې ستر ربه ! ما دږغ کوونکي آواز واوریدی چي موږ ته یې ویل پرخپل پالونکي باندي ایمان راوړی نو هغه وو چي موږ ایمان راوړی. نو بیا موږ وبخښه .

(وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ) (ال عمران : ۱۲۹)

۵- د نیکو او ښو کړنو توسل کول :

مثلاً انسان په خپله دعا کي وایي : الهی ما ستا د رضا لپاره لمونځ وکړی که چیري ستا د خوښي سبب ګرځیدلی وي نو ما له دغه مشکل څخه خلاص کړه.

په دې اړه په حدیثو کي راځي:

له ابو عبدالرحمن عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چي ویلي یې دي : له حضرت محمد صلی الله علیه و سلم څخه مي واوریدل چي ویل یې ستاسو څخه په مخکي خلګو کي درې کسان وه، چي په سفر تلل په دې سفر کي وربandي ماښام سو او دوی یوه غار ته ننوتل چي یو ناڅاپه له غره له سره یوه ډبره راورغړېده او د غار په خوله کي ودرېده او د غار خوله یې بنده کړه، هغو په خپل منځ کي سره وویل، هیڅ شی به موږ له دې درنې ډبري څخه خلاص نکړي، مګر یو شی کولای سي چي

Download from: www.aghalibrary.com

موږ خلاص کړي هغه دا چې موږ خپل نیک عملونه خدای جل جلاله ته توسل کړو.

د هغو له منځ څخه یوه وویل: لوی څښتنه ! ما ډېر ناتوانه مور او پلار درلودل ما به د هغوی څخه وړاندي هیڅوک نه اوبه ول، یوه ورځ د یوې وني په لټه ډېر لیري ولاړم او هغه وخت بیر ته راورسېدم چې هغوی دواړه بیده سوي وه، ما د هغوی برخه شېدې و لووشلې، مګر کله چې مي ولیدل هغوی بیده دي نو د هغوی درا ویښولو زړه مي وه نکړی چې هغوی راویښ کړم او یا د کور بل چاته دي د شېدو څښلو اجازه ورکړم، زه همداسي په تمه سوم چې هغوی راکښیني په داسي حال کي چې وړوکي ، بچیان مي له لوږي په پښو کي رغړېدل. وروسته هغوی راویښ سول او خپله برخه شېدې یې وڅښلې . خدایه که چیري ما دا کار ستا لپاره کړی وي نو موږ له دې مشکله خلاص کړه، وروسته دا ډبره یوڅه ورغړېده مګر دونه چې هغوی بیا هم نسوای تېرېدلای.

دوهم وویل : خدایه! زما یوه د عمه لور وه چې زما د مځکي په سر ترټولو انسانانو خوښه وه، په یو بل روایت کي راغلي دي چې زما بې نهایته هغه خوښه وه په داسي توګه لکه د یو سړي چې یوه ښځه بې اندازې زیاته خوښه وي او غوښتل مي چې له هغې سره یوځای سم، مګر هغې نې کول ترڅو یو داسي وخت راغی چې وچکالي سوه، هغه ماته راغله ما هغې ته یوسلو شل دیناره ورکړه ترڅو هغه خپل ځان زما په واک کي راکړي او هغې دا کار وکړی، څنګه چې مي پرهغې واک پیدا کړی، په یو بل روایت کي راځي کله چې زه د هغې په پښو کي ودرېدلم، هغې وویل : له خدایه جل جلاله وبېرېږه او دغه نښه ( د بکارت پرده) مه لیري کوه، ما پر دې سربېره چې هغه مي تر اندازې زیاته خوښېده پرېښوده او مخ مي ځني واړه وی او تر هغو پیسو چې هغې ته مي ورکړي

Download from: www.aghalibrary.com

وې هم تيرسووم. نو لويه خدايه که ما دا کار ستا لپاره کړی وي نو موږ له دې مشکله خلاص کړه، ډبره لږ نوره هم وښويده خو بياهم هغوی نسوای کولای چې تېر سي.

دريم وويل : لويه خدايه ما څوکسان په کار ګمارلي وه او د هغوی تنخوا مي هم ورکړه، له يوکس څخه پرته چې هغه پرته د خپلي تنخوا اخستني تللی وو، ما د هغه پيسې په تجارت کي راسره ولګولي چي هغه کرار کرار زياتي سوې هغه څه وخت وروسته راغی او ماته يې وويل اې د خدای جل جلاله بنده زما تنخوا راکړه. ما ورته وويل: ټول اوښان او غواوي، پسونه او غلامان چي وينې دا ستا تنخا ده. هغه وويل اې د خدای جل جلاله بنده پرما ټوکي مه کوه. ما وويل : زه ستا سره ټوکي نه کووم. نو هغه ټول شيان په مخه کړه او هيڅ يې پرينښودل، نو خدايه جل جلاله که دا کار ما ستا لپاره کړی وي موږ ته له دې مشکل څخه خلاصون راکړه. هغه وو چي ډبره د غار له خولې څخه وښوېده او هغوی له غاره راووتل او په خپله مخه ولاړل.

هغه درسونه چي له دې حديث شريف څخه اخيستل کيږي :

الف : انسانان کولای سي چي دخپلو مشکلاتو په وخت کي خپل نيک عملونه توسل کړي او د هغه په واسطه سره د خپل مشکل د حل غوښتونکي سي.

ب : نيک عملونه انسانان له سختو مشکلاتو څخه خلاصه وي نو بناً هر انسان بايد همېشه نيک کارونه وکړي.

٦ - په خپل حال باندي توسل کول :

هغه داسي چي څوک خپله ناتواني د خدای جل جلاله په وړاندي واسطه وګرځوي او د هغه جل جلاله څخه مرسته وغواړي مثلاً د

Download from: www.aghalibrary.com

**حضرت زکریا(ع) دعا.**

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيّٗا ۝٤ وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا ۝٥ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا﴾ **(مریم : ۴-٦)**

**۷- د یوه ښه سړي په دعا توسل :**

**مثلاً په یوه داسي نیک سړي دعا کول چي هغه ژوندی وي، څوک هغه ته ورسي او له هغه هیله وکړي چي دده لپاره دعا وکړي مثلاً : ښوونکی، پلار مور او داسي نور صحابه کراموبه له حضرت محمد صلی الله علیه و سلم څخه غوښتل چي د دوی لپاره دعا وکړي په داسي حال کي چي خپله به یې هم نیک کارونه کول.**

Download from: www.aghalibrary.com

# د واسطې کلمه

په عادي ژوند کې همېشه کله چې یو انسان مشکل ولري نو یوه صلاحیت درلودونکي کس ته ځي او خپل مشکل حلوي. مثلاً تاسو شهادتنامې په لاس کې لري او غواړي چې په یوه ځای کې د ځان لپاره یوه دنده وګوري چې ستاسو له مسلک سره ورته وي، که چیري تاسو یوه دفتر ته مراجعه کوي او د هغه دفتر رئیس یو نیک او تقوا لرونکئ سړی وي او هرچاته د هغه حق ورکوي او تاسو هم شپاړس کلونه رحمتونه ګاللي او شهادتنامه او زده کړي یو لاس ته راوړي نو هلته به تاسوته حتماً کار او دنده پیدا کیږي.

په دې ځای کې تاسو هیڅ اړتیا نه لري چې واسطه وکړي یا له ځان سره د واسطې په موخه یو لوی څوک بوزي.

سوال: خلګ په ژوند کې ولي له واسطي څخه کار اخلي؟

جواب: دا واسطه او واسطه بازي د انسانانو په عادي ژوند کې پر دوو لاملوتر سره کیږي:

لومړی لامل: په واکمن کې عیب: احیانن یو مستحق کس وي او غواړي چې له واکمن څخه خپل حق واخلي یعني هغه پر دنده وګمارل او یا شاګردوي د ښو نمرو لیاقت لري مګر دا چې واکمن کس (رئیس او یا ښوونکی) یو ظالم کس وي او دی ځني بېریږي نو د ځان د ساتني او د خپل حق د اخستني په موخه هغه ته واسطه کوي ترڅو هغه ظالم یې حق وه نه خوري او له خپل حق څخه یې بې برخي نکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

دوهم لامل : په اړ کس کي عیب: احیاناً یو داسي څوک چي د خپلي ټمبلی او نا لایقتوب له کبله یوه دنده نه سي ترسره کولای یا په زده کړو کي ډېر ناتوانه وي نو د خپلي کامیابۍ او یا کار د کېدو په موخه له اړیکو او واسطو څخه کار اخلي او هغه څوک چي د ده کار پرې بند دی دې ته اړ باسي چي قانون مات کړي او دغه ناکامه کس ته لوړه درجه ورکړي او دلته د هغه ټاکنه په داسي یو ځای کي او یا د داسي نومرو ورکړه چي هغه یې لیاقت نلری نه یوازي دا چي مناسب کار نه دي بلکي د نورو په حق کي ظلم هم دی.

که چیري موږ د واسطه بازی دې دواړو حالتوته وګورو په دواړو حالتونو کي دا یوښه او پرځای کار نه دی، ځکه په لومړي حالت کي هغه ظالم کس نور هم خپل ظلم ته هڅوي او په دوهم حالت کي انسان یو څوک دې ته اړ باسي چي بې عدالتي وکړي اوټولنیز ژوند ګډوډ کړي.

اوس چي په دې پوه سوو چي په دنیوي چاروکي واسطه د ظلم منشه ده، نو راسئ چي په مذهب کي دا چاره وګورو چي هلته څنګه بلل سوې ده؟قران عظیم الشان موږته دمشرکینو عادات بیانوي چي د هغوی په بدو عادتونو کي یو هم دغه واسطه وه چي دوی د ځان او معبود ترمنځ ټاکلې وه.

د مکې مشرکینو پرخدای جل جلاله باور درلودی او کله چي به پوښتنه ځني وسوه چي ځمکی او اسمانونه چا پیدا کړي دي؟ هغو به په جواب کي ویل چي خدای جل جلاله پیدا کړي دي، نو کله چي بیا ځني وپوښتل سول چي نو تاسو ولي ددې بتانو عبادت کوی نو هغو به ویل چي موږ د خپلو ګناهونو له کبله تورمخي یو نو بناً موږ بتانوته ورځو چي زموږ او خدای جل جلاله ترمنځ واسطه سي او موږ هغه جل جلاله ته نږدې کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

**قران عظیم الشان د مشرکینو دغه کړنه په واضحه توګه داسي بیانه وي.**

(الا لله الدین الخالص والذین اتخذوا من دونه اولیاء ما نعبدهم الایقربونا الی الله زلفی ان الله بحکم بینهم فی ماهم فیه یختلفون)

**اوس به ښه دا وي چي قراني تفسیرونه په دې اړه وګورو چي هغه په دې اړه څه وایي:**

**د طبري تفسیر لیکوال لیکي :**

**بت پال خپلوبتانوته وایي اې بتانو! موږ تاسوته د دې لپاره عبادت کوو چي موږ خدای جل جلاله ته نږدې کړی، مګر خدایجل جلاله په دې اړه فرمایي (ان الله یحکم بینهم فی ماهم فیه یختلفون) خدای جل جلاله د هغه څه په اړه چي اختلاف کوي حکم کوي یعني خدای جل جلاله په دغو ډلو کي چي له خدای جل جلاله پرته یې بل څوک د خپلو معبودانو په څېر نیولي حکم کوي چي د اخیرت په ورځ به هغوی ټول په اور کي وسوځوي، پرته له هغو کسانو چي په اخلاص یې د خدای جل جلاله عبادت کړی وي او دهغه په عبادتونو کي یې نور څوک نه وي شریک کړي.**

**دطبري تفسیرلیکوال داسي پسي لیکي: (وکم من ملک فی السماوات لا تغنی شفاعتهم شیئا) خدای جل جلاله وایي : ډیر ملائیکي په اسمانونو کي سته او د هغوی شفاعت هیڅ ګټه نه کوي ترڅو هغوی ته د شفاعت اجازه نه وي ورکول سوې او کله چي هغوی ته اجازه ورکول سي نو بیا ښایي د هغو شفاعت قبول سي، دا د بت پرستانو او نورو مشرکینو لپاره چي ویل به یې ( ما نعبدهم الا یقربونا الی الله زلفی) یوه**

Download from: www.aghalibrary.com

ګوت څنډ‌نه ده.

بناً الله جل جلاله هغوی ته وايي چي د ملائيکو شفاعت چي زما سره هم دي بېله اجازې نه قبليږي،نو د نورو شفاعت به څنګه قبليږي، بناً څوک چي د چا عبادت کوي د هغه شفاعت هغوی ته هيڅ ګټه نه لري.

ابن کثير په خپل تفسير کي د دې ايت په اړه ليکي: جوبير له ضحاک څخه په دې ايت کي:

وقال جوبيرعن الضحاک فی (قوله) ( ان يدعون من دونه الااناثا) مشرکينو وويل: ملائيکي د خدای جل جلاله لوڼي دي نو موږ د هغو عبادت کوو چي موږ خدای جل جلاله ته نږدې کړي، هغه زياته وي :

هغوی ملائيکي خپل خدای جل جلاله وګرځوی، هغوی يې د نجونو په شکلونو له ډبرو څخه و تراشلې او ويل به يې چي دا بتان د خدای جل جلاله د لوڼو په څېر ښکاري، منظور يې ملائيکي وې.

ابن کثير ليکي :

قتاد، سدی او مالک له زيد بن اسلم څخه روايت کوي (الا ليقربونا الی الله زلفی) يعني زموږ شفاعت وکړی او موږ هغه جل جلاله ته نږدې کړی.

الوسي په خپل تفسير کي ليکي:(ولم يلبسوا) يعني مه ګډوي (ايمانهم) خپل ايمانونه، ( بظلم) په ظلم يعني شرک باندي، ځکه د مشرکينو يوې ډلي داسي کول او فکر يې کوی چي دوی پرخدای جل جلاله باور لري او هغوئ به د خدای جل جلاله په عبادت کي نور کسان يا شيان په دې بهانه چي دوی يې په واسطه خدای جل جلاله ته ځان نږدې کوي، شريکول.لکه څنګه چي دا ايت دا خبره تر موږه داسي رارسوي:

Download from: www.aghalibrary.com

(مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ)(الزمر : ۳)

لنډه دا چې دا ایت د انسان اړیکي له خپل خدای جل جلاله سره په مستقیمه توګه پرته د کوم چا له مداخلې ثابته وي او هرکله چې کوم مسلمان کوم مشکل ولري، د شپې په نیمایي کې ولاړیږي، اودس تازه کوي، لمونځ کوي او په مستقیمه توګه له خپل رب سره اړیکي نیسي.

Download from: www.aghalibrary.com

# مرسته غوښتل

## له خدایه که له انسانانو

په مرسته غوښتنه کې یوه مسئله خورا مهمه ده هغه دا چې مرسته باید یوازې له خدای جل جلاله څخه وغوښتل سي نه له بل چا څخه نو له همدې کبله ټول مسلمانان د ورځې پنځه وخته د خدای جل جلاله په وړاندې دریږي او په وار وارو تکراره وي چې (ایاک نعبد و ایاک نستعین) خاص تاته عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو، نو له دې کبله چې انسان پنځه وخته په لمانځه کې دننه له خدای جل جلاله سره تعهد کوي نو باید له لمانځه څخه د باندې هم دا کار عملي کړي او بله دا چې د قران عظیم الشان په لومړي سورت کې مسلمانانوته درس ورکول سوی دی چې:

ستاسو مرسته غوښتل او ږغ باید یوازې ترما پورې وي، یعني په ټولو وختو او حالتوکې یوازې خدای جل جلاله یاد کړی او یا الله جل جلاله یا الله جل جلاله یا الله جل جلاله و وایاست،پرته له هغه باید له بل هیچا څخه مرسته او کومک ونه غواړی، خدای جل جلاله په قران عظیم الشان کې په دې اړه خپل صفت بیان کړی دی نو د هغه صفت پر اساس باید یوازې له هغه جل جلاله څخه مرسته وغوښتل سي.

د نمونه تفسیر لیکوال په دې اړه داسې لیکي ((د هر څه په پیل کې باید د ستایل سوي څخه مرسته وغواړو چې د عظمت ځلا یې

Download from: www.aghalibrary.com

پرتهوله نړۍ غوړیدلې ده، نو د خپلو مشکلاتو پروخت یوازې هغه جل جلاله درياد کړی، چې د ځان په اړه په قران عظیم الشان کې داسې فرمایي :

تاسو وواياست خاص تاته عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو (اياک نعبدو اياک نستعين).

Download from: www.aghalibrary.com

# د شفاعت کلمه

د اسلامي عقيدې په اصطلاحاتو کي يوه هم د شفاعت اصطلاح ده چي ډېر وختونه په سهوه غلته استعماليږي او انساني شفاعت له الٰهي شفاعت سره ګډيږي. او په همدې توګه چي شفاعت په اخيرت کي دی او څه شرطونه لري په دې کي هم اشتباه کيږي نو د دغو اشتباهاتو څخه د ځان ساتلو په خاطر مهمه ده چي په دې اړه يو اوږد بحث وړاندي کړو او دا د دې لپاره چي د شفاعت کليمه په دنيا کي د انسانانو لپاره او په اخرت کي د خدای جل جلاله لپاره مقايسه کړو.

## شفاعت په دنيا کي:

په عمومي توګه په دنيوي ژوند کي خلګ يو د بل شفاعت کوي، مثلاً يو محصل زيات کوښښ کړی دی، د آزمويني په وخت کي تير وتلی دی، چي د ناکامۍ سبب يې ګرځېدلای سي، مثلاً يوه يا دوې نمرې د هغه برياليتوب سبب ګرځي، نو په دې وخت کي د ادارې څو مهربانه ښوونکي،هغه ښونکي ته چي دئ د هغه په مضمون کي پاته راغلی دی،د دې شاګرد شفاعت کوي چي دا شاګرد زيات درس وايې ډېر زحمتکښ دی يوازي يوې يا دوو نمروته اړتيا لري چي بريالی سي.استاد چي د زده کوونکي له ورځنی چارچلن څخه پوره خبر دی او درس يې هم ور معلوم دی پر هغه ترحم کوي، د يوې يا دوو نمرو مرسته ورسره کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

## په دنیا کي د شفاعت ډولونه :

۱: مخوري شفاعت :

له رویداري شفاعت څخه هدف دا دی کله چي په دنیا کي یو پاچا په غوصه سي او وغواړي چي یو چاته جزا ورکړي، مګر د پاچا په وړاندي د هیواد یو مخور کس وړاندي سي او د هغه شفاعت وکړي، پاچا د لږ څنډ لپاره دڅان سره فکر کوي چي که چیرې د دې سړي شفاعت ونه منم په راتلونکي کي ښایي چي مشکل راته جوړ سي، ځکه هغه یو پېژندل سوی کس دی، نو په دې اساس کله ناکله د هغه کس خبره د هغه له بیري مني او یا دا چي له هغه څخه په راتلونکي کي د دې تمه لري چي له هغه کار واخلي او یا هم دا چي مخکي هغه د ده لپاره داسي یو کار کړی وي.

داسي تصورات د خدای جل جلاله په اړه ناروا او بد دي، هر کله چي څوک و وایي پلانی سړی دخپل مقام د لوړوالي په خاطر شفاعت کوي او پرخدای جل جلاله حق لري چي خبري یې ومني، دا په بشپړه توګه یو غلط تعبیردی ځکه په شریعت کي هیڅوک پرخدای جل جلاله حق نه لري ، ځکه د خدای جل جلاله قدرت ترهرچا لوړ دی حتّیٰ تر شفاعت کوونکي هم که چیري خدای جل جلاله د کوم چا شفاعت قبلوي هغه به دتوانایې په مانا نه وي، څنګه چي د شفاعت په اړه په حدیث کي راغلي دي چي د اخیرت په ورځ به لوی لوی پیغمبران د شفاعت توانائي نه لري حتّیٰ رسول الله صلی الله علیه و سلم به لا لومړی سر پرسجده کښېږدي بیا به په ډېري عاجزی د خپل امت شفاعت وکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

## ۲: د میني شفاعت:

احیاناً که چیري یوچا په یو مملکت کي غلا کړې وي او د هغه مملکت پاچا غواړي هغه ته جزا ورکړي مګر د خپلي کورنۍ د غړو یا غړي (لور، زوی، میرمن، ورور) په شفاعت هغه وبخښي ځکه پاچا فکر کوي چي د خپلي کورنۍ د کوم کس خبره نه منل ده ته په خپل کورکي لانجې زیږولای سې او د میني فضا چي د دوی په کورنۍ کي ستړګه ده وده کیږي.

مګر دا ډول شفاعتونه د خدای جل جلاله په وړاندي په داسي دلایلو باندي نه سي وړاندي کیدلای، ځکه خدای جل جلاله پردې سربیره چي د ډیرو معززو خلګو سره مینه لري، مګر بیا هم ټول انسانان د خدای جل جلاله بندګان دي، دا چي خدای جل جلاله رحمٰن او رحیم دی او پرخپلو بندګانو رحمت کوي او شفاعت کول هم د خدای جل جلاله د رحمتونو څخه دي، مګر موږ نسو کولای چي هغه په انساني اساساتو تعبیر کړو. ځکه خدای جل جلاله او د هغه کارونه په بشپړه توګه د انسانانو سره توپیر لري (لیس کمثله شیء).

## ۳: ماذونه شفاعت:

ماذونه له اذان څخه اخستل سوی او اذان په عربي کي اجازې ته وایي او شفاعت ماذونه هغه شفاعت ته وایي چي له یو چا څخه سهوه سوې وي او د خلاصون هیڅ لاره نه لري، هغه پوهیږي چي هیڅوک نسي کولای چي د هغه جریمه پرې کړي، یوازي د پاچا د مهربانۍ په تمه وي او وایي که چیري پاچا د هغه پر حالت مهرباني او شفقت وکړي ښه ته ښه او کنې د سختي جزا وړ دی، هغه پاچا چي د هغه بې چارګي

Download from: www.aghalibrary.com

ويني يا خپله هغه بخښي او يا بل چاته لاربښوونه کوي چي ده ته د هغه شفاعت وکړي، ترڅو هغه وبخښي هر کله چي يو مومن مسلمان داسي عقيده او باور ولري چي هيڅوک نسي کولای چي د خدای جل جلاله د عظمت په وړاندي پرته له اجازې د يو چا شفاعت وکړي، دا مومن مسلمان په دې باور دی چي خدای جل جلاله د خپلي مهربانۍ له مخی انسان ته د جنت تلو لاره پاکه کړې او دوږخ ته دتلو لاره يې بنده کړې ده، دا مومن کس سربېره پردې چي ګناهونه يې کړي چي دوږخ ته د هغه د تلولامل ګرځي، بياهم د خدای جل جلاله د رحم په تمه دی.

خدای جل جلاله هم چي رحمٰن ، رحيم، غفار، غفور او ستار دی د خپلي لويي له مخي پر دې سړي رحميږي او د خپلو دغو صفتونو له رويه پر هغه رحميږي او هغه د جزا او مجازاتو څخه خلاصوي، خدای جل جلاله په مليارډو انسانان د خپل رحم له مخي د دوږخ له اوره ژغوري او د نورو ميلينو انسانانو د شفاعت لپاره ځينو خاصو انسانانو ته اجازه ورکوي چي د هغوی شفاعت وکړي.

دا کسان هم دخدای جل جلالهو اجازې ته په تمه وي کله چي خدای جل جلاله اجازه ورکړي نو دوئ سمدستي شفاعت ورته کوي.

## ۴: شفاعت په اخروي چارو کي :

په احاديثو کي راغلي دي چي اخيرت په ورځ ځني کسان لکه پيغمبران، شهيدان، علماء او تقوا داره کسان د اخيرت په ورځ د ځينو ګنهکارانو شفاعت کوي.

په دې اړه د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ خبري اتري :

Download from: www.aghalibrary.com

زده کوونکی: آیا شفاعت په دنیا کي کیږي او که په اخرت کي، هدف د اسلامي عقیدې شفاعت دی؟

ښوونکی : شفاعت په اخیرت کي کیږي، ځکه هغه ایاتونه او حدیثونه چي د شفاعت په اړه راغلي دي دا په ډاګه کوي چي شفاعت د اخیرت په ورځ کیږي، له ابي هریره (رض) څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل د اخیرت په ورځ به زما له لوري په شفاعت سو کسانو کي نېکمرغه کسان هغه څوک وي چي د زړه له اخلاصه (لا اله الا الله) وایي.

طفیل ابن کعب له خپله پلاره څخه روایت کوي چي نبي کریم صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د اخیرت په ورځ به زه د پیغمبرانو امام،ویاند او شفاعت کوونکی او سم چي په دې کي کوم ویاړ نسته.

زده کوونکی: آیا شفاعت کومي خاصي ډلي یا طبقې ته ځانګړی سوئ دئ او که یا هرڅوک کولای سي چي له شفاعت څخه ګټه واخلي؟

ښوونکی: شفاعت یوازي مسلمانانو ته ځانګړی سوئ دئ نو په دې اساس کافر، منافق او مشرک له شفاعت څخه محروم دي.

عوف بن مالک اشجعي وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل آیا پوهېږی چي خدای جل جلاله ماته پرڅه شي اختیار راکړی دئ؟

موږ وویل: خدای جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهیږي. و یې فرمایل : هغه ماته په دې دوو شیانو کي اختیار راکړی چي نیم امت دي جنت ته بیایې او که د امت شفاعت دي کوي، ما هم شفاعت اختیار کړی.

موږ وویل: اې د خدای جل جلاله رسوله موږ ته دعا وکړه چي موږ

Download from: www.aghalibrary.com

هم د اخیرت په ورځ ستا په شفاعت کې راسو هغه وفرمایل: چې دا شفاعت د هر مسلمان لپاره دی.

زده کوونکی : د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم امت به په شفاعت کي په کوم ښه والي غوره کیږي؟

ښوونکی : تاسو دا حدیث شریف ووایاست: انس بن مالک (رض) وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: زه ښایي په جنت کي لومړی کس واوسم چې شفاعت کوم او زه به په پیغمبرانو کي هغه کس واوسم چې تر ټولو زیات پیروان لري.

ابو هریره (رض) فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هر پیغمبر دعا لري چې د خپل امت په اړه یې قبلیږي،زه مي دا دعا شاته پرېږدم ترڅو د اخیرت په ورځ مي د امت په ښه ورسي.

## د شفاعت شرطونه :

شفاعت یو لړ شرطونه لري چې په لاندي ډول دي:

۱- لومړی شرط :

د خدای جل جلاله اجازه لومړی شرط دئ ځکه خدای جل جلاله په قران عظیم الشان کي فرمایي:

(مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ )( البقره : ۲۵۵)څوک کولائ سي چې هغه ته شفاعت وکړي مګر د هغه په اجازه .

نو په دې اساس پیغمبران شهیدان، صالحین او نور لوړ لوړ شخصیتونه د خدای جل جلاله د اجازي څخه پرته دچا شفاعت نسي کولای.

Download from: www.aghalibrary.com

په يوه حديث شريف کي راغلي دي چي رسول اکرم صلى الله عليه و سلم د اخيرت په ورځ لومړی د خدای جل جلاله په وړاندي سر پر سجده ږدي وروسته تر حمد، د خدای جل جلاله په وړاندي د خپل امت شفاعت کوي.

۲- دوهم شرط :

د خدای جل جلاله رضا د هغه کس څخه چي شفاعت کوي او د هغه چا څخه چي شفاعت يې کيږي.

(وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ)( سوره الانبياء : ۲۸) او شفاعت نه کوي مګر کوي يې د هغو کسانو چي خدايجل جلاله له هغو څخه راضي وي.

۳- دريم شرط :

د شفاعت کوونکي قدرت پر شفاعت کولو د شفاعت کولو يو شرط دا دی چي شفاعت کوونکي ته د خدای جل جلاله له لوري د شفاعت کولو اجازه ورکول سي. هر څوک نه سي کولای چي شفاعت وکړي، څنګه چي مشرکين په دې عقيده د بتانو عبادت کوي چي بتان د هغوی شفاعت کوي.

(وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ

Download from: www.aghalibrary.com

بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ) ( یونس : ۱۸)او له اللهجل جلاله څخه پرته د نورو شیانو چي ګټه او تاون نه سي رسولای عبادت کوي او وايي چي دا و اللهجل جلاله ته زموږ شفاعت کوونکي دي.

**۴ – څلورم شرط :**

د هغه چا مسلماني چي شفاعت يې کیږي :په شفاعت کي یو شرط دا دی چي هغه کس چي شفاعت يې کیږي هغه باید مسلمان وي د کافر، مرتد ، مشرک او منافق شفاعت نه قبلیږي . (ما لظالمین من حمیم ولا شفیع یطاع) ( غافر :۱۸)او په دې ایت کي د ظالمانو څخه مراد کافران دي.

مګر د مشرکینو په منځ کي یوازي د ابو طالب لپاره استثناء روایت سوې ده.

زده کوونکی : نو هرکس نه سي کولای چي د هر چا شفاعت وکړي؟

ښوونکی : پرته له شکه لومړی هغه کس چي شفاعت کوي هغه باید د خدای جل جلاله له لوري اجازه ولري دوهم باید دداسي چا لپاره شفاعت وسي چي د شفاعت مستحق وي.

Download from: www.aghalibrary.com

# اتم څپرکی

## انسان پېژندنه په اسلامي نړۍ لید کي

## په دې څپرکي کي لاندی موضوعات ترڅېړنه لاندي نيسو

۱- انسان يو برتره مخلوق (پيدا سوی) دی
۲- د انسان شخصيت په قران کريم کي
۳- انسان جوړونه په اسلامي نړۍ ليد کي

Download from: www.aghalibrary.com

# ۷۸۶

په دې څېرکي کي غواړو انسان چي بېلا بېل شخصيتونه لري ترڅېړنه لاندي ونيسو، انسان په ټولنه کي د يوه باکرامته موجود په څېر پيژندل سوئ دئ چي په دې کي ټول هغه څه چي فکر کولای سي کوم شک نه لري. مګر بيا هم ځيني سطحي څېړني سته چي دا ثابته وي چي انسان حتیٰ ترحيواناتو هم کمزوری موجود دی او يا هم دا چي انسان يې له خپل اصليت څخه ايستلی او هغه د ټولو حيواناتو د خواصو له پاټه سونو(پاته شونو) څخه بولي.

# د انسان اصل

د انسان د اصل په اړه زيات شمېر نظريې موجودي دي چي ټولي نظريې انسان له خپل نکته نظره څخه تشريح کړي دي او ټولو نظريو انسان دې طرف او هغه طرف ته کش کړی دی، مګر د اسلام مبين دين ټولي منفي نظريې رد کړي دي او د انسان مقام يې ترهر څه برتره او غوره بللی دی، ښه به داوي چي دلته ځيني دا ډول نظريې ترکتنه لاندی ونيسو او وروسته په دې اړه د اسلام نظر وړاندي کړو.

ماټرياليسټي نظريې (ماده پرستي) :

ماټرياليسټان د انسان اصل ماده بولي او تل خپلي څېړني د همدې

Download from: www.aghalibrary.com

مادي پر اساس  کوي.مګر هرکله چي انسان په دغو اساساتو کي وڅېړل سي نو زيات شمېر حيوانان به وليدل سي چي  تر انسانانو ښه والی او برتري لري، مثلاً :

که چيري خوړل يو امتياز وي نو زيات حيوانات تر انسانانو زيات خوراک کوي.

که چيري د انسان غوره والی په بار اوچتولو کي وي مېږی ترڅان څو چنده زيات بار اوچتوي، که چيري ليد ښه والی وي نو زيات شمېر حيوانان دي چي تر واوره لاندي لاره ويني او اوږدي اوږدي  لاري  له سترګو پرته تی کوي، که چيري  بوی کول يو کمال وي زيات شمېر حيوانات سته چي  ډېر زورور د شامعي حس لري چي تر مځکه لاندي ماينونه کشفولای سي، چي دا ډول صفتون په انسانانو کي ډېر کمزوري دي.

که چيري د يخ په  وړاندي تحمل له غوره والي څخه وي نو د نړۍ په تر ټولو يخترينه ځاينوکي  داسي  حيوانان ژوند کوي چي  له  هيڅ ډول  ګرمونکو وسايلو څخه ګټه نه سي  اخستلای او يا هم په  يخو اوبو کي چي انسان نسي کولای غسل وکړي دوی لامبي.

ځيني ماده پرستان د انسان اصل له حيوانه بولي او د انسان  نسبت وه شامپنزي بيزوګانو ته ورکوي او انسان دهغو پرمختللی ډول بولي او ځينو خو بيابيخي يو قدم وړاندي ايښی دی  او  د انسانو ځيني بزغونه د مرغانو بزغونه بولي، دا ډول کمزوري او ناتوانه نظريې د انسانيت د تحقير سبب ګرځېدلي دي او د انسانيت لوړه مرتبه يې را ټيټه کړې ده.

### ايډياليستي نظرې:

دا نظريو انسان له بېلابېلو روحونو سره تړلی دی، انسان يې پر

Download from: www.aghalibrary.com

بېلابیلو ډلو وېشلی دی ځینوته د لوړو روحونو څښتنان وایي بل ته د ناولو روحونو څښتنان وایي چې په دې توګه یې په انسانانو کي بېلابیلي طبقې رامنځ ته کړي دي چې یوه یې لوړه (عالي) بللې بله یې منځنۍ (اوسطه) او بلي ته یې ټیټه (ادنٰی) وایلې چې ټیټه طبقه همېشه د حیوان په څېر کار کوي او علي طبقې هغوی خپل غلامان ګرځولي دي، تاسو کولای سي چې دا ډول نظریې په هندوییزم او صیهونیزم کي په اسانۍ سره ولولی.

# مناقشه

زده کوونکی: د دې ډول اندونو (نظریو) عیب په څه کي دی؟

ښوونکی : د دې نظریو نقص او عیب د دوی په فکري لید لوري کي دی، ځکه دا ډول زیات شمېر نظریې د حس، عقل او یا تصور تر تاثیر لاندي وي.

زده کوونکی : له فکري لید لوري څخه هدف څه دی؟

ښوونکی : فکري لید لوری هغه لید لوري ته وایي چې انسان د هغه په رڼا کي حقیقت پلټې او حقیقت ته ځان رسوي .

زده کوونکی : که چیري لږ واضح سي؟

ښوونکی : ځیني انسانان معیار خپل فهم او پوهه ټاکي او په دې اساس د هغوی پوهه په دې لاره کي محدوده وي او هغوی بې لاری ته باسي، د ځینو انسانانو معیار بیا د هغو عقل وي او عقل حقیقت ته د رسېدو لامل بولي نو کله چې دا خبره د عقل له توانه څخه وزي نو هغوی وعجبو او غریبو تصوراتو ته تسلیمیږي، چې هغوی بې لاری ته باسي.

Download from: www.aghalibrary.com

زده کوونکی: آیا عقل نسي کولای چي موږ حقیقت ته ورسوي او آیا د انسان تصورات چي د هغو بنسټ عقل دی، لار ورکونکي کیدلای سي؟

ښوونکی: زه تاسو ته یو مثال بیانوم بیا تاسو پوهېږی چي مشکل په کوم ځای کي دی؟ کله چي تاسو په خپل کورکي ناست یاست ستاسو د کور زنګ وهل کیږي په دې وخت کي ستاسو د اورېدلو حس پر کار راځي او تاسو پوهېږی چي زنګ دی او تاسو ښه پوهېږی چي د اوریدلو حس څنګه کار کوي؟ مګر دا حس نسی کولای چي تردې زیات کار وکړي چي زنګ چا وهلی دی او دوره شاته څوک دی مخ کي دیوالونه او ورونه دي چي د ټولو حسنو مخه یې ډب کړې ده.

په دې ځای کي انسان دوه کاره کولای سي لومړی دا چي د خپل عقل او حس پر ناتوانی باندي اعتراف وکړي او څوک وره ته ولیږي چي په وره کي څوک دي.

او یا دا چي خپل عقل مجبوره کړي چي ده ته جواب ورکړي چي دوره شاته څوک دي، عقل چي نوره توانایي نه لري له ډېر فکر او تصور څخه وروسته کومه فېصله نه کوي او هر څه چي یې په تصورات کي ور ګرځي ټول په ښایي باندي پیلیږي ښایي د ګاونډیانو څخه څوک وي، ښایي هغه د دوی د کورڅوک وي، یا ښایي دا د ګاونډیانو زده کړی سپی وي چي هغه ته ور زده سوي دي چي دوره زنګ څه ډول وهل کیږي او داسي زیات نور ښایي ...

نو هر کله څوک خپل دا ډول ښایي د خپل اصل قرار ټاکي نو خامخا لار ورکی کیږي څکه دوره له پرانستلو څخه وروسته هغه پوه سو چي له هغو کسانو څخه چي ده فکر کوی هیڅوک نه وو.

زده کوونکی: ښه نو بیا کولای سو چي د مشکلاتو د حل لاره تجربه وټاکو؟

Download from: www.aghalibrary.com

ښوونکي : علم او تجربه هم د انسان لپاره ترېوځايه کار کوي مګر په ډېرو حالتو کي علم هم نسي کولای چي د ټټو اسرارو په اړه څه و وايي.

زده کوونکی: مثلاً

ښوونکی : مثلاً تاسو عالم ياست مګر کله چي يو کمپيوټر رانيسی ستاسو علم تاسوته دانسي ويلای چي د دې کمپيوټر جوړونکی څوک دی، د کومو پروګرامو څښتن دی، ځکه ستاسو علم ستاسو تر پوهي پوري محدود دی، په هغونه اندازه پوهېږی چي پر کمپيوټر ليکل سوي دي، مګر پر کمپيوټر دا نه دي ليکل سوي چي د دې کمپيوټر اختراع کوونکی څوک دی او دا کمپيوټر د چا لخوا جوړ سوی دی؟ دا کمپيوټر ترڅه وخته کار کولای سي او د دې کمپيوټر ساتنه کومو وسايلوته اړتيا لري؟

زده کوونکی: په دې صورت کي زه هغه کتلاک ته مراجعه کوم چي له کمپيوټر سره سته.

ښوونکی: که چيري ته تصور وکړې نوڅه به وسي؟

زده کوونکی: زما تصور به بيا هم له ښايي سره مخامخ سي چي ښايي زيات شمير يې غلط هم وي.

ښوونکی : د زيات شمير علماء وو په تصوراتو کي مشکل داوو چي هغوی خپلي نظريې د ښايي تر فرضيې لاندي وړاندي کړي وې، مګر افراطي او متعصبو انسانانو چي له هغو څخه وروسته راغلي دي د هغوی ټولي خبري د يوه حقيقت په څېر منلي او لار ورکي سوي دي.

زده کوونکی : مثلاً

ښوونکی: مثلاً ډاروين ويلي دي چي د انسان اصل له بيزو څخه دی، د هغه دا نظريه په هم هغه وخت کي د ډېرو نخبه علماو لخوا رد

Download from: www.aghalibrary.com

سوې ده، ځکه دا نظریه او د انسان کرامت یو د بل سره په ټکر کي راځي او ځینو علماو د هغه نظریه په ساینس کي وڅېړل او دایې وزباتله چي د هغه نظریه یوه سطحي او بې ځایه نظریه ده، مګر ځینو ناپوهو کسانو د هغه نظریه ومنل او د ځان سربېره چي لار ورکي سول نور کسان یې هم ډارونیزم ته په بلنه سره لار ورکي کړل.

زده کوونکی : د اقتصادي نظریاتو په اړه څه وایاست؟

ښوونکی : ځیني خلګ اقتصاد د هوسایي او ارامي اساس او بنسټ بولي مګر د نړۍ تاریخ ثابته کړې ده چي د نړۍ ډېر ستمن کسانو نه مخکي ارام درلودی او نه یې اوس لري.

زده کوونکی: د تصادف په اړه څه وایاست؟

ښوونکی: د عقل له پلوه هیڅ څه باید تصادفي وه نه اوسي هر کله چي تاسو یو درمل پلورنځی ته ځی او یو څوک درته وه وایي چي دلته ټول مخدره توکي او انتیوبیتکونه تیت او پاشلي پراته وه، چي د تصادف له مخي ټولي مادې سره ګډې سولې او وروسته د بېلا بیلو درملو د منځ ته راتلو سبب سوې، چي د بېلابیلو ناروغیو د له منځه وړلو لپاره کار ځني اخستل کیږي.

تاسو پردې سربېره چي ددې درملو فارمسست مو نه دی لیدلی بیا هم پردې خبره باور نه کوی ځکه داسي یوکار د تصادف له مخي هیڅ امکان نلري، ځکه د انسان عقل داسي کار غیري طبیعي بولي، اوس تاسو د نړۍ د جوړښت په اړه فکر وکړی آیا امکان لري چي دونه ستره نړۍ دي د تصادف له مخي جوړه سي؟

زده کوونکی : اوس د پټو مشکلاتو د حل لپاره له څه څخه ګټه واخلو؟

ښوونکی: سمه لاره دا ده انسان چي کله په خپل حس سره نړۍ

Download from: www.aghalibrary.com

درک کړه او د خپل عقل په مرسته دې ځای ته ورسېدی چي خدای جل جلاله ستون لري، اوس نو هغه ته ښايي سوال پيدا سي چي آيا دې پيدا کونکي د ځان کايیناتو او انسان د پيژندني لپاره کوم کتاب هم راليږلی دی، بالاخره انسان دې پايلي ته رسيږي چي خدای جل جلاله د خپلي پيژندني لپاره زيات کتابونه راليږلي دي.

زده کوونکی: دا کتاب قران عظيم الشان دی؟

ښوونکی: پر ته له کوم شکه.

Download from: www.aghalibrary.com

# د انسان شخصیت په قران کي

ځنګه چې مخکي مو وویل د نړۍ فیلسوفانو پرځانونو شپي ورځي تیري کړي او د انسان لپاره یې بېلابیلي نظریې وړاندي کړي دي، ځینو یې انسان و شامپینزاو ته ورته شکل بللی ځینو بیا انسان یو ناپېژندل سوی موجود بیان کړی او ځیني خو بیا بیخي د انسان پر ستون منکر سوي دي او ځینو بیا هغه د حیواناتو په لیکه کي یو حیوان بللی او ځینو بیا هغه د عقل غلام بللی دی.

قران عظیم الشان انسان په خپل بشپړ شکل را پېژندلی دی، انسان ته یې دا بیان کړي دي چې هغه یو بې ځایه پیدا سوی ( مخلوق) نه دی او نه دا چې یوازي یو مادي او عقلاني موجود دی، بلکي هغه ځیني داسي صفتونه لري چې هغه ته تر ملایکو هم غوروالی ورکوي په قران عظیم الشان کي د انسان شخصیت په لاندي توګه را پیژندل سوی دی :

## الف : انسان یو ډېر سپېڅلی او پاک موجود دی:

، ځکه د ادم (ع) د مادي وجود له جوړولو وروسته په هغه کي سپیڅلی روح پوه کړل سو :

(فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُواْ لَهُۥ سَـٰجِدِينَ )( الحجر : ۲۹)کله چې مو هغه برابر کړی او په هغه کي مو

Download from: www.aghalibrary.com

خپل روح واچوی،نو بیا مو وکړی چي سجده ورته وکی.

امام قرطبی (رح) ددې ایت په تفسیر کي لیکي:

روح یو لطیف جسم دی او خدای جل جلاله ژوند د انسان په بدن کي پیدا کوي په حقیقت کي دلته خدای جل جلاله په خپلو مخلوقاتو کي انسان ته د شرافت ورکوني په خاطر د انسان نسبت ځان ته ورکوي، ځکه روح د خدای جل جلاله له مخلوقاتو څخه یو مخلوق دی، خدای جل جلاله د ځینو نورو مخلوقاتو نسبت هم ځان ته ورکړی دی لکه: (ارضی و سمائی ، وبیتی وناقهٔ الله و شهر الله) زما مځکه، زما اسمان، زما کور زما اوښ، زما سپوږمۍ.

موږ کعبي شریفي او مسجدونوته د خدای جل جلاله کور وایو مگر په داسي حال کي چي خدای جل جلاله د کور درلودلو څخه پاک دی مگر دا نسبت ددغو ځایونو ته د شرف ورکولو له کبله دی، داځایونه د خدای جل جلاله د عبادت ځایونه دي نوځکه د خدای جل جلاله د کور په نوم یاد سوي دي.هغه روح چي په ادم (ع) کي پوه سوی دی نسبت یې خدای جل جلاله ته ورکول سوی دی، ترڅو حضرت ادم (ع) او د هغه اولادې ته یې شرافت او کرامت پاته سي.

## ب :اشرف المخلوقات ( د پیدا سو غوره):

انسان له دې کبله چي و بل هیڅ پیدا سوي ته یې د تسلیمی سر نه دی ټیټ کړی، او له دې کبله چي په مځکه کي د خدا جل جلاله ځای ناستی دی تر ټولو غوره مخلوق (پیدا سوی) بلل سوی دی، ترڅو هغه دا شرافت درک کړي او خدای جل جلاله څخه پرته بل چاته سرټیټ نکړی.

Download from: www.aghalibrary.com

## ج : او هغه ته کرامت ورکول سوی دی:

(ولقد کرمنا بنی آدم) انسان ته کرامت ورکول سوی دی، ټول مخلوقات ( پیدا سوي) د هغه د خدمت لپاره پیدا سوي دي، حتیٰ ملائیکي د هغوی په خدمت کي دي، پیریان د انسانانو د خوراک پاته شوني او هډوکي خوري، د مځکي د آبادولو دنده انسان ته ورکول سوې ده او ستر امانت چي قران عظیم الشان دی انسان ته رانازل سوی دی.

## د: انسان په ښکلې څېره پیدا سوی دی :

خدای جل جلاله په قران عظیم الشان کي فرمایي: ( لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم) موږ انسان په ښکلې څېره سره پیدا کړی دی، هر کله چي په غور سره د انسان جوړښت ته وګورو نو وبه وینو چي انسان په څونه ښایسته انداز سره جوړ سوی دی، چي د هغه د وجود غړي دا ښکاره کوي چي هغه د نړۍ د مهارولو او رهبري کولو لپاره رالېږل سوی دی، انسان ډیري ښایستې ګوتي لري چي په هغو سره ډېر مهم کارونه کولای سي، د انسان د وجود جوړښت داسي سوی دی چي تر ټولو حیواناتو څو چنده ښکلی دی او پر دې ټولو سربېره عقل، فکر، خیال او علمي توانایي هغه څه دي چي انسان تر ټولو موجوداتو ښکلی او ښه ثابتوي.

## هـ : علم د هغه تر ټولو ښکلی سینګار دی :

د انسان ارزښت په ملایکو کي هغه وخت د عروج تر معراجه ورسېدی چي خدای جل جلاله خپله د انسان لومړی ښوونکی سو،

Download from: www.aghalibrary.com

ټولي چاري يې حضرت ادم (ع) ته ور زده کړې( و علم ادم الاسماء کلها) وروسته يې ملائيکوته امر وکړی چې دا چاري بيان کړي.

فرښتو د هغو له نه پوهېدو اقرار وکړی (قالوا سبحانک لا علم لنا الا ما علمتنا) بيا هغه جل جلاله آدم (ع) ته وفرمايل: ملائيکوته يې بيان کړه، حضرت آدم (ع) هغه څه چې خدای جل جلاله ورښودلي وه ټول ملائيکو ته بيان کړل.

وروسته په دې موخه چې آدم (ع) د ملائيکو په منځ کي نور هم لوی و ايسوي ملائيکو ته يې امر وکړی چې هغه ته د احترام سجده وکړی، ټولو ملائيکو د خدای جل جلاله په امر آدم (ع) ته د احترام سجده وکړه او (اذ قلنا للملائکة اسجدوالادم).

د ملائيکو احترام چې انسان ته يې د سجدې له لاري وکړی په حقيقت کي د انسان منزلت د ملائيکو په وړاندي څو چنده کړی.

## و : انسان په مځکه کي د خدای جل جلاله ځای ناستی دی:

خدای جل جلاله انسان په مځکه کي د خپل ځای ناستي په توګه وټاکی، ترڅو ټول الٰهي احکام، د مځکي پرمخ پلي کړي.

انسان په مځکه کي د خدای جل جلاله د سفير په څېر د خدای جل جلاله امرونه پرځان او نورو مخلوقاتو (پيدا سو) باندي تطبيقوي، دا ترټولو لوی شرف دی چې خدايجل جلاله انسان ته ورکړی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

## ز : د انسان دنده د ځمکي آبادول او عبادت کول ده:

د ځمکي آبادول د انسان ځانګړې دنده ده، ځکه ملائیکي د ښه والي دنه غوښتني له مخي نسي کولای ځمکه آباده کړي.

مګر انسان کوښښ کوي چي ورځ تر بلي زیات کار وکړي او تیز پرمختګ یې موخه او هدف دی، حیوانات د عقل نه درلودلو له کبله نسي کولای چي ځمکه آباده کړي.

## ح : انسان خپلواکه مخلوق دی:

خپلواکي د انسان لپاره یو بل امانت دی او هغه په دې نه دی توانیدلی چي دا امانت په سمه توګه وساتي، د پورته موضوعاتو څخه ښکاري چي انسان یو مخلوق دی:

۱- باهدفه.

۲- د هغه پیدایښت د یو هدف له مخي سوی دی.

۳- دنیا د هغه لپاره د یوې وسیلې په څېر پیدا سوې ده.

۴- انسان اشرف المخلوقات دی هغه باید د نورو اجسام او اجزام په وړاندي سرټیټ نکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

# په اوسنی وخت کي د انسان مشکل

د ننی نړۍ جوړوني اساسي مشکل په انسان جوړونه کي دی، د یوه پوه د وینا پر اساس چي انسان کولای سي د ښو ښو کبانو په څېر ولامبي او کولای سي چي د ښو ښو الوتکو په څېر والوزي، او باالاخره په دې توانیدلی چي داسي سامان الات جوړ کړي چي نړۍ د یوه کوچني کلي په څېر کړي، مګر هغه څه چي دوی یې په جوړولو نه دي توانیدلي هغه په خپله دی دی هغه تر اوسه په دې نه دی توانیدلی چي انسان جوړ کړي.

نن ورځ د نړۍ تر ټولو لوی مشکل خپله په انسان کي دی، همدا انسان د هر ډول امکاناتو پر درلودلو سربېره په ډېرو حالاتو کي ځان تر حیواناتو هم حقیر ګرځوي، حتی دا انسان دونه لوی مجریم دی، که چیري یو حیوان په ځنګله کي په یوه ورځ یو حیوان وژني دی په یوه دقیقه کي په زرو انسانان د خپلو موخو په خاطر په وینو کي رغړوي.

د قرآن عظیم الشان لومړي هدف انسان جوړونه ده، ځکه د نړۍ مشکلات هغه وخت اوج ته رسیږي چي انسانان نسي کولای ځانونه جوړ کړي، انسانانو په نړۍ کي هرڅه جوړ او کشف کړل مګر د هرڅه له کشف او جوړولو وروسته دا په زبات ورسېده چي هغوی یوازي دوه کاره کړي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

۱- سامان الات یې جوړ کړي.
۲- مادیات یې په مځکو او اسمانو کې کشف کړي دي.

۱- د سامان الاتو جوړول :

د اسلام له نکته نظره د هوسایي او اسانتیا د منځ ته راوړو په هدف د سامان الاتو جوړول یو ډېر ښه او پرځای کار دی، ځکه انسان دیوه باکرامته موجود په څېر دې ته اړتیا لري چې په ښه توګه خپل ژوند ترسره کړي، ځان ته وسایل او سامان الات جوړ او پیدا کړي له هغو څخه په ګټه اخیستنه ځان ته یو ښه ژوند جوړ کړي او د هغو په مرسته حقیقت پیدا کړي او همدا وسایل د معرفت (پېژندني) په لاره کې وکاروي او په همدې وسایلو انسان وپیژني، انسان جوړ کړي، خدای جل جلاله وپیژني او بالاخره په انساني نړۍ لید کې کار ځني واخلي.

مګر زموږ د ننی زمانې مشکل په دې کې دی چې هغوئ د ډیرو عصري سامان الاتو په جوړولو سره،هغوی دا سامن الات یوه وسیله نه دی بللې بلکې دا سامان الات یې هدف منلی دی.

نو اوس دلته مشکل په څه کې دی مشکل په دې کې دی چې سامان الات جوړ سوي دي مګر انسانان نه دي جوړ سوي.

۲: په کهکشانونو کې د کشف موضوع:

نن ورځ انسانان هره ورځ په بېلابیلو وسایلو باندي بېلابېل مادي کشفونه کوي،د تلسکوپ په جوړولو سره کهکشانونه ګوري د میکرسکوپ په جوړولو سره نه لیدل کیدونکي کوچني موجودات څېړي او په نقلونکو وسایلو یې ځانونه تر مریخه و رسول مګر انسانیت

Download from: www.aghalibrary.com

ته يې څه ګټه و رسول ذروي جنګ،اټومي جنګ،د سيارو جنګ او نور...

د حل لار:

د دغو ټولو بدبختيو په منځ کې بيا هم الٰهي کتاب د دغو ټولو مشکلاتو د حل لاره ده او انسان يې د هرڅه څخه مخکې انسان ته وروپېژندلی دی او وروسته يې د انسان جوړوني لپاره بېلابېل پلانونه انسانانو ته په لاس ورکړي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

# انسان جوړونه په اسلامي نړۍ لیدکي

د اسلام په مقدس دین کي د عبادت بنسټیزه فلسفه لومړی انسان جوړونه او بیا ټولنه جوړونه ده، هغه عبادت چي د اسلام مبین دین بیان کړی دی بنسټ او هدف یې پر انسان جوړونه باندي ولاړ دی.

د اسلام دین هغه کار کوي چي انسان یې د یو موټر دلاس ته راوړلو لپاره کوي.

پر موټر پنځه کاره اجرا سوی تر څو موټر جوړ سوی دئ.

١- د مادن کشفونه

٢- د مادن را ایستنه.

٣- د مادن ویلي کوونه

۴- پرزې جوړول.

۵- ددغو پرزې سو ټوټو یوځای کول.

دین څه کار کوي؟ هر هغه کار چي موږ یې د یوی موټر دجوړوني لپاره کوو، دین یې د انسان لپاره کوي.

## ١- د مادن کشفول :

دین لومړی انسان کشفوي، که چیري دین نه وی موږ ځان نه دی کشف کړی. مثلاً هغه کسان چي دین نه لري، بېلا بیلي نظریې لري، یو وایي د انسان اساس شهوت دی، بل وایي انسان یو اقتصادي موجود

Download from: www.aghalibrary.com

دی، نور بیا د انسان اصل له بیزوګانو او شامپانزی سره تړي.
مګر که چیري دا ټولي نظریې په پوره پاملرنه سره وڅېړو په اساني سره پوهیږو چي دا مادي نظري د انسان غوره والی له نورو اجسامو سره نه سي پرته کولای، ځکه په مادي اساساتو کي ځیني حیوانات په ځینو برخو کي تر انسان زیات زورور دي مثلاً :
که چیري خوړل یو ښه والی وي حیوانان تر انسانانو زیات خورک کوي، د زیات وزن پورته کول که کمال وي، میږیان ترځان پنځوس ځله دروند څه وړای او پورته کولای سي، که لیدل کمال وي ځیني حیوانان ان تر واوره لاندي شیان ویني، که چیري بویول کمال وي ځیني حیوانان تر انسانانو څو چنده تېز د بوی کولو حس لري چي دا ډول صفات په انسان کي ډېر کمزوري دي.
دین انسان ته یو بل څه وایي، انسان په یو بل ډول را پېژني دین د انسان غوره والی تر نورو موجوداتو په اثبات رسوي، نه یوازي دا چي انسان پر پیریانو او نورو حیوانانو غوره والی لري کله ناکله یې درنښت تر ملائیکو هم زیاتیږي، د اسلام مقدس دین وایي:

الف: د هغه اصل او پیدایښت زیات سپیڅلی دی ځکه د ادم (ع) د مادي وجود د پیدایښت څخه وروسته په هغه کي سپیڅلی روح پوه کړل سو.

﴿ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُواْ لَهُۥ سَـٰجِدِينَ﴾ (الحجر :۲۹)

امام قرطبي د دې ایت شریف په تفسیر کي لیکي: روح یو لطیف

Download from: www.aghalibrary.com

جسم دی او خدای جل جلاله ژوند د انسان په بدن کي پیدا کړی دی، په حقیقت کي دلته خدای جل جلاله انسان ته د شرف او کرامت ورکولو په خاطر ځان ته نسبت ورکړی دی، ځکه روح د خدای جل جلاله له مخلوقاتو څخه یو مخلوق دی، لکه څنګه چي یې یو شو نورو موجوداتو او مخلوقاتوته هم د ځان په لور نسبت ورکړی دی لکه : ( ارضی و سمائی وبیتی وناقۀ الله و شهر الله ) زما مځکه، زما اسمان، زماکور، د خدای اوښ د خدای سپوږمۍ ، مور کعبه شریفه او مسجدونه د خدای جل جلاله کور بولو مګر دا نسبتي کول د هغو د شریف کولو او محترم کولو په خاطر کیږي، ځکه په دې کورونو کي د خدای جل جلاله عبادت کیږي، نوځکه دخدای جل جلاله د کور په نوم یادیږي.

ب : اشرف المخلوقات ( د مخلوقاتو شریف ترین دی).

ج : کرامت ورکول سوی دی ( ولقد کرمنا بنی ادم).

د : انسان په ښکلې څېره سره پیدا سوی دی.

هـ : علم د هغه له مهمو زیورونو څخه دي.

و : انسان یو با اختیاره مخلوق دی.

## ۲- د مادن را ایستل :

د اسلام مقدس دین وروسته له دي چي دا ګران قیمته مادن یې کشف کړی، نو په دې موخه چي له نورو څخه یې بیل کړي هغه ته یې ثوځانګړي دندي ورکړي چي د هغه شرافت نسبت نورو مخلوقاتو ته ترې زیاتیږي.

الف : انسان په مځکه کي د خدای جل جلاله خلیفه ( ځای ناسی) دی :

Download from: www.aghalibrary.com

خدای جل جلاله انسان په ځمکه کي خپل ځای ناستی وټاکي، تر څو ټول الهي احکام په ځمکه کي عملي کړي، بناءً دا د ځای ناستی ناستیتوب دنده نه ملاییکوته ورکول سوی ده، نه پېریانوته او نه هم نورو مخلوقاتوته. انسان په ځمکه کي د خدای جل جلاله سفیر دی او هغه په خپل دې سفارت سره د خدای جل جلاله ټول احکام پرځان او د ځمکي پرټولو غړو باندي عملي کوي، او دا انسان لپاره ستر شرف ده.

ب : د انسان دنده د ځمکي آبادول او د خدای جل جلاله عبادت کول ده د ځمکي د آبادولو دنده د انسان د ځانګړو دندو څخه شمیرل کیږي، ځکه ملاییکي بهتر وایي او نفس نه درلودلو د حس د کمزوری له کبله نشی کولای ځکه آباده کړی.

ج : انسان د یوه خدای جل جلاله د عبادت کولو په منظور پیدا سوی دی که څه هم چي ټوله مخلوقات د هغه د خدمت لپاره پیدا سوي دي مګر انسان د خدای جل جلاله د خدمت لپاره پیدا سوی دی.

د : هغه یو هدفمن مخلوق دی:

د هغه پیدایښت د یوه هدف له مخي سوی دی د هغه هدف سپیڅلی دی.

۳- د مادن ویلي کول :

عباداتونه د شرافت لپاره تکلیف وي، د اسلام مقدس دین دا انساني مادن به بیلابیلو عبادتونو ویلي کوي او له هغه څخه انسان جوړه وي په اسلام کي عبادت د انسان جوړوي په موخه کیږي انسان په بیلا بیلو عبادتونو تر انساني منزلته پوري رسیږي، ځکه انسان د دوو بعدونو درلودونکي دی چي یو حیواني دی او بل انساني، ځکه عبادت د انسان نفس امارهٔ بالسوء په نفس مطمئنه بدله وي مؤمن انسان د

Download from: www.aghalibrary.com

قراني حقايقو په درکول سره د وسپني په څېر ويلي سوی دی، دا عبادت دی چي انسان له حيوانيت تر انسانيته پوري رسوي او له انسانيته څخه يي ترملاييکو لوړه وي.

۴ - پريکونه :

د اسلام مبين دين انسان ته ورزده کوي چي ځان جوړ کړي، او د اصلو پارچو او پرزو په څېر خپله دنده اجرا او انساني ټولني به جوړښت خپل رول ولوبوي. دا د ځان جوړوني لړی هغه وخت پيليږي چي انسان په عبادتونو مشغول سيو په ذکر او د خدای جل جلاله په يادولو سره خپل روح پاک او سپيڅلی کړي، د ټولو بدني عبادتونو په کولو سره خپل د وجود ټول غړي د خدای عزوجل امر ته تسليم کړي ترڅو د يوه ماسين د پرزو په څېر يي د بدن هر غړی د خپلي دندی د اجرا کولو لپاره تيار واوسي، ددې انسان خبري ذکر او چوپتيا فکر ګرځي، عبادات او مخلوقاتو کي تفکر انسان د نفس له غلامی څخه باسي او د انسانيت لوړ ترينه مرتبو ته يې رسوي.

۵ - ددغو ټوټو يو ځای کيدل :

انسان هغه وخت د ځان جوړه وني له مرحلې څخه راوزي چي په ټولنه کي له نورو انسانانو سره يو انسان جوړ سي، په دې منظور چي يو واحد رامنځ ته کړي چي دا واحد د اسلامي امت په نوم ياديږي، او د توحيد د کلمې هدف د انساني ټولني يو لاس کول دی. ټول کسان يو ډول کيدل دی يو تر بله غوره والی نه درلودل دي کچيري غوره والی موجود هم وي هغه به يوازي په تقوا کي وي. څنګه چي ليدل کيږی لوی لوی موټرونه د يوه کوچني پيچ دنه درلودلو له کبله حرکت نسي کولای همداسي هر انسان په يوې ټولنه کي همداسي رول لوبه وي.

Download from: www.aghalibrary.com

# نهم څپرکی

## بااختیاره که بې اختیاره انسان

### په دې څپرکي کې به پرلاندې موضوعاتو څېړنه وکړو:

۱- د قضا او قدر مفهوم د اسلام په مقدس دین کې
۲- د ایمان ګټې و قضا او قدر ته

Download from: www.aghalibrary.com

# ۷۸۶

د اختیار درلودلو او نه درلودلو موضوع داسي یو موضوع ده چي له وختو راهیسي یې د ډېرو مسلمانانو ذهنونه بوخت کړي دي او په دې اړخ کي حتیٰ بېلابیل فلسفي مکتبونه لکه قدریه ،جبریه او نور منځ ته راغلي دي.

دا موضوع په ننۍ زمانه کي یو حیرانونکې پوښتنه هم ده او له ډېرو زړو وختونو څخه په دې اړه اختلافات وجود لري، د دې مشکلاتو اساسي علت فلسفي، منطقي او نور بحثونه دي چي دې بحثونو ته یوازي دا چي موضوع یې حل کړې نه ده بلکي موضوع یې دونه سخته کړې چي حتیٰ خلک یې د کفر او الحاد پر لور ورکښلي دي.

مګر هغوی چي قران عظیم الشان یې دځان لارښود بللی او هغه یې د حضرت نبی اکرم صلی الله علیه و سلم د سنتونو په رڼا کي مطالعه کړی دی هم یې قران عظیم الشان په سمه توګه درک کړی او هم یې د قدر او قضا په مسئله په ډېري سادګی سره سرخلاص کړی دی.

د تقدیر (قضا اوقدر) د مضووع د لا ښه تراپوهیدني لپاره لا زمه ده چي لاندي سوالونوته جوابونه و وایو:

لومړی سوال :

آیا انسان اختیار لري که مجبور کامل دی؟

جواب :

څنګه چي انسان په مادي وجود کي پردو برخو ارادي او غیر

Download from: www.aghalibrary.com

ارادي ويشل سوی دی په همدي توګه په ارواييي اړخ کي هم دوه حالت لري چي يو يې زورکي اختيار دی چي د قضا په نوم يادېږي چي په هغه کي انسان هيڅ خود مختاري نه لري او کوم مسئوليت هم نه لري.

لکه څنګه چي د خپل وجود د غيري ارادي غړو اختيار نه لري او هيڅکله د دې محاسبه نسي کولای چي نن شپه د هغه معدې څونه کار کړی دی او زړه يې څونه وينه توليد کړې ده. دوهم يې اختياري حالت دی چي په قدر سره تعبير سوی دی، چي د انسان د خپل واکي غړو په څېر دي چي واک يې خپله د انسان په لاس کي دی، بناءً مسئوليت هم لري، هرکله چي يوڅوک خپل لاس په پټه د يو چا په جيب دننه کړي نو د پوليسو په وړاندي هغه جيب وهونکی پېژندل کيږي، ځکه هغه د بل چا په جيب کي د لاس اېښودو اختيار او اراده لري، په همدې توګه په هغو چاروکي چي په قدر پوري اړه لري انسان ته اختيار ورکول سوی دی چي په هغه کي مسئوليت لري.

دوهم سوال : د انسان مسووليت په څه کي دی؟

جواب : د انسان مسئوليت يوازي په هغه چاروکي دی په کومو کي چي اختيار لري.

دريم سوال : د قضا په موضوع کي چي صلاحيت نه لري مسئوليت يې څه دی؟

جواب : کله چي صلاحيت نه لري نو بناءً مسئوليت هم نه لري.

Download from: www.aghalibrary.com




## قضا په لغت کي:

قضا په لغت کي په بېلابیلو ماناوو ، لکه فیصله،حکم،پیدایښت،امر،لازمتیا،اراده او نورو په مانا را نقل سوې ده.مګر امام قرطبي(رح) په جامع الاحکام تفسیر کي د دې ایت:

Download from: www.aghalibrary.com

(مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسۡتَوۡقَدَ نَارًا فَلَمَّآ أَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمۡ وَتَرَكَهُمۡ فِى ظُلُمَـٰتٍ لَّا يُبۡصِرُونَ )

**(البقره :۱۱۷) په تفسیرکي کښلي دي : علماء وايي چي د (قضٰی) کلمه یو مشترکه کلمه ده چي په بېلابیلو مانا وو کارول سوې ده:**

**۱- د پیدا کولو په مانا مثلاً :** (فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَـٰوَاتٍ فِى يَوۡمَيۡنِ) **(فصلت :۱۲)اوه اسمانه یې په دوو ورځو جوړ کړل.**

**۲- د پوهیدلو او اعلامولو په مانا** (وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسۡرَـٰٓءِيلَ فِى ٱلۡكِتَـٰبِ) **(الاسراء: ۴) بنی اسراییلو په کتاب کي پوهه کړل .**

**۳- د امر په مانا، مثلاً** (وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ)**(الاسراء :۲۳)ستاسو پروردګار امر وکړی چي له هغه څخه پر ته د بل چا عبادت مه کوی.**

**۴- یوه حقیقت ته د رسیدو په مانا: مثلاً :** (فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ) **( القصص :۲۹)**

**۵- د ارادې په مانا مثلاً :** ( إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ

Download from: www.aghalibrary.com

كُن فَيَكُونُ) (آل عمران :۴۷)

كله چي هغه د يو كار كولو اراده وكړي نو كله چي ووايه ښه نو سي.

## قضا په اصطلاح كي :

قضا په قراني اصطلاحاتو كي پر دوه ډوله كارول سوې ده.

۱- تكويني قضا ( كايينات):
تكويني امر ( هغه امر چي په كايناتو پوري اړه لري).
۲- تشريعي يا شرعي قضا( قانوني قضا):
هغه قضا چي د انسانانو د كړني له كبله كيږي.

۱- تكويني قضا( كايينات) :

كله چي قران عظيم الشان قضا د كايناتو، د موجوده نړۍ او په هغه كي د سته نور امورو په نوم كاروي نو هغه داسي تعريفولای سو:

دكايناتو په اړه قضا هغه چاري دي چي په اجباري او تحميلي توګه پر انسان تطبيق سوي دي چي موجودات او مخلوقات په هغو كي نه صلاحيت لري او نه هم مسئوليت هغه چاري چي په تكويني قضا پوري اړه لري پر پنځه ډوله ويشلای سو.

۱- د كايناتو جوړښت:
د مځكي ، اسمان، لمر، سپوږمۍ او ټولو سيارو جوړښت.
۲- طبيعي پيښي :
زلزله، سيلابونه او نور.

Download from: www.aghalibrary.com

۳- د انسان اناتومیک جوړښت:
رنګ، پوست، ټیټ والی لوړ والی او نور.
۴- قومي، منطقوی، نژادي تړاو.
۵- د هرچا د اجل ټاکل.
دا ټولي هغه چاري دي چي یوازي په خدای جل جلاله پوري اړه لري.

## د تکویني قضا حکم:

په الهی قضا کي باید لاندي ټکي په نظر کي ونیسو.
۱- الهی قضا ته تسلیمي
۲- پر الهی قضا ایمان درلودل.
۳- په تکویني قضا کي د صلاحیت او واک نه درلودل.
۴- په هغه چاروکي نه مداخله کومي چي په تکویني قضا پوري اړه لري.
۵- څوک په دې نه ملامتول چي د تکویني قضا په پایله کي یوڅه پر تحمیل سوي وي لکه: ژبه، قوم او نژاد.
٦- الهي احکامو ته چي په اسماني کتابونو کي راغلي دي تسلیمي او پر پیغمبرانو ایمان
د انسان کړنی دهغو چارو په اړه کومي چي د تکویني قضا په پایله کي کیږي. پردې سربیره چي انسان په الهي قضا کي تصرف نه لري، لازمه ده چي په دي اړه لاندي ټکي مرعت کړي:
۱- داسي کارونه کړي چي طبیعت ته زیان و رسوي او یا هم له هغو سلاوو څخه کار وانه خلي چي د مځکي د بربادی سبب ګرځي، د

Download from: www.aghalibrary.com

ښه چاپېريال ساتني په اړه کوښښ وکړي.

۲- انسانان کولای سي چي د هغه مصيبتونو څخه ځان وساتي او يا دځان چاره وکړي چي د تکويني قضا په پايله کي رامنځ ته کيږي.

۳- اسماني کتابونه په بېلا بيلو ژبو نازل سوي دي او اخري کتاب په عربي نازل سوی دی، مګر انسانان کولای سي چي هغه په خپلو خپلو ژبو ترجمه او تشريح کړي.

۲- تشريعی يا شرعي قضا (قانوني قضا) :

تشريعي يا قانوني قضا هغه قضا ته وايي چي خدای جل جلاله يې اختيار مخلوقاتوته ورکړی وي او دا قضا د هغه قانونو په څېر ده لکه د پوهنتون لخوا چي محصلينوته ټاکل سوي وي چي يو شاګرد بايد په يوه سمستر کي ښه حاضري ولري ترڅو په امتحان کي د برخي اخيستني جوګه سي او حد اقل بايد ۵۰ سلنه نومرې پوره کړي چي په بل سمستر کي د ګډون جوګه سي، دا فيصلې د لوړو مقاماتو لخوا کيږي مګر داسي نه ده چي دا اجباري دي، بلکه محصل ته اختيار ورکړل سوی دی که چيري د دغه قانون مطابق کار وکړي نو بريالی به وي کنې نو بيا به يې خير نه وي.

مثلاً :

﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴾ (الاسراء : ۲۳)

په دې ايت شريف کي که څه هم چي خدای جل جلاله پرېکړه

Download from: www.aghalibrary.com

کړي ده چي له هغه شخه پرته به بل چاته عبادت نه کوي او په همدې توگه باید د مور او پلار سره احسان وکړي، مگر انسان ته يې اختيار ورکړی دی او هر کله چي ځوک په خپل ژوند کي الهي احکام عملي کړي د خدای جل جلاله د رحمت لامل او د جنت مستحق گرځي، مگر که چيري د دغو پريکړو پرخلاف کار وکړي د عذاب مستحق گرځي.

هغه چاري چي په تشريعي قضا پوري اړه لري:

۱- پر يوه خدای جل جلاله او پر هغه څه چي هغه امر کړی دی باور درلودل.

۲- د ښو کارونو کړنه او د نور خلکو هغو ته بلنه .

۳- د خدای جل جلاله د احکام تطبيقونه تر وسه وسه پوري.

۴- د اسلام د مقدس دين د خپرولو لپاره هڅي او تلاښ.

۵- د قران عظيم الشان نظريي او عملي تطبيق.

د تشريعي قضا حکم :

۱- په تشريعي قضا کي که څه هم چي د خدای جل جلاله حکم دی چي ښه کارونه وکړی بد کارونه مه کوی مگر دا هم د خدای جل جلاله پريکړه ده چي انسان خود مختار او خپل سری دی که ښه کوي که بد.

۲- په تشريعي قضا کي چي ځوک د خدای جل جلاله اوامر عملي کړي مکافات کيږي او که يې عملي نکړي مجازات کيږي.

Download from: www.aghalibrary.com

# قدر

قدر په لغت کي اندازه کولو ته وايي.

قدر د اسلامي عقیدې په اصطلاح کي :

د شیانو ، غرایزو، حاجتونو، غصو او نورو پیدایښت ته وايي.

د مثال په توګه خدای جل جلاله موږ ته لاسونه راکړي دي په دې لاسونو کي خدای جل جلاله دوه صلاحیتونه ایښي دي یو د ښو کارونو ترسره کونه او بل د بدو کارونو ترسره کونه، موږ کولای سو په خپلو لاسونو مثبت کارونه ترسره کړو، له غریبانو او بیچارو سره مرسته وکړو، په لاسو لیکنه وکړو، علمي کتابونه ولیکو مګر په همدې لاسونو سره بد بد کارونه هم کولای سو نو اوس قدر دلته په دې مانا دی چي خدای جل جلاله دواړه زموږ په واک کي ایښي دي، اختیار زموږ په لاس کي دی که ښه کوو که بد.

په بل عبارت قدر د خیر او شر قابلیت دی دی چي په شیانو او اعضاوو کي ایښودل سوی دی یعني شیانو او عضاوته د دې توانايي ورکول سوې ده چي هغه په مثبته توګه کاروي که په منفي.

Download from: www.aghalibrary.com




**۱- هغه څه چي په خدای جل جلاله پوره اړه لري اوهغه د اعضاو پيدايښت دی چي په هغه کي دوه ډوله صلاحيتونه ايښودل سوي دي.**

**الف : د ښو او مثبتو کارونو د ترسره کولو صلاحيت.**

**ب : د بد او منفي کارونو د ترسره کولو صلاحيت بناءً د انسان دوجود ټول غړي کولای سي په منفي او يا هم مثبته توګه وکارول سي.**

**۲- هغه څه چي په بنده پوري اړه لري :**

**د الهي رحمت پر اساس بندګان د بېلابيلو غړو درلودونکي دي چي بندګان کولای سي چي دا غړي چي په هر توګه دوی غواړي وکاروي کار کړي :**

**الف : انسانان کولای سي دا غړي په مثبتو کارونو او خير کي**

Download from: www.aghalibrary.com

وکاروي.

ب: انسانان کولای سي دا غړي په منفي کارونو او شر کي وکاروي.

نو په دې اساس چي انسان ته د خپل بدن د غړو صلاحیت ورکړل سونو مسئولیت یې هم لري.

د : (والقدر خیره وشره من الله تعالی) مفهوم که په غور سره وکتل سي نو دا عبارت ده به په ښه واضحه توګه درک کړل سي.

د احمد په نامه یوڅوک یو فابریکه لري دا فابریکه چاړې او غچۍ جوړه وي، دا سړی دا شیان جوړوي او په هغه کي دوه صلاحیته بړدي هم منفي او هم مثبت.

اوس انسانان کولای سي په یوه چاړه په کورکي خپل کار وکړي او بل څوک کولای سي په بله چاړه مړی وکړي.

کله چي یوکس د محمود په نامه په دې چاړه سره څوک مړ کړي او ادعا وکړي چي احمد ملامت دی هیڅوک یې خبره نه مني، ځکه احمد چاړه جوړه کړې ده او په هغه کي یې د خیر او شر دواړه صلاحیتونه ایښي دي، مګر د دې وسیلې د کاروني اختیار یې د محمود په لاس کي ورکړي دی.

په همدې توګه خدای جل جلاله انسان همداسي پیدا کړي دی.

نو په دې اساس ټول انساني مسئولیتونه د هغه د صلاحیتونه پر اساس دي. که چیري صلاحیت نه وي نو هیڅ مسئولیت به هم نه وي.

ددې لپاره چي انسان وښو کارونو او سمي لاري ته سم سي، پردې سربېره چي اختیار یې ورکړی دی خو بیایې هم نوره مرسته ورسره کړې ده ترڅو انسان پر سمه لاره د تلو لپاره کار ځني واخلي او په اساني سره حقیقت ته ځان ورسوي.

Download from: www.aghalibrary.com

۱- د عقل نعمت :

خدای جل جلاله انسان ته عقل ورکړی دي چي ده هغه په مرسته ښه او بد وپېژني له بدو ځان وساتي او ښه وکړي.

۲- د ايمان نعمت :

انسان ته يې ايمان ورکړی، ترڅو مانوي اړخ تر مادي اړخ د ايمان په زور زوره ورکړي. او هغه جل جلاله هر موجود له فطري ايمان سره پيدا کړی دی.

۳- د وحي نعمت :

انسان ته يې په بېلا بيلو وختونو کي کتابونه نازل کړي دی او په هغه کي يې ښه او بد بيان کړي دي؟ ترڅو انسان د حق او باطل په پېژندلو کي مشکل ونه لري.

۴- د پيغمبرانو د رالېږلو نعمت :

انسانانوته يې پيغمبران (عليهم السلام) رالېږلي دي، چي حق چاري خپلو امتونوته تبليغ کړي او وروسته يې علما چي د پيغمبرانو ځای ناستي دي مقرر کړي وي.

۵- د علم نعمت :

انسان ته يې د دې توانايي ورکړې چي زده کړه وکړي او د زده کړي په مټ ځان او جهان وپېژني .

Download from: www.aghalibrary.com

۶- داختیار نعمت :

خدای جل جلاله انسان ته اختیار ورکړی دی چي :

۱- دین ومني یایې ونه مني

۲- د لیکلو او ویلو اختیار

۳- د کړنو اختیار

۴- د کړنو نه کړنه

۵- د خوړولو او ښبلو اختیار

۶- د حلال او حرام کسب اختیار

بناءً دا یو لړ آزادۍ دي چي خدای جل جلاله انسان ته ورکړي دي.

د قضا او قدر په موضوع کي لاندي ټکي باید یاد وساتل سي.

۱- انسان د خپلي ارادې او اختیار له مخي د خدایجل جلاله په وړاندي مسئولیت لري، او هر کله چي له انسانه څخه یو غیر ارادي جرم پرته د انسان له ارادې ترسره سي او یاهم په هغه یوکار په زور سره ترسره سي د خدای جل جلاله په وړاندي هیڅ مسئولیت نه لري.

۲- د قدر موضوع د خدای جل جلاله پوری اړه لری او انسان باید د خپل مسئوولیت په اندازه عمل وکړي او الهي امورو کي مداخله ونکړي.

۳- انسان نه پوهیږي چي دده په تقدیر کي څه لیکل سوي دي، نو بناءً پرده لازمه ده چي د الهي احکامو په رڼا کي ښه کارونه وکړي او پټې چاري خدای جل جلاله ته پریږدي.

Download from: www.aghalibrary.com

# لسم څپرکی

## طبیعت پېژندنه په اسلامي نړۍ لید کي

**په دې څپرکي کي به لاندي موضوعات وڅېړو**

**۱- د طبیعت ارزښت په نړۍ لید کي**
**۲- د ایمان ازموینه**

Download from: www.aghalibrary.com

# د طبیعت ارزښت په اسلامي نړۍ لید کي

د اسلامي شریعت له مخي کایینات د خدای جل جلاله غوړیدلی کتاب دی، په دې مانا چي خدای جل جلاله دوه ډوله کتابونه د بشریت د لارښووني لپاره رالیږلي دي :




لومړی ډول : نازل سوی کتاب (قرآنکریم) :

دا کتاب چي د مقروی ( قرائت سوی) کتاب، متلو ( تلاوت سوي) کتاب ، منزل (نازل سوی) کتاب په نامه یاد سوی قران عظیم الشان دی چي په لوح محفوظ کي ثبت دی د یوې امانتداره ملائیکي چي حضرت جبریل علیه السلام نوم لري په واسطه پریوه امانتداره کس چي کفارو او مسلمانانو یې په امانتداری باور درلودی او حضرت محمد صلی الله

Download from: www.aghalibrary.com

علیه و سلم نومیدی نازل سوی دی او هغه هم په پوره امانتداری سره ترخلکو پوري رسولی دی.

دوهم ډول :

کتاب مفتوح (غوړید یا پرانستی کتاب) :

د پرانستي کتاب څخه هدف دوه لوی کتابونه دي چي د توجهاتو په مانا دی: خدای جل جلاله فرمایي

(سَنُرِيهِمْ ءَايَـٰتِنَا فِى ٱلْـَٔافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ )(فصلت :۵۳)(مخکي ترجمه سوی)

د دې مبارک ایت پر اساس د خدای جل جلاله د قدرت نښانې په دو برخو کي ستون لري چي عبارت له دوجهانو :

۱- لو جهان (کایینات) :

دا جهان د یوه پرانیستي کتاب په څېر دی چي ټول حقیقتونه پکښې موجود دي او کله چي انسان په پوره پاملرنه سره کاییناتو ته وګوري د خدای جل جلاله د ستون ټول آثار پکښې لیدلای سي.

پر کاییناتو یو نظر :

هر عاقل او پوهه انسان باید کاییناتو په پوره پاملرنه سره مطالعه کړي او د خدای جل جلاله نښي او نښانې په کاییناتو کي وپلټي.

۱- کوچنی جهان ( انسان)

Download from: www.aghalibrary.com

د انسان اناتومي او فيزيولوژي هم يوبل پرانيستى كتاب دى چي د هغه په څېړنه سره هم انسان كولاى سي د خداى جل جلاله عظمت او سترتوب درک کړي.

له دنيا سره اړيكي د اسلام له نظره :

دنيا، ستمني ، وسايلو او نورو درلودل په هوسايي كي ژوند كول هغه چاري دي چي په ځينو اياتونو كي هغه ښه بلل سوي او په ځينو كي بد چي زيات وخت د لنډ نظره خلكو د اختلاف سبب هم ګرځيدلي.

۱- دنيا د يوې وسيلې په توګه :

هر كله چي دنيا د يوې وسيلې په توګه د يو هدف لپاره وكارول سي چي هغه هدف الهي دربارته نږدې والى وي نو نړۍ يو ښه شى ده او اسلامي حكماوو هم ښه بللې ده.

۲- دنيا د هدف په توګه :

كه چيري دنيا د دې لپاره هدف وګرځول سي چي سړى ستمن او مالدار سي نو دلته دى چي دنيا په يوه بد بدليږي او انساني هدف وركيږي چي هغه هدف خداى جل جلاله ته نږدې والى دى.

Download from: www.aghalibrary.com

## د کاییناتو پیدایښت او د هغه اجزا وي

د کاییناتو په پیدایښت کې درې فرضیې ستون لري:

لومړی : د کاییناتو او جهان لپاره یو خالق سته چې هغه یې پیدا کړی دی.

دوهم : نړۍ په تصادفي توګه پیدا سوې .

دریم : کایینات د ذراتو، مادو او عناصرو څخه جوړ سوی دی.

د اسلام د مبین دین له نظره د کاییناتو لپاره یو خالق دی چې کایینات یې پیدا کړي او اوس هم ټولو کایینات د هغه پر وجود یو دلیل دی او نوري ټولي فرضیې نني نړۍ غلطي ثابتي کړي او غلطي منلي دي.

پای
۴۶ : ۹ شپه
۱۳۸۸/۸/۱

Download from: www.aghalibrary.com